# تاریخ څه ته وایي؟

مؤلف

پروفیسر ای. اچ. کار

مترجم

محمّد حسن کاکړ - ام فل لندن،

# فهرست


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| نظر يك استاد | I |
| دمؤلف پيژندگلوی | الف |
| سريزه | ج |
| مورخ اودهغه حقايق | ۱ |
| فرد اوجامعه | ۳۳ |
| تاريخ، ساينس اواخلاق | ٦٥ |
| پهتاريخ کې علت ميندنه | ۱۰۷ |
| تاريخ دترقي پهحيث | ۱۳۵ |
| پراخېدونکي غاړې | ۱٦۷ |
| ښکارندوی | ۱۹۹ |
| اصطلاحات | ۲۰۷ |
| سمون | ۲۱۲ |

# تاريخ څه ته وايي؟

مؤلف

پروفيسر اي . اچ . کار

مترجم

محمّد حسن کاکړ - ام فل لندن،

کابل

۱۳۴۹

PROPERTY OF ACKU
5952

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00005952 6

یادونه : دغه ترجمه دوږمی مجلې د ۱۳۴۷ کـال دڅلورو گڼو په عوض چاپ شوه.

( اداره )

دپوهیالی محمد طاهر علمي د وږمی مجلې د مسئول مدیـر په اهتمام

Download from; aghalibrary.com

# «نظر یك استاد درباره این اثر»

چندسال پیش درمحضر مرد دانشمندی بودم که برمن حق استادی و در علوم ادبی مقام شامخ انکار نه‌شدنی داشت در آنجاصحبت از تاریخ تحصیل و تعلیم آن به‌میان آمد. آن‌مرد بزرگ می گفت : تاریخ‌تحصیل نه‌میخواهد چون بخواهند درین رشته مطالعه‌ای بنمایند کافی است کتاب‌های محمدبن جریرطبری (وفات ۳۱۰ھ)، تاریخ ابوالفضل بیهقی (وفات ٤٥١)، زین‌الاخبار عبد الحی ضحاک گردیزی، راحة‌الصدور ابوبکر محمدراوندی، تجزیة‌الامصار وتزجیة‌الاثار معروف به تاریخ وصاف شهاب‌الدین عبدالله‌شیرازی ملقب به وصاف‌الحضره (وفات ٦٩٨ھ)، ومجمل‌التواریخ‌والقصص وامثال آنرا بخوانندو مطلبی‌را از آنهااستخراج وبیان نمایند.

این بود نظر مرد دانشمندی راجع به‌تاریخ که‌چند سال قبل ازین‌محضرمغتنم علمی داشت. طرفداران این نظرهنوزهم‌در کشورمازیادند. عده‌ای از نویسندگان مخصوصاً آنهائیکه تابع مکاتب فکری قدیم، هستند عقیده دارند که با آموختن مقداری سوادو مطالعه کتب‌تاریخ از تألیفات قدما بزبانهای عربی یافارسی یا هردو می‌توان تاریخ رامطالعه ودرصورت داشتن ذوق‌سلیم حتی‌می‌توان آنراتالیف کرد. باین‌ترتیب مأخذغالب مادرتاریخ نویسی آثار کتبی‌وروش تحقیق‌ما (تابع ذوق سلیم که‌لابد شخصی‌است) نویسندگان بوده .

علت همه اینهاحتماً بی‌توجهی، نداشتن معلومات کافی راجع به فلسفه تاریخ روش تحقیق و نگارش آن وعدم وجود مأخذ درین‌مباحث وموضوعات می‌باشد

راستی کتابها ئیکه در فلسفه‌تاریخ بحث درموضوع تاریخ و بروش نگارش آن، نوشته‌شده بزبانهای افغانستان پښتو ودری بسیار کم بوده وحتی بزبانهای اروپائی هم ازشمار انگشتان تجاوز نه می کند.

وقتی شنیدم همکار ارجمندمن کاکړ مشغول ترجمه کتاب تاریخ چیست؟ (ای، اچ، کار) است باودراشتغال درین امر تحسین گفتم. این کتاب را چند سال قبل درانگلستان بوسیله‌همین‌دوست‌عزیز که‌درآنوقت‌هامشغول تحصیل‌درپوهنتون لندن بود دیده وخوانده بودم.

کار درتاریخ معاصر نه‌تنها مورخی است برجسته‌و نامدار و دارای آثاری ارزنده چون انقلاب بولشویك‌درسه‌جلد (۱۹۱۷-۱۹۲۳)، روزکار فترت ۱۹۲۳-۱۹۲٤ ،وسوسیالزم دریك کشور ،۱۹۲٤ - ۱۹۲٦درسه جلد بلکه مردی صاحب نظر درفلسفه تاریخ وصاحب بصیرت خاص درتاریخ نویسی می‌باشد. کتاب حاضر مثال خوبی است برای اینکه اورا درشمار مردان بصیر - درتارخ وتاریخ‌نویسی‌بیارد.

همچنانکه مولف فاضل این کتاب مردی‌است دارای احاطه کامل در تاریخ مترجم محترم آن ښاغلی کاکړ که‌به‌حق اورا باید مورخ جوان گفت مردی است صاحب مطالعه وتجربه کافی درمطالعه‌تاریخ‌و تالیف آن ومخصوصاً تاریخ معاصر افغانستان. ښاغلی کاکړ مطالب این‌کتاب‌را در مجالس‌بحث انگلستان شنیده ودرآنجا درموضوعات مختلف نظریات‌مولف بحث‌نموده‌است وباین‌ترتیب شاید وارد ترین شخصی‌است درافغانستان به‌نظر مولف‌این کتاب ومطالب کتاب.

برای من میسر نیست راجع به‌انشای کاکړ درپښتو قضاوت کنم،ولی باآشنائی که‌به‌نوشته‌های اودرین زبان دارم می‌دانم ساده وروان می‌نویسد. این‌خصوصیت درین ترجمه اونیزموجود است، ترجمه کتاب‌کار بزبان دیگری (پښتو) کارآسانی نیست‌اما کاکړ ازعهده‌آن‌بخوبی درآمده‌است.

مطلب قابل‌توجه درترجمه‌کتاب تاریخ چیست؟ دقت ترجمه‌آن است. کاکړ

باآنکه سعی می کند مطالب را ساده بنو یسد جداً متوجه است منظو ر مولف فو ت نگردد . باین تر تیب کار خو درا بیشتر قابل اعتماد ساخته است .

ازمزایای دیگر این ترجمه یاد داشتها ی مختصر امابسیار مفید متر جم است بر بعضی ازاعلام ونکات غامض کتاب ، که درپاو رقی صفحات وبصو رت (سکارندوی) درآخر کتاب آمده .

در پایان این تذکار مختصر باید بگو یم که بناغلی کاکړ با ترجمه کتا ب تا ریخ چیست؟ کار بسیارمفید علمی را انجام داده‌است. امیدوارم کار ایشان مقدمه ترجمه و احیاناً تالیفات دیگری درفلسفه تاریخ و تاریخ نو یسی باشد، تاباین و سیله تار یخ درجامعه ما به معنای که امروز به آن میدهند مطالعه و تحقیق وتدر یس شو د . برا ی مترجم محترم توفیق بیشتری در کارهای علمی میخوا هم .

میرحسین شاه
۲۸ سرطان۴۹
پوهنځی ادبیات

# دمولف لنډه پيژندګلوي

اي .اچ. کار(۱) په۱۸۹۲ کې زيږيدلی او په‌لندن کې يې دمرچنټ تيلرز په‌ښوونځی (۲) او په کيمبرج کې يې دترې نتی په‌پوهنځی(۳) کې تحصيل کړی دی . په ۱۹۱٦ کې دبانديو چارو په وزارت کې شامل شو او وروسته له هغه چې په هغه‌وزارت پورې مربوط دنده او دباندې پوښتنو ... ترسره کړې په ۱۹۳٦ کې يې استعفی وکړه او دويلز (٤) دپوهنتون په پوهنځي (٥) کې دبين‌المللي‌سياست دويلسن پروفيسر (٦) مقررشو. له ۱۹٤۱څخه تر۱۹٤٦ پورې ددی تايمز (۷) دورځپاڼې د مدير مرستيال او لـه ۱۹۵۳ څخه تر ۱۹۹۹ پـورې د به ليول (۸) پـه پوهنځی ( اکسفورد) کې په سياست کې ټيوټر (۹) او په ۱۹۵۵ کې دکيمبرج دتـرې نتـی پـه پوهنځی کې فيلو (۱۰) مقررشو . دده له خپرو نوشخه يوڅودا دی : رومانتيکي جلا وطنې (۱۱)

---

۱- Edward Hallet Carr

۲- Merchant Taylors' School

۳- Trinity College

٤- Wales

٥- University College

٦- Wilson Professor

۷- The Tımes

۸- Balliol

۹- Tutor' هغه ښوونکی چې دپوهنتون دلومړۍ شهادتنامې دپاره دزده‌کوونکود تحصيل اوهدايت کولوچارې ورپه غاړه وی(م)

۱۰- Fellow دانګلستان په ځينو پوهنتونونوکې دمديره هيئت غړی (م)

۱۱- The Romantic Exiles

(۱۹۳۳)، شل کلن بحران ۱۹۳۹ ـ ۱۹۱۹ (۱۲) (۱۹۳۹) ، دسولې شرایط (۱۳) (۱۹٤۲) ، پەلویدیځې نړۍ باندې دشوروی اتحاد اغیزه(۱٤)(۱۹٤٦)، نوې جامعه(۱۵) (۱۹۵۱) اودشوری روسيې دتاریخ په باب یولړ کتابونه چې دغەلاندنې يې تراوسه وتلي دي:

دبولشویك انقلاب (۱٦) ۱۹۲۳ ـ ۱۹۱۷ درې جلده (۵۳ـ۱۹۵۰)، وقفه ۱۹۲٤ ـ ۱۹۲۳ (۱۷)، (۱۹۵٤) ، سوشلزم په يوه ملك کې ۱۹۲٤ـ ۱۹۲٦(۱۸) درې جلده(٦٤ـ۱۹۵۸) ، اودپلان شوی اقتصاد بنسټونه۱۹۲۹ـ ۱۹۲٦(۱۹) (۱۹٦۹). وروستی کتاب ۹۰۰ مخه دی اودار. ډبليو. ډی ویس(۲۰) په همکاری لیکل شوی دی .

---

۱۲- The Twenty Years Crisis, 1919-1939

۱۳- The Conditions of Peace

۱٤- The Soviet Impact on the Western World

۱۵- The New Society

۱٦- The Bolshevik Revolution

۱۷- The Interregnum

۱۸- Socialism in One Country

۱۹- Foundations of a Planned Economy

۲۰- R. W. Davies

# سریزه

هرڅوك له‌دې سره علاقمن‌دی چی‌دخپلې جامعې دماضي په باب پوه وی‌مگر لږکسان موندل شی چی دغه هیله یې ترسره شوی وی . څومره چی مونږ ته مشکله ده چی خپله اوسنی جامعه وپیژنو ترهغولاډیره سخته ده چی له پخوانی جامعی نه خبراوسو.دهری جامعی ـ دماضی وی که داوس‌دسمی پیژندنې‌دپاره دتحقیق‌دخاصو روشونوپه بنا په پوره آزاده فضاکی ژوراوپرله پسی مطالعات ضروری دی. دغسی مطالعات هاته ښه نتیجه ورکولی شی چی یوڅوك دنوروشیانو په جمله کی ، دخپلی موضوع داساسی مسایلوپه باب فلسفی نظرولری .

مگر دفلسفی‌نظریاتودمعرفت اوحصول لومړنی شرط دادی چی‌ذهن‌دمختلفو نظریاتودفهم‌دپاره خلاص پریښوول شی . پیشرفت اوتکامل که‌په علمی یافلسفی ساحه کی وی هغه وخت ښه ممکن کیدلی شی چی دهمدغسی نظریاتو دظهوردپاره لاره هواره وی . که داسی نه وی دژوند دبیلوبیلوارخونوپه باب به مختلفی فلسفې په منظم اومنسجم‌ډول ظهورونه کړی اوانسان به په ذهنی لحاظ متحجراوځای په ځای پاتې وی .

چیرته چې دنظریاتودظهوردپاره کوښښ کیږی هلته نظراوعلم ښه په‌مخ ځی دنقیضواومختلفوافکاروله تصادم څخه نوی څه راوځی اوورانددی‌تګ دوام کوي.

تاریخ څه ته وایی ؟ په واقع کې دهمدغسی‌حال نتیجه ده. په تیروڅلوېښتو کالونوکی په اروپا کې‌عموماً اوپه انگلستان کې مخصوصاً دتاریخ دماهیت او

فلسفي په باب تاوده بحثونه جاري دي او دغه کتاب دهمدغسې بحثونو په لړ کې يووروستی اثر دی. په دغه اثر کې د تاريخ په حقله هم دنورو پوهانو نظريات چاڼ شوي او هم نور پرې اضافه شوي دي او په دغه ډول په دغې برخې کې پرمختګ شوی دی .

ددغه مطلب دايضاح دپاره به لومړی دجبراووروسته دترقي دمفکورې په باب دپروفيسر کار دنظرياتو لنډيز وړاندې کړم، او په ضمن کې به يوڅه پرې وليکم.

پروفيسر کار ددغه اثر په څلورم فصل کې په تاريخ کی د چانس اوجبر په باب د پروفيسر کارل پاپر او ايسايه برلين په هغو نظرياتـو انتقادونـه کړی دي کـوم چې وروستيو په خپل وار دافلاتون ، هيګل ،اومارکس نظريات کاواك اوخالي ښوولي دي . ددغې موضوع په حقله دوه ټکي مهم ښکاره کيږي . لومړی داچې اجتماعي واقعات ولې پېښيږي؟ په بل عبارت انسان په خپلو کړو کی څومره او څنګه آزادی لري ؟ داپوښتنه په واقع کی يوازی دتاريخ په فلسفي اړه نه لري بلکه دټول انساني کردارسوال دی اودفلسفي مهمه موضوع تشکيلوی. پروفيسر کار يوازی ترهغه حده دمعين توب يا دجبر په عقيدی دی چې وايي « ... هرهغه څه چې پيښيږی علت يـا علتونه لري او په بل ډول به پيښ شوی نه وای ترڅويې په علت يا علتونو کی يو بل څه پيښ شوی نه وای .» لکه څنـګه چې معلوميږی ده په څلورم فصل کـی چې پـه تاريخ کی علت ميندل يې نوملی دی دعلت په ميندلو يې ډيره زوره اچولې ده. داروش په تاريخ کی سرې دپيچلو او مجرد وفلسفي مسئلو په لور بيايي اوداويره شته چې تاريخي مطالعه بالاخره په فلسفي مطالعي واړوی که څه هم دی په خپله دغه ټکي ته پوره متوجه دی چې بحثونه مجرد فلسفي نه کړی او نظريات يوازی په تاريخي مشخصو شواهد و بنا وښيي.سره له دی هم دا به ښه وای چې ده دنتايجو او تـأثيراتو په باب هم په همغې اندازی ليکنه کړې وای. داجتماعي پيښو تأثيرات ښوول عملي او تطبيقي فايده لري اودنامطلوبو پيښو په مخنيوی کی ترڅه حده برك کيدلی شي .

مګر دپروفيسر کـارپــه نظر دمعين توب فلسفه قطعاً ميخانيکي نه ده چې دهغه

په قرار به انساني فرددیوه کهال عنصر په حیث یوازی متابعت کوی . دی و ا یی چې «دجامعي اوفردانکشاف اوزه په اوزه په مخ ځی او یو په بل تأثیر کو ی . » دی دهمد غه فکرپه بنادفردپه دینامزم او ابتکاری اواخلاقی ارادې معتقد د ی ا و په دغه باب دمارکس دغه نظر یه تائیده وی چې وایی: «تاریخ هیڅ نه کو ی هغه زیاته شتمنی په تصرف کی نه لری . هیڅ جنګونه نه کوی . دغه انسان، حقیقی ژوندی انسان دی چې هرڅه کوی ، تملک کوی ، اوجنګونه کو ی . » خو د غه «حقیقی ، ژوندی انسان» په خپله دجامعي زیږنده اوپه جامعي کی داخل دی . مجرد فردنه دی چې دعنقاپه حیث به له جامعي نه بهر په کوم هسک ځای کی مقا م لر ی اوله هغه ځایه به جامعه اوحوادث زیږوی ، اورهبری به یې کوی .

دوهم تکی یوازی په تاریخ پوری اړه لری او هغه داسوال دی چې موږ له تاریخی پیښو نه څنګه خبریږو؟ څنګه چې دتاریخی حقایقو ثبتول اودهغو تعبیر کول موږ ته دماضی طرح اودحرکت سمت راښیی له دی امله ثبت کوونکی ا و مؤرخ دماضی په معرفی کولو کې اساسی اهمیت لری . مګرپروفیسر کار د ماضی د فهم په برخه کی دمعین توب داصل په کلک نظر قایم دی . دی و ا یی « د پیښو کښوونکو ، لیکوونکواومؤرخانودنسلو نومړلاس د ما ضی طرح تا کلی د ه بی له دی چې دهغه په باب څه وکړل شی . » دغه تینګارله حد نه زیات معلو میږ ی دومره زیات چې دمؤرخ رول نفی کوی . په دی کی څه شک نه شته چې دماضی په باب ټول تاریخی حقایق زمونږلاس ته راتللی نه شی اوهغه څه چې هم لاس ته راتللی شی دخاص نظرپه رڼا کی ثبت شوی دی یعنې عندی دی اوعینی نه دی .

دغه محدودیت هروخت په تاریخ کی لیده شی . خودپورته سوال ځواب ددغی پوښتنې په ځواب کی مینڅل کیدلی شی چې په دغسې حال کې دمؤرخ وظیفه څه ده؟ مؤرخ دحقایقودتعبیراوتوجیهه نه علاوه یاترهغه دمخه دغه وظیفه لری چې دتاریخ لیکنی دعصری میتودپه رڼا کی هغه سوړې ډکې کړی کومی چې دنیمګړو او محدودو حقایقوله امله پیداشوی دی اودغه کاردنوروا جتماعی علوموپه مرسته وکړی .

په دغه حساب يومؤرخ بايد :

۱ـ دتاريخ ليکنې يو منظم اودقيق روش اوميتودتعقيب کړي .

۲ـ دتاريخ دماهيت اوفلسفې په باب ديوه منسجم اومنطقي نظرخاوندوي .

۳ـ دنوروبشري اوحتی ترڅه حده د ساينسي علومو په باب لږ تر لږه عمومي معلومات ولري .

٤ـ ذهين اوابتکاري‌وي‌اوداستنتاج پوره قدرت ولري. داکترجي . التين‌لاحتی په دې فکردی چې تخصصي مؤرخ يوازې هغه څوك کيدلی شي چې د لوړ و شهادتنامودپاره يې لوړي تحقيقي تيسسونه اووروسته تحقيقي اثارليکلي وي ، او ورسره جوخت په تدريس بوخت وي .

دانظردهغه نظرپه ضد دی چې‌وايي هرڅوك مورخ کيدلی شي فقط دومره چې‌دسليم عقل خاوندوي، دشجره‌نامو او قبالو په ثبتولو اوضبطولو کې‌مهارت ولري،دفوت نوتونو په‌ښوولوکې ښه وارد وي، معلومات اوحقايق ښه‌قطار کړای شي ، بې‌له‌دې چې دهغو ترمينځ منطقي ارتباط قايم کړي اوهغه دعصري علومو په رڼاکې تاويل اوتفسير کړي اونتيجه ترې‌وباسي . پروفيسر کارهم‌څه‌وخت چې‌وايي (... يوڅوك کولی‌شي دماضي دپيښو په باب ليکل اولوستل وکړي بې‌له‌دې چې وغواړي په‌دې پوه‌شي چه هغه څله واقع شول» هم په همدغه ټکي اصرار کوي ، خوپروفيسر کار په دې ټينګ دی چې پـه دغسې حال کې‌دی بيادې دغه غلطي ونه‌کـړي چې ځان مورخ يا دتاريخ محصل وګڼي ځکه چې دده په عقيده دتاريخ مطالعـه د علتونـو مطالعه‌ده :

پروفيسر کار دترقي په عقيدې ټينګ ولاړدی . دی د ځينو نورو مفکرينو په خلاف دتمدن اوجهان په‌باب دبدبينې ويره نه لري بلکه په دنيايي او انساني چارو کې دعقل‌دپرله‌پسې اوپراخيدونکي رول په باب خوش‌بين دی او دنوروتوجه ورته جلبوي . دا يو ستر او بې سابقې تحول دی چې د دوه سمتونو يعنې دعمق او افق په لور روان دی . دعمق په‌لوريې دتحول ممثل مفکران هيګل ، مارکس اوفرويددی

چې هریوه پهخپل وارسره پهانساني چاروکې دعقل برخه ډېره کړې ده . پهنتيجه کې انسان اوس زيارباسي چې دلومړي ځل دپاره خپل کړه او جامعه دعقل په رڼا کې پهآګاهانه ډول لهسره تنظيم کړي .

افقي تحول دجهان دمخ اوښتي شکل دی. مطلب دشرق په لور دثقل د مرکز يا دتمدن انتقالدی. تمدن نورنو هغه نهدیچې مرکز بهيې اروپا يا امريکا يااتلانتيک او يا انګليسي ـ ويونکي نړۍ وي بلکه نوی تمدن دې ته متمايل دی چې دشرق په محوروڅرخيږي. دلته دبشرډېر اوګڼ ولسونه پراته دي چې دغربي تخنيک او ساينس په برکت د لومړي ځل دپاره په ډېره پراخه اندازه په تفکر او سوچ کولو پيل کوي، سياسي شعورپهکې پيدا اوقوي کيږي، پهتاريخ کې ننوځي اودخپلجهان مخ اړوي. دغه انتقال، مخصوصاً دغرب نسبي انحطاط دغرب يوشمير مفکران بدبين کړيدي . دوی پيشګويي کویچې د تمدن کشتۍ د انحطاط په بې پايان بحر کې د ډوبيدلو په حال کې ده، مګر پروفيسر کار دغه انتقال د تکامل پـه لور ترقي او پيشرفت ګڼي .

هيله کـومچې ددغه اثر پهپښتو کولو سره تاريخي مسايل او نظريات دنو ر و مفهومونو پهجمله کې طرحاوتعميم شي اوداواضحه شيچيهغه يوازيپه تتبع اود مشخصو اومستندوحقايقو پهبنا په استقرايي ډول قايم کيدلیشي اولکه څنګه چې دلته رواج لري هغه دوچ تفکر اوتخيلاو ياقبلي تحکممحصولنه وي او کهويهغه پهتاريخ پوري څه اړه نه لري .

دغه اثر لومړي په ۱۹٦۱ کې د کيمبرج دپوهنتون دپوهانو په وړاندي دجارج مکالي ترې ولين، د انګلستان ديوه مشهور مورخ ليکچرونوپه نامه اورول شوی او وروسته دکتاب په شکل راوتلی دي . په ترجمې کې يـې ما کوښښ کړی دی چـې مستقيم نقلقول هغسي او فوټ نو ټونه پوره و ښيم يعنیدکتا ب هر څه په پښتو واړوم. برسره پردي مې دلوستونکو پهخاطردځينو موضوعاتو او نو مو نو په با ب مختصر معلومات اضافه کړلاود هغو پهاخر کېمی (م) دمترجم دمخفف پهحيث په

قوس کی وښوده. په دې‌حساب تېرلې هغه لاندینی لیکنې‌چی(م) یې په‌اخر کې نه‌شته دمولف دی ، اونوریې زما اضافات دی .

له‌پوهنوال ډاکترمجروح ، دادبیاتواوبشري علوموديوهنځی رئیس اوپوهاند میرحسین شاه مرستیال نه تشکر کوم چی ددغه کتاب دترجمه کولو دپاره‌یی زما له‌خواهش‌سره موافقه وکړله اودپوهنځی له‌خوایی‌دچاپولو ترتیب ونیوه. دپوهیالی محمدطاهر علمی دوزمی دمجلی مسئول مدیر اوښاغلی وزیردمجلی‌مهتمم زحمتونه دپوره قدروړبولم چی دکتاب دصحیح چاپولو په‌منظوریی گاللی دي. کورودانی ورته وایم .اونورموفقیت یی‌غوارم.

محمدحسن « کاکړ »

دادبیاتو په پوهنځی کې دتاریخ استاد

ازاد بهاوان ، نوي دهلی

داپریل اوومه، ۱۹۷۰

یادونه : دالیکنه می په دهلی کې چیرته چې دیوه لنډ سفردپاره تللې وم، کړی وه.

-۱-

# مؤرخ اود هغه حقایق (۱)

تــاریـخ څه‌تـه وایـي ؟ ددې دپاره چې‌څوك فـكرونــه كـړي چې دا پوښتنه بې معنی یاسطحی ده د کیمبرج دمعاصر تاریـخ له لومړي اودوهم چاپ څخه دلته دوه فقرې نقلوم . په لومړني چاپ کې اکتن ۲ د خپل اثرپه باب‌چې دهغه تألیف یې په غاړه اخیستی و، یوه لیکـنه لری . ده دالیکـنه په هغه رپوټ کې وړ اندې کړله کومه چې یې د۱۸۹٦ په اکتوبر کې د کیمبرج دپوهنتون په مطبوعا تو کــې داتحادیودوړاندې کړې وه . دی وایـی :

«دا (تألیف) دڅبتولو بېجوړې فرصت د ی . په د غسې طر یقه‌چې د زیات شمیر دپاره ډیر گټهور دی ، دپوهې غناده کو مه چې نولسمه پیړۍ به یـې ډیرزرپه میر اث پریږدی ...... د کارپه معقول ویش‌سره به‌مو نږ دا کارو کولی‌شو اود هریوه‌شخص دپاره به مو نږ وروستی سند او دبین المللی تحقیق ډیرې پخې نتیجې کورته راوړو.»

«نهایـی تاریـخ مونږپه دغه نسل کې لرلی نه شو، خودمرو جي اوعنعني تاریـخ چاره کولی شواو هغه تـکی ښودلی شوچې مونږپه لارې کې له یوه څخه وبــل ته

---

۰۱ Facts

۰۲ John D.Acton (۱۸۳٤-۱۹۰۲) انگلیس رومن کاتولیکی مورخ. په ۱۸۹۵ کې په کیمبرج کې پاچایې پروفیسر (Regius professor) وتاکل شو . هلته ده د نور و په مرسته دکیمبرج د معاصر تاریخ دلړ دلومړی ټوك په لیکلو پیل وکـړ .دده لبرالـی نظریات دبرتانیـی دتاریخـی مطالعاتو په انکشاف کې دده په معاصروژور تاثیرات کړی دی .(م)

رسیدلی یو په دې چې اوس ټول اطلاعات زمونږ په احاطه کې دی او هره مسئله دحل وړ گرزیدلې ده . » ۳

نږدې پوره شپېته کاله وروسته ، سرجارج کــلارك ٤ دکیمبرج د معاصر تاریـخ په سریزې کې دا کتنې او دهغه دهمکارانو په دغې نظریې چې یوه ورځ بـه داممکـنه شي چې « نهایـي تاریـخ » ولیـکل شي، داسې ولیکل :

«وروستی نسل مؤرخان دغسې انتظار ته هیـڅ امید نه کوي . دوی هیله کوي چې ددوی اثر به بیابیاعوض شي . فکر کوي چې دماضي پوهه دیوه یا ډیرو دماغونو لهلارې رانقله‌شوې‌ده، او دغو دماغونو په هغې«عملیه» جاري کړې ده. نو نه‌شي کیدلی چې داپوهه دابتدایي اوغیرشخصي‌ذراتو څخه جوړه وي‌چې هیـڅ شی به تغییرور ته ورنه کړي ...... ښـکاریږي چې اکتشاف اولوڅول انجام نه‌لري اوځینې بـې‌صبره پوهان شکاکیت ته رجوع کوي یا لږتر لږه هغه‌نظرتـه رجوع کوي چې( وایي) څنگه‌چې ټول تاریخي‌قضاوتونه‌داشخاصوا ودهغوی دنقاط نظر په‌باب دی،یوقضاوت هغومره ښه‌دی، لـکه‌هابل‌چې‌دی، اوهیـڅ«افاقي» تاریخي‌حقیقت وجودنه لري.» ٥

داچه دغه ښه تان کوملته یوبل په واضح ډول نقض کــوي ، د بحث د پــاره خلاصه موضوع ده . هیلـه کوم چې زه به په عصری معلوماتوپـه کافي انـدازه مجهز اوسم چې وښیم هرهغه څه چې د ۱۸۹۰ په لسو کالونـو کـې لیـکل شوی دی باید ارومرونامعقول وي . خوزه لادومره په مخ تللی نه یم چې په دې نظر یـې شم چې هرهغه څه چه د ۱۹۵۰ په لسو کالونو کې کښل شوي دي ، ارومرو به مفهوم ولري . ممکن تاسوته لادمخه دافـکرپیداشوی وي چې دغه تحقیق به د تا ر یـخ له ماهیت څخه کوم ډیرپراخ میدان ته سروو‌هي . داکتنې اوسرجارج کلارك ترمینځ

۳. د کیمبرج معاصر تاریخ : منبع ،تالیف او تولید یې (۱۹۰۷) ، مخونه ۱۰-۱۲ .

٤. Sir George Clark

٥. د کیمبرج نوی معاصر تاریخ ، i (۱۹۵۷) ، مخونه XXIV-XXV .

تصادم دهغه تحول انعکاس دی کوم چې زمونږ په مجموعی نظر کې د جامعې او دهغې و قفې په باب پیښ شوی دی په کومې کې چې دادواړه نظریات قایم شوی دی. اکتین دویکتوریا ۶ د عصرله یوې مثبتې عقیدې، دپوره بینا او اعتماد په نفس نه غږیږی. سرجارج کلارك دمغلوب نسل دحیرانی او دوارخطا شکا کیت انعکاس کوی. څه وخت چې مونږ زیار باسوچې ددغې پوښتنې دپاره چې «تاریخ څه ته وایی؟» ځواب ومومو، زمونږځواب په شعوری یاغیرشعوری ډول سره زمونږپه عصر کې زمونږخپل دریځ منعکس کوی، او دهغې پراخې پوښتنې په باب زمونږ د ځواب یوه برخه تشکیلوی چې مونږدهغې جامعې په باب چې ژوند په کې کوو، څه نظرلرو. زه له دې څخه څه ویره نه لرم چې که ښه ځیر و شی زمادبحث موضوع به وړه ښکاره شی. خوله دې څخه ویریږم چې ښایې زه مغرور ښکاره شم چې داسې ستره او پراخه پوښتنه مې میدان ته اچولې ده.

نونسمه پیړۍ دحقایقو یودیرلوی عصرو. ښاغلی گرید گرند ۷ په هارډټایمز ۸ کې وویل چې «هغه څه چې زه یې غواړم حقایق دی..... په ژوندانه کې یوازې حقایقوته ضرورت دی.» دنونسمې پیړۍ مؤرخان په عمومی ډول له ده سره موافق وو. کوم وخت چې رانکې ۹ د ۱۸۳۰ په لسو کالونو کې دتاریخ داخلاقی کولوپه ضد درد اواعتراض په توگه وویل چې د مؤرخ وظیفه

---

۶- Victoria (۱۸۱۹-۱۹۰۱)، دانگلستان ملکه.(م)

۷- Gradgrind

۸- Hard Times

۹- Leopold von Ranke(۱۷۹۰-۱۸۸۶) جرمنی مورخ. رانگك کې خپل ټول عمرتاریخی مطالعاتو ته وقف کړ. ټول اثاریې ٤٥ جلدونوته رسیږی. دی دتاریخی شواهدو دساینس اصلی موسس دی. داهسې یو تخنیك وچې په ټولی اروپا کې یې دتاریخ لیکلو یودسپلین قایم کړ. دده مشهوره ادعا داده چې مورخ موظف دی چې «وقایع لکه څنگه چې پیښیږی، بیان کړی» په دی معتقد وچې باید مورخ یوه موضوع دغسې تعقیب کړیچې له ړومبیو فرضیو څخه پوره ازاده وی. په دی ډول ده دتاریخ لیکنې دپاره دیوه نوی‌افاقیت ادعا کواله. دی په برلین کې له ۱۸۲۵ څخه تر ۱۸۷۲ پوری دتاریخ پروفیسرو.(م)

داده چې « یوازې وښیی چې هغه حقیقتاً څنگه و » ۱۰ دغې لـه چندان دومره ژورې وجیزې حیرانوونکی موفقیت وموند . دجرمنی ، انگلیسی ، او فرانسوی مؤرخانودریونسلونوپه دغوسحرلرونکوکلماتولکه د اوراد اودعاگانوپه و یلوسره دجنگ میدان ته په خوازه اوازمندې ووهلې ، چې د تفکر له ستو مانه کو و نکې مصیبت څخه ځا ن وژغوری ، لکه څنگه چې ډیر ورد اودعا و یونکی همدغسې څه غواړی . مثبتیونو ۱۱ یعنې کوموکسانوچې غوښتل دتاریخ دپاره د سا ینس ادعاو کړی ، دحقایقودلمانځلو اودرناوی دپاره له خپل نفو ذڅخه کا ر واخیست . دوی به و یل ، لومړی حقایق معلوم کړئ، بیاخپل نتایج ترې وباسئ . په برتانیی کې دتاریخ دغه نظرددغه ملک له تجربی عنعنی سره کـوم چې له جـان لا ك ۱۲ څخه تر برتراندرسل ۱۳ پورې په برتانوی فلسفې کې یومسلط نظرو ، پوره اړخ ولگاوه . د علم تجربی نظریه دفا عل ۱٤ او موضوع ۱۵ تر مینځ د کا مل بیلتون فرضیه منی . حقایق دحسی انتباهاتوپه څیر ، له بهر څخه په مشا هد تـکر کو ی اودهغه له شعور څخه مستقل و ی . دجذبولوعملیه غیرفعاله و ی ، داسې چې مشا هد هغه وخت چې مفروضات ۱٦ و مو می ، وروسته په هغو عملیه جا ر ی کو ی . داکسفورډ کوچنی قاموس چې گټور مگر د تجربې ښوونځی غرض ناك ا ثـر د ی د حقیقت ۱۷ پـه تعر یف کو لو کې د د و ا ړ و عملیو بیلتو ن په و ا ضح ډ و ل ښیی ، اولیکی چې حقیقت هغه «تجربی مفروضه ده چې له نتا یجو څخه بیله وی.»

---

۱۰- Wie es eigentlich gewesen.

۱۱- Positivists

۱۲- John Locke (۱٦۳۲-۱۷۰٤)، انگلیس فیلسوف .(م)

۱۳- Bertrand Russell (۱۸۷۲-۱۹۷۰) دانگلستان معاصر فیلسوف .(م)

۱٤- Subject

۱۵- object

۱٦- data

۱۷- Fact

حقایق د مؤرخ دپاره په سندونو، کتیبو ، اونورو کې موجود دی، لکه څنګه چې ماهیان د ماهی خرڅوونکی په تېنګ کې موجودوی . مؤرخ هغه ټولوی، او په هره سلیقه اوذوق چې یې خوښه وی ، هغسی یې پخوی او دخوړلو د پا ر ه یې تیاروی . دا کټن دپخلی ذوق ساده اوبې تکلفه و . نوبې غوښتل چې ماهی ساده وخوری . د کیمبرج معاصرتاریخ دلومړی چاپ لیکونکوته یې دلارښوونکی په لیک کې داشرط اعلام کړ «چې زمونږ و اټرلو ١٨ باید داسې و ی ، چې فرانسویان ، انګلیسان ، جرمنیان ، اوهالنیډیان یو راز قانع کړ ی ؛ چې هیڅوك دمؤلفانودلست له لیدلو نه غیرو نه شی ویلی چې داکسفورډاسقف قلم چیرته کښیښود یا داچې فیربیرن ١٩ یا ګاس کیت٢٠ ، لیبرېمان ٢١ ، یا هر ی سن ٢٢ هغه راجګ کړکه نه . ٢٣ حتی سرجارج کلارك که څه هم چې دا کټن د ر و یی منقدو، په‌تاریخ کې یې د«حقایقوټینګ زړی»د«مشکوك تعبیرله چارپیرمغز» سره پرتله کړی دی . ده په د غسې حکم کولو سره ممکن داله یا د ه ایستلې و ی ، چې د میوې مغزتر ټینګ زړی څخه ډیرخوندوروی . لومړی خپل حقایق سم کړه . بیادځان په خطرسره دشګوپه ښوئېدونکی تعبیرکې ځاند ننه کړه . د او د تاریخ د تجربی اوسلیم عقل دمکتب نهایی‌عقل. داعقل مونږته دهغه سترلبرال‌جورنلست سی . پی . سکاټ ٢٤ په زړه پورې ویناراپه زړه کوی چې وایی «حقایق مقدس دی ، اونظریه ازاده ده .»

---

١٨- Waterloo دبلجیم ښاریعنی‌چیرته چې د ١٨١٥ کال دجون په اتلسمه ناپلیون بوناپارت شکست خوړلی‌و .(م)

١٩- Fairbairn

٢٠- Gasquet

٢١- Liebermann

٢٢- Harrison

٢٣- اکتن ،دمعاصر تاریخ په باب لیکچرونه،(١٩٠٦)،مخ ٣١٨ .

٢٤- C. P. Scott

خوښکاره ده چې دالیکني اوس زمونږ قناعت حاصلولی نه شي . زه به دماضي په باب زمونږدپوهې دماهیت په حقله په فلسفي بحث لاس پورې نه کړم . دموجودو مقصدونودپاره به دا فرض کړوچې داحقیقت چې قیصر ۲۵ د ر و بیکان ۲٦ له و یالې څخه تېرشو، اودغه حقیقت چې دخونې په مینځ کې یومیز پروت د ی ، دواړه یوشانته پرتله کېدونکی حقایق دی، اودواړه حقایق زمونږپه شعور کې په یوه ډول یاپه مقایسه کېدونکې رقم سره ننوځي اودواړه حقایق دهغه چادپاره چې هغه پیژني یورازافاقي خصوصیت لري . خوحتی ددغه زړوراوچندان نه منطقي او کېدونکي احتمال سره سره ، زمونږدلیل سمدلاسه له مشکل سره مخامخ کیږي . مشکل داد ی چې دماضي په باب ټول حقایق تا ر یخي حقا یق نه د ی ، یا د ا چې یو مؤرخ یې همد غسې ګڼي . نوهغه محک کوم دی چې دماضي په باب تاریخي حقایق له نورو حقایقوڅخه بیلوی ؟

تاریخي حقیقت څه شی دی ؟ دایوه مهمه پوښتنه ده چې باید مونږورته ښه ځیر شو. دسلیم عقل د نظر په اساس ، ځینې باوري اساسي حقا یق شته د ی چې د ټو لو مؤرخانودپاره یوشان دی، او دتاریخ بنسټ جوړوی ، لکه داچې دهیستینګز ۲۷ جګړه په ۱۰٦٦ کې شوې وه نه په ۱۰٦۵ یا۱۰٦۷ کې، او داچې داجګړه پههیستینګز کې شوې وه نه په ایسټ بورن ۲۸ یاپه برایټن ۲۹ کې . کله چې په دغسې ټکو بحث کیږي ، ماته دهوس مین ۳۰ وینارا په زړه شي چې وایي :

---

۲۵- Gaius J. Caesar (۱۰۰-٤٤ ق.م . )
دروم جنرال ،سیاستمدار ، او لیکوال . (م )

۲٦- Rubicon

۲۷- Hastings . دانګلستان په جنوب کې یو بندري ښار .(م)

۲۸- East Bourne

۲۹- Brighton

۳۰- Alfred E. Housman (۱۸۵۹-۱۹۳٦ ) انګلیس کلاسیکي عالم ، او شاعر .(م )

«صحیح والی یوه وظیفه ده، صفت نه‌دی.» ۳۱ د صحیح والی دپاره دمؤرخ ستایل داسې مثال لری لکه یو معمار چې په ودانۍ کې دښوموسمی لرګیواو د مناسب مخلوط کانکریت په استعمال سره وستایل شی. دادهغه دکاریوضروری شرط دی. اساسی وظیفه یې نه ده. دهمدغسې موضوع ګانوپه وجه ده چې یومؤرخ د دې مستحق ګڼل کیږی چې په هغوچې دتاریخ د« مرستیالو علومو» په نامه یاد شوی دی لکه ارکیا لوجی ۳۲ ، د کتیبو د لوستلو په علم ، ۳۳ صکوك پیژندنې ، ۳٤ نیټه لیکڼ ۳۵ او نورو باندې اعتمادو کړی. له مؤرخ څخه دانه غوښتل کیږی ، چې دې پخپله داسې خاص فنون او مهارتونه زده کړی چې په هغوسره یومتخصص کولی شی دیوه ټوټه کودی یامرمر اصل اوعصرمعلوم کړی اویا کومه مجهوله کتیبه ولولی ، اویادیوې نیټې دتیا کلو دپاره نجومی حسابونه وکړی. دغه تش په نامه اساسی حقایق چې دټولو مؤرخانو دپاره یو شان حیثیت لری، په مشترك ډول د یوه مؤرخ داومو موادوپه نوع پورې اړه لری ، نه دا چه هغه پخپله تاریخ دی. دوهمه کتنه داده چې هغه ضرورت چې دغه اساسی حقایق قایم او مستقر کړل شی په خپله دحقایقوپه کیفیت څه اړه نه لری ، بلکه هغه دیوه مؤرخ په ړومبنی ۳٦ فیصلې متکی وی. دسی. پې. سکاټ له متل سره سره، نن ورځ هرجورنلست په دې پوهیږی چې دمناسبوحقایقوانتخاب او ترتیب په ذهن باندې داثراچولو یوه ډیره مؤثره طریقه ده . حقایق پخپله غږیږی. خودا حکم‌سم نه دی. حقایق هغه وخت غږیږی ، چې مؤرخ پرې ناری کړي . دافیصله دمؤرخ

---

۳۱- M. Manilii Astronomicon: Liber Primus (دوهم چاپ ۱۹۳۷، مخ ۸۷ .)

۳۲- Archaeology

۳۳- Epigraphy

۳٤- Numismatics

۳۵- Chronology

۳٦- a priori

په لاس ده چې کوموحقایقوته په کوم ترتیب او کومې قرینې کې د غږ ید او و ا ر ور کړی . زما په خیال دادپیراندلو ۳۷ یولوبغاړی وچې ویلی یې و حقیقت د یو ه جوال په شان ، په خپله دریدلی نه شی ، ترڅویوشی په کې وانه چوې . هغه یوازنی علت چې مونږیې له پوهیدلوسره علاقه لرو چې دهیستنګز جګړه په ۱۰۶٦ کې شوې وه ، دادی چې مؤرخ دغه پېښه د یوې ستر ې تاریخي پېښې په حیث ګڼي . دامؤرخ دی چې دشخصی دلایلو له مخې یې فیصله کړ ې د ه ، چې له هغې و ر ې ویالې روبیکو ن څخه دقیصرتیریدل دتاریخ یو حقیقت دی ، په داسې حا ل چې په میلیونونو ر انسانان له دغې ویالې څخه تیرشوی دی، اودهیچاپام یې ځانته ګرځولی نه دی . داحقیقت چې ته نیم ساعت دمخه دغې ودانۍ کې پښې ابلی ، یاپه بایسکیل یاپه موټرر اننوتلی ، دماضی په باب هغومره یوحقیقت د ی ، لکه هغه حقیقت چې قیصرله روبیکان څخه تیرشوی دی. خومؤرخان ممکن دغه حقیقت نه لیدلی و ګڼي . پروفیسرټال کوټ پارسنز ۳۸ یووخت ویلی وچې ساینس « حقیقت ته دادراکې جهتونویوانتخابي سیستم » ۳۹ دی . داخبره ممکن تردینه ساده هم شوې وای . خوتاریخ دنورو څیزونو په جمله کې همدغه دی . مؤرخ لزوماً انتخابی دی. داعقیده چې دتاریخي حقایقوتینګ مغز دمؤرخ له تعبیرڅخه ازاددی ، او افاقی وجودلری ، یوه ستره غلطی ده ،مګرداداسې غلطي ده چې ور کاوی یې ګران دی .

اوس به هغې عملیې ته له نږدې څخه وګوروچې په هغې سره دماضی په باب یومحض حقیقت څنګه په تاریخي حقیقت اوړی . په ۱۸۵۰ کې په ستها لی بر ج ویکس ۴۰ کې خلقویوتند مزاج بایع په یوې وړې شخړې کې قصداً په مر ګ وواهه . ایادادتاریخ یو حقیقت دی؟ تریوه کال دمخه به ماپه زغرده ویل چې «نه» .

---

۳۷- L. Pirandello (۱۸٦۷-۱۹۳٦). ایتالیې درامه لیکو نکی او ناول لیکونکی.(م)

۳۸- Talcott Parsons

۳۹- پارسنز او ای.شلز(E. shils)، دعمل دعمومی تیوری په لور(دریم چاپ ، ۱۹۵٤) ، مخ ۱٦۷.

۴۰- Stalybridge Wakes

داپیښه یوه کتونکی کښلې وه . ٤١ مګر دده له لیکنې څخه ډیرخلق خبر نه وو. اوماکوم مؤرخ لیدلی نه دی چې دغه پیښه یې دذکرور ګڼلې وی . یوکال د مخه دغه پیښه ډاکترکټسن کلارك ٤٢ پـه اکسفورډ کې دخپل دفورډ په لیکچرونو کې یاده کړله . ٤٣ دابه یې اوس په تاریخی حقیقت واړوی ؟ ګمان کوم چې تراوسه لانه . زماپه فکرچې دغه پیښه اوس دتاریخی حقایقوپه انتخابی کلب کې دغړیتوب په غرض وړاندې شوې ده . یوه تائید کوونکی او نګرانانوته انتظار لری . دغه حقیقت ممکن ، په څوکالونوکې ، دانګلستان دنونسمې پیړ ی په باب په کتابونواومقالوکې لومړ ی په فوټ نوټونو، اووروسته په متن کې ولیدل شی . یاداچې هیڅوك به ورته پام ونه کړی ، او په دې ډول بـه دغیرتـاریخی حقایقوپـه سمندرکې ورك شی ، له کوم څخه چې ډاکترکلارك کوښښ کړ ی دی ، چې خلاص یې کړ ی . کوم شی به فیصله وکړی ، چې دغه یاهغه حال بـه پـه دغـه حقیقت راشی ؟ زماپه فکردابه په دې اړه ولری ، چې نور مؤرخان به هغه تیسس یاتعبیرکوم چې ډاکترکټسن کلارك ددغې پیښې په طرفدارۍ ذکرکړی دی مهم وګڼی ، یانه . ددغې پیښې موقف به دتاریخی حقیقت په حیث دتعبیر په مسئلې باندې وڅرخیږی . دتعبیردغه عنصرپه هرتاریخی حقیقت کې داخلیږی .

اجازه به وی ، چې یوه شخصی خاطره یاده کړم ؟ څوکـا له رومبی ، څـه وخت چې ماپه دغه پوهنتون (کیمبرج) کې دلرغونی تاریخ تحصیل کاوه ، یـو خاص مضمون مې په نامه د «یونان دپارس په جنګونوکې» لوسته . پنځلس یا شل کتابونه مې په الماریۍ کې راغونډ کړی وو، اودامې منلې وه ، چې ټول حقایق په دغوکتـابونوکې موجوددي ، کوم چې زماپه مضمون پورې اړه لری . راځئ چې داوګڼو- او داتقریباً صحیح هم وه - چې دغوکتـابونو په دغه بـاب ټـول

٤١- لارډ جارج سنګر(Lord G. Sangar) او یاکاله نندارې ښوونکی (دوهم چاپ ، - ١٩٢٦) مخونه ١٨٨-١٨٩ .

٤٢- Dr. Kitson Clark

٤٣- ډاکتر کټسن کلارك ،دویکتوریایی انګلستان جوړول (١٩٢٦)

حقایق لرل ؛ کوم چې هغه وخت معلوم وو، او یامعلوم کېدلی شوو . دامې گرد سره فکرته نه لوېدله : چې پوښتنه وکړم ، چې دغه حقایق په کوم تصادف او عملیې سره چې دحقایقوانتخاب کوی ، له هغوډېرو حقایقوڅخه چې یو وخت به چاته معلوم وو، راژوندی پاتې شوی دی ، اوتاریخي حقایق گرزېدلی دی . گمان کوم چې نن ورځ هم دېخوانیواومنځنیوپیریو دتاریخ یو سحردادی ، چې مونږ داسې تیرباسی چې مونږ گواکې ټول حقایق په لاس کې لرو . د ماضي په باب دتاریخي حقایقو، اونوروحقایقو متنازع فیه فرق ورک شوی دی ، په دې چې معلوم حقایق ټول تاریخي حقایق دی ، برې ۴۳ چې ددواړو عصرونو په باب تحقیق کړی دی، لیکي «دېخواني اومنځني تاریخ اسنادډېرې سوري لري .» ۴۴ تاریخ یو داسې سترما شین بلل شوی دی چې د یرې پرزې یې ورکې دی . خولوی مشکل په سوروکې نه دی . دیونان دپنځمي پیړی ق . م . تصویر اساساً په دې ناقص نه دی چې ډیرې پرزې یې په تصادفي ډول ورکې شوې دی . نیمگړتیا په دې کې ده چې تصویرپه زیاته اندازه داتن دښاردیوې ډیرې وړی ډلې له خوا کښل شوی دی . مونږ په دې ډیرښه پوهیږوچې دهغه وخت یونان داتن دیوه مدني فردپه نظر څنگه ښکاره کیده خو په دې په ډیر مشکل پوهیږ و چه د سپار تا ۴۵ یادکورنت ، ۴۶ یادتب ۴۷ دفردپه نظرڅنگه معلومیده ؛ دفارس فر د ، غلام یاداتن غیرمدني فردخولا په ځای پریږده . زمونږ تصویرزمونږدپاره پخوا تر پخوا غوره شوی ، اوتیا کل شوی دی ، نه دومره پهاتفاقي ډول ، بلکه دهغوخلقوله خوا چه په شعوری یاغیرشعوری ډول په یوه خاص فکروو، او په داسې حقایقو یې سوچ کاوه چې ددوی په نظردساتلووړوو. کله چې زه دمنځنیوپیړیو په باب په

---

۴۳- Bury

۴۴- J. B. Bury ، غوره لیکنې (۱۹۳۰)، مخ ۵۲ .

۴۵- Sparta

۴۶- Corinth

۴۷- Theb

کوم معاصرتاریخ کې داسې یوڅه لولم چې وایې دهغووختو نـو خلق لـه مذ هب سره ډیرعلاقمن وو، نوماته داپوښتنه په زړه شي چې ښه مونږدامعلومات له کومه کړ، اوهغه درست دی که نه . هغه څه چه مونږ یې دمنځنیوپیړیو په باب دحقایقوپه څیرپیژنو، مونږته نژدې ټول دپیښوکښوونکو ۴۸ نسلونوله خوا غوره شوی دی اودوی دفن اوکسب په لحاظ په عمل اونظر کې مذ هبی کسان وو. د و ی هغه څه وکښل ، اوهغه څه ورته مهم بریښیدل چې په مذ هب پورې یې اړه لرله . د و ی نورڅه هیڅ ضبط نه کړل. دروسیی دکروندهگرهغه تصویرچې دی دزړه له کومې مذ هبی دی ، د۱۹۱۷ انقلاب دړې وړې کړ. داچه دمنځنیوپیړ یـودانسان تصو یـر دزړه له کومې مذ هبی دی، ممکن درست وی، یادرست نه وی،مگرنه ماتیدونکی دی ، په دې چې دده په باب ټول حقایق دهغوخلقوله خوا ټاکل شوی ا و غوره شوی دی چې په همدې عقیدې و و ،اوغوښتل یې چې نورهم پرې معتقدکړی . هغه نورډیرحقایق چې ښایې دهغوپه رڼا کې ددغه نظرعکس ثابت شو ی و ا ی ټول له لاسه وتلی دی . دمؤرخانو،کاینانو ،اوپیښو کښوونکودو ر کوشویونسلونو مړولاسو نومونږ تـه دماضی طرح اوترتیب بـې له دې چې مونږ په د غه بـا ب څه کولی وشو، ټاکلی دی . پروفیسربره کلف ۴۹ چې پخپله دمنځنیو پیړیو متخصص دی ، لیکی : «که ښه ځیرشو ، هغه تاریخ چې مونږ یې اولو ، که څه هم چې په حقایقومستند دی ، حقیقتی نه دی ، بلکه دمنل شویوقضاوتونویولړ د ی . » ۵۰

خوراځئ چې دمعاصرمؤرخ بل ، مگرپه مساو ی ډو ل ؛ مهم مشکل تـه مـخ وگرزوو . دپخوانیو،یامنځنیوپیړیو مؤرخ به دبیلو لو له هغې پر ا خې عملیې څخه ممنون وی، چې په هغې سره یـې ده ته د تاریخی حقایقوزیات شمیر مرتب حقا یق ور په لاس کړی دی . لـکه چې لیتن ستراچی ۵۱ ویلی دی : « نـاپـوهـی

۴۸- Chroniclers

۴۹- G. Barraclough

۵۰- جې . بره کلف ،تاریخ په اوړیدونکی جهانکې (۱۹۵۵ ).مخ ۱۴ .

۵۱- Lytton Strachey

دمؤرخ لومړنی شرط دی ، هغه ناپوهي چې ساده کول کوی ، واضح کول کوی ، غوره کول کوی ، اوحذف کول کوی .» ۵۲ څه و خت چې زه دیته متما یـل شم ، لـکه چې کله کله کیږم ، چې دخپلو همکارانو په نهایـی استعدادباندې رخـه و کړم کوم چې دپخوانیو اومنځنیو پیړ یو په تاریـخ ایـکلو بوخت دی ، په دغه فکر سره ارام شم چې دوی ځکه لیاقت لري ، چې زیاتره یې په خپلې موضوع کې ناپوه دی . معاصر مؤرخ له دغې طبیعي ناپوهي څخه محروم دی . د ی بـا یـد دغـې ناپوهي په ځان کې تزریق کړی . څومره چې دی خپل وخت ته را نـږدې کیږی ، دی باید دغه کارزیات و کړی . دی یوه دوه اړخیزه وظیفه په مخ کـې لري . باید یوڅونوی مهم حقایق وسپړی ، اوپه تاریخی حقایقو یې واړوی ، او ډیرغیرمهم حقایق دغیرتاریخی حقایقوپه نامه رد کړی . خود ادنونسمې پیـړ ی د بد عت معکوس شکل دی چې وایی تاریـخ دزیاتو شمیرو دافاقی او نه ردکیدونکو حقایقوله تدوین اوتـألیف څخه عبارت دی . هرهغه څوك چې دغسې بدعت تـه تسلیم کیږی ، یاباید تاریـخ دیوه بد مسلـك په حیث له سره پریږدی ، یا د پوستې تـکـتونوتو لولو او یاد عتیقه پیژندنې کسب ته ملاوتړی ، او یادا را لمجا نین تـه منتهی شی . په ساوتیرو کالونو کې ، دغـې بدعت په معاصرمؤرخ ډیرورانوونـکی اثرونه کړی دی ، اوپه جرمنی ، لـویـې بـرتـانیـې ، او امـریـکې کـې یـې داسې تاریخونه تولید کړی دی ؛ چې بس یوازې یې و چ حقایق لرلی دی ، او یا یې دکیدونـکوشاگردو مؤرخانواختصاصی مونوگرافونه ثبت کړ ی دی ـ داسې مؤرخان چې دلږولږو په باب ډیرډیرپوهیږی ، اودحقایقو په سمندر کې بې له کومې نښې نښانې څخه ډوب شوی دی . زماپه فـکرچې دهمد غه بد عت رواج و، نه دلبرالـی یا کاتولیـکی وفادار یو ګډل شوی تضادچې اکټن یې دیوه مؤرخ په حیث زړه تنګی کړ. ده په یوې رومبنۍ مقالې کې دخپل ښوونـکی دالنجر ۵۳ په باب ویلی و :

۵۲ـ لیټن ستراچـی ، وتلیو ویکټوریناتوته مقدمـه .
۵۳ـ Dollinger جرمنـی مـورخ . (۱۷۹۹-۱۸۹۰) (م)

«ده نه غوښتل چې په ناقصو موادو سره ليکل وکړي ، او موادده په فکر تل ناقص وو. » ٥٤ اکټن دلته په یقین سره په ځان یوقبلي حکم کاوه - یعنې د مؤرخ په هغه عجب خاصیت چه نوربه یې په دغه پوهنتون کې د (معاصر تاریخ د څانګې د یـر وتلـي پاچايي پروفيسر) ګڼي ، خودې پخپلـه هيڅ تاريخ نه ليکـي . اکټن د کیمبرج دمعاصر تاریخ د لومړی ټوك په سریزې کې چې دده لـه مړینې څخه وروسته دیرزر چاپ شو ، خپله شناخته ولیکله او دا هغـه وخت و چې ده په دې افسوس وکړ چې قوی تقاضاګاني مؤرخ داسې « رټـي چې لـه اديـب څخه يې د دایرة المعارف په مؤلف بدل کړی . » ٥٤ غلطی په دې عقیدې کې وه چې دمسلمو او ثابتو حقایقو د نه ستړی کیدونـکی او بې انجامه ټولولو کارد تاریخ اساس ګڼل شوی و ، یعنی هغه عقیده چې وایي حقایق پخپله ګړیـږي ، او ځان ښیي او مونږ له حد څخه زیات حقایق لرلی نه شو. په هغه وخت کې دا دومره مسلم ګڼل شوی وچې یوازې یوڅو مؤرخانو دالازمه بلله - ځینې یې اوس هم غیرلازمی بولي- چې له ځان څخه و پوښتي چې «تاریخ څه ته وایي ؟ » .

دنونسمي پیړی دحقایقو درناوی داسنادو په لمانځلوسره روا وګڼل شو ، او تکمیل شول . اسناددحقایقو په عبادت ځی کې د تړون یخدان ٥٥ وګڼل شول . محترم مؤرخ دهغه په مقابل کې داحترام سرټیټ کړ، اودهغو په باب یې په ډیـر احترام اوخوف سره ویل شروع کړل . داعقیده عمومی شـوه چې که تـه یې پـه اسنادو کې ومومې ، نوهمدغسې به وی. خو که مونږ ښه ځیرشو دغه اسناد - فرمانونه تړونونه ، د کراه طومارونه ، حکومتي خپرونې ، رسمي ليکونه ، شخصي ليکـنې اوليکونه - مونږ ته څه شی ښیی؟ هیڅ سند تر دې نه چې دهغه په باب یې مـؤلـف څه فکر کړی دی ، مونږ ته زیات نورڅه ښو و لی نه شی ، یعنې کوم هغه څه چې

٥٤- د کیمبرج معاصر تاریخ، ټا (۱۹۰۲) ، مخ ٤ .

٥٥- The Ark of Covenant دیهودانو په تاریخ کې هغه لرګین یخدان چې دقانون جدولونه پکې خوندی شوی و .(م)

دده په فکرپیښې شوی دی ، او کوم هغه څه چې ده فکر کړی دی چې با ید پیښې شی ، اویابه پیښې شی ، یاممکن یوازې داچې نورخلق په دې سوچ و وهی چېده څه فکر کړی دی اویاحتی یوازې داچې ده په خپله فکر کړ ی د ی ، چې ده سوچ وهلی دی . دایوهم هیڅ مفهوم نه لري ،مگرترهغوچې مؤرخ پههغو عمليه جاری کړی نه وی ، اواوځ اوبربند کړی یې نه وی . حقایق که په ا سنا د و کې موندل شوی وي، یانه وی،موندل شوی، پخوالهدې چې مؤرخ ترې استفاده و کولی شی ، باید دهغه له خواترعملیې لا ندې ونیول شی . هغه استفاده چې د ی یې لـه هغوڅخه کولی شی ، زماپه فکرچې دعمليې عمليه کول دی .

زه به خپله و یناپه یوه مثال سره شرح کړم . داسې مثال چې داسې پیښه شو ې چې زه يې ښه پوهېږم . کله چې په ۱۹۲۹ کې گوستاو شترزیمان ٥٦ دوايمار دجمهوریت دباندنیوچاروو زیرمړشو، له ده څخه پهډیر شوبکسونو کې د یر رسمی، نیمه رسمی اوخصوصی او راق پا تې شو ل چې هغه ټول دده دشپږ کلنی دورې و زارت ته مربوط وو . ملگری اوخپلوان یې په دې فکرشول چې ددغې يو ستر شخصیت په خاطرباید يو مناروډرول شی . دده با و فامنشی برنهارد ٥٧ د ې کارته ملاوتړله اوپه ډیر یو کالونو کې يې درې غټ کتابونه چې هر یو یې ٦٠٠ مخه وو ، راوایستل او دده له هغو د یر شو بکسو نو څخه انتخابی اسناد په نا مه د (Stresemann Vermachtnis) چاپشول . په عادی حال کې دااسناد ممکن په کومې الماری ، یاتاخچې کې پټ،اوډتل دپاره ورك شوی وای ،یاممکن په سلو کالونو کې کوم محقق پرې پیښې شوی و ای ، اودبرنهاردله متن سره یې دهغو په پـر تله کولوپیل کړی وای . خوهغه څه چې پیښې شول، تردغواحتمالاتوډیربرجسته وو. په ۱۹٤٥ کې اسناددبرتانيې اوامریکی حکومتونو ته په لا س ورغلل . دوی د ټو لو

٥٦- Gustav Streseman (۱۸۷۸-۱۹۲۹) ، جرمنی سیاستمدار او دملـی لبرالانو د گوندمشر ، او دوایمـار دجمهـوریت دخارجـه چارو وزیـر (م)

٥٧- Bernhard

سندونوعکسونه واخیستل اودپوهانوداستفادې دپاره یې په لندن کې د عامه سند دفتر ٥٨ او واشنگټن کې یې په ملی ارشیفونو ٥٩ کې کښېښوول. اوس نو که مونږپوره حوصله او کنجکاوی ولرو، دغه کشف کولی شو چې بېرنهارد څه وکړل. هغه څه چې ده وکړل، نه غیرمعمولی، اونه لړزوونکی وو. څه وخت چې شترزیمان مړشو، داسې برېښیده چې دده لویدیځ سیاست په پولړمو فقیتو نو ښکلی شوی دی: لوکارنو ٦٠، دملتونو په لیگ ٦١ کې د جرمنی شمول د داوز ٦٢ او ینگ ٦٣ پلانونه، د امریکی پورونه، دراین له سیمې څخه دمتحدینودلښکرو ایستل، دادشترزیمان دخارجی سیاست مهم او دجایزې وړ یوه برخه معلومیده. غیرطبیعی نه ده چې داتول دبرنهاردد سندونو په انتخاب کې غوره ښکاره شی. اودېره توجه ورته وشی. له بلې خوادشترزیمان ختیځ سیاست، له شوروی اتحادسره دهغه اړیکې، داسې برېښیدلې چې په خاص ډول کوم نتیجی ته نه وی رسیدلی. دمذاکروپه باب، هغه نوردېرسندونه چه یوازی جزیې نتایج یې ورکړی و، او په زړه پورې نه وو، اودشترزیمان نوم اوشهرت یې نه اضافه کاوه، انتخاب نه شول. مگرشترزیمان، په واقع کې، له شوروی اتحاد

٥٨- Public Record Office

٥٩- The National Archives

٦٠- Lucarno مراد دلوکارنو تړونونه دی، چې په ١٩٢٥ کې شوی دی. ددغو تړونونو ډېرمهم ټکی هغه موافقت دی چې د فرانسې - جرمنې، بلجیم - جرمنی سرحدی لیکې تضمینوی، اودراین اینډ سیمه غیر نظامی اعلا موی. (م)

٦١- The League of Nations

٦٢- Dawes Plan. دا پلان په ١٩٢٤ کې د یوی کمیټې له خوا چې مشرېې امریکایی Charles G. Dawes و، طرح شو، ددغه پلان له مخې دجرمنی دجنگ دتاوان ورکولو اندازه وټاکله شوله، او جرمنی ته ډېرخارجې پورونه ومنل شول. (م)

٦٣- Young Plan. ددغه پلان په اساس چې په (١٩٢٩) کې طرح شو دجرمنی له خوا دجنگ دتاوان ورکولواندازه څلورمې برخې ته لږه شوله. تاوان باید په ٥٨$\frac{1}{2}$ کالونوکې اداشوی وای، مگر کله چې هتلر په واک راغی، دهغه له تادیې څخه یې غاړه وغړوله. (م)

سره دمناسباتو په باب ډیره دوامداره، او له اندیښنې نه ډکه توجه وکړله. په عمومي ډول ، دغومناسباتودده په خارجي سیاست کې دیــرلوی رول لاره نظر دیته چې د برنهارددانتخاباتولوستونکي به یې قیاس کوی . سره له دې هم زما په فکر دبرنهاردکتابونه دډیروهغوچاپ شویو اسنادوپه مجموعې باندې چربې کوی کوم چې یوعادی مؤرخ پرې استناد کوی .

زماقصه لادلته نه خلاصیږی . دبرنهارددغوره شویوسندونوله چاپ څخه ډیر زروروسته ، هټلردواك څښتن شو . دشترزیمان نوم په جرمنۍ کې له یـاده و وت اوهغه کتابونه له دوران څخه واویدل . ډیرې ، یاشاید دهغونسخوزیاتره برخې باید حتمـاً له منځه تللي وی . نن ورځ (Stresemann Vermachtnis) یوځه قدرنادر کتاب دی . خو په لویدیځې نړی کې دشترزیمان نوم ښه وتلی و . په ۱۹۳۵ کې یوانګلیس ناشر،دبرنهاردد کتاب یوه اختصارشوې ترجمه راوایستله . دا ترجمه په حقیقت کې دانتخاب انتخاب و . ممکن داصل دری‌یمه‌برخه یـکې حذفه شوې وی . ستن ٦٤ لهجرمنی ژبې څخه خپل کاربنه اوپه کفایت سره اجرا کړی‌و . ده پهسریزی کې وویل چې انـګلیسی ترجمه « لږڅه ز ببنډل شو ې د ه، خو یوازې د څینو بر خوپه حذ ف کولو سره چې گمان کیده ډ یره کم د و امــه او . . . . . . ا نــګـلیسی لوستونـکو یـازده کوو نـکوته دلږې علاقې موضو ع ده . » ٦٥ داهم بیاطبیعی ده. مگرنتیجه یـې داشوه چې دشتر ز یمان ختیـځ سیاست چې یـې لا پخوا دبـرنهارد په انتخاب کې لږذکرشوی و، لاهم په یوه گوټ کې تخته شو ، اوله نظره ولـویـد اوشوروی اتحاددستې په کتابونو کې دشترزیمان لویدیـځ ته په متمایل ښودل شوی سیاست کې ، فقط کله کله دیوه نامقبول مزاحم په څیر ښکاره کیږ ی . سر ه له د ې هم دا درسته ده چې دیوڅومتخصصانو نه غیرنورنو دتولولـیـاره دستن کـتـا بـونـه (دبرنهارد کـتـابو نه نه)ـ اوپـه خپله اسنـادلاتـرهغو کم ـ دلوید یځې نړ ی‌په بـاب

٦٤ـ Sutton.

٦٥ـ گستاوشتر یزیمان، دده لیکونه ،یاد داشتونه، او اوراق (۱۹۳۵)،دمولف نوټ

دشترزیمان صحیح ا و ازتمثیلوی . کـه اسناد پـه ۱۹٤٥ کـې دبمبـاری پـه ا ثـر له مینځه تللی وای ، او دبرنهاردپاتې کـتـابونه ورك شوی وای ، دستن د منتخباتو صحت اوصلا حیت به هیڅکله مشکوك نه وای . د سند و نو د یر ې چا پ شو ې مجموعې ، چې د مؤرخانو په نزدداصلی نسخوپه نسبت ناقصې دی ، تر د ینه زیات په کوم مصون اساس تـکیه کولی نه شي .

خوزه غوارم چې داقصه یو گام بیاهمدمخه بوځم. راځئ چې ستن اوبرنهارد له یاده وباسو، اوله دې څخه خو بنې اوسو چې کو لی شو د هغه چا ا صلی اوراق وگو روچې ده دمعاصرې ار وپادتاریـخ په ځینو پیښو کې ستره برخه اخستې ده . دا او راق مو نږ ته څه شی ښيې ؟ دا اوراق دنوروڅیزونو په جمله کې په بـرلیـن کـې دشوروی اتحادله سفیر سره دشتر زیمان په سل گونو ، ا و له چې چې ریـن ٦٦ سره دیوڅومر کوتصویراوثبت راښيې . داثبتونه یومشترك خاصیت لری . د و ی پـه مر کو کې دشترزیمان بـرخـه ښه غوره اوستره ښيي . دهغه دلایـل منسجم اوقـوی معرفي کوی ، په داسې حال کې چې دهغه دمقابل دلایل په ډیروځایونو کې گډ وډ اوغیرمقنـع ښکاره کوی. دادتپولودیپلوماتیکی مرکودیادداشتونویومعلوم خصوصیت دی . سندونه دواقعاتوپه باب مونـږته پوره معلومـات نـه را کوی . دوی هغه څـه وایـی چې شترزیمان فـکر کوی چې پیښ شو ی دی ، یاهغه څه چې د ی فـکر کوی نورخلق پرې فـکروکړی چې پیښ شوی دی ، یـا ممکن داچې ده غـوښتل چې په خپله فـکر و کړی ، چې پیښ شو ی دی . دا په خپله شتر ز یما ن و ، نـه برنهارداوستن چې دانتخاب عملیه یـې غوره کړې وه . دمثال په تو گه ، که مونږ دهمد غومر کو ثبتو نه دچې چې رین په قلم لرلای ، نومو نږ بـه بیاهم لـه هغه څخه هغه څه زده کړی وای ، کوم چې،چې چې رین فـکر کاوه . هغه څه چې په واقع کې پیښ شوی دی ، هغه باید دمؤرخ په ذهن کې له سره تیارشي . په دې کې څه شك نشته چې حقایق اوسندونه دمؤرخ دپاره اساسی اهمیت لری . خو بت تر ې

Chicherin -٦٦

مه جوړوئ ، اولمانځئ یې مه . دوی په خپل ذات کې تاریخ نه جوړوی . د وی ددغې ستړی کوونکې پوښتنې دپاره چې «تاریخ څه ته وایې ؟» تیار ځواب نه لری .

په دغه ځای کې غواړم په دې باب یوڅو خبرې وکړم چې د نو نسمې پیړ ی مؤرخان ټوله عموماً دتاریخ دفلسفې په حقله بېعلاقې وو. دتاریخ دفلسفې اصطلاح ولتېر ٦٧ ا یستلې ده . اوله هغه وروسته په بیلو بیلو مفهومونواستعمال شوی د ه . خوزه به یې که چیرې کرد سره استعمال کړم ، ددغې پو ښتنې چې « تاریخ څه ته وایې ؟» دځواب دپاره په کار کړم . نونسمه‌پیړۍ دلو یدیځې اروپادروشنفکرانو دپاره ارامه دوره وه چې ویسا ، اوخوش بینی یې محصول و . حقا یق په عمومی دول قناعت بخښوونکی وو، اوچاړه نه کاوه چې دهغوپه باب ز یږو پوښتنو ته ځوابونه ووایې . رانکې کې دزړه له کومی معتقدوچې که لوی څښتن دحقایقو غمه وخوړله ، د تاریخ د مفهوم غمه به یې هم خوړلې وی . بر ك خاردت ٦٨ دعصری شکاکیت په یوڅه روحیې سره وویل چې «مونږدایمی عقل دمقصدونو دپاره پیداشوی نه یو. » پروفیسر بټرفیلډ ٦٩ لا حتی په ۱۹۳۱ کې په ظـا هر ی قناعت سره ښکاره کړله چې «مؤرخانودڅیزونو په ماهیت ، اوحتی ددوی دخپلی موضوع په ماهیت دیرلږسوچ وهلی دی . » ۷۰ خوپه دغولیکچرونو کې زماسلف ډاکتراې . ایل . راوس ۷۱ تر نوروعادل منقددسرونستن چرچیل ۷۲ د نړی دبحران نومی کتاب په باب چې دنړی دلومړی جګړې په حقله دده تـأ لیف د ی

٦٧- Francois M. A. Voltair (۱۶۹٤-۱۷۷۸) فرانسوی فیلسوف او لیکوال .(م)

٦٨- Burckhardt

٦٩- H. Butterfield

۷۰- ا یـچ . بټرفیلـډ ،دویګانو دتاریـخ تعبیر(۱۹۳۱)،مـخ ٦۷ .

۷۱- A. L. Rowse

۷۲ Sir Winston Churchil (۱۸۷۱-۱۹٦٥ ؟)انګلیس سیاستمدار او مولف . (م)

ولیکل چې دغه تألیف دشخصیت ، وضاحت ، او حیاتیت په لحاظ دتراتسکی ۷۳ دروسی انقلاب تاریخ له تألیف سره دغرې وهی ، مګرپه یوه لحاظ تره‌غه ضعیف دی اوهغه داچې دغه تألیف «دتاریخ په کو مې فلسفې بنانه دی .» ۷٤ برتانوی مؤرخانوله دې څخه دپه وکړه چې میدان ته کش کړل شی ، نه له دې املـه چې ددوی په عقیده تاریح مفهوم نه لاره ، بلکه لـه دې املـه‌چې‌ددوی په‌فکر دتاریخ مفهوم بلااعتراض ، واضح ، اومشهودو . دنونسمې پیړۍ د تاریخ لبرالی مفهوم‌دلیسه فرله‌اقتصادی دوکتورین‌سره ، چې هغه هم‌دنړۍ په‌باب پر ځان ویسا اوارام نظر محصول و ، نژدې ارتباط لاره . پریزدی چې هرڅوک خپله وظیفه په مخ بوځی . دقدرت نه‌لیدونکی لاس‌به‌بیاعالمی انتظام‌په خپله‌وکړی . د تاریخ حقایق په خپله دلوړوخیزونوپه‌لورد لوړ حقیقت دظاهراً بې انتها اونیسکې ترقی یوه مظاهره وه . دا د معصومیت عصرو. مورخان به باغ عدن ته ، بې له دې چې‌فلسفې جامه یې په تن وی ، اوبې له‌کومه شرمه څخه لوڅ اوبربنډ ننوتل او د تاریخ د څښتن په حضور کې به دریدل له هغه وروسته مو نږ ګنا ه وکړ له . ولویدلاواووا یستل شو لو . هغه‌مورخان چې نن ورځ پلمه‌کوی چې د تاریخ له فلسفې نه‌صرف نظروکړی ، یوازی بیهوده زیارباسی‌چې دبربنډواواوڅو دسیمې دغړیوپه حیث دخپل باغ په احاطه کې باغ عدن له سره جوړ کړی خو نن ورځ د تاریخ له هغې زیږی اودر دوونکې پوښتنې څخه خلا صون ممکن نه دی .

په تیروپنځوسو کالونو کې د دغې پوښتنې په‌باب چې « تاریخ څه ته وایې ؟ » بنایسته ډیری لیکنې شوی دی . په تاریخ کې‌دحقایقوداستقلال اولومړیتوب په‌مقابل کې چیلنج اومړی د ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ په‌لسو کالو نوکې له جرمنی څخه ورکړل شو . جرمنی هغه ملک دی چې د نونسمې‌پیړۍ دلبرالیزم آرام عصریې ډیرنارام کړی دی . هغوفیلسوفانوچې چیلنجونه ورکړل،اوس‌یې یوازی نومونه پاتې‌دی،

۷۳- Leon Trotsky (۱۸۷۷-۱۹۳۹) روسی سیاسی مشر ، او مولف . (م)
۷٤- ای . ایل . راوس ، دیوه عصر پای (۱۹٤۷) ، مخونه ۲۸۲-۲۸۳ .

له هغو څخه دل د ی ۷۵ لومړنی کس دی ، چې په ستری برتانیې کې اوس مشهور شوی دی. دنو نسمې پیړی لهاو ښتلو نه دمخه، پهدغه ملک کې شتمنی او و یسادغومره قوی وو چې د بدعت څښتنا نو ته چې دوی دحقایقو پهلمانځلو انتقاد کاوه، چاهیڅ توجه نه لرله . خو مشعل دنوی پیړی په سر کې ایټا لیې تهلاړ او هلته کروسې ۷٦ د تاریخ د فلسفې پهپیاوړیل وکړ. دغه پیل پهښکاره ډول دجرمنی دفیلسوفانو مدیون وو. د کروسې په عقیده ۷۷ ټول تاریخ « معاصر تاریخ » دی معنی یې داچې تاریخ اساساً داوس په ستر گو اوداوسنیو مسایلو په رڼا کې دماضی له لید لو څخه متشکل دی اودمورخ مهمه وظیفه دانه ده چې ثبت وکړی، بلکه ارزیا بی وکړی، ځکه کهدی ارزیا بی ونه کړی ، مو نږ به څنګه پوه شو چې څه شیان دثبتو لووړدی . په ۱۹۱۰ کې کارل بیکر ۷۸ امریکا یی مورخ، قصداً پهپاروونکی ژبه داسی استد لا ل وکړچې «د تاریخ حقایق ترهغوچې یې مورخ په خپله خلق نه کړی، دهغه دپاره هیڅ وجودنهلری»۷۹ دغو چیلنجو نو ته اول د چابس لږ څه پام شو . پوازی له ۱۹۲۰ څخه وروسته وچې د کروسې نوم په فرانسې اوجرمنی کې ښایسته ښه خپور شو. داشاید له دی امله نه و،چې کرو سې ترخپلوجرمنی اسلا فو نه لیا ډیر دقیق مفکر ،اویادلیاښه اساوب څښتن و، بلکه لهدی اماه وچې لهلومړی جهانې جنګ نهوروسته، حقایقو نظرتر ۱۹۱٤ څخهړومبی، لهمو نږسره لږ خندل، اومو نږ دغسې

۷۵- William Dilthey (۱۸۳۳-۱۹۱۱) .جرمنی فیلسوف .(م)

۷٦- B. Croce (۱۸٦٦-۱۹۵۲). ایتالوی فیلسوف .(م)

۷۷- ددغې مشهورې شوی وجینرې قرینه.داده : «هغه عملی شرایط کوم چې دهغوپه اساس تاریخې قضاوت کیږی، ټولوتاریخونو ته «دمعاصرتاریخ» خصوصیت ورکوی . علتیې دادی چې که څه هم په څومره لیری زمانهکې وقایع شمیرل کیږی ،داسی ښکاری چې تاریخ په واقع کې اوسنیو احتیاجاتوته راجع کیږی، اوداسی حالات دمخه کوی، چې د غه وقایع پکې اهتزاز کوی» . ( بی. کروسی، تاریخ دازادی دقصی په حیث ،انګریزی ترجمه ،۱۹٤۱ ) ،مخ ۱۹ .

۷۸ Carl Becker . ۷۹ .میاشتنی اتلانتیك ،اکتوبر ۱۹۱۰ ،مخ ۵۲۸ .

يوى فلسفي تهلاره وه‌وند اه ،چي دحقایقوحیثیت يي کم کاوه . کروسي دا کسفورد په فيلسوف اومورخ کالنگ‌ووډ ۸۰ ژوراثر کړی‌و. وروستني په اوسني پيړئ کي هغه يوازني مفکروچي‌دتاريخ دفلسفي‌دپاره يي‌جدی خد مت کړی دی. دی ژوندی پاتي نه شوچي خپلي مقالي، لکه څنگه چی يي پخپله طرح کړی وی؛ په منظم‌دول وليکي، مگر په همدغي موضوع باندی دده چاپي‌شوی اونه چاپي شوی مقالي دده له مړيني نه وروسته په يوه کتاب کي را ټولي شولي او په ۱۹٤٥ کي د تاريخ د نظر په نامه چاپ شولي .

د کا لنگ ووډنظريات په د غه ډول خلا صه کيد لی شی . د تاريخ فيلسو ف نه «پخپله له‌ماضی»سره ، اونه « په هغه‌باب پخپله دمورخ له‌فکر» سره سرو کارلری، بلکه ( له دواړوځيزونوسره د دوی له متقابلومناسباتوسره سرو کارلری؛ (دا حکم د«تاريخ »د کلمي دوه جاری معنی گاني‌منعکسي کوی،هغه پلټنه چي مورخ يي کوی اود تيروشويوپيښويولړچه دی پکي پلټنه کوی.) «ماضی‌چی‌مورخ يي مطالعه کوی مړماضی‌نه‌دی، بلکه داسي يوماضی دی چي‌په يوڅه لحاظ تراوسه‌هم‌په‌اوسني‌زمانه کي ژوند کوی». خودماضی عمل‌مړدی،يعني‌مورخ ته‌کومه معنی‌نه لری،مگر ترڅو چي دی‌هغه‌فکرد رک کړی کوم‌چي دهغه شاته پروت دی . په‌دی‌لحاظ «ټول تاريخ د فکرتاريخ دی» او«تاريخ دمورخ په ذهن کي دهغه فکر بياژوندی کول دی د کوم تاريخ چي دی اولی. » دمورخ په ذهن‌کي دماضی بياتشکيلول په تجربي شوا هدو اړه لری . خودا په خپل ذات کي کومه تجربي عمليه نه ده، اويوا زی د حقا يقو په‌لوستلوسره تشکيل کيدلی‌نه شي. برخلاف،د بياتشکيلو او عمليه،دحقايقو په‌انتخاب اوتوجيه‌کي موثردی . په حقيقت کي، همدغه عمليه ده چي له هغوی څخه تاريخی حقايق جوړوی . پروفيسراوک شات ۸۱ ، چي په‌دی باب له کالنگ ووډسره نږدی دی ، وايي‌چي«تاريخ دمورخ مهارت دی .له مورخ نه‌غيريي نورهيڅوک

۸۰ . R. .G. Colling Wood. (۱۸۸۹-۱۹٤۳) انگليسی فيلسوف‌اومورخ . (م)
۸۱- M. Oakeshott

« نه جوړوی » . دتاریخ لیکل دهغه دجوړولو یوازنی لاره ده .» ۸۲

دغه اټوونکی منقد، که څه هم دنظریومنل یې ځینې جدی احتیاطونه غواړی، په یوڅوهیروشویوحقیقتونوریااچوی . لومړی داچې دتاریخ حقایق مونږ ته هیڅکله «خالص» نه راځی، په دی چې دوی په خالص شکل نه‌وجود لری، اونه وجودارلی شي .وی تل دثبت کوونکی له‌لاری انعکاس کوی . له دی څخه داښکاری چې څه وخت چې مونږ دتاریخ په کوم کارلاس پوری کووزمونږ لومړنی اندیښنه‌باید دحقایقو په باب نه‌وی ، بلکه باید دهغه مورخ په‌باب وی،چې تاریخ یې لیکلی دی . که اجازه وی زه به دهغه سترمورخ ، جی . ایم. ټری ویلیین۸۳ مثال راوړم،دچاپه باب‌چې دغه لیکچرونه ورکول کیږی . ټری ویلیین، لکه څنګه چې پخپلې اتوبیوګرافی کې لیکی « په کورکې یوڅه قدرته‌دوګټ ۸٤ په‌فراوانی کې روزل شوی وم»،۸۵، اوزما هیله داده چې دی به دغه‌عنوان ردنه کړی، چې دی دانګلستان دوګټ دعنعنې دستر لبرالې‌مورخانووروستنی‌مورخ دی، مګر کمکی‌مورخ‌یې نه دی. داهسې‌بې‌مفهومه خبره نه ده چې‌دی خپل‌فامیلی‌نسب دوګټ دسترمورخ جارج اوټوټری ویلیین ۸٦ له لاری مکالې ۸۷ یعنی هغه‌چاته رسوی ، چې دوګټ په مورخانو کې بیجوړی‌دی . دټری ویلیین ډیرښکلی اوپوخ اثر- انګلستان دملکې این په عصر کې- دهمد غې سابقې په رڼاکې لیکل شوی دی ، اولوستونکی ته به یې پوره معنی او اهمیت هلته ښه واضح شي، چې کتاب یې یوازی ددغې سابقې په‌رڼا کې ولوستل شي . مولف یې ، په واقع کې، لوستونکی ته هیڅ پلمه نه پریږدی ، چې همد غسې ونه کړی . ځکه ، که تاسې د پولیسی داستانونو له انتقاد اوتخنیکونوڅخه کاروا[illegible]، لومړی یې

PROPERTY OF ACKU 5952

۸۲- ایم .اوکښاټ ،تجارب او دهغه طرزونه (۱۹۳۳) مخ۹۹

۸۳- G. M. Trevelyan (۱۸۷٦-) انګلیس مورخ (م)

۸٤- Whig

۸۵- جې .ایم . ټری ویلیین ،اتوبیوګرافی(۱۹٤۹) ،مخ ۱۱

۸٦- George Otto Trevelyan (۱۸۳۸-۱۹۲۸) انګلیس سیاسی سوانح لیکونکی،او مورخ(م)

۸۷- Macaulay (۱۸۰۰-۱۸۵۹) انګلیس مورخ ، سیاستمدار او شاعر .(م)

پای و اولی، په دی صورت به په ورستیوڅومخونو کې یوه ډیره ښه خلا صه ومومی چې په دی وختو کې د وګڼ د تاریخ تعبیرنومیزی . تا سوته به دا څرګنده شی چې هغه څه چې تېری ویلیین یې کوی ، هغه دوګڼ د عنعنې د اصل ا وانکشاف پلټل ، اودهغه د موسس ـ دریم ویلیم ۸۸ له مړینې څخه وروسته‌ددغې عنعنې ریښې په‌ښه اومحترم ډول خوندی کول اوغزول دی . کـه څه هم شاید داد ملکې این دسلطنت د پېښو یوازنی درک کیدونکی‌تعبیر نه وی ،مګردایودرست اودتېری ویلیین په‌ګوتو یومشر تعبیردی . خو که تاسی‌غواړی دهغه د پوره ارزښت قدروکړی، باید په دی یوه شئ‌چې‌دڅه‌مورخ څه‌کوی . ځکه،لکه‌څنګه چې کالنګ ووډ وایی، که یومورخ باید هغه څه چې د ډرامې‌داشخاصو په ذهن کې‌تیرشوی دی، په فکر کې بیاراژو ندی کړی ، اوستونکی هم باید په خپل‌وارهغه څه‌چې دمورخ په ذهن کې تیرشوی دی ، بیرته را ژوندی کړی . لومړی تاسې مورخ مطالعه کړئ ، بیا حقایق مطالعه کړئ . دادومره ډیر پیچلی کارنه‌دی . داهغه‌څه دی‌چې‌لادمخه‌ديوه ذکی شاګردله‌خوااجرا شوی‌دي . هغه‌وخت‌چې‌ده ته‌سپارښتنه شوی‌چې‌دهغه سترعالم د سان‌جودجونز ۸۹ اثرولولی ، دی دجونز ملګروته ځی‌اوله هغو څخه پوښتی چې جونز څنګه سړی‌و ، او چې ز میندارو ، څنګه روش یـې لاره . څه وخت چې تاسې دتاریخ کوم کتاب لولئ، بایدتل بزهاری‌ته غوږونیسی. که موکوم بزهاری تړغوږ نه‌شو،یابه‌تاسی کاڼه یاست اویابه مومورخ دنه پاروونکي‌سپې‌په شان وی. حقایق په واقع کې دهغوماهیو په څیرنه دی چې دماهی‌خرڅوونکي په تبنګ کې پراته وی . حقایق دهغوما هیو په څیردی، چې‌په یوه پراخ او کله کله په نه رسیدونـکی‌سمندر کې‌لامبی،اوهغه څه‌چې مورخ ته ترې په‌ګوتوورځی څه‌یې‌په‌تصادف ،مګرزیات یې په‌دې اړه‌لری چې دی دسمندر کومه برخه دماهی نیولو دپاره ټاکی‌او د نیولو دپاره ئې څنګه چنګک او جال انتخابوی . دادواړه عوامل‌البته په دی اړه لری،چې‌دی غواړی څه رازماهی

(۱۷۰۲-۱۶۵۰) William III - ۸۸
Jones of St. Jude -۸۹

و نیسی. په عمومی دول مورخ چې څه قسم حقایق غواړی حاصلولی یې شی. تاریخ دتعبیر مفهوم لری. په حقیقت کې که سرجارج کلارک په سرودریزی، اوزه مجبور شم چې ووایم تاریخ د«تعبیر یو تینګ زړی دی چې دمشکو کومغزو نوله خوا احاطه شوی دی» زماو ینا به بی له کوم تردید څخه یوه اړخیزه اوغلطه کوونکې وی . مګر ګمان کوم چې تراصل حکم نه به د یره یوه اړخیزه نه وی.

دوهم تکی ترنورودیر اشنا دی . داتکی دمورخ هغه ضرورت دی، چې دی بې دخلقو د ذهنونواو کړنوشاته فکر دابتکاری معرفت په غرض لری. زه وایم «ابتکاری معرفت» نه «زړه سواندی» ، اودا د دی دپاره چې له وروستی څخه دموافقت مفهوم وانه خیستل شي . هغه آثارچې په نونسمې پیړۍ کې دمنځنیو پیړیو په باب لیکل شوی وو، دیرضیف وو. علت یې داوچې دمنځنیو پیړیو اوهامي عقاید په کې دومره رد شوی وو، چې دهغه عصر دخلقو دمعرفت دپاره دابتکاری یوهې دپاره ځای نه و پاتې . ددیرشو کالو دجګړې په باب دبرک خاردت تبصره راواخلئ «دیو ه ملت دپاره کاتولیکی وی که پروتستان، دا رسوا کوونکې ده چې خپل خیر دملت له تمامیت څخه پورته وګڼی.» ۹۰ د نونسمی پیړۍ لبرال مورخ ته دا دیره ګرانه تمامید له چې دهغو خلقو په ذهن کې ننوځي کوموچې ددیرشو کالو په جګړه کي برخه اخیستې وه ځکه چې دی په دې عقیده روزل شوی و چې دهیوا د ددفاع دپاره وژل روا اودستاینې وړ دی ، مګرد مذهب دپاره وژل شرارت اوسرزوری ده . دا مشکل مخصوصاً په هغی ساحی کې جلدی دی، په کومی کې چې زه په کارلګیایم . زیاتره هغه څه چې په وروستیو کالونو کې د شوروی اتحاد په حقله په انګلیسی ویونکوهیوادونواو معکوساً د انګلیسی ویونکو هیوادوپه حقله په شوروی اتحاد کې لیکل شوی دی دهمدغه نقص په اثرباطل شوی دی اویوی خواهم حتی د ابتکاری فهم هغه ابتدایې درجه نه ده پـه کار کړی چې معلومه کړی دهابل په ذهن کې څه تیرشوی دی. نتیجه دا شوې چې دیوه ویناوې او کړنې دهغه بل تروینا وواو کړنو دیسرې شریری ، بې مفهومه ، او لهریـانه

۹۰- جې .برك خاردت ، دتاریخ او مورخانو په باب قضاوت(۱۹۵۹)مخ ۱۷۹ .

دکې ښکاره شوې دی . دتاریخ لیکل ترهغوامکان نه لری ، چې ترڅومورخ د هغو خلقو لهذهن سره چې دهغو په باب لیکل کوی، یو قسم تماس پیدانه کړی .

دریم تکی دادی چې مونږ ماضې یوازې داوس په سترگو لیدلی،اودهغه په باب خپل فهم ته پرې رسیدلی شو . مورخ دخپل عصریو شخص دی ، اودبشری وجود شرایطو ر پورې تړلی دی . این هغه جاری او مصطلح کلمات لکه دموکراسی، امپراتوری،جنگ، انقلاب چې دی یې استعمالوی،جارې اشارې او مفهومونه لری،او مورخ ترینه مجرداوگوښه کیدلی نه شي. پخوانیو مورخانو دپولیس۹۱ او پلبز۹۲ کلمات په اصل شکل لیکلی دی اودادې دپاره چې وښیی دوی په دغه تلک کې گیرنه شی. خو داروش له دوی سره مرسته نه کوی . دوی هم په اوس کې ژوند کوی ؛ او د نامانوسواوزړو شویو کلماتو په استعمال سره ځانونه داسي غولولی نه شي چې گواکې دوی په ماضی کې دی اودوی به هغه وخت دلرغونی یونان اوروم ښه مورخان شی کهدوی خپل لیکچرونه په توگا ۹۳ یا کلامیز ۹٤ کې ور کړی. هغه نومونه چې پههغو سره فرانسوی مورخانو پراهپسې هغه پاریسیان بیانول چې هغوی دفرانسی په انقلاب کې مهم رول لوبولی دی les sans - culottes , le peuple,lacanaille , les bras - nus تول دهغه کسانو دپاره چې دلوبو په قاعدو پوهیږی،دیوه سیاسي ارتباط،اودیوه خاص تعبیراعلا میی دی. سره لهدې هم مورخ مجبوردی چې انتخاب وکړی: دژبی استعمال یې له دې څخه منصرف کوی چې دې بیطرف اوسي. دایوازې د کلماتو موضوع هم نهده . په سلووروستیو کالونو کې په اروپاکې د قوت اړولې شوی موازنې دلوی

۹۱- Polis ( ښار )

۹۲- Plebs (دښکته طبقو اعضا) (م )

۹۳- toga په لرغونی روم کې اوږدی او خلاصې جامی لکه چپنی چې یوازی مدنی افرادو به اغوستلې .(م)

۹٤- chlamys یوراز خلاص څادر چې داوږو په برخه کې به په تنی تړل کیده او په لرغونی یونان کې معمول و .(م)

فریدر یک ۹۵ په حقله دبرتانوی‌مورخانوروش معکوس کړی‌دی ، چې په‌عیسوی کلیساگانو کې د کاتولیکیت اوپروتستانیت ترمنځ اړ ولې‌شوې موازنه ددوی روش د هغواشخاصولکه لویولا ۹۶ لوتر ۹۷ ،اوکروموول ۹۸ په باب په‌اساسي‌دول اړولی‌دی . دفرانسې‌د انقلاب په باب پـه وروستیوځلوینځوکالونوکی د فرانسوی مورخانوچه‌اثاروباندې یوه سرسری پوهه‌بنیی چی د۱۹۱۷کال روسی‌انقلاب دوی څومره متاثر کړی دی . مورخ په ماضی پورې نه، بلکه په اوس پورې اړه لری . پروفیسرترووررویر ۹۹ مونږته وایي چې مورخ «باید له ماضی سره مینه ولری .» ۱۰۰ دایوتیرایستونکی‌دستوردی . له‌ماضی‌سره مینه‌لرل ،ممکن په اسانی‌سر ه دزړو اشخاصواوزړوجامعو دپاره دوطن نمائحلودروما‌نتسزم یوه افاده وګرزی اودا داینده اواوس په‌باب دعقیدې د بایللو علا مه ۱۰۱ده . که زه کلیشه د کلیشی دپـاره په کار کړم،زه‌هغه بنه‌بولم‌چې هغه د «ماضی‌له مړه لاس‌څخه»دځان دازادولو په‌غرض‌وی. دمورخ وظیفه داده چې نه له ماضې سره مینه ولری. اونه له ماضی څخه ځان ازاد کړ ی ، بلـکه د ی با ید ما ضی داو س دپېژند لو د پـا ر ه د یـو ې کلـی پـه حیث وپیژ نې ،اوحا کمیت پری و کړ ی .

که څه هم داد هغو بصیر تونو یو څه وی چې زه یې د کـالنګ وو دد‌تـاریـخ نـظـر بـولم ، نـو اوس ددې وخت رار سیدلی دی چې خطرات یې هم‌بیان کړم .

۹۵- Frederick the Great (۱۷۹٤-۱۸٤۰) د پروس پـاچـا (م)

۹۶- I. Loyola (۱٤۹۱-۱۵۵٦ )دجیزویتانو Je_uites د تـوانـې موسس . (م)

۹۷- Martin Luther (۱٤۸۳-۱۵٤٦) دجرمنـی ریفورمیشن مشر . (م)

۹۸- Oliver Cromwell (۱۵۹۹-۱٦۵۸) انګلیس جنرال او سیاستمدار ( م)

۹۹- Trever - Roper

۱۰۰- دجـې .برك خاردت په تالیف ـپه تاریخ او ،ورخ قضاوتونـه ،مقدمـه (۱۹۵۹)مـخ ۱۷ .

۱۰۱- دتاریخ په باب دنیچی نظر ورسره پرتلـه کړی . « په تاریخی ثقافت کـې ، دبوډاشاته نظر اچول اود ده قصه ګویـی ،او دماضی په خاطرو کـې تسلیت اتول ،زاړه عصر ته‌تعلق‌نیسی» (اـه موسم نه وتلی افـکار ،انګریزی ترجمـه ،۱۹۱۹ ، ii ،مخونـه ٦۵-٦٦) .

دتاریخ پهجوړولو کې، دمورخ په رول ډیره زوره اچول ، که د هغې منطقي نتیجې پورې ترا خـوه ورسول شـي ، دتـردیـد مفهوم لـری په دې حساب تاریـخ هغه څه کـیږی چې مورخ یې جوړوی . داسې ښکـاری چې کالنګ ووډ په واقع کې یو وخت په یوې ناچاپ شوی لیکنې کې چې د ده د کتاب د مدون له خوا اقتبا س شوی دی، دغې نتیجې تهرسیدلی هموې.سان اګوستاین۱۰۲ تاریخ تهدلومړی عیسوی پـه نظرو کتل. تیلی مونټ ۱۰۳ داولسمې پیړۍ فرانسوی ، ګیبو ن ۱۰٤ داتلسمې پیړۍ دانګلیس، مومس ن ۱۰۵ دنو لسمې ،پیړۍ دجرمنی په نظرورته وکتل. په دې کې هیڅ ګټه نهشتهچې وپو ښتل شی، کوم نظرسم نظرو . هر نظردهریوه دپاره چی اظهار یې کړ ی دی یوازنی ،ممکن نظرو . دابل څه نهدی مګر یو کلی شکاکیت هغسې شکاکیت لکه دفروډ ۱۰٦ چه وایې تاریخ « دیوه ، ماشوم دتوریو بکس دی چې په هغهسره مونږ کولی شو دخپلی خوښې کلمه مرتبه کړو» ۱۰۷ کالنګ ووډ پـه خپل عکس العمل کې د « بیاتی- او- سر یښ تاریخ » پهمقابل یـعنی دهغه نظر پهمقابل کې چه تاریخ یوازې دحقایقو تدوین او تالیف ګڼی ،پهخپله هغه روش ته پهخطرناکډ ول سره نژدی کیږی چې تاریخ د انسان د ذهن محصول ګڼی ، او بیرته هغې نتیجې ته رسیږی کوم چه د سرجارج کلارک لهخوا پهیوی فقرې کې ورتهاشارهشوې ده اومایـې دمخهذکر ی دی داسې چې «افاقی، تاریخي حقیقت وجود نه لری . »دتاریخ دهغې نظریې په ځای چې وایـی تاریخ هیڅ مفهوم نه لری ، دلته دلا یتناهی مفهومو نـو تیوری وړ اندې شوې ده چې یوه یـې هم تر بلې نه سمه نه ده ، او ددواړو نتیجه یوه کیږی. دوهم نظر ،هم یقیناً هغومره بې منطق او غیر قابل دفاع دی، لکهلومړ نی چی دی. څنګهچې یو غر دلیدلهبېلو

۱۰۲- Saint Aug''stine (٤۳۰-۳٥٤)، عیسوی اسقف .(م)

۱۰۳- Tillamont

۱۰٤- E. Gibbon (۱۷۹٤-۱۷۳۷) انګلیس مـورخ . (م)

۱۰٥- Theodor Mommsen (۱۹۰۳-۱۸۱۷) ، جرمنی مورخ . (م)

۱۰٦- James A. Froude (۱۸۹٤-۱۸۱۸) انګلیس مورخ (م)

۱۰۷- ای. فرود ،دښتورموضوعاتو په باب لنډی مطالعې ، i (۱۸۹٤) ،مخ ۲۱ .

ګوتو نوڅخه مختلف شکلو نه غوره کوی، ددې نتیجه دانه کیږی چې غرپه‌افاقی‌دول سره نه کوم شکل لری، اویا یې‌شکلو نه لا یتناهی دی . ددې نتیجه داهم نه کیږی چې څنګه چې دتاریخي حقایقو په ثبت کواو کې‌تعبیرمهم رول لوبوی، اوڅنګه چې هیڅ موجود تعبیر کاملاً افاقی نه دی، یو تعبیرد هابل قدرته بنه دی ، اودتاریخ حقـایق اصلاً په افاقی‌دول تعبیر کیدلی نه شي په تاریخ کې دافاقیت دموضوع په باب بهٔزه وروسته یوڅه ووایم .

دکالنګګ وود په فرضیې کې‌ترهغه لاهم یو بل خطر شته دی . که مورخ لزوماً دخپل دمطا لعې عصرته دخپل دو خت په‌سترګوو ګوری ، اود ماضی مسایل داینده مسایلود پـاره دکـلې په حیث مطالعه کړ ی ایـادی به دتاریخ دخاص عملی نظر په تلګ کی ګیرنــه شي ، او په دې فـکربــه نه شی چې دسم تعبیر محک داد ی چـې هغه له کـوم موجود مقصد سره متو افـق کړي ؟ ددغې فرضیې له مخې ، دتـاریــخ حقـایق هیــڅ شی نه دی ، او تعبیرهرڅه وی . نیچې لادمخه یو اصل ایستلـی دی : «دیوې نـظریــې غلطې مونږ تــه د هغــې په ضد د اعتراض معنــی نه‌لري . . . . .خبره په دی کې‌ده چې‌هغه‌څومره ژوندو راندې ـ بیوونـکی، ژوندـ سا تو نکی ، ا نواع ـ پالو نـکی ، او ممکـن ا نوا ع ـ خلقو ونـکی‌وی » ۱۰۸ امریکا یې پراګمتیستا نو ۱۰۹ هم په دغولاړو یون و کړ ، خودوی ترهغوزړه نازړه اولږواضح وو .پوهه دکوم مقصد دپاره پوهه ده . دپوهی صحت اوا‌عتبارد مقصد په اعتبارپورې ترلی دی. حتی په کوم ځای کې چې‌په دغسې تیوری اعتراف شوی نه دی ،عمل‌دانديښنی ور دی. ما دخپلې مطالعې په‌ساحه کې دمبالغې له ډکوتعبیرو نو له حد ه ز یا ت مثالونه لیدلی دی ـ داسی مثالونه چې په نعل شویـو حقایقـو سواره دی،او دد غه خطر وا قعیت‌پری‌اثرنه دی کړ ی . دحیرانی‌ځای‌نـه‌دی چې دشوروی

۱۰۸ـ دنیـګ او بدشاتـه ،اومړی فصل .

۱۰۹ـ .Pragmatism (دعمل اصالت) هغه اصل دی‌چـې تاریخـی‌حقایق د عملی نتایجو او درسونو په منظورتر بحث لا ندی نیسي .پراګمتستان (Pragmatists) یعنی دعمل داصل طرفداران .(م)

او ضد شوری تاریخ لیکنی ۱۱۰ دځینولیا افراطی محصولا تومطالعه کله کله دئو نسمې پیړ ی دخالص حقیقتی تاریخ د غیرواقعی پناه گاه د پاره مینه اوتعلق خلق کړی .

نو مونږ دشلمې پیړ ی په مینځ کې دحقایقوپه مقابل کې دمورخ و جیبه څنگه تعریف کړ و ؟ گمان کوم چې ماپه دې وروستیو کالو نو کې کافی وخت تیر کړی دی ، چې سندونه وپلټم ، او خپل تاریخی حکایت پهموزونو ماخذ ښودل شویو حقایقو وښیم ،او په دې ډول له دې تومت څخه خلاص شم چی گوا کی ماله حقایقوا و سندونـو سره په سطحی اوسرسري ډول معامله کړی ده . دمورخ داوظیفه چې حقایقوتـه احترام و کړی په دغې و جیبې سره نه ترسره کیږی چی باید دی ملتفت وی چې دده حقایق سم او درست وی .

دی باید ښه پلټنه و کړی ترڅو تول معلوم ، او د معلومیدلوړ حقایق دنهپـه تصویر کې راوړي ، کوم چې په یوه یابل مفهوم سره دده ترمطـالعې لانـدې موضوع او مجوز تعبیرپوری ارتباط لري .

که دی په دې هڅه کې وی چې دو یکټور یادعصرانگلیس یو اخلاقی، اوعقلی موجود وښیي، با ید هغه پیښه چې پهستالی برج ویکس کې په ۱۸۵۰ کې شوې و ه له یاده و نه باسي . خودا په خپل وار کې ددی معنی نه لري ، چې دی کـولی شي له تعبیر او توجیه څخه چه د تا ریخ د ژ و نـد و ینه ده ، با لـکـل منصر ف شی. غیرواردیعنې غیرا کا دمیك دوستان یادنورو ا کادمیکی د سپلینو نو دوستان کلـه کله ما پوښتي چه مورخ کله چې تاریخ لیکي خپل کارڅنگه اوپه څه ډول کوي . داسې ښکاري چې د تاریخ لیکلوډیره رواجي فرضیه دا وی چې مو رخ خپل کار په د و و بیلوبیلومرحلو یا دو رونوویشي . لومړی ، د ی په یوې اوږدې ابتدایـي دورې کـې منابـع لولي ، او دیاد داشت کتا بو نه په حقایقوډ کـوي.وروسته بیا خپل منابع ایسته اچوي . لیکني اویاد داشتونه اخلي ، اوخپل کتاب له سره تراخره لیکی . دا تصویر

Historiography. -۱۱۰

زما په فکر غیرمقنع اوغیزمنطقی دی . زه پخلپه همداچې یوځو ثقه منابـع ولولم، په دي هځه کې شم چې باید لیکل شروع کړم. شروع به ارو مروله اول نه نه وي خوله یو ځای او یاله هرځای نه به وي .

نولوستل اولیکل دواړه په عین وخت کې پهمخ ځي . اوچی زما لوستل مخ په وړاندي ځي ، لیکنه مي یاکمیږي، یا اضافه کیږي ، یاخپل شکل بدلوي، اویا باطله کیږي . لوستل په لیکلـوسره هـدایت کـیږی ،اداره کیږي ، اونتیجه پیداکـوي . څومره چې زه ډیر لیکم، هغو مره پـه دې ډیرپوهیږم چـې څه شی په کاردی ، اوهر هغه څه چې مومم په اهمیت اواعتباریې ترپخوالابته پوهیږم .

ځینې مورخان ممکن دغه اومرنی لیکنه پـه خپل ذهن کې ، بـې دکاغذ قلم ، او ټایپ را یټرله استعمال څخه وکړي . لکه چې ځینې خلق په ذهن کې سطرنج کـوی بې له دې چې تختې یاګوټوټو ته مراجعه وکړي .دایو استعداددی چې رخه مې پري کیږي ، خوسیالی ورسره کولی نه شم . خوزه قانع یم چی د هرمورخ دپـاره چې ددغه نامهلیاقت اري ،دواړه عملیـې چی اقتصاد پوهان یـې«دخل» او«خرڅ» بولي، په عین وخت کې په مخ ځي ، اوپه واقع کې دواړه دیوې عملیـې د وه بـرخې دي. که ته زیاروباسې چـې هغه سره بیل کړې،یایوتربل دمخه وګنې، له دغودوبدعتونو څخه به مویو کړی وي. یابه د بیاتی - او- سریښې تاریخ ولیکې چې اهمیت اومفهوم به نه لري . یابه پروپاګند یا تاریخی داستان ایکې ، اودماضی حقایق به یوازې ددې د پاره په کار وې چـې داسې لیکـنه پرې وکـړې ، چې هغه به هیڅ تاریخ نـه وي . دتاریخ له حقایقوسره دمورخ د مناسباتو په باب زمونږداکتنه مونږ ظاهراً دسولا او کاروبدس ۱۱۱ ترمینځ دبحري حساس سفرلهخطرناکه حالسره مخامخ کوي، یعنې

۱۱۱- Scylla ، Charybdis . دهومر په دولسمې اودیسې کې دهغه شپږ- سری ځناور نوم دی، چې هم په ګرداب اوهم په غټـه تیزه کـې اوسـی .څنګه چې ګرداب ،او غټه تیزه دمیسینا(messina) پهتنګی کـې سره مخامخ واقـع دی ،یوځوك نه شی کولی له هغه ځایه تیرشې ،بـې له دی چـې دیوه له خواګیرنه شی . سولا او کارو بدس په اوس وخت کـې ددوو خطر ناکـو ،یا دشیطان او زور سین ، دترمینځ په معنی سره استعمالیـږی .(م)

د هغو دوخطرناکو تاریخی نظریوپه اورموبیابی چې لومړی یې دحقایقوپه افاقي تدوین،اوپه تعبیرباندې دحقیقت په غیرمقید اولیت قایل دی، اوبل یې تاریخ دمورخ دذهن عندي محصول بولي ،داسې چې مورخ دتاریخ حقایق تثبیت کوی، اود تعبیر د عملیې په وسیلې سره ، په هغوحاکمیت کوی . په بل عبارت دتاریخ دهغو نظریو په لورموبیابی چې د یوې د ثقل مرکزپه ماضي ، اود هغې بلې په اوس کې دی . خو دادواړه نظریې غیرمنطقي او نهمدافعه کیدونکې دي . خوزمونږ حال،ترهغه چې ښکاري،لږخطرناک دی .مونږ به دحقیقت اوتعبیرهمدغه دوه ګون توب وروسته په نوروشکلونو- خاص او عمومي ، عملي اونظری ، افاقي او عندي کی وګورو . د مورخ مشکل اوحساس‌حال دانسان دماهیت انعکاس دی . انسان نه په خپل محیط کې په ټوله معنی د خیل دی ، او نه په کلي ډول دهغه د شرایطو تابع دی . لهبلې خوادی هیڅکله له خپل محیط څخه نه په کلي ډول ازاد دی ، او نه یې بې شرطاو قیده باداردی . له محیط سره دانسان مناسبت ، له موضوع سره د مورخ دمناسبت په شان دی . مورخ نه دخپلو حقایقو لاس په نام غلام ، او نه دهغو ظالم باداردی . دمورخ اودهغه دحقایقو ترمینځ مناسبات پهمساوات اوروغې اومصالحت بنا دي . څنګه چې هر کار کوونکی مورخ پوهیږي چې که دی د لیکلواوسوچ وهلوپه وخت کې دتفکرد‌پاره توقف وکړی ، نو دی په حقیقت کې به دغسې مداو مې عملیې کې بوخت اود خیل دی چې حقایق دخپل تعبیر، اوخپل تعبیردخپلو حقایقوپه قالب‌کې اچوي . دا ممکنه نه ده چې یودې په بل مقدم وګڼل‌شي .

مورخ دحقایقوله ،وقتي انتخاب اوددغه انتخاب په رڼا کې له یوه موقتي تعبیر څخه پیل کوي ، اوداکار په خپله ، اودنوروپه وسیلهاومرسته‌کوي . اوڅنګه چې دی کار کوی ، اوپه مخ ځې تعبیراود حقایقو ترتیب اوانتخاب دواړه یوراز تغییر کوی ، چې ممکن یوڅه یې غیرشعوری وی ، اودا تعبیر دیوه یابل په متقابل عمل سره کوي .دغه دوه اړخیزه عمل بیادماضي اواوس ترمینځ دوه اړخیزتوب راولي، ځکه چې مورخ د اوس جزدی اوحقایق په ماضې پورې اړه لري . مورخ اودتاریخ

حقایق دیوه بل د پاره ضروری دي . مورخ لـه خپلو حقایقو نه په پرته بـې ریښې او باطل دی اوحقایق بـې له مورخ نه مړه او بې مفهومه دي . نودتاریخ څه ته وایـي؟ دسوال په‌مقابل کې زما لومړی ځواب دادی چې تاریخ دمورخ اودهغه‌دحقایقو ترمینځ ددوه اړخیزه تـاثیریـوه دوامـداره عملیـه ، اود اوس اوماضـي تـرمینځ یوه‌نه تما میدونکې مکالمه ده .

-۲-

# جامعه او فرد

دا پوښتنه چې جامعه اومړی ده که فرد، د چرګې او هګۍ د پوښتنې په شان ده. که تاسې دغې پوښتنې ته په منطقي یا تاریخي نظر و ګورئ، تاسې نه شئ کولی چې دهغې په باب یو قسم یا بل قسم حکم وکړئ، بې له دې چې هغه حکم دهغه په ضد، او یا مساویاً په یوه اړخیز حکم سره سم او صحیح نه شي. جامعه او فرد سره نه بیلیدونکي دي. یو و بل ته ضروري او مکمل دي. ضدونه نه دي. د ډون ۱ په مشهورو کلماتو سره: «هیڅ انسان کاملاً په خپل ذات کې یو ټاپو نه دی. هر انسان د براعظم یوه ټوټه ده، د لویې یوه برخه»۲ دا د حقیقت یو مظهر دی. له بلې خوا د. جی. اس. مل۳ کلاسیکي فردپرست وینا را واخلئ: «انسانان کله چې یو ځای کړل شي، په یوه بل قسم جوهر نه بدلیږي.»٤ البته نه. خو خطا په دې کې ده چې داسې ګڼله کیږي، چې ګواکې یو وخت موجودوو یا پخوا له دې چې «یو ځای کړل شي» یو راز جوهر یې لاره. همدا چې مونږ وزیږیدل شو او چارپیره نړۍ په مونږ عملیه جاري کوي او له محض بیالوجیکي واحدونو ځخه مو په اجتماعي واحدونو اړوي. هر انسان په تاریخي او یا له تاریخ نه دمخه مرحلې کې زیږیدلی دی او له خپلې ابتدایي مرحلې څخه دهغې جامعې له خوا یې شکل اختیار کړی دی.

---

۱- John Donne (۱۵۷۳-۱٦۳۱) انګلیس شاعر. (م)

۲- دظاهر شویو مواقعو په باب فداکاري، لمبر ۱۷.

۳- John Stuart mill (۱۸۰٦-۱۷۷۳) انګلیس فیلسوف او اقتصاد پوه (م)

٤- جی. اس. میل، دمنطق سیستم، ۷۱۱، I

هغه ژبه په کومې چې دی گړیږی، فردی میراث نه دی، بلکه له هغې د لې څخه چې دی په کې ژوند کوی، یو اجتماعی اکتساب دی .

ژبه او چاپیریال دواړه دهغه دسجیې او فکر په تیاکلو کې مرسته کوی . لومړ نی نظریات یې له نورو څخه اخیستل کیږی . لکه چې دیر ښه ویل شوی دی، فرد به له جامعې نه غیر نه ژبه واری ، نه فکر . د رابن سن کروسو ٥ دخیالی افسا نې همیشگی سحر دهغه زیار له بر کته دی چې یو فرد له جامعې نه مستقل په خیال کې نیول شوی دی . خو داز یار نه ترسره کیږی . رابن سن کوم مجرد فرد نه دی . دی دیارك دسیمې یو انگلیس دی له ځانه سره خپل انجیل وړی، او خپل قبیلوې خدای لمانځی . افسانه زر هغه ته د هغه نارینه فرای دې ٦ وراعطا کوی ، او په دې ډول دیوې نوې جامعې جوړ ید ل شر وع کیږی . موضوع ته مربوطه بله افسانه دداستایو فسکی ٧ په (شیطان) نومی داستان کې د کیرواوف ٨ ده . دی ددې دپاره چې خپله پوره آزادی وښئی ، ځان وژنی . انتحار هغه یو ازنی پوره آزادعمل دی، چې دیوه فرد دپاره میسر دی . هر بل عمل هرراز چې وی په جامعې کې دغړ د غړ یتوب حتمی کوی ۹.

انسان پیژندونکی عموماً وایی چې ابتدائی انسان نظر مدنی انسان ته لږ فردی دی او جامعې ترزیاتې اندازې دویته شکل او صورت ببنلی دی . په دغه حکم کې د حقیقت یو عنصر شته دی . بسیطې جامعې تر پیچلو جامعو زیا تې په یوه شکل وی ، په دې مفهوم چې بسیطې جامعې نظر پیچلو او پر مختلو جامعو ته

٥- Robinson Crusoe

٦- Man Friday .فرای دی اصلا دیوی رب النوع نوم دی (م)

٧- Feodor F. Dostoyevsky (۱۸۸۱-۱۸۲۱) روسی ناول لیکونکی (م)

٨- Kirolov

۹- دورکهایم دانتحار په باب په خپلې مشهوری مقالې کې د (anomie) کلمه وضع کړی ده. مطلب یې دهغه فرد دحالت بیول دی چې له خپلې جامعې څخه گوښه شوی. داهغه حالت دی چې دجذباتې اختلال او ـ انتحار دپاره مساعدوی، خو دورکهایم دا، هم ښودلی چې انتحار په هیڅ وجه دجامعې له حالا تو څخه بهر او مستقل نه وی .

دفردی مهارتونو اومشغولیتونودپاره لزچانس اومحد ده‌تنوع ورکوی . په‌دغه مفهوم‌سره دافرادودپاره زیاتیدونکی تشخص یافردی کیدل دعصری پرمختللې جامعې یوضروری محصول دی، اولەسره‌تر آخره یې په‌تو او فعالیتونو کې جریان لری .خودا به‌یوه جدی اشتباه‌وی چې که‌دفردی کیدلو ددغې عملیې اودجامعې دالتصاق اوزیاتیدونکی قوت ترمینځ تضاد ومنل‌شی. دجامعې اوفردانکشاف لاس په‌لاس په‌مخ ځی، اویوپه‌بل اثر کوي .

په حقیقت کې ، زمونږ په‌فکر، پیچلې یا په مختللې جا معه هغه جامعه ده چې هلته په‌یوه بل باندې دافرادو تکیه اوارتباط په مختللی او پیچلی شکلو نه‌غوره کړی وی . دابه خطرناك وی که‌وګڼل‌شی چې دعصری ملی جامعې قوت نظر ابتدا یی قبیلوی جماعت ته کم‌دی‌چې‌دفردی‌غړ یوسجیې اوفکر ته‌شکل اوصورت ورکړی، اودهغوی ترمینځ د مطابقت اوهم شکل کیدلو یوه معینه درجه وتاکی. دبیالوجیکی اختلا فاتو په‌اساس دملی‌خصوصیت زړه مفکوره‌ډیر دمخه تردې‌له‌اعتبار نه‌لویدلې ده.خودملی خصوصیت له‌اختلاف نه چې‌دیوې جامعې‌دمختلفې ملی سا بقې ، او معا رف څخه پیدا کیزی، انکارنه‌شی کیدلی .

هغه‌تیر ایستو نکی واحدچې د « بشری طبیعت» په‌نامه یاد شوی دی له یوه ملك نه‌وبل‌ملك ته، اوله‌یوې پیړی نه وبلې‌ته توپیرلری . او او س مشکله د ه چې‌دا فرق یوه تاریخی حادثه ونه‌ګڼله شی(، کومه چې مسلطو اجتماعی شرایطو ، اوعادتو نو یې شکل‌ورتاکلی‌دی . دمثال په‌ډول دامریکائیانو، روسانو، اوهندیانو ترمینځ‌هم‌ډیر توپیرونه شته دې ، خوڅینې اختلافونه، یاممکن دهغو ډیرمهم اختلا فونه د افرا دو ترمینځ د اجتماعی مناسباتو په مقابل کې د مختلفو سلوکونوشکل‌نیسی . په بل‌عبارت دغه اختلافونه دهغې طریقې په‌مقابل کې‌شکل‌نیسی، دکومې په اساس چې باید جا معه جوړه شی‌ترڅو چې‌دامریکا یې ،روسی، اوهندی جامعې‌ترمینځ داختلا فا تو مطا لعه دفردی روسانو ،امریکائیانو، اوهندیانو ترمینځ داختلا فاتو دمطالعې‌دپاره یوه ډیره ښه‌وسیله اوطریقه وګرزی .متمدن انسان هم دابتدایی انسان په‌شان دجامعې له‌خوا

هغو مره پهموثر دول شکل وصورت غوره کوی ،لکه څومره چې جامعه دهغه لهخوا شکل وصورت غوره کوی . ته نه شی کولی چېله چرګی نه نوری هګی واولی شې، څومره چې ته چرګه بې له هګی نه لرلی نه شی .

لازمهنهده چې پهدغو ښوواضحوحقیقتونودومره بحث شوی وای. بحث ددې دپـاره اوزدشو چې دغه حقیقتونه دتاریخ پههغې استثنایـي او فوق‌العاده دورې کې زمونږله سترګونه پټ شوی دی، لهکومې څخه چې لو یدیځه نړی همدا اوس سر راباسی. دفردیت دلمانځلو ائین ۱۰ دمعاصرو تاریخی افسانوخوراقوی افسانه ده. دبرکـهارت دهغه آشنابیان لهمخې چې (پهایتالیې کې دمدنیت رنسانس) نومی کتاب کې یې ذکر کړی دی اودوهمه برخه یې د«فرد انکشاف» په نامه عنوان شوی دی دفرد لمانځلو ائین له رنسانس سره شروع شوی‌دی یعنې هغه وخت چې انسان چې ترهغو پورې یې (دیوه نژاد، خلکو، ګوند، کورنی، اوصنف دغړی په حیث آګاهی لرله) بالاخره «دیوه روحی فرد خاوندشو ،اوځان یې همدغسې وپیژند.» وروسته دغه ائین دسرمایه‌داری داصل، اوپروتستانیت لهظهوراودصناعتی انقلاب لهشروع، اودلیسه‌فر له نظر یاتو سره مربوط شو . دانسان اومدنی افرادو حقوق چې دفرانسې انقلاب اعلام کړل، دفرد حقوق وو. دفردی لمانځلو اصل دنونسمې پیړی دسترې فلسفې یعنې دګټې داصل ۱۱ بنسټ و.

د مورلې ۱۲ مقالې د(روڼی په باب) چې دویکتوریادعصردلبرالزم یومشخص سند دی ، دفردیت اصل ، اودګټې اصل یې د « انسان دسعادت اورفا مذهب » وباله . « کرښتیه فردیت » دبشری ترقی کلی اوی اصل و . ممکن دابه دیوې خاصې تاریخی دورې دایدیالوجی ۱۳ پوره سم او درست تحلیل وی. خوهغه څه چې زه یې غوارم

۱۰- The cult of individualism

۱۱- Utalitarianism

۱۲- John Morley (۱۸۳۸-۱۹۲۳) انګلیس لیکوال او سیاسی (م)

۱۳- Ideology . دافکارو او نظریاتو مجموعه او هیئت . (م)

واضح کړم دادی چې زیاتېدونکې فــردی کېدل چې دمعاصرې نـړۍ له ظهورسره ملګری و ، دمدنیت په دمختللو یوه طبیعی عملیه وه.اجتماعی انقلاب نوې اجتماعی دلې دقوت دګرو نوته هسکې کړ لې . دغه انقلاب دتل په شان د افرادو په وسیله او دفردی انکشاف په اوردنو یوموا قعو پهمیندلو او تقدیمو او سره کار وکړ. اوځنګه چې دسرمایه داری داصل پهلومړنیو پړونو کې دتولید اوویش و احدونه په زیاتې اندازې دواحدو افرادو په لاس کې وو ، په اجتماعی نظم کې دنوی اجتماعی نظم ایډیالوجی په فردی ابتکار ډیره زوره واچوله . خو دا ټوله عملیه یوه اجتماعی عملیه وه چې په تاریخی انکشاف کې یې یوه خاصه مرحله ښودله . دامرحله دجامعې په مقابل کې دافرادو په قیام یاله اجتماعی قیدونو څخه دفرد په ازادۍ تعبیر کېدلی شی .

ډیر علامات ښیی چې حتی په اویدیځې نړۍ کې چې ددغه انکشاف او ایډیالوجی مرکزو، دتاریخ دغه مرحله پای ته رسېدلی ده . لازمه نه ده چې دلته په هغه څه چې دتودې په ډمو کراسۍ یاده شوی ده ، ډیر ټینګار وکـړم . داسې هم لازمه نه بو لم چې په دې زیات بحث وکړم چې داقتصادی تولیداو تنظیم قویاً اجتماعی شکلو نو دقویاً فردی شکلونوځای په تدریجی ډول سره نیولی دی . هغه ایډیالوجی چې دغې اوزدی اومثمری دورې زیږولې ده، تراوسه هم په لویدیځې اروپا ، او انګریزی ویونکوهېوادو کې یومسلط اوغالب قوت دی . کله چې مونږدازادۍ اومساوات یادفردی ازادۍ او اجتماعی مساوات ترمنځ خرپړتیاوې پهمجرد واصطلاحاتو یادوو ، ممکن مونږ داله یاده وباسو چې مجرد افکار په خپل مینځ کې سره جنګ نه کــوی . دادهمدغسې فردونو ، اوجامعې ترمینځ جګړې نه دی ، بلکه دجامعې دافرادواودډلو ترمینځ جګړې دی ، دا سې چې هره ډله زیار باسی چه هغسې اجتماعی سیاستونه په مخ بوځی چې په ګټه یې وی ، اوهغسې اجتماعی سیاستونه شنډ کړی چې په تاوان یې وی . دفردیت اصل په دغه مفهوم سره چې نورنویو ستراجتماعی نهضت نه بلکه دفرد اوجامعې ترمنځ یودروغی تضاددی، نن ورځ د ذیعلاقه ډلې شعارګرزیدلی دی اودخپل متنازع فیه خصوصیت له امله،دهغه څه دپوهېداودپاره چې په نړۍ کې واقع

کیږی، مانع شوی دی. ز ه دغه انحراف په ضد چې فرد یوه وسیله بولی، اوجامعه یادولت هدف گڼی ، دفرد لمانځلو داصل په‌ضد دویلو هیڅ شی نه لرم . خومونږ به دماضی یاداوس په باب حقیقی پوهې‌ته ونه‌رسیږ وچې که دفرد په هغسې‌مجرد مفهوم سره چې له جا معې نه بهرگڼل کیږی ، عمل وکړو.

دغه بحث نواوس ما دخپل گریز تکی ته راولی . د تاریخ دسلیم عقل نظرهغه یوداسی څـه گڼی چې دافرادو په باب دافرادولـه خوا لیکل شوی وی . په دې کې څه شک نشته‌چې دغه فکردنونسمې پیړی‌لپرا لی مورخانو اخیستی‌اوررواج کړی وو. او په اصل کې نا درست نه دی . هغه اوس له‌حده ډیرساده شوی دی ، او غیرمکفی شمېرل کیږی‌اوښایې‌مونږ هغه‌ته ښه ځیرشو. دمورخ پوهه دهغه‌خاص‌فردی ملکیت نه دی . بلکه د ډیرو نسلونواو ډیرو مختلفو ملکونو انسانانو دهغې په ټولولو کې برخه لرلې ده . هغه انسانـان چې مورخ د هغو کړنې مطالعه کوی ، گوښه شوی او مجرد افراد نه‌وو چې په خلا کې یې‌عمل کاوه. دوی دیوی تېرې جامعې په‌قرینې کې او دهغې په خوځیدلوسره عمل کاوه. ما په یوه پخوانی‌ایکچر کې تاریخ دیوې دوه اړخیزې عملیې په‌حیث او په اوس کې دمورخ، او په‌ماضی کې‌دماضی‌دحقایقو ترمینځ یوه‌مکالمه‌بللې‌وه. اوس‌غواړم‌دمعادلې‌په‌دواړو‌خواوو کې‌دفردی او اجتماعی‌عناصرو په نسبی وزن و گریږم . مورخان څومره شخصی افراد ، اوڅومره دجامعې او عصر محصول دی؟ دشخصی افرادو په باب حقایق‌څومره تاریخی‌او څومره اجتماعی‌دی؟

مورخ یو فـردی انسان دی . د نورو افـرادو په حیث د ی هم یوه اجتماعی حادثه ده . هم دهغې جامعې‌چې دی ورپورې اړه لری محصول دی، او هم د هغې شعوری اوغیرشعوری ویاند او نطاق دی .

دی په‌همدغه‌حیث‌سره دتاریخ ماضی‌حقایقوته‌وړاندې کیږی، او مطالعه کوی‌یې. کله کله مونږ د تاریخ سیرته یوه « خو ځیدونکې اجتماع » وایو . دا مستعارنـوم ښه موزون اوپه ځای دی، په دې شرط چې مورخ په دې فکر نه شی چې دی دگربتې‌په څېرلـه یـوه گـوښی کمـره څـخه د منظـری ننـدا ره کـوی اویـا د یـوه

د یـرمهـم شخص په شان له لیـري ځخه سـلام اخلی. دی داسې یوهـم نه شی کیدلی . مورخ هم بس‌دیوه بل‌فرد په حیث داجتماع په یوې برخې کې یون کوی. او چې اجتماع کـېزه وزه درومی، کله ښی خـوا کېزه شی ، کله کیڼې خوا ته ، او کله کله لاپه شا لویږی، داجتماع دبېلوبېلوبرخونسبې موقفونه هم تل تغییر کوی . دغه حرکتونه ممکن دغسې مفهوم ولری چې‌مثلاً وویل‌شي‌مونږله خپلوغورنیکونو ځخه نن ورځ منځنیو پېړیوته‌دیرنږدې یو، یاداچې‌دقیصرعصرمونږته ددانته ۱٤ تر عصره نـږدی دی . ځنـګه چې اجتماع په مخ درومی اوورسره ورسره مورخ حرکت کوی ، نوی روزانونه او دلید کنجونه پرله پسې را ښکـاره کیږی . مورخ دتاریخ یوجز دی . داجتماع هغه برخه چې دی په کې ځان مومی ، دماضی په باب دده دبصیرت زاویه ټاکی .

داښکاره حقیقت دهغه‌عصرپه باب هم پوره صدق کوی ، چې‌مورخ یې مطالعه کوی ، اودده دخپل عصره ځخه لیرې دی. څه و خت چې مادلرغونی یونان تاریخ لوسته په دغه مضمون کې کـلا سیکی کتابونه دګـروټ ۱۵ د( یونان تاریـخ ) اود مومزن۱٦ دروم‌تاریخ‌وو.داکتابونه‌ممکن‌تراوسه‌هم‌دکلاسیکی‌اثاروحیثیت‌ولری. ګروټ یومنور انقلابـی بانك اړونکی وچې د ۱۸٤۰ په‌لسوکالونـوکې یـې لیکنې وکړې . ده په خپلواثاروکې داتن دډموکـراسی په مطلوب اوایډ یالی تصویر کې چېرته‌چې پریکلس۱۷ دبنتهامی مصلح ۱۸ په‌حیث ښکاره کېده اوا تن په‌لږوخت کې‌دامپراتوری‌خاوند شو،دبرتانیې‌دمخ په‌ظهور ،اوپه سیاسی‌لحاظ دمترقی‌متوسطې طبقې هیلې اواسرې ځایولې . دابه خیالی نه وی چې وویل شی په اتن کې دغلامۍ

۱٤- A. Dante (۱۲٦۵-۱۳۲۱) ایتالـوی شـاعـر .(م)
۱۵- George Grote (۱۷۹٤-۱۸۷۱) انګلیس مورخ .(م)
۱٦- Theodor Mommsen (۱۸۱۷-۱۹۱۳) جرمنی مورخ . (م)
۱۷- Pericles (۴۹۵؟-۴۲۹ ق.م .) داتن سیاستمدار .(م)
۱۸- J. Bentham Benthamite Reformer (۱۷٤۸-۱۸۳۲) انګلیسی فیلسوف او حقوق پوه . دده مشهور اصل «دیره ګـټه ددیر شمیر دپاره» په نولسمې پیړۍ کـې قوی انعکاس وموند .(م)

د مسئلې نه ذکر کول ؛ دګروټ د دلې ناکامی شیځ په کومې پورې چې دی منسوب و او ویې نه شو کولی چې دنوی انګلیسی فابریکو د کارګرو د دلې مسایل حل کړی. موم سن یو جرمنی لیبرال و چې د جرمنی د ۹-۱۸٤۸ انقلاباتو ګډوډی. اوناکامیو سر ګیج کړی و. دده لیکنې د ۱۸۵۰ څخه د ۱۸٦۰ په اسو کالونو کې یعنی په هغه وخت کې چې وشولې چې د ملې سیاست۱۹ مفهوم او نوم پکې ظاهر شوی و. موم سن دیوه قوی شخص د لټیو لو په فکر شو چې هغه ورانې ویجاړې سمې کړې کومې چې جرمنیانو ته دسیاسی هیلو د نه ترسره کېدلو له ناکامی څخه پیدا شوې وی . مونږ به دده د تاریخ په حقیقی ارزښت پوه نه شو تر څو چې په دې پوه شو چې دیوه قوی شخص دپاره دده دقیصر تصویر کښل دده دهغې هیلې محصول دی چې جرمنی لـه تباهی څخه خلاص کړی . دهمدغه فکر په اساس و چې مقنن - سیاس سیسرو۲۰ چې دغوروبکس او شوئیدونکی مسامحه کوونکی ګڼل شوی دی ، په فرانکفورت کې دپالی کرشي ۲۱ له بحثونو څخه نیغ په وتلو کې شودلی شوی دی . پـه واقع کې ، زما په فکر به دابې معنی و نه بریښي چې که څوک ووایي دګروټ دیونان تاریخ به نن ورځ د ۱۸٤۰ نه تر ۱۸۵۰ پورې دانګلیسی رادیکالي فلسفې په باب هغومره ښه ښکاره کړی لکه چې د ق . م . پنځمې پېړی دیونان دده-و کراسی په بـاب به یې وواییـ. داسی هم هر هغه څوک که غواړی په د ې پوه شي چې ۱۸٤۸ کال په جرمنی لیبرالانو څه وکړل دموم س ن دروم تاریخ دی د درسي کتابونو په حیث استعمال کړی. داکار به دسترو تاریخی اثار و په حیث ددغو کتابونو حثیت کم نه کړي . زه دهغه معمول په باب چې برې ۲۲ په خپلو افتتاحي لیکچرونو کې رواج کړي دی، صبر او حوصله نه لرم چې

۱۹- Realpolitik هغه سیاست تـه راجـع کیـږی چـې دهغه له مخې دیوه ملت مادی سترتوب او کامیابـی په نورو ملتونو مقدمې ګڼلې کیـږی . (م)

۲۰- MarcusJ. Cicero (۱۰٦-٤۳ ق . م) دروم مبلغ ، سیاس او لیکوال .(م)

۲۱- Paulikirche و هغو مباحثوته اشاره ده چې په ۱۸٤۸ کې دفرانکفورت دښار په دغه سالون کې دمنځنیوطبقوته منسوبو روښنفکرانو له خوا دجرمنی دبیامتحده کولو او مشروطه کولو دپاره وشوې . اوناکامی شوې.(م)

وايې دمومسن لوی والی دهغه دروم تاريخ پهوجه نهدی ، بلکهدهغهدنوروليکنو اودروم داساسی قانون داثرپه وجه دی. په دغه حکم سره تاريخ د تاليف اوتدوين سطحېته کوزول دی . ستر تاريخ هغهوخت ليکل کيږی چې دماضی په باب دمورخ ديد اوخيال د حاضرومسئلو په بصيرتونوسره روڼ شي . ډيرکله حيرانی په دې کې ښودله شوې ده چې مومسن ونهشو کولی خپل تاريخ دجمهوريتله ړنګيدو نه اخوا بوځي . ده هم وخت لاره ،هم موقع ، اوهم علم. خو کله چې مومسن خپل تاريخ ليکه په جرمنی کې لاکوم قوي شخص هسکځ شوی نه و. څهوخت چې يوقوی شخص داختيار خاوند شو،هغه مسايل چې پيښ شوی وو،لا حقيقی شوی نه وو . هيڅ څيز مومسن ونه شو تخنبولی چې خپله مسئلهبيرتــه دروم په صحنې کې طرح کړي ، اودا مپراتوری تاريخ نا ليکلی پاتی شو .

دابه مشــکله نه وي چې ددغې حادثې مثالونه په عصری مورخانو کې وښودل شي . په وروستی ايکچرکې مې دجي . ايم . ټريوليين ، دانګلستان دملکی اينپه عصرکې دوګځ ٢٢ دعنعنیديادګارپه حيث په کومې کې چې دی روزل شویدی ولمانځه .

اوس به دهغه چاپه مهم اودرانده اثريوڅه ووايم چېمؤلفيـېزمونږدزياتروله خوادبرتانيې ډيرسترمورخ ګڼل کيږي کوم چې له اومړنی جهانی جنګځ نه وروسته دبرتانيېپهعلمیډګرکې راهسکځشوی‌دی .سرلويیناميير٢٣ يورښتنی محافظه کارو نه يوسوچه انګليسمحافظه کارچې که ښهوګرول شيپهسلوکې پنځهاو يا يېلبرال وځي . دی داسې محافظه کاروچې مونږ په څه باندې سلوکالوکې دبرتانيې په مورخانو کې ليدلی نه دی . د بــرتانيايي مورخ دپاره د تيرې پيړی د نيمايی او ١٩١٤ تــرمينځ کالونو کې کله کله دا ممکنه ده چې د تار يخی تحــول درکځ وکــړی ، مګــرد هغه

---

٢٢ــ Whig دانګلستان د هغه سياسی ګوند غړی چــې (١٦٨٨ لــه انقلاب نه وروستهيــې مقصد داوچــې دسلطنتاختيار دپارلمان او نورو لوړو طبقاتو تابــع کړی. په نولسمې پيړی کــې ويګان په ليبرالانو يادشول او دوهــم قوی ګوندو مــګر اوس دکارګرو ، او محافظه کارو لــه ګوندنــه وروستــه دريــم ګونددی . (م)

٢٣- Sir Louis Namier

تحول درکټ چې دښه والي دپاره و،د ۱۹۲۰په و روسته لسو کالو نو کې مو نږ په‌يوې داسې‌دورې کې ننوتلو په‌کومې کې چې د اينده په باب تحول له و يرې سره تړلی و کيدای شوای چې دغه تحول دبدوالي په لــورتعبيرشي-يعنې دمحافظه‌کارۍ دتفکر ددوربياژوندی کيدل . دناميېرمحافظه‌کاری، داکتنې لبرالزم غوندې، قوت اوعمق دوارواله دې څخه واخيست چې‌ريښې يې‌دارو پاپه‌سابقې کې وې. ۲٤ ناميېردفشر۲۵ اوټاين بې ۲٦ په خلا ف د نونسمې پيړۍ په لبر الزم کې ريښې نه‌لرلې اوله هغه سره به‌يې دتعلق خيال نه ساته . وروسته له هغه چې پەلومړی جهانی جنګ ، او ناکامې سولې کې د لبرالزم مفلسی ښکاره شوله ، عکس العمل په دووبڼوښــکا ر ه کيـدلی شو : سوشلزم يا محافظه‌کاری . ناميېردمحافظه‌کارمؤرخ په حيث راهسکـ شو . ده په دووغوره شو يوساحوکې پخه مطالعه وکړ اه او ددوارو انتخاب مهم و . دانګليس په تاريـخ کې يـې ورروستني پيړۍ ته رجوع وکـړاه په‌کـو مې کـې چې حاکمه طبقې وکړای شوه په يوې منظمې اوعمدةً ساکـنې او ولاړې جا معې کـې دقوت اوموقف په عقلي لټون کې بوخته شي . يوچاناميېرپه دې تومتی کړ چې روح يې له تاريـخ څخه بيـل کـړ ی د ی . ۲۷ ممکن دادومره چندان ښه افاده نـه و ی مګردمنقد مقصد چې غواړی په هغې کې يـې ښـکاره کړی ، واضح ليد ل کيږی. ددريـم جارج ۲۸ دجلـوس په وخت کې سياست لاهم دشد ت‌او تعصب اودترقی

---

٢٤- ممکن دادتبصری وړتکی وی چـې ددوارو جنګونو ترمينځ يوازنـی برتانيايـی محافظه کار ليکوال يعنې ښاغلی تـې .اس . ايليټ T. S. Eliot هم دغير برتانيايـی سابقـې ريښې لرلـې . له ۱۹۱٤څخه روميې په ستری برتانيا کـې دا سی څوك نه‌وچـې دلبرالزم لـه‌عنعنې او نفوذ څخه پرار وکړی .

٢٥- Fisher انګليس مورخ ( م )

٢٦- Arnold Toyanbee انګليس معاصر مورخ . ( م )

٢٧-د١٩٥٣ دا ګست په اتمه د تايمز دورځپانـې په ادبـې متمم کـې يوه مقـاله په مستعا رنامه‌سره وايی «داروين په دی تومتی شوی وو ، چـې لـه کاياتو څخـه يـې روح بيل‌کړی د ی اوسر اــوبـی (ناميېر)له يوه نه زيات په ډيرو مفهومونو سره دسياسـی تاريخ داروين و .»

٢٨- George III (۱۷۳۸-۱۸۲۰)دانګلستان پاچـا . (م)

په باب د کلکي عقيدې له شدت څخه مامون و، کوم چې دفرانسې له انقلاب سره په جهان باندی رامات شو ل او دلبرالزم په کامیابۍ پیړی کې نښو تل . نه نظریات نه انقلاب ، او نه لبرالزم : نامبيردداسې عصريوز بده تصو ير وايست چې له د غو خطراتو څخه لا مامون و ، که څه هم دغه مصونيت ډيرونه پائيد .

دناميرددوهم انتخاب موضوع هم پههمغې اندازې اهميت لرله . ناميرله انګليسی فرانسوی ، او روسی سترو انقلاباتو څخه ښه وارو له ، او په هغویې کومه مهمه ليکنه ونه کړله . داروپا د ۱۸٤۸ انقلاب موضوع يې غوره کړ له . او د هغه يې ژ و ر ه مطالعه و کړله . داهغه انقلاب و چې ناکام شو . دلبرالزم دراهسکيدونکی اميدپاره په ټولې اروپا کې مانع شو . دمسلحو قواوو په مقابل کې يې دافکارو اود عسکرو په مقابل کې يې ددېمو کراتانو پوچوالی وښود . دسیاست په جدی ساحې کې د نظر يـو رسوخ پوچ اوخطرناك وبلل شول . نامبيرله هغو نه اخلاقی نتيجه واخيسته اودناکامی توهين نه دك نوم يې پرې کښيښود : (دروشنفکرانو انقلاب) . زمو نږ نتيجه هم يوازې داستنتاج دپاره کومه موضوع نه ده، ځکه که څه هم، ناميردتاريخ دفلسفې په باب کومه منظمه ليکنه کړې نه ده، په يوې مقالې کې چې يوڅو کاله ړومبی خپره شوه په دغه باب يې خپله نظريه په خپل معمولـی وضاحت او قطعيت سره ښکاره کړی ده. دی وايې «نوڅومره چې يوانسان دخپل ذهن ازاده لو به په خپل سياسی دو کتورين اوجذم سره لږ ه محدوده کوی ، د ده دتفکر دپاره به هغو مر ه ښه وی.» و روسته دی هغه تومت يادوی چې وايی ده له تاريخ څخه ذهن بيل کړی دی. تومت نه ردوی، اوليکی :

«ځينې سياسی فيلسوفان له «سترې شوې ارامی» څخه او پـه اوس وخت کې په دغه ملـك کې دعمومی سياسياتو په باب دمشاجرې له غياب څخه ګـيله لر ی . پـه داسی حال کې چې پرو ګراموته او هد فو نه ددوا ړو ګوندو نوله خوا هيرشو ی د ی دمشخصو مسايلودپاره عملی فيصلی لټولې کيږ ی . مګرماتـه دغه روش د ملی پا خه توب يو ه ليالويه درجه ښکاريږ ی ، هيله کوم چې د غه روش به بې لـه د ې چې

دسیاسي فلسفو په اثارو نارام شي ، ترزیاتې مودې دوام و کړي» ۲۹ زه نه غواړم اوس له دغه نظرسره په دعوه کولو پیل و کړم . دا کار به په یو ه وروستي لیکچر کې و کړم . اوس مې مقصد دادی چې دوه مهم حقیقتونه شرح کړم . لو مړ ی داچې تاسې نه شي کولی ترهغو دیوه مؤرخ په اثرپوه شئ او یایې قدرو کړئ ترڅو په هغه نظریاتکې پوه نه شئ دکوم له مخې چې ده خپل اثر تعقیب کړ ی د ی . د و همه داچې خپله هغه نظریه اجتماعي او تاریخي پس منظر کې ریښې غزو لې دي. لکه څنګه چې مار کس ویلي و ، له یاده مه باسئ چې روزونکی با ید په خپله وروزل شي . دا و سني اصطلاح له مخې ، ددماغ وینځوو نکی دماغ په خپله و لل شوی د ی . مؤرخ پخوا له دې چې د تار یخ په لیکلو پیل و کړي ، دتاریخ محصول دی .

هغه مؤرخان چې مې اوس یادکړل لکه ګروټ ، موم سن ، تړې و یلین ، ا و نامییرهریو په یو ه واحد اجتماعي، سیاسي ، عصر کې لوی شو ی د ی . د د و ی په لومړنیو او وروستیو اثارو کې، دجهان بیني کوم واضح اختلاف هیڅ نه ایډل کیږی . خو څینو نورومؤرخانو دچټکې تحول په عصرونو کې ، په خپلو ایکنو کې نه یوازې یوه جامعه او یو اجتماعي نظم ، بلکه د بیلو بیلو نظمو نو یو لړ منعکس کړ ی د ی . میانکې ۳۰ ، دجرمن سترمؤرخ په دغه لړ کې یو ډیر ښه مثال دی ، چې ماته معلوم دی . دده دژو ند او کاردو ر ه ښه اوږده و ه . په د غې دورې کې د د ه د ملک په سرنوشت کې یولړ انقلا بي او له مصیبت نه ډک بدلونونه راغلل . په واقع کې مونږ درې مختلف میانیکیان لرو. اوهریو یې دیوې بیلې دورې ویاند دی ، اوهر یو یې دخپل ددریو بیلو سترو اثارو په خوله ګر یږی .

د Weltburlgerthum and Nationalstaat میانک چې په ۱۹۰۷ کې چاپ شوی دی

۲۹-ایل ، نامییر ، شخصیتونه او قوتونه(۱۹۵۵) ، مخونه ۵ ، ۷ .

۳۰- Meinecke

په یقیني ډول دبسمارك ۳۱ په رایخ ۳۲ کې دجرمنی ملي ایډیالونه د تحقق په حال کې گوری اوله مازیني ۳۳ څخه راپه دې خوادنونسمې پیرۍ دډیرو مفکرینو په شان دملت غوښتلواصل ۳٤ دعالم غوښتلوداصل ۳٥ له ډیرعالي شکل سره یوګنې . دادبسمارك ترعصره پورې دو یلهلماین ۳٦ ددوام او تأثیر بې تناسبه محصول دی. د Die Idee der Staatsrason میانکځچې په۱۹۲٥ کې خپور شوی دی ، دوایماردجمهوریت په ویشل شوی، اوسرگیچ دماغ گریزی. په دغه اثرکې دسیاسیاتو جهان دوجوددلیل ۳۷ اواخلاقیاتو ترمینځ چې وروستی له سیاسیاتو څخه بردی ،مگر په نهایي تحایل کې نه شی کولی ،ددولت په مصونیت او ژوند غالب شی، د نا فیصله شوې جگړې میدان دی . بالاخره د Die Entstehung Historismus میانکځچې په۱۹۳٦ کې خپور شوی دی ، دخو اشینې چغه وهی ، او د تاریخ هغه اصل ر دوی چه وایی « هر هغه څه چې موجود دی ، حق دی » او د دتاریخي نسبیت او فوق ـ عقلي مطلق ترمنځ په نارامی سره کولیږې . دا اثرده هغه وخت لیکلی وچې د نازی سیلا ودی له علمي عزتونو څخه محروم کړی و. په

---

۳۱- Otto E.L. Bismarck (۱۸۱٥-۱۸۹۸)جرمنی سیاستمدار (م)

۳۲- Reich .په عمومي ډول دجرمني کامنولت یا امپراتورۍ ته راجع کیږي .دفرانسي دجمهوریت په شان ، دجرمني رایخ هم یوه سلسله لري : لومړی رایخ یادروم مقدسه امپراتوري ( ۹٦۲-۱۸۰٦) ، دوهم رایخ یا دبسمارك رایخ (۱۸۷۱-۱۹۱۸) ،دریم رایخ یا نازي رایخ (۱۹۳۳-۱۹٤٥ ) . (م )

۳۳- G. Mazzini (۱۸۰٥-۱۸۷۲) ،ایټالیایی وطن خواه ، او جمهوریت غوښتونکی چې پسه ۱۸۳۱کې یې د(ځوانې ایټالیې تولنې )جوړه کړه .بیایې د(ځوانې اروپا تولنه )، راوایستله او دایټالیې داتحاد دپاره یې یولړ جدي ابتکاري کارونه وکړل . (م)

۳٤- Nationalism

۳٥- Universalism

۳٦- Wilhelmine

۳۷- Raison d etat

اخر کې، څه وخت چې میانګ، دعمر په وروستیو کالو نو کې ولیدله چې هیو ادیې داسې نظامی ماتې ته تسلیم کیږی، کوم چې د۱۹۱۸ له ماتې څخه ډیرز بو ن کوونکی اوماتوونکی و د ۱۹٤٦ Die Deotsche Katastrophe ته په خو اشینې سر ه مراجعه کوی، او په دې معتقد کیږی چې تاریخ دسخت زړی . اوور انده چانس په قبضه کې دی . ۳۸ دروحیاتو عالم یاسو انح کښو ونکی بهدلته دیوه فرد پهحیث دمیانګ له انکشاف سره علاقه ولری . هغه څه چې مورخ علاقمند کوی، هغه طریقه ده چې په هغه کې میانګ دحاضرعصر درې یا ممکن څلور پړاوه پسې اوواضحاً متضادې دورې په تاریخی ماضی کې منعکس کوی .

اوس به کو رته نږدې یو وتلی مثال راواخلو . د۱۹۳۰ او۱۹٤۰ په لسو بت ماتوونکو کالو نو کې . څه وخت چې د ابرال ګوند د یوه موثر قوت په حیث له سیاسی ډګر څخه ایستل شوی وو، پروفیسر بټرفلیډ یو کتاب و لیکه اونوم یې د(تاریخ وګ تعبیر) پرې کښښود . کتاب ستر او مستحق موفقیت وګاټه او په ډیرو لحاظو نو یو وتلی کتاب و په دې چې که څه هم په ۱۳۰ مخونو کې یې دوګ توجیهه وغندله له فاکس ۳۹ نه غیر چې هغه مورخ نه و، یو بل وګ یې هم یاد نه کړ . داسې یې هم اهاکتنې نه په پرته، چې هغه وګ نه و دبل کوم مورخ نوم و اخیست . خو کوم هغه څه چې دغه کتاب په تفصل او دقت سره نه لاره، هغه ورته په واضحو ترو واو تر خو کلماتو کې جوړ شوی وو . لوستونکی ته بله لاره هیڅ نه وه پاتې شوې، مګر دا چې و وایې دوګ توجیه بده وه . دوګ په ضد یو تومت داو چې هغه «داوس په ملاحظې د ماضی مطالعه کوی» . په دغې برخی کې پروفیسر بټرفیلډ بې رحم اوقاطع و، وایی :

۳۸ـ زه د داکټر ډبلیو ستارك W. Starlc هغه اعلی تحلیل څخه امتنان کوم چې ده دمیانګ د انکشاف په باب کړی دی او هغه یې د هغه د Die Idee der Staadsrasom دانګریزی ترجمې په مقدمه کې چې په ۱۹۵۷ کې یې دما کیاولزم په عنوان خپور کړی دی، ایکلی دی . داکټر ستارك ممکن دمیانګ په دریمی دوری کې دمافوق ـعقلی عنصر مبالغه کوی .

۳۹ـ Charles G. Fox (۱۷٤۹-۱۸۰٦)انګلیس سیاستمدار (م)

« دماضي مطالعه په داسې حال کې چې دچاخبره یوه ستر ګه پهاوس کې وی ، په تاریخ کی دټولو ګناهو نو اوسفسطو سرچینهده . . . . . . دادهغهځیز جوهردی چې مونږ یې د « غیر تاریخی » په نامه یاد وو. » ٤٠ دولس کاله تیرشول . د بت ماتو او رواج بې رواجه شو. د پروفیسر بټرفلیډ هیواد په داسې جنګ کې و نښت چې زیاتره ویل کیده د هغو قانو نی ازادیو د دفاع دپاره وو، کوم چې دوګټ له عنعنېسره یې ارخ لګاوه . جنګ دداسې چاپه مشرتابه کیده چې هغهپرله پسې وماضی ته په «یوستر ګه په اوس باندی» التماس کاوه. پروفیسر بټرفیلډ په یوه واړه کتاب کې- دانګیس اودهغه تاریخ - په نامهچې په ١٩٤٤ کې خورشونه یوازې داسې فیصله وکړه چې دتاریخ وګټ توجیه د « انګلیس » توجیه وه، بلکه « له تاریخ سره ، دانګلیس په اتحاد» په ډیر شوق سره وګړېد . داسی هم دی د «ماضی اواوس ترمنځ په اتحاد» وګړېد ٤١ . دغومعکوسو جهان بینیو تهتوجه ګرزول، یوغیر دوستانهانتقادو نهدی. زمامطلب دانهدی چې لومړنی بټرفیلډ پهثانوی بټرفیلډ رد کړم،او یاخمار بټرفیلډ له په حال بټرفیلډ سره مخامخ کړم . زه په دې پوره پوه یم چې که څوک زحمت و ګالی، اوزماهغه لیکنې مطالعه کړې، کومې چې مالهجنګ نه دمخه، دجنګ پهدوران کې، او لههغه وروسته کړی دی، مابهپه اسانۍ سره قانع کړی چې په هغو کې داسې تناقضات او اختلافات وموی کوموتهچېمادنورو پهلیکنو کې اشاره کړېده. حقیقتدادیچېزهیقین نه کوم چې پههغهمورخ رخهو کړم چېدی‌ددی رښتینیادعاکولی وشيچیده پهتیرو پنځو- سو دردوو نسکو کالو نو کېژوند کړی دی،او پهجهان بینی کېیې تغییر نهدی پیښ‌شوی. زمامقصدبس‌دادیچېو ښیمدیوه مورخ اثردهغېجامعې څومره نزدیانعکاس کوی، په کومې کې‌چېدی ژوند کوي. یواری‌و قایع پرلهپسېپهتغییر کېنهدي. پخپلهمورخ

٤٠-ایچ .بټرفیلډ ،دتاریخ وګ تعبیر(١٩٣١) .په ٦٧ مخ کې مولف ،د(تجزیه شوی تعقل)پــــه (یوسالـمي رقمـې بـې اعتمادی)باندی اعتراف کـوی .

٤١-ایـچ .بټرفیلډ، انګلیس او دهغه تاریخ (١٩٤٤)مـخونه ٢ ، ٤ ، ٥ .

هم په تغییر کې دی . څه وخت چې تا سوته کوم تاریخي اثرپه لاس درشي ، کافي نه ده چې دعنوان‌په مخ باندی یې یوا زې د مؤ لف نوم و لولئ . دچاپ او یـالیکلو نیټه یې هم و گوری . کله کله دا حتی دیـر څه راښیی . که د فیلسوف داخبره سمه وی چې مونږته وایی ،مونږپه یوه سین کې دوه ځلی ننوتلی نـه شو، داهم ممکن پـه همغې اندازې.اودعین دلیل له مخې.سمه وی چې یومورخ دوه کتابونه‌لیکلی‌نه‌شي.

او که مونږدیوې شیبې دپاره‌له یوه انفرادی مورخ څخه وهغه‌ته چې په تاریخ کې پراخ تمایلات و یـل کیږی . مخ واړوو ، هغه حـداو اندازه لا هم واضحه کیږي ، چې یومورخ دخپلی جامعې محصول دی . پـه نو نسمې پیړۍ کې برتانوی مورخانو یوازې په یوه استثنی سره دتاریخ سیر د ترقی داصل مظهر گاڼه . دوی دهغې جامعې دایدیا لو جي افا ده کوله کو مه چې د ترقی په حـا ل کې وه . تا ر یـخ دبرتانیایی‌مورخانودپا ره‌ترهغومفهوم لاره‌ترڅوچې ددوی په لاره روان وو .

اوس چې تاریخ غلطه لاره نیولې ده ؛ دتاریخ په مفهوم عقیده لرل بدعت گڼل شوی دی . له‌لومړنی‌جهانی جنـگ نه وروسته تـاین‌بي‌نا کام کوښښ وکړ چې دتاریخ مستقیم نظرپه دورانی نظرسره عوض کړی، کوم چې دهغې جامعې مشخصه ایډیا لوجی ده ،چې مخ په ځوړی وې . ٤٢ دټاین بی‌له‌ناکامی نه وروسته برتانوی مورخان په زیاته اندازه قانع وو ، چې لاسونه سره ور کړي ، او په گډه اعلام کړی چې په تاریخ کې منظم ترتیب اوطرح هیڅ نه شته ده. په دغه باب دفشریوې مبتذلې تبصری ٤٣ دومره عمومیت وموند، لکه چې په‌تیرې پیړ ی کې درانـگ کې وجیزې موندلی و . که څوک راته کړی چې دغه تحول دبرتانیا دتیرودیرشو کالومورخانو

٤٢- مارکوس اور لیوس ( Marcus Aurelius ) دروم دامپراتورۍ دانحطاط په وخت ځانته‌په دغه‌تمکر سره ډا ډینـه و رکوله چې « تول څیزونه ،چې څنـگه اوس واقـع کیږی، په ماضی کې پیښ شوی دی ، او هم به په اینـده کـې پیښ شـی». (ځانته ، ×،مـخ ۲۷) . څنـگه چې تولوته ښه واضحه ده، تاین‌بي د دورانی‌حرکت نظردشپنگلر ( O. Spengler) (۱۹۳٦-۱۸۸۰ جرمنی مورخ) له لویدیـځ .انحطاط څخه اخیستی دی .

٤٣- مقدمه (د ډسمبر ٤، ۱۹۳٤) داروپا تاریخ تـه .

محض په‌شخصي تفکرسره دتر نیموشپو مطالعو په‌اثر په‌نصیب کړی دی ، زه به له‌دغه حقیقت سره دمقابلې په فکر نه شم. خوزه به‌دغه‌شخصي تفکر، اودتر نیمو شپو مطالعات یوه اجتماعي حادثه او دهغه اساسي تحول محصول اوافاده و گڼم کوم چې له ۱۹۱٤ څخه راهیسې زمونږ دجامعې په‌خصوصیت اوجهان بینۍ کې پېښ‌شوی دی. دجامعې دخصوصیت په‌باب نظر دیته‌چې هغه‌څنگه تاریخ تولید وی، اویایې نه‌شي کولی تولید کړی، تر دی بل مهم‌مشعر او ښکارندوی نه‌شته دی. گییل ٤٤ ، هالنډی‌مورخ په خپل مهم‌مونوگراف کې چې په‌انگریزی کې په(ناپلیون: طرفداری اوضد) ترجمه‌شوی‌دی، ښیی چې دناپلیون په باب د نونسمې پیړۍ فرانسوی مورخانو پرله‌پسې قضاوتونه په واقع کې دهغه متحـول اومتضادو ترتیبونو انعکاس وو کوم چې په همغې پیړۍ کې د فرانسې په‌سیاسی ژوند کې پېښ شوی و. دنورو انسانانو د افکارو په شان، دمورخانو افکارهم‌دزمان اومکان په‌محیط سره‌شکل اوصورت غوره کوی. اکټن‌چې‌دغه‌حقیقت یې پوره پیژندلی و، په‌خپله‌په‌تاریخ کې‌له هغه څخه دپرار په‌لټون کې‌شو. دی لیکی:

«تاریخ باید نه یوازې مونږ دنورو وختونو له‌بې جهت تاثیر بلکه پخپله زمونږ له بې‌جهیت تاثیراودمحیط له ظلم‌اودهواله هغه فشارڅخه چې مونږیې تنفس کوو، نجات ورکوونکی اوسی . » ٤٥ دابه د تاریخ درول پـه باب ممکـن له حده ډیر دخوش بینۍ یو نظرو بریښی. خو زه به‌داعقیده په زغرده‌ښکاره کړم‌چې‌هغه‌مورخ‌چې‌له خپل دریځ نه خورا ډیر اگاه وی، هم به‌ډیر قدرت ولری‌چې په‌هغه فوقیت‌پیدا کړی، اوهم به ډیر قـدرت ولری چې د هغواساسی اختلافاتودماهیت په قـدرپوه شی کوم چې‌دهغه دجامعې اوجهان بینۍ اودنوروملکونواوعصرونو ترمینځ وی. دی‌به‌نظروهغه مورخ ته لیا ډیر قدرت ولری چې په ښکاره ډول اعتراض لری چې دی اجتماعی

٤٤- Pieter Geyl (۱۸۸۷- ) هالینډی مورخ . (م)

٤٥- اکټـن ، دمعاصر تاریخ په باب لیکچرونـه (۱۹۰٦)، مخ ۳۳ .

حادثه نه ده ، بلکه فردی حادثه ده . ښکاری چې دانسان هغه استعداد چې لـه خپل اجتماعي او تاریخي موقف څخه اوړشی ، پههغه حساسیت سره مشروطکیږی، چې په هغه سره دی پههغه کې دخپل دشمول حد او اندازه پیژنی . ماپه خپل لومړی لیکچر کې ویلی و : پخواله دی چې تاریخ مطالعه کړی، مورخ یې مطالعه کړئ . اوس به اضافه کړم : پخوالـه دې چې مورخ مطالعه کړئ، دهغه اجتماعي او تاریخي محیط مطالعه کړئ . مورخ هم دیوفرد په حیث دتاریخ اوجامعې محصول دی . دتاریخ محصل باید دازده کړی چې مورخ په همدغې دوه اړخیزی رڼا کې وپیژنی .

اوس به مورخ پریږدو او زما دمعادلې هغه بله خوا ـ دتاریخ حقایق ـ به دهمدغې مسئلې په رڼا کې تر کتنې لاندی ونیسو . دمورخ دپلټنې هدف دافراد وسلوکونه دی ، که داجتماعي قوتونو عملیه ؟ دلته زه پـه ښې طرح شوې لارې درومم . څه وخت چې سرایسایه برلین٤٦ څو کاله رومبی یوه ځلانده اومقبوله مقاله دتاریخي حتمیت پهنامه خپره کړ اه، ده هغه دښاغلی تی . اس ایلیت له اثارو څخه پهیوې وجیزی شروع کړ اه : « پراخ غیرشخصی قوتونه » . دمقالې اصلي موضوع ته به وروسته وګرځم . ده په دې مقـالې کې په هغو خلقو ملنډې وهلی ، چاچې دتاریخ دقاطع عامل په حیث په «پراخوغیر شخص قوتونو » ، نه په افرادو باندی ، عقیده اړله هغه چې زه بهیې دبدچان پاچادتاریخ تیوری٤٧ وبولم ـ یعنې هغه نظر چې پهتاریخ کې یوازې دافرادو خصوصیت اوسلوک ځئ اهمیت لری ـ یوه اوزده ریښه او شجره لری . داهځه چې په تاریخ کې فردی نابغه دتخلیقی قوت پـه حیث مسلم اصل وګڼل شی دتاریخي شعور دلومړ نیومراحلو خصوصیت دی . پخوا نیویونانیانو به غوښتل چې دماضی کارنامې دقهرمانانو پهنامه ختمې کړي اوقهرمانان دهمدغو کارنامووا جدان وبولی . دوی هڅه لرله چې خپل حماسیات یوه شاعرته چې هومر٤٨ یې نومو ، منسوب کړی، خپل قوانین

---

٤٦- Sir Isaih Berlin

٤٧- The bad King John theorey of history

٤٨- Homer دیونان دق ٠م٠ نهمې پیړی رزمی شاعر . (م)

اوموسسات یوه شخص ته په نامه ولی کرگیوس ٤٩ یابل شخص ته په نامه دسولون ٥٠ منسوب کړی . همدغـه عین هڅه په رنسانس کې سروهی یعنی په هغه وخت کې چې پلوتارك ٥١ په اخلاقی اصولو پابند سوانح لیکونـکی د پخوانیو علومویه بیا ژوندی کواو کې دپخوانیودورولـــه مورخانوڅخه ډیرمحبوب اومنقد شخصیت و . دانظر په دغه ملك (انګلستان) کې دچاخبره مونږلا ان دمـورپـه غېـږ کې زده کړې وه ، اونن ورځ به مونږ په دغه‌حقیقت ممکن‌اعتراف وکړوچې دانظردوړو، او یادوړو دذوق دپاره دی. دا نظر په هغو وختو کې‌چې‌جامعه ډیره ساده وه، اوداسې‌ښکاریده چې عمومی چارې یوازې یوڅو نو میالیوا جرا کولې، ممکن‌سم اودرست وی. خو زمونږ په عصر کې چې جامعه ډیره پیچلې اومغلقه ده ، دانظرهیڅ سرنه خوری او په نونسمی پېړ ی کې دسوسیولـــوجی په نامه د یوه نوی علم ظهور دهمدغه پیچلتوب نتیجه وه . دانظرچې « تاریخ دسترو کسانوسوانح ده» د اولسمې پېړ ی په شروع کې یوه مشهوره وجیزه وه . یوازی لس کاله دمخه یوه وتلی امریکائی مورخ خپل همکاران د «تاریخی لو بغاړو په‌عمومی وژلو» سره تومتی کړل په دې چې دده په فکر دوی ( داجتماعی او اقتصادی قوتو نو نانځکی» گڼل‌شوی وو. ٥٢ ددغه‌نظرخاوندان نن ورځ د هـغه په باب یوڅه محبوب ښکاره کېږ ی خو، وروسته له‌یوڅه‌پلټنې په دغه باب ماد پیغلی وج وود ٥٣ دیوه کتاب په مقدمه کې یوه ډیره معاصره اعلی‌وینا ومونډله هغه لیکی :

«ماته دافرادو په حیث دانسانانو سلوك نظرد ډلواو طبقاتو سلوك ته ډیر په زړه پورې دی. تاریخ هم په همدغه تعصب او هم په بل سره لیکل کیدلی‌شی. دانه ډیر

٤٩- Lycurgus دسپارټا دنهمـې پیړی ق.م. مقنن . (م)
٥٠- Solon (٦٣٩؟-٥٥٩ ق.م.) دیونان عالم او مقنن (م)
٥١- Plutarch (٤٦-١٢٠) یونانـی سوانح لیکونکی او داخلاقـو عالـم .(م)
٥٢- امریـکایـی تاریخـی مجـله ١٧١ ، لمبر ١ ، (جنوری ١٩٥١) ، مخ ٢٧٠ .
٥٣- C.r. Wedg Wood

او نه کم تېرايستونکی‌دی . دغه کتاب .... یو کوښښ دی چې واضحه شی د غو کسانو څنګه احساس‌و کړاوولی‌یې په خپل تخمین‌سره هغسې و کړه لکه څنګه چه یی و کړه . » ٥٤

دابه صريحه و ينا ده . او څنګه چې پېغله وج وود یره محبوبــه لیکواله ده ، يقين‌دی چې د یرخلق‌هغسې‌سو چ کوی، لکه دایې‌چې کوی. دمثال په تو ګه، ډاکټر راوس وايــي چې د ايلزابتي سيستم څکه ړنګ شوچې اومړی جيمز ٥٥ په هغه نه پوهېده‌او دانګلستان‌داولسمې‌پیړی‌انقلاب ددوو لو مړ نيوستيوارت پاچا يانو دحماقت له امله يوه « تصادفی» پېښه وه . ٥٦ حتی سر جيمز نيل٥٧ چې تر داکــتر راوس ډیر سخت ګير، او دقيق مورخ دی کله کله هڅه کو ی چې نظرد يــته چې شر ح کړ ی دتيو دو ر ٥٨ پاچايي د کـوم‌مقصد او اصل‌دپـاره وه‌دملکې‌ايلزابتې‌ستاينه‌ديره کوی . سر ايسايه برلين ، په هغی مقالې کې چې ما همدا اوس ترې اقتباس و کړ په دې ډير اندیښمن‌دی، چې مورخان‌به چنګيز خان، یا هټلر دبدو کسانو‌په نامه ثبت نه کړي٥٩ کله چې مو نــږ او سنيو وختو ته راګــرځو، دبدکنګ جان او نيــکې ملکې بس نظر مخصوصاً رواج پيدا کوی. داډیره اسانه ده چې کمونزم د« کارل مار کس ددمـاغ محصول » وبلل شی ( زه دا ګل دیوه معاصر سهمدار اــه متحدالمال مکتوب څخه

٥٤- مېي .وی.وج وود، دپاچـا سولـه (١٩٥٥)مـخ ١٧ .

٥٥- James I (١٥٦٦-١٦٢٥) دسکاټ‌اینـډ پاچا .(م)

٥٦-ای.ایـل. راوس،دایلزابتي انګلستان(١٩٥٠)،مخونـه ٢٦١-٢٦٢،٣٨٢ .دابه انصاف وی‌چې دیتـه اشاره وشـی چـی ښاغلی راوس په یوی ړومبنۍ مقالـې کـې‌داتورولـګاوه په«هغومورخانو چـې دوی فـکر کـوی بور بونانو (Bourbons) و نه شوکولـی و روسته لـه ١٨٧٠ څخـه په فرانسی کی پاچايـی بيا تاسيس کړی څکه چـې پنچم هنری لـه يوه واړه سپين بيرغ سره زياته علا قـه لرلـه » (ديوی دوری پای ، ١٩٤٩، مخ ٢٧٥ ) شايـد ده دغسې شخصی تشريحات دانګليس دتاريخ د پاره ساتـلې وی .

٥٧- Sir James Neal

٥٨- Tudor

٥٩ -ای .برلیـن ،تاریخـی حتمیت ،(١٩٥٤)مـخ ٤٢ .

شکـوم ) نظر دیته چې دهغه منبع او خصوصیت تحلیل شی . دبلشویك انقلاب دو هم نیکولای ۶۰ حماقت یادجرمنی طلاته منسوب شی، نظر دیته چې دهغه ژورې اجتماعی ریښې مطالعه شی، او ددغه قرن دواړه جهاني جنګونه ددوهم ویلهلم ۶۱ او هتلر دفردی خبث نتیجه وګڼله شي نظر دیته چې د بین المللی مناسباتو په سیستم کې دړ نګېدلــو ژورې ریښې و پلټلې شی .

د پیغلی و ج ووډ ویناً دوه فرضیې سره یوځای کوی . لومړۍ فرضیه داده چې د افرادو په حیث دانسا نا نو ساوك د دوی له هغه سلوك سره چې یې ددلو او طبقاتو دغړیو په حیث کوی، سره بېل دی، اومورخ ته اجازه ده چې په خپلی خوښې سره یوه غوره کړی، او پرې بحث وکړی. دوهمه فرضیه داده چې دافرادو په حیث دانسانانو دسلوك مطالعه د دوی داعمالو دشعوری محرکاتو له مطالعې څخه متشکله ده .

وروسته له هغه څه چې مې ړومبی وویل، لازمه نه بولم چې په لومړۍ فرضیې نورزیار و باسم. داسې نه ده چې دیوه فرد په حیث دانسان نظر، نظر و هغه ته چې دی یې دیوې ډلې دیوه غړی په حیث لری ، لزوډیر تېر ایستونکی دی . اصلاً ددواړو ترمنځ دتوپیر دپیدا کولو په لوړه څه تېر ایستونکې ده . د تعریف له مخې فرد دیوې جامعې یا له یوی جامعې څخه زیات ـ دله ورته وایه شی، یا طبقه، یا ملت ، یاقبیله، یا نورڅه ـ غړی دی . ړومبني ژوند پوهان په دې قانع ووچې د مرغانو، حیواناتو، او دقفس دماهیانو، دبیښه یې کوتو، ماهیانو، او نمایشی صند قونو، ماهیانود انواعو تصنیف وکړی او په دې پسې و نه ګرزی چې ژوندی موجود له خپل محیط سره دارتباط له مخې مطالعه کړی. اجتماعی علوم ممکن نن ورځ هم له خپلې ابتدایی مرحلې څخه پوره وتلی نه وی. ځینې کسان د رو حیاتو او سوسیولوجی ترمنځ ـ لومړی دفرد دعلم ، او دوهم دجامعې دعلم په حیث ـ په فرق قایل دی . دسایکا لوجزم ۶۲ نوم په هغه نظر

۶۰- Nicholas II (۱۸۶۸-۱۹۱۸) د روسیې امپراطوری.(م)

۶۱- Wilhelm II

۶۲- Psychologism

ایښودل شوی دی چې وایي ټول اجتماعي مسایل په پای کې دفردي انسان دسلوک و تحلیل ته تبدیل کیدو نکي دی. خو درو حیاتو هغه عالمان چې و نه شي کړ ای دفرد اجتماعي محیط مطالعه کړي، چندان بهترقي و نه کړي ٦٣ دبیو گرافي او تاریخ ترمینځ فرق کول چې یو یې انسان دفرد، او بل یې انسان دیړه کل دجزء په حیث مطالعه کوي، او ددې نظریې وړ اندې کول چې وایي ښه بیو گرافي بدتاریخ جوړوی تیراستیونکی دی . اکټن یو وخت ویل:

« دتاریخ په باب هیڅ څیز دانسان نظر ته دومره دیره غلطي او بې انصافي نه پیښوي لکه چې هغه علاقه یې پیښوي، کومه چې دفردي خصوصیتونو له امله پیدا کیږي.» ٦٤ خودغه تمیز هم غیر حقیقي دی . زه داهم نه غوارم چې دو یکتور یا دعصردهغه متل وشاته پناه یوسم کوم چې.جي. ایم . ینگ٦٥ دخپل تالیف ـ دو یکتوریا دوختو انگلستان ـ دعنوان په مخ راوړی دی : « مـزدوران د خلقو په باب غږیږي ، او اشراف له څیزونو نه بحث کوي . » ٦٦ ځینې بیو گرافي گانې لـه تاریخ سره جدی

٦٣ـ سره ددی هم دروحیاتو عصری پوهان په دغې اشتباه محکوم شوی‌دی : « دروحیاتو عالمانو دیوی ډلې په حیث ، فرد دننـه پـه اجتماعـی ژوندی سیستم کـې دیوه واحـد پـه حیث ترمطالعې لا ندی نیولـی نه‌دی، بلـکه دی‌ئې دیوه مشخص انسان په حیث تر مطالعې لا ندی نیولـی دی چـی دی په هغه وخت‌کې داجتماعی سیستمو نو دتشـکیلولـو دپاره مخ په وړاندی روان و .په دی ډول ، دوی هغه خاص مفهوم په کافـي ډول پـه حسابکې نه دی‌نیولـی ، په کومکې چـې ددوی کته گوری گانې‌مجردې» وې. (دپروفیسر تال کوټ پارسنز مقدمه دماکس ویبر(max Weber) په ، (داجتماعی او اقتصادی تشـکیلا تو تیوری ،١٩٤٧ ، مـخ ٢٧) داسـی هـم وگوری، د ده تبصری په فروید باندی : مـخ ١٣٨ .

٦٤ـ کـورنـی او خارجـی مجـله ،جنـوری ١٨٦٣ : مـخ ٢١٩

٦٥ـ G. M. young

٦٦ـ داؤکرلو.ړی هربرت سپنسر په خپل اثر ـ دسوسیولوجی مطالعه‌ـ کې وړاندی کړی‌و .(دوهم فصل) : «که په عمومی ډول ته غواړی د چاد ذهن د استعداد تخمین وکړی ته ترد ی په بل هیڅ صورت په ښه ډول کولی نه‌شی چې دهغه په صحبت کی داشخاصو په باب د هغه دکلیاتو تناسب مشا هده کړی. دافرادو په باب څومره ساده حقایق په هغو حقا یقو سره عوض شوی دی چې د انسانانو او څیزونو له متعدد وتجاربو څخه ایستل شوی او خلاصه‌شوی دی په دی ډول کله چې تاسو د ډیرو انسانانو تخمین وکړ تاسی به یو څو متشتت کسان وموسی چې هغوی به دانسانی چارو تربیوگرافی نظرنه‌زیات نور څه په نظر کی و نه‌نیسی . »

مرسته کوي. زما په خپلی ساحې کې دایز ک‌ډو یچر۶۷دستالین او تراتسکي بیو گرافی گانې یې وتلی مثالونه دي . نورې بیو گرافي گانې دتاریخی ناولو نو په څیرادبیاتـو پورې تعلق نیسي . پروفیسرترېوررو پر۶۸لیکی: «دایتن ستراچی ۶۹ په نزد تاریخی مسایل یوازې اوتل دفردي سلوک اوفردی غرابت مسایل وو. . . . . . دی هیڅ په دې پلټنې پسې نه شوچی دتاریخي مسایلو، دعلم‌سیاست اود جامعې مسایلودپاره ځواب ووایي، او یایي‌حتی یوښتنه‌وکړی» ۷۰ هیڅوک مجبورنه‌دی چی تـاریخ و لیکی . او یا یې و او لي ، او کیدای شي، چې د ماضي په باب د یر اعلی کتا بو نه و لیکل شي چې هغه دې تاریخ نه وي. خوزما په فکر،ونږدرواج‌له مخې ددې استحقاق‌لرو- لکه څنگه چېزه یې په دغولیکچرونوکې پشنهادکوم چی د « تاریخ » کلمه په جامعې کې دانسان دماضي د پلټنې دعملیې دپا ره تخصیص کړو .

دوهم ټکی یعنې داچې تاریخ له دې پلټنې سره سرو کارلري چی افراد دوولی « په خپل تخمین سره هغسې و کړه ، لکه څنگه چه یې و کړه » ، پـه اول سر کـې نهایت عجب بریښي اوزه گمان‌کوم چې پیغله و ج وود دنورومعقو اوخلقوپه شان، هغه څه نه عملی‌کوي ، چه تبلیغ یې کوي . او کـه یې کوي نوهغه به‌حتماً کوم ډیر عجب تاریخ لیکی . نن ورځ هرڅوک په دې پوهیږي چې انسانان تل یاشایدحتی دعادت له مخې دهغومحرکاتوله مخې عمل نه‌کوي ، چې دوی پـه هغوپوره اگـاه وي او یادوی دیته تیار وي چی په هغواعتراف و کړي . په غیرشعوري ، یاپـه پټو محرکاتوځا ن نه پوهول یقنیاً داسې مثال لري چې یوڅوک به په خپل کارپسې ځی او یوه سترگه به یې قصداً تړلې وي . خو دځینوخلقوپه فکرداهغه څه دی چې باید

۶۷- Isacc Deutcher ، پولندی عالم اوبیوگرافی لیکونـکی . (م)

۶۸- Trevor - Roper

۶۹- Lytton Strachey (۱۸۸۰-۱۹۳۲) انگلیس مصنف او سوانح لیـکونـکی (م)

۷۰- ترېـور روپـر ،تاریخـي مقالـې ،(۱۹۵۷)مـخ ۲۸۱ .

مورخان یې و کړي. دمطلب ټکی دادی. ترهغوچې تاسې پهدې قانع یئ چې د کنګ ـ
جان بدي دده په حرص ، حماقت ، یاجاه طلبۍ کې ده چې غوښتل یې د ظالم رول
ولوبوي ، تاسې دفردی خاصیتوپه ژبه ګړیږئ ؛ چې دوړو کتون دهلکا نوپه تاریخ
کې د فهم وړدی . خو کله که موپه دغسې و یلوشروع و کړه چې کنګ جان د هغو
شتنمودمنافعو یوغیرشعوری التو، کوم چې ددې مخالف ووچې فیوډالي بارونان ۷۱
په واک شي ، تاسې به نـه یوازې د کنګ جان دبدی یوه ډیره پیچلې اوسفسطه یـی
نظریه وړاندې کړې وي ، بلکه تاسې به ظاهراً داسې نظریه هم وړاندې کـړې
وي ، چې تاریخي وقایع دافراد وپه شعوري اعمالوسره نه ټاکل کیږي ، بلکه پـه
هغوسترو خارجی قوتونوسره ټاکل کیږي ، چې ددوی غیرشعوری اراده هـم اداره
کوی . واضحه ده چې دا نظریهدرسته نه ده .ترهغه ځایه چې په ما اړه لری، زه
نه په اسمانی قدرت عقیده لرم نه په جهاني روح ، نه پهمعلوم تقدیر، او یانه پههرو
هغومجرداتوچې کله کله داسې ګڼل کیږی چیهغوی دپېښوجریان اداره کوی ، او په
دې باب زه دمارکس لاندنی تبصره بې له شرط اوقیده تائیدوم :
« تاریخ هیڅ نه کوی . هغه ډیره شتمنی هیڅ نه لری .هیڅ جنګونه نه کوی. بلکه
دا پهخپله انسان،حقیقي ژوندی انسان دی چې هرڅه کـوی ؛ تصرف کوی ،او جنګ
کوی .» ۷۲ زه په دغې مسئلیدوه تبصرې لرم. یوه یې هم دتاریخ په کوم مجرد
نظربنا نه ده او دواړه خالصې په تجربی مشاهداتو بنادی . اومړی تبصره مې داده
چې تاریخ تر ډیره حده د عـددونو موضوع ده . کارلایل ۷۳ د غه اسفناکه وینا
کړې وه چې «تاریـخ دسترو کسانو بیوګرافی ده» . خو دده په ډیر ستراوفصیـح
تـأ لیف کـې له ده څخه واورئ :

۷۱- Feudal barons . په برتانیا کې هغه ارثـی اشراف چـې دلا رډانو په نامه مخاطب کیدل ، او
لا رډانـو پـه مجلس کـې یـې دغړیتوب حـق لا ره .(م)
۷۲- مارکس ـ انګلز ، Gesamtausgabe ، I، iii مـخ ٦۲۵ .
۷۳- Thomas Carlyle (۱۷۹۵-۱۸۸۱) سکاټلینـدی مورخ او مقالـې لیکونکی ..(م)

«بربند توب ، صالحه تعدی ، اوولږه په پنځهوو پشتومیلیو نو زر ونسود رنه تمامېږی : دفرانسي په انقلاب کې لومړنی خو ځوونکی همدغه وو ، نه زخمی شوی غروروونه ، یادفلسفی مدافعوو کیلاڼو ،شتمنو دکانداراانو ،اطرافی اشرافو نقیضې شوې فلسفې . د همدغومثال به په همدغسې تو او انقلابونو ، او تو لوملکو نو کې وی » ۷٤

یالکه څنګه چې لینن وایي: «سیاست هلته شروع کیږی ، چیرته چې تودې وی ، نه په هغه ځای کې چیرته چې په زرګونووی، بلکه هلته چې په میلیونووی یعني هلته چې جدی سیاست شروع کیږی . » ۷۵ دکارلایل او لینن میلیو نسونه دافرادومیلیونونه وو . دد وی په باب هیڅ شی غیرشخصی نهوو. کله کله په دغې مسئلې بحث کول په دې تمام شی چې نه نوم تـوب لـه غیرشخصی توب سره ګـډ شی .خلق له خلق توب اوافراداله فردتوب څخه په دی بل څه نه کیږی ، چې مونږ د دوی نومونه نه پیژنو. دنباغلی ایلیت «پراخ غیرشخصیقوتونه» هغه افرادووچې کله ریندن ۷٦ چې ترهغهلیـاززور،اوسپین ویونکیمحافظه کـارو. وزته « بینومه کـثیف خلق » ۷۷ وایی . دغه بـی نومه میلیونونـه هغه افراددی څوك چې لږو ډیرپه غیرشعوری ډول اوپه ګډه سره اجتماعی قوت تشکیلوی . مؤرخ به په عادی حال کېدیتهاړنه وی چې یوځانـګړی ناراض کلی،یایوځانـګړی ناراض کروندهګر په حساب کې و نیسی . خوپه میلیونو ناراض کروندهګر، په زرګونو کایو کې داسی عامل کیږی چې هیڅ مؤرخ به ترې سترګې پټې نه کړی . هغه دلایل چې جونز

۷٤ـ کارلایل ،دفرانسې دانقلاب(تاریخ ،۱۱۱۱، iii، اومړی فصل .

۷۵ـ لینن ،منتخب اثار ،vii ،مخ ۲۹۵ .

۷٦ـ E. Clarendon (۱٦۰۹-۱٦۷٤)انګلیس مورخ .(م)

۷۷ـ کله ریندن ،دهابس دلـی وی تنېه کتابکـې د کلیسا او دولت په مقابل کـې دخطراتـو او اشتباهاتو یـوه لنـډه سروی(۱٦۷٦) ،مـخ ۳۲۰

له واده کولوڅخه ویروی ، مؤرخ ته به ترهغو په زړه پوري نه وي، چې ترڅوهمغه دلایل دجو نزدنسل په زرګونو نورافرادوویروی ، اودواده په عمومي میزان کې پوره لزوالي راولي . په دغه حال کې به داپیښه په تاریخي لحاظ مهمه وي . داهم نه ښایي چې دغه بې‌لطفه وینا مونږ اندیښمن کړي‌چې وایي نهضتونه‌داقلیتونوله‌خوا شروع کیږي . ټول مؤثر نهضتونه یوڅومشران ، اوکثیرپیروان لري . خو ددی معنی دانه ده چې کثرت دهغودبریالیتوب دپاره اساسي نه دی . اعداد په تاریخ کې اهمیت لري .

زمادوهمه تبصره ترړومبنی نه هم حتی ښه مشهوده ده. دتفکر دډیرومختلفو مکتبونولیکوالان په دې موافق دي چې دانساني افرادوداعمالو نتیجې زیاتره هغه نه دي چې یې عمل کوونکي یا بل کوم فردیې ارزو کې وي ، اویایې په هغه نیت عمل کړی وی . یوعیسوی عقیده لری چې فردچې په شعوری دول سره دخپلو مقاصد ودپاره عمل کوی ، په حقیقت کې‌دخدای‌دمقصد یوغیرشعوری نماینده دی . د ماندیو ال ۷۸ «شخصي ګناهونه ، عمومي ګټې» دهمد غه کشف لومړنی او عمداً په ظاهر کې مهملـه اونقیضه بریښوونکی افاده ده . د ادم سمت ۷۹ پټ لاس، او د هیګل ۸۰ د «عقل زرنګی» چې افراد هغه ته د عمل د پاره په لا ره برابره وی سره له دې چې افرادبه په خپل فکردخپلوشخصي مقاصد وداجرادپاره‌کار کوی دومره واضح دی ، چې اقتباس ته یې حاجت نه شته . مارکس د خپل ( د سیاسي اقتصاد انتقاد) نومي تألیف په سریزه کې لیکي : «انسانان دخپلوتولیدی وسایلو په اجتماعي تولید کې په معینواو ضروری مناسباتو کې سره داخلیږ ی ، چې د هغو ی

۷۸- Bernard Mandeville (۱۶۷۰- ۱۷۳۳) هالینډی اسقف . (م)

۷۹- Adam Smith (۱۷۲۳-۱۷۹۰) سکاټلینډی سیاسي اقتصاد پوه . (م)

۸۰- G. W. F. Hegel (۱۷۷۰-۱۸۳۱) جرمني فیلسوف . (م)

لـه ارادې څخه مستقـل وی . » تولستوی ۸۱ په جنګ ا وسوله کې وایي ، ا و د جملې په سر کې د ادم سمت دفکرانعکاس کوی : «انسان په شعوری ډ و ل د ځان دپاره ژوند کوی ، خودبشریت دمهموعالمی مقاصدو په حصول کې یو غیر شعوری الت دی . » ۸۲ قصه چې لنډه کړو ، که څه هم د مخه تردې نږه اوږ ده شوې د ه پر وفیسر بټرفیلډ ته غوږ کښېږدئ : «دتاریخي پېښو په ماهیت کې داسې یو څه ․وجود دی چې دتاریخ سیرپه دا سې لاره کږ و ی ، چې انسان به یې هیڅ ارزونه و ی کړ ی . » ۸۳ له ۱۹۱٤ څخه را هیسې ، وروسته له سلو کـالـونـوڅخه چې واړه محلي جنګونه پـکې شوی وو، مونږدوه لوی جهاني جنګونه ولیدل . ددې حادثې دقبول وړشرح‌به‌دانه‌وی‌چې وویل شی چې نظر د نونسمې پېړ ی په‌درې وروستیو پنځوویشتو کالونو کې، په‌دغه‌وخت کې‌ډیروافرادودجنګ‌مطالبه کوله‌اولږویې‌سوله غوښتله . ددې قبـول مشکل دی چې وویل شی چې کـوم چاد۱۹۳۰څخه تر۱۹٤۰ دلسو کالونودلوی کساد ارزولرله ، او یایې‌اراده ورته کړې و ه . خو سر ه له‌دې هم داکسادېې له‌کوم شک او‌تردید څخه دافرادواعمالومینځ ته راوړ،اوهریوه په شعـو ر ی ډ و ل بیـل هـد ف تعقیب کـا و ه . د فـــر د د نیت ا و د هـغه د عمـل د نتایجوترمینځ دتوپیر تشخیص‌هم تل باید داینده مورخ دپاره تپال نه شی. لاج ۸٤ د ۱۹۱۷ په مارچ کې دوډرو‌ویلسن ۸۵ په باب ولیکل : « نیت یې دانه دی ، چې جنګ ته لاړشي ، خوزما په فکر چي واقعات به یې (په هغه لـور) بوځی . » ۸٦

---

۸۱- Leo Tolstoy (۱۸۲۸-۱۹۱۰) روسی ناول ایکونکی . (م)

۸۲- تـولستوی ،جنګ او سوله ، IX، لـومړی فصل .

۸۳-ایـچ .بټر فیلـډ ،انګلیس او دهغه تاریخ (۱۹٤٤)، مـخ ۱۰۳ .

۸٤. Lodge

۸۵. Woodrow Wilson (۱۸۵٦-۱۹۲٤) د امریکی د متحده ایالتونو اته ویشتم جمهـور رئیس. (م)

۸٦. دبی . ډبلیو. تـوك مان پـه ،زمرمان تیلـګرام‌کـی اقتباس (نیویارك، ۱۹۵۸) مـخ ۱۸۰.

دانظردتیو لوشو اهدوپه خلاف دی چې وویل‌شی تاریخ به په دغواساساتوولیکل‌شی یعنی د«انسانی نیتونود تشریحاتو په قرار» یا دهغو محرکاتو د شرح په قرارچی په خپله عا مىلا ن به یې ور کوی ، یا په دی سره چی ولی یې « په خپل تخمین سره هغسې وکړه، لکه څنگه چه یې وکړه » .

د تاریخ حقایق، په واقع کې دافرادوپه باب حقایق دی. خودا حقایق دافرادو دهغواعمالو په باب نه دی ، چې په مجرد ډول سره اجرا شوی وی . داسی هم دا حقا یق دهغو محرکاتو ـ حقیقی وی یاخیالی ـ په باب نه دی چې افراد خیال کوی، چې گوا کې دوی داعمل د هغوله مخې کړی دی . دا حقایق دافرادودمناسباتو په باب دی ، چې دوی یې په جامعه کې یوتربله سره لری، اوهمدا رازدهغواجتماعی قوتونو په باب دی ، چی دافرادوله اعمالو څخه نتایج راوباسی کوم چی‌زیاتره یې له هغو نتایجو څخه مختلف، او یا کله کله دهغو په ضدوی ، چې افرادو یې ورته نیت کړی وی.

دکالنگ‌ووډدتاریخ دنظر،چی ما په تیرایسکچر کې شرح کړ،یوه جدی غلطی هغه فرضیه ده چې دهغه په اساس‌دعمل‌شاته فکر،چې‌باید مورخ یې په پلټلو موظف وی ، دفردی عامل فکر گڼل‌شوی دی . هغه څه چی‌مورخ یې باید وپلټی، دادی چې دعمل‌وشاته څه شی‌پروت دی. اوددې دپاره به ممکن‌دفردی او ځانگړی عمل کوونکی شعوری فکر، یا محرك ، کاملاً نا مربوط وی .

بنایی دلته اوس په تاریخ کې د یاغی او د مخالف د رول په باب یو څه ووایم . دجامعې په مقابل کې‌دیاغی په حیث دیوه فرد عمومی تصویر گڼل په واقع کې‌دفرد اوجامعې‌ترمینځ دیوه غلط ضدیت رواجول‌دی . داسې جامعه نه شته چې گرد سره دې متجانسه وی . هره جامعه داجتماعی مخالفتونو یوه صحنه ده ، اوهغه افراد چې دموجودې واکمنی په مقابل کې قیام کوی ، هغومره د هغې جامعې محصولات

او انعکاسات دی، لکه څومره چې طرفداران یې دی . دوهم ریچرډ ۸۷ اوستره کاترینه ۸۸ دخوارلسمې پیړۍ انګلستان او داتلسمې پیړۍ روسی دسترو اجتماعی قوتونومثلانوو. داسې‌هم واټ ټیلر ۸۹ اوپوګاچیف ۹۰ چې‌ورو‌ستی دنیمه‌غلامۍ دلوی قیام مشر و، د ستر‌و‌اجتماعی قوتونو تمثیل کاوه . پاچایان او یا غیان پوشان دخپـل عصر او‌هـیواد دخاصو شرایطـو‌محصول دی . د واټ ټیلر او پوګاچیف داسې معرفـی‌کول ، چې دوی ګواکې دجامعـې په مقابـل‌کې یا غـی افرادوو، له حده زیاته یوه تېرایستونـکی‌ساده‌کول دی . که دوی تش همدا وای ، مورخ به ددوی نوم هیڅ نه وای اوریـدلی . دوی په تاریخ‌کې خپل رول د خپلو‌کثیرو طرفدارانومرهون ګڼنی. دوی یا داجتماعی حوادثو‌په حیث مهم دی‌یا هیڅ نه دی . اوس به په لوړه سو یـه ، یو وتلی یاغی فرد پرست دمثال په توګه وښیو . یوازې یوڅو‌کسانو ترنیچې ۹۱ زیات دخپل‌عصر‌او‌هیواد په‌ضد په‌ډیر‌شدت اوافراطی ډول عکس‌العمل ښودلی دی . سره ددې هم نیچه داروپایـې او‌په خاص ډول دجرمنی، جامعې مستقیم محصول دی . داداسی حادثه ده چې‌نه به‌په‌چین‌او‌نه په پیرو‌کې پېښه شوی‌وای. نیچې له‌مرګه‌یو نسل‌وروسته‌نه ـ دده په‌عصر کې ـ دابنکاره شوه‌چې‌داروپااو په تېره بیا دجرمنی اجتماعی قوتونه چې دغه فرد یـی افاده و، څومره قوی وو، او نیچه‌دآینده نسل‌دپاره ـ نه دخپل‌معاصر نسل‌دپاره ـ یوډیرمهم شخصیت و ګرځید.

په تاریـخ‌کې دیاغی رول دسترکس لـه رول سره یوځه ورتـه دی . په دغو وروستیو کالونوکې دتاریخ دسترـکس ـ تیوری ـ د نیکې بس ملـکې دمکتب‌خاص

۸۷. II Richard (۱۳٦۷-۱٤۰۰) د انـګلستان پا چا (م)

۸۸. Catherine the Great (۱۷۲۹-۱۷۹٦) دروسیـی امپرا طوره . (م)

۸۹. Wat Taylor

۹۰. Pugachev

۹۱. F. W. Nietzsche (۱۸٤٤-۱۹۰۰) د جرمن فیلسوف . (م)

مثال ـ یو څه له رواجه لویدلی ده . یوازې کله کله خپل‌سرهسکوی . دعمومودپاره دتاریخ ددرسی کتابو نودیوی ساسلې تالیف کوونکی چې له دوهم جهانی‌جنګ نه وروسته شروع شوی دی ، له خپلو لیکوالوڅخه وغوښتل «چې دستر کس دسوانح په لیکلوسره یوه مهمه تاریخی موضوع پرانیځی . » ښاغلی‌ای . جی . پی.تیلر۹۲ په خپلې یوې کوچنی مقالې کې مو نږ ته وویل چې «دمعاصرې اروپا تاریخ ددریو پهلوانانو په نامه لیکل کېد ای‌شی: ناپلیون، بسمارك، اواینن. »۹۳ مګرده په خپلو نوروجدی لیکنو کې دغسې بې سنجشه تبصره نه ده کړی . په تاریخ کې دستر کس رول څه دی ؟ ستر‌کس یوفرددی، اوځنګه چې دی یو وتلی فرددی،دی دیوې اجتماعی حادثې یووتلی اهمیت هم دی . ګیبون ویلی چې « دایو واضح حقیقت دی چې عصرونه باید دفوق‌العاده افرادودپاره مناسب وی ، او داچې دکرومول ، اور تز ۹٤ نبوغ به ممکن اوس په نامعلومې کې ورك او ختم شی.»۹٥ مارکس په خپل د « لو یی بو نا پا رت په ا تلسم بر و میر » نو مي تا لیف کې د هغه معکو سه حا د ثه تشخیص کړ له : « په فر ا نسې کې طبقاتی جنګ د اسې شرایط خلق کړل ، چې د هغو په ا ثر منځنی ( دمنځنی طبقې ) نا شولته شخص و کړ ای شوه دقهرمان په جامه کې دنازقد م ووهي . » که بسمارك په اتلسمې پیړی کې زیږیدلی وای‌څه‌بې مفهومه تبصره،ځکه چې دی به هغه وخت بسمارك نه وای ـ جرمنی به یې متحدکړ ی نه وای ، او هیڅ به سترشخص شوی نه وای . خوداهم لازمه نه ده چې دتولستوی په شان ـ یوڅوکڅ دسترو کسانو ارزښت کم کړ ی ، اوهغوی « پیښوته دنوم ورکولوتا بې »وګڼی . په‌دی کې څه

۹۲. A. J. P. Taylor معاصر انګلیس مورخ (م)

۹۳. ای. جی . پی . تیلر ، له ناپلیون نه تر ستالین پوری (۱۹٥۰) مخ ۷٤ ،

۹٤. Retz

۹٥. ګیبون ، د روم د امپراطوری انحطاط او سقوط، فصل Lxx

شک نه شته چې کله کله دستر فرد د لمانځلو روش ممکن ناوړه عواقب ولري . دنیچې مافوق- انسان مردوداودنه منلودی . ما تـه نه ښایی دهتلرقضیه یا په شوروی اتحادکې د «شخصیت دلمانځلوروش» ناوړه عواقب یادکړم . خوزما مقصد دانه دی چې دسترو کسانوسترتوب وورو ښیم .داسی هم نه غواړم په دغه نظرکې شریک شم چې وایی «ستر کسان تل بدکسان وی .» هغه نظرچې هیله کوم له رواج نه یې وغورځوم دادی چې د انسان مقام له تاریخ نـه بهر گڼي او انسانان داسې وینی چې گواکې دوی دخپل سترتوب په وجه په تاریخ باندی تحمیل کوی ، داسی لکه چې دقوطیوجیک له نامعلوم ځخه دمعجزی په ډول وځی چې دتاریخ رښتینی پرله پسی توب گډ و ډ کـړی . ۹٦ حتی نن ورځ هم زه نپو هیږم چې که موتږ د هیگل دغه کلا سیکی و ینا بهتره کولی وشو .

«د عصرستر کس هغه څوک دی چې پهدی قادر وی دخپل عصراراده په الفاظو کې افاده کړی ، خپل عصر ته ووایی چې دغه یې اراده ده، اواجرایی کړی . هغه څه چې دی یې کوی ، دده دعصرزړه او جوهردی . دی خپل عصرواقعی کوی.»۹۷ داکترلیوییس ۹۸ هم، کله چې وایې سترلیکوالان «دهغی انسانی اګاهی په وجه مهم دی ، چې دوی یې رواجوی ،» ۹۹همدغسې یوڅه په نظر کې لری . ستر کس تل یا دموجود وقو تونو نماینده وی،اویا دهغوقوتونونماینده وی چې د مسلط قوت په ضددهغوله تشکیل کولوسره مرسته کوی . خود تخلیق اوابتکارلوړه درجه ښایی هغوسترو کسانولکه کرومول،یالیڼن ته تخصیص شی چې دوی دنویوقوتونوله تشکیل سره مرسته وکړه،اوهمد غوقوتونودوی سترتوب ته ورسول ، نه هغو کسانو ته چې

۹٦. وی. جی . چایلد (V. G. Childe) ، تاریخ (۱۹٤۷) ، مخ ٤۳

۹۷. د حق فلسفه ، (انگریزی ترجمه ،۱۹٤۲)، مخ ۲۹٥.

۹۸. Dr. F. R. Lewis

۹۹. اف . آر. لیویس، ستره عنعنه (۱۹٤۸) ، مخ ۲۰

لکه ناپلیون، یا بسمارک چې دموجود قوتونو په شاسواره شول اوستر توب ته پری ورسیدل . نه بنایی مونږ هغه ستر کسان هیر کړو چی له خپل عصر څخه ډیر دمخه وو اوددوی سترتوب یوازی آینده نسلونو وپیژند . هغه څه چی ماته اساسی معلومیږی دادی چې مونږ په سترکس کې د غسې یووتلی شخص وپیژنو چې هغه هم دتاریخی عملیې محصول اونماینده وی ، اوهم داجتماعی قوتونو ممثل اوخالق وی ، کوم چې دنړی شکل اودانسانانوفکرته تغییرور کوی .

نو تاریخ د کلمې په دواړو مفهونوسره -یعنی هغه پلتنه چی دمورخ له خوا کیږی، اودماضی هغه حقایق چی دی پکی تحقیق کوی - یوه اجتماعی عملیه ده داسې عملیه چې په هغې کې افراداجتماعی موجوداتو په حیث شامل دی. دجامعې او فرد ترمینځ خیالی ضدیت له هغو موانعو څخه غیر بل څه نه دی چې زمونږ په لاره کې په دی غرض خلق شوی دی، چې زمونږ تفکر ګډوډ کړی. دمورخ اودهغه دحقایقو ترمینځ ددوه اړخیزه عمل متقابله عملیه کومه چې ما دماضی او اوس ترمینځ مکالمه بللی د ه‌دننی اوبرونی جامعې ترمینځ مکالمه ده، اودمجرد واو ګوښه‌شویوافراد وترمینځ مکالمه نه ده . تاریخ دبر کث خاردت په الفاظوسره «دهغه څه ثبت دی چې یوعصریې په بل عصر کې د ثبت کولو لایق مومی» . ۱۰۰ ماضی یوازی د اوس په رڼا کې د فهم وړ دی . اومونږ یوازی دماضی په رڼا کې په اوس پوره پوهیدلی شو . دا د تاریخ هغه دوه اړخیزه وظیفه ده چې انسان په دی قادر کوی چې ماضی و پیژنی، او په اوسنی جامعې کې خپل قدرت ډیر کړی .

---

۱۰۰. جی . برکخارد ت، په تاریخ او مورخانو قضاوت (۱۹۵۹) مخ ۱۵۸.

# تاریخ ، ساینس او اخلاق

هغه وخت چې ځوانکی وم، دا مې زده کړه چې دشکلو نو باوجود، نهنګ ماهی نه دی؛ دې خبرې په ماا ثرهم وکړ. خواوس مې دتصنیف دغسې پوښتنې تر پخوا الږ خوځوی اودا خبره ،بې هم بې جهته نه ربړوی چې ما متیقن کوی چې تاریخ ساینس نه دی . دغه اصطلاحي سوال دانګریزی ژبې دغرابت په وجه پیدا شوی دی . په هرې بلې اروپایی ژبې کې د«ساینس» معادله کلمه بې له کوم تردید څخه تاریخ په غیږ کې نیسي. خو په انګریزی - ویونکې نړی کې دغه پوښتنه یوه اوزده سابقه لری. اوهغه موضوعات چې له هغې نه پیدا کیږی ،په تاریخ کې دمیتو ددمسایلو یوه مناسبه مقدمه تشکیلوی .

داتلسمې پیړۍ په پای کې ، یعنې هغه وخت چې ساینس هم دجهان په باره کې دانسان دمعرفت په باب، اوهم دهغه دطبیعي خواصو دمعرفت په باب، په ډیر موفقیت سره مرستې کړې وې ،داسې پوښتنې شروع شولې، چې ایاساینس بهدجامعې په باب هم د هغه پوهه زیاته کړی، او که نه. د اجتماعی علومو مفهوم، چې په هغو کې تاریخ هم شامل و، دنونسمې پیړۍ په دوران کې ورو ورو انکشاف وکړ ،اوهغه میتود چې په هغه سره ساینس دطبیعت نړۍ څیړله ،دبشری چارودمطالعې دپاره هم په کارولوید. ددغه عصر په لومړۍ برخې کې دنیوټن ۱ عنعنه مسلطه شوله. جامعه د طبیعت دنړی په څیر، دیوه میکانزم په حیث وګڼل شوله . د هربرټ سپنسر ۲ دیوه اثر عنوان

---

۱. Issac Newton (۱۶٤۲ - ۱۷۲۷) انګلیس فیلسوف او ریاضی پوه (م)

۲. Herbert Spencer (۱۸۲۰ - ۱۹۰۳) انګلیس فیلسوف . (م)

داجتماعی ساکنواجساموبحث ۳ چی په ۱۸۵۱ کې خپور شو. تر اوسه هم یادیږی. برتراند رسل، چې په دغې عنعنی کې روزل شوی و، وروسته یې دغه عصر را یاد کړ، اوهیله یې و کړه چې یووخت به «دانسانی سلوک ریاضیات دومره دقیق (وی) لکه څومره چې دماشینو نور ریاضیات دی» ٤ وروسته بیا داروین ٥ بل علمی انقلاب راوست، او اجتماعی پوهانو چې له بیا لو جی څخه تقلید کاوه، په داسې تفکرپیل وکړ، چې جامعه د یوه عضویت په حیث وګنی . خود داروینی انقلاب رښتینی اهمیت په دې کې دی چې داروین څه وخت چې دهغه څه په تکمیل کواو پسې شو کوم چې (لایل)٦ لاړومبی په جیولوجی کې شروع کړی و، تاریخ یې په ساینس کې حساب کړ. ساینس نور نوله هغه څیزسره سرو کار نه لاره چې ساکن اوبې زمان ۷ و، بلکه دتحول او انکشاف له عملیې سره یې علاقه پیدا کړله . په ساینس کې تکامل، په تاریخ کې ترقی تائیده او تکمیله کړله . سره له دې هم داسې څه پیښ نه شول چې دتاریخی میتود استقرا یې نظریه کوم چې زه په اومړی لیکچر کې پرې وغږیدم، واړوی: یعنې داچې لومړی خپل حقایق را غونډ کړی، بیا یې توجهه وکړئ . بې له څه ګړوبړ نه داسې وګڼله شو له ، چې دساینس میتودهم همدغه دی . داهغه نظرو، چې (بری) کله چې د۱۹۰۳ کال په جنوری کې د خپل افتتاحی لیکچر په وروستی برخې کې تاریخ په حیث «دیوه ساینس . نه لزونه دیر» تعریف

Social Statics .۳

٤. بی . رسل، له حافظی نه تشریحات (۱۹۵۸) مخ ۲۰

٥. Charles R. Darwin (۱۸۰۹ - ۱۸۸۲) انګلیسی طبیعی عالم.(م)

٦. Charles Lyell (۱۷۹۷ - ۱۸۷٥) انګلیسی جیالوجی پوه. (م)

۷. این تردی نزدی وختو یعنی ۱۸۷٤ کی ، براډلی (Bradley) ساینس لــه تاریخ څخه داسی پیل کړچی هغه (ساینس) نه زمان نه د باندی او (لا زوال) نه بحث کوی. ( اف ایچ . براډلی؛ غونډی شری مقالی ؛ ۱۹۳٥ ؛ ، مخ ۳٦ ) .

کړ، په نظر کې لاره. خود (بری) له افتتاحي لیکچر نه وروسته پنځوسو کالو کې د تاریخ د ددغه نظر په ضد سخت عکس العمل وښودل شو. کالنګث وود، څه وخت چې د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰ پوری په لسو کالونو کې لیکنې کولې، په خاص ډول زیار کاږه چې دطبیعت دنړۍ چې دعلمي پلټنې موضوع ده ، او د تاریخ دنړۍ تر مینځ یوه صریحه کرښه وکاږی . په دغه عصر کې د (بری) مقوله ، یوازې کله کله هغه هم دتمسخر په ډول راوړله کیدله . خو مؤرخان هغه وخت مؤفق نه شول دیته پام وکړی چې خپله په ساینس کې ژور انقلاب راغلی دی ، او دغه انقلاب ښیی چې د (بری) نظر تر هغو چې مونږ خیال کاوه ، که څه هم دغلط دلیل دپاره ، د یر سم و . هغه څه چې (لایل) دجیولوجی دپاره وکړل ، او (داروین) دبیولوجی د پاره هغه اوس داسترونومی یعنې دهغه ساینس دپاره وشول ، چې وایې کاینات هغسې چې اوس دی ، څنګه پیداشوی دی . اوسنی فزیکث پوهان ، مونږ ته تل وایی چې هغه څه چې دوی یې پلټی ، حقایق نه دی ، بلکه واقعات دی. داچې مؤرخ نظر تیروسلو کالونو ته اوس ، دساینس په نړۍ کې ډیره ارامي او اشنایي حس کوی ښه دلایل لری .

راځئ چې لومړی دقوانینو په مفهوم یو نظر واچوو. په اتلسمې او نونسمې پیړۍ کې، پوهانو داسې ګڼله چې دطبیعت قوانین - دنیوټن دحرکت قوانین، دجاذبې قانون ، دبایل قانون (۸) ، دتکامل قانون اوداسې نور- لځ شوی او په قطعی ډول تثبیت شوی دی ، اودیوه ساینس یوه وظیفه داده چې داستقراپه عملیې سره له مشاهده شویو حقایقو څخه دغسې نور قوانین لځ او تثبیت کړی . د «قانون» کلمه له

۸.- Robert Boyle (۱٦٢٧ - ۱٦٩١) برتانیایی طبیعی فیلسوف . هغه قانون چه د ده په نامه شهور شوی دادی چی په ثابت حرارت کی د هر غاز د یوی تا کلی اندازی حجم، له هغه فشار سره معکوس نسبت لری، چی په هغه وار دوی. (م)

ګالیلیو (۹) او نیوټن نه مونږ ته په داسې حال کې چې دافتخار لاره یې و هاـې د ه راغلې ده . دجامعې پوهانو، چې په شعوري یاغیرشعوري ډول سره هڅه کوله چې خپلو مطالعاتو ته هم ساینسي حیثیت ورکړي ، همدغسې کلمات استعمال کړل ، او پخپله په دې متیقن شول چې دوی په همغې لارې روان دي . داسې ښکاري چې سیاسي اقتصادپوهان په دغه ډګر کې دګرشم په قانون (۱۰) او دبازارپه با ب دادم سمت په قوانینو سره تر نورور ومبي وي . ( برك ) ( ۱۱ ) د «تجارت قوانینو ته چې دطبیعت قوانین دي ، او په نتیجه کې اسماني قـوانین دي» (۱۲) التماس و کـړ . مالتوس (۱۳) دنفوسو قانون وایست . لاسال (۱٤) داجورووسپنین قانون وضع کړ .

۹. Galileo (١٥٦٤ - ١٦٤٢) ایتالیایی عالـم. (م)

۱۰. Gresham's law . د دغه قانون واضع سرتامال ګرشـم و. دی د پیسو د کم ارزښته کید وله تحقیق نه دی نتیجی ته رسیدلی و چـی «خرابی پیسی تل ښـی پیسی له دوران نه کاږی. » څه وخت چې کـم ارزښتـه پیسی ، اوښـی پیسی په دوران کـی وی، خلق هڅـه کوی چـی ښـی پیسی ذخیره کړی، او کم ارزښتـه پیسی په پـور کـی اداکړی. په دی حساب د وخت په تیریدلـو سره هغـه پیسی چه ډیری ازیږ ی د منلوو روی، په دوران کـی لویږی او د ټولو پیسو د تجارتـی مبادلی ارزښت تاکی او هغه پیسی چـی ډیری زیاتـی د منلو وړ وی . وړو وړو لـه دوران څخـه لویږی، او د قیمتـی پیسو په حیث د نـورو کارو د پاره استعمالیـږی . (م)

۱۱. Edmond Burke (١٧٥٩--١٧٩٦) انـګلیس سیاسی او لیکوال (م)

۱۲. د ایډمونډبرك په اثاروکـی ( ۱۸٤٦ ) ۱۷ ، مخ ۲۷۰ د قحطـی په حلقه افکار اوتفصیلات (۱۹۵۷) .د برك استنتاج د اوچـی دا د «حکومت ، د حکومت په حیث ، یا حتـی دښمن د دښمن په حیث ، په واك کـی نه ده چـی غریبانـو ته هغه ضروریات ور تهیه کړی، کـوم چـی لوی څښتن یـی خوښ کړی چـی له هغـوی څخه یـی وسپـموی. »

۱۳. Thomas R. Malthus (١٧٦٦ - ١٨٣٤) . انـګلیس سیاسی اقتصاد پـوه . دنفوسوقا نـون د خوراکـی موادو او نفوسو تر منځ د ا سی نسبت تاسیسوی چـی و ا یـیـخوا ړه تل په حسا بـی تصاعد ( ۱ ، ۲ ، ۳ ، ٤ ، ٥ ) او نفوس په هند سی تصاعد (۱ ، ۲ ، ٤ ، ١٦ ) سره زیا تیز ی او په دی ډول نفوس به له خوراکـی موا دو څخـه تل ډیری‌کوی اوزیاتـی نفوس به په جنګ ، قحطی ، غریبـی او نوروسره کمی‌کوی او که اجورو. د معیشت له حد نه زیاتـی وکړ ، نفوس به ډیرشی ، او اجوری به بیرته ښکته وغوړ ځوی. د دغه نظر له مخـی ، به اجوری‌په زیاتی اوږدی مودی‌کـی فقط د ډیرښکته‌معیشت سویی‌ته ولویږی.(م)

۱٤. F. Lassalle (١٨٢٥ - ١٨٦٤) جرمن سوشلست. (م)

مارکس په خپل تـألیف، (پانـګه) کې ښکاری چې مدعی وی چې ده « دمعاصرې جامعې د حرکت اقتصادی قانون» برسیره کړی وی. بـکل (١٥) د تمدن تاریـخ په و روستیو کلماتو کې داسې عقیده ښکاره کړله چې دبشری واقعاتو په جـریان کـې «یوه ځلانده پرنسیپ نفوذ کړی چې عالمی او نه کږیدونکی نظم لری.» دا اصطلاح نن ورځ دومره زړه معلومیږی ، لـکه څومره چې فرضی ښکاری ، خود فـزیکی عالم اودجامعې عالم دواړو ته تقریبـاً یوشان زړه اوله رواجه لو یدلې ښکاری . یو کال دمخه ترهغه چې (بری) خپل افتتاحی لیـکچر اوراوه، دفرانسې یوه ریـاضی پوه ، هنری پوان کره (١٦) یو ووړ کتاب په نامه د (ساینس اوفرضیه) خپو رکړ . دغه تـألیف په علمی تفـکر کې انقلاب راوست . دپوان کره لـوی تیسس داوچې هغه عمومی قضیې (١٧) چې ساینس پوهانـوایستلې دی ، اوچیر تـه چې هغه دڅېې داستعمال په باب یوازې تعریفات اویاپټ کنونشنونه او مقاولې نه دی، فرضیې دی ، اوهغه په دې غرض طرح شوې دی چې تفـکرنو ر هم پسې قطعی او متشکل کړی ، اوپخپله دتعدیل ، تحقیق ، اوتردید تابـع دی . داټول اوس لـکه یو عادی څیز ګرزیدلی دی . دنیوټن لا په چې «فرضیې تغییرنه کوی » (١٨) نـن ورځ تشه ښکاریږی . ساینس پوهان ، او په تیره بیااجتماعی ساینس پوهان، که څه هم تراوسه دپخوانیوو ختو په خاطر، دچاخبره ، له قوانینو نه خبرې کوی ، دوی په هغه مفهوم دهغو په وجودقایل نه دی ، لـکه څنـګه چې ساینس پوهان په اتلسمې اونـو نسمې پیـړۍ کې پرې معتقد وو. اوس دا منل شوې ده چې ساینس پوهان کشفیات کوی اونوی معرفت حاصلوی ، خوداکار ددقیقواوجامعوقوانینوپه تـأسیس سره نه کوی

١٥. Henry T. Buckle (١٨٢١ - ١٨٦٢) انـګلیس مـورخ . (م)

١٦. Heni Poincare (١٨٥٤ - ١٩١٢) (م)

١٧. Propositions

١٨. Hypotheses non Fingo

بلکه دداسې فرضیوپه ایستلوسره پېی کــوی ، چې هغه دنوی تحقیق د پــاره لاره پرانیځی . دساینسی میتودپه باب ، په یوه درسی معیاری کتاب کې د وه امریکایې فیلسوفانودساینس میتود «اساساً دایروی» بیان کړی دی .

«مونږتجربی موادو ته متوسل کیږ وچې دپرنسیبونودپاره شواهد حاصل کړ و تجربی مواد (حقایق) گټل شوی دی ، اومونږتجربی موادد همد غوپرنسیبونو له مخې غوره کوو، تحلیل کوو، اوتعبیر کوو . » (۱۹)

د «دایروی» په ځای شاید د «ددوه اړخیزه» کلمه غوره او بهتره وای ، ځکه چې نتیجه دانه کیږی ، چې هغه پخوانی ځــای ته رجوع وشی ، بلکه د نو یــو کشفیاتودپاره دوړاندې تـګ وشی ،اودادپرنسیبو نو ،اوحقایقو ،او دتیوری اوعمل ترمینځ دمتقابلې اودوه اړخیزی عملیې له لارې کــیږی . تــو ل تفکرات د ځینو مخــکینیو فرضیومنل لازمه کوی چې هغه په مشاهداتو بناوی ، او د غــه مشاهدات ممکن کوی . مګر کیدای شی چې دهمد غه تفکرپه رڼا کې په هغه بیانظر و شی . دغه فرضیې ممکن په ځینوقرینو کې ، اودځینو هدفونودپاره سمې اوداعتبار وړ وی اوممکن په نورو کې نه وی . په ټولوحالاتو کې ازموینه تجربی ازموینه ده یعنی داچې هغه کولی شی دنویو بصیرتو نودپاره ورپرانیځی . اوزمونږ په علم کې زیاتی راولی او که نه . دروترفورد (۲۰) میتودونه دهغه یوه وتلی همکاراوشاګرد په دې تاره وختونو کې داسې شرح کړل . «ده سخته تلوسه لرله چې پوه شی چې دزوی پدیدوڅنګه عمل کاوه ،په داسې مفهوم سره چې یوڅوك غواړی په دې وغږیدلی شی چې په اشپزخانې کې څه کیږی . زه فکرنه کوم چې ده دیوی تشریح دمیندلو دپاره له کلا سیکی طریقې څخه کار اخیست داسې چې ځینې اساسی قواعد دتیوری

۱۹. ایــ. ایــ. کــوهن او ای. ناجــل، منطق او علمــی میتودته مقدمه (۱۹۳٤) مخ ۵۹٦ .

۲۰. E. Rutherford (۱۸۷۱ - ۰۰۰) انګلیسی فزیک پوه . (م)

له مخې تطبیق کړی . تر هغو چې په دې پو هیده چې څه څیز پیښیږ ی ، د ی قانع و . » (۲۱)

داوینادمؤرخ له حال سره په مساوی ډول سرخوری داسې مؤرخ چې داساسی قوانینودمیندلو دپاره یې پلټنه پرې ایښی وی ، اوپه دې قانع و ی ، چې معلو مه کړی ، څیزونه څنګه عمل کوی .

دهغوفرضیوحال ، کوم چې مؤرخ یې دپلټلوپه عملیې کې استعمالوی : دهغو فرضیوله حال سره چې ساینس پوه یې استعمالوی ، ډیر ور ته معلومیږی . دپروټستانزم (۲۲) اوسرمایه داری داصل دمناسبت ترمینځ دمارکس و یبر (۲۳) هغه مشهور تشخیص دمثال په توګه په نظر کې ونیسی . نن ورځ به هیڅوك دغه مناسبت ته قانون و نه وایی ، که څه هم په اولووختو کې ممکن همدغسې ګڼل شوی وای . په حقیقت کې دایوه فرضیه ده . خودغې فرضیې بې له شك اوتردید څخه دهمدغودوارو نهضتونو په باب زمونږفهم ښه پراخ کړی دی، که څه هم چې د پلټلوپه جریان کې چې هغې تحریك کړی دی، په خپله تعدیل شوې ده. په همدغې جملې کې دمارکس یوې وینا ته نظرو کړئ: «لاسي ژرندهله فیوډالي لاردسره جامعهجوړوی، بخاری ژرنده له صناعتیسرمایهدارسره جامعهجوړوی.» (۲٤)

دعصری اصطلاح له مخې ، داکوم قانون نه دی، که څه هم مارکس ممکن همدغسې ادعاورته کړې وای؛ مګردایوه نتیجه نا که فرضیه ده چې دنورې پلټنې اوتازهمعرفتپهلورلارهپرانیځي. دغسیفرضیېدتفکرحتمیالې ګڼلې کیږی. دجرمنې

۲۱. سر چارلز ایلس د ترنیتی مجلهکی (کیمبرج ، لینت ترم ، ۱۹٦۰) ، مخ ۱٤
۲۲. Protestanism
۲۳. Max Weber
۲٤. مارکس ـ انګلز ، Gesamtausgabe ، ۱، vi، مخ ۱۷۹ .

دشلمی پیړی داومړنیو کالو نومشهور اقتصادپوه، ورنرسومبارت (۲۵) په داسې یوه «نارام احساس» اعتراف وکړ کوم چې ده ته هغه وخت پیداشوی ؤ، چې مارکسزم یې پرې اینبی ؤ . ده ولیکل:

«څه وخت چې مونږ هغه ارام فارمولونه بایلو کوم چې تراوسه د موجودیت په پیچلی توب کې زمونږلارښوونکی وو، مونږترهغوچې یوه نوې لاره مومو، اویا لامبو کول زده کوو، داسې حس کوو، چې ګوا کې دحقایقوپه بحر کې ډوبیږو. » ۲۶ په دورونوسره دتاریخ دویشلو مشاجره، له همدغې نوع څخه ده . په دورونوسره دتاریخ ویشل، کوم حقیقت نه دی، بلکه یوه ضروری فرضیه یا دفکراله ده، او ترهغوداعتبار وړوي ، چې رونبول کوی ، اودخپل اعتبار دپاره په تعبیر اتکاکوی . هغه مورخان، چې په دې خبرې سره وران دی، چې منځنی پیړی څه وخت شروع کیږی، په حقیقت کې دځینو پیښو په تعبیرونو کې، سره مخالف دی. دامسئله دحقیقت کومه مسئله نه ده، خوله بلې خوابې مفهوم مههم نه ده. دتاریخ ویشل په جغرافیایی سیموسره هم په همدغې اندازې حقیقت نه دی، بلکه یوه فرضیه ده. داروپایی تاریخ اصطلاح، ممکن په ځینو قرینو کې داعتبار وړاومفیده وی، په ځینونورو کې، ممکن تېرایستونکی اوخطاوي. ډیرمورخان، روسیه داروپایوه برخه ګڼی، نور یې په کلکه ردوی. دمورخ تعصب دهغې فرضیې له مخې معلوم کیدلی، او پرې قضاوت کیدلی شی، چې دی یې غوره کوی، اوتطبیق کوي داجتماعي مطالعاتودمیتودونو په باب ، زه دلته یوه عمومی فتواار ومرورانقلوم ، ځکه چې دادهغه ستراجتماعی عالم فتواده چې په خپله دیوه طبیعی ساینس پوه په حیث روزل شوی ؤ . جارج سورل، دمخه تردې چې په څلوېښت کلنۍ کې ، دجامعې په باب ، په لیکلو پیل وکړی ، دیوه انجینیر په

۲۵. Werner Sombart

۲۶. ورنر سومبارت ، د سرمایه داری د اصل جوهر ، (انګلیسی ترجمه ، (۱۹۱۵) مخ ۳۵٤ .

حیث کار کاوه. ده په دغه ضرورت ټینګار کاوه، چې په یوه خاص موقعیت کې، خاص عناصر ګوښه کړي، که څه هم داعمل له حد نه زیات، دساده کولو خطر ولري. دی لیکي: «یو څوك یا یددخپلې لارې په حس کولو سره دمخه ولاړشي. یو څوك باید احتمالي اونیمګړې فرضیې وازمویي. او په موقتی تخمینونو قانع اوسي داسې چې دمتصاعد سمون دپاره ورتل خلاص پریږدي.» ۲۸ دغه فکر، دنو نسمې پيړۍ له فکر سره دیرتو پیرلاره. په هغه وخت کې، ساینس پوهان، او مورخان لکه اکتن دغسې ورځې ته سترګې په لاروو، چې دمشهود شو یو حقایقو په ټولو لوسره. دعلم یو جامع هیئت تأسیس کړی، داسې چې هغه به ټول جنجالی مسئلې یوواردتل د پاره حل کړي. خو په دې وختو کې، ساینس پوهان اومورخان دواړه ترهغه د یره معتدله هیله په خیال کې ساتي، اوغوا ړي له یو ې جزیي او ناقصي فرضیې څخه و بلې ته، په متصاعد ډول دمخه ولاړشي اوحقایق دهغو په تعبیرولوسره ګوښه کړي. هغه لارې اومیتودونه چې دوی یې ددغسې عمل دپاره غوره کوي، ما ته اساساً مختلف ښکاري. په لومړی لیکچر کې، ما دپروفیسر بره کلف دا تبصره اقتباس کړې وه، چې تاریخ «هیڅ حقیقتی نه، بلکه دمنل شو یو قضاوتونو یو لړ دی». کله چې ما دغه لیکچرونه برابرول، ددغه پوهنتون [کیمبرج] یوه فزیك پوه ډبي. سي. په یوې خپرونې کې دعلمی حقیقت ۲۹ تعریف داسې وکړ، چې هغه «یو بیان دی چې دمتخصصانو له خوا دعموم په محضر کې منل شوی وی.» ۳۰ دادواړه فارمولونه یوهم قانع کوونکی نه دی، اوزه به هغه وخت خپل دلایل راوړم، کوم وخت چې داواقیت په مسئله بحث کوم. خومهمه داده چې ولیدل شوه یوه مورخ اویوه فزیك پوه له یوه بل نه جلاعین مسئله تقریباً په عین کلماتو کې ترقاعدی لاندې راوستله.

---

۲۸. جي. سورل، Materiaux d,une theorie du proletariat (۱۹۱۹)، مخ ۷.

۲۹. Scientific truth

۳۰. داکتر جي. زمان، د لسنر په مجله کې اګست ۱۸، ۱۹۶۰.

سره له‌دې هم‌مشابهتونه، اوقیاسونه دبې احتیاطو دپاره ددام، او تلك په‌څیروی، اوزه غواړم په هغو دلایلو په ډیره درناوی سوچ وکړم، چې وایي کسه څه هم دریاضي اوطبیعي ساینسونو، او یادهمدغو کټه‌گوریودننه دمختلفوساینسونوتــرمنځ اختلافات قوی دی، دهمدغوساینسونو اوتاریخ ترمنځ یو اساسي فرق کښل کیدلی‌شی، اودافرق سړی تهرباسي چې که تاریخ یاهمدارازنورتش په نامه اجتماعي‌علوم ــ دساینس په نامه یادکړل شي. دغه اعتراضات چې څه یې ترنورودیرمقنع دي، په لنډ دول‌دادی:

۱ـ تاریخ یوازې له خاص او بېجوړې، اوساینس له عمومي‌څخه بحث کوی.

۲ـ له تاریخ څخه درسونه، اوعبرتونه نه اخیستل کیږی.

۳ـ تاریخ پیش‌گویي کولی نه شی.

٤ـ تاریخ لزوماً عندي وی، په دې چې انسان خپل ځان مشاهده کوی.

٥ـ تاریخ، دساینس په خلاف، ددین اواخلاق مسایل احتوا کوی. زه به زیار وکاږم، چې هراعتراض بېل بېل تربحث لاندې ونیسم.

اومړی داچې ویل کیږی، تاریخ له بېجوړې اوخاص، اوساینس لــه عمــومي اوعالمي څخه بحث‌کوي. شاید دانظرله ارستوڅخه شروع شوی وی. ارستو پــه دې فکرو، چې شعریات ترتاریخ نه «ډیرفلسفي» او«ډیرجدی، دی» په دې چې شعریات له عمومي حقیقت اوتاریخ له خصوصي حقیقت څخه بحث کــوی. ۳۱ دکالنګ وودپه شمول، یوشمیرنوروروستي‌لیکوالان، دساینس او تاریخ ترمنځ، په همدغه فرق قایل‌وو. ښکاری چې داتمیزد یوې غلط فهمې په نسج کــې نغښتی وي. دهابز ۳۲مهمه مقوله تراوسه هم داعتباروړده «په نړۍ کې هیڅ څیزغیرله نومونو

۳۱ شعــریات، لسـم فصـل.

۳۲. Thomas Hobbes (۱۵۸۸ - ۱٦۷۹) انــگلیسي فیلسوف. (م).

څخه عالمي نه دی، پهدې چې هغه څيزونه چې نومول شوی دی، هریو یې انفرادی، اوواحد دی.» ۳۳ دغه حکم یقیناً چې دطبیعي ساینسونو په باب سم دی. دوه جیولوجیکی تشکلات، له یوه نوع څخه دوه حیوانات، اودوه اتمونه له یوه بل سره هیڅ مطابقت نه کوی همدارازدوه تاریخی پیښې هم هیڅ سره یونه وی. خودتـاریخی پیښوپـه بیجوړ یتوب باندې تینګار کول هغسې فلج کوونکی تاثیرلري، لکه هغه عادی او مبتذله وینا چې مور ۳٤ له اسقف بټلر۳۵ څخه چې وروستی یووخت دژبنیو پوهانو دیربنه ایسېده، اخیستی وی: «هر څیز هغه څیز دی، کوم چې دی، او بل څیز نه دی.» په دې لارې روانیدل سړی زر یورازفلسفی نیروانا۳٦ ته رسوی، چې هلته د هیڅ څیز په باب مهم اوجدی شی، هیڅ نه شی و یل کیدلی.

دژبې استعمال، مورخ دساینس پوه پهشان، کلیاتو ته مجبور کوی. دپلې پونزې جنـګ اود وهـم جهـا نی جنـګ سـره بیـل وو، اودواړه بـیجـوړی وو. خومورخ دواړه دجنګ په کلمه یادوی، اویوازی فضل فروش به په دی اعتراض وکړی. هغه وخت چې ګیبون داسلام ظهور، اودکـانستاین ۳۷ له خوا دعیسویت تاسیس دانقلابونو ۳۸ پـه نامه یادکـړل، ده ددوه بیجوړ واوخاصو پیښو پـه باب تعمیم کاوه. اوسنی مورخان هم کله چې له انـګلیسی، روسی، فرانسوی، او چینی انقلابونوڅخه غږیږی، عین شی کوی. مورخ په حقیقت کی له بیجوړی سره سرو کار نه لري، بلـکه لههغه عمومي او کلیسره علاقمن دی، چې په بې جوړی کې وی.

---

۳۳. لیـوای تـن، iv'L .

۳٤. T. Moore (۱۷۷۹ - ۱۸۵۲) ایرلیندی شاعـر. (م)

۳۵. J Butler (۱٦۹۲ - ۱۷۵۲) انـګلیس دینـی عالـم. (م)

۳٦. Niravana په عالمی روح کـی جذبیدل او فناکیدل. (م)

۳۷. Constantine (۲۷۲ - ۳۳۷) د روم امپراطـور (م)

۳۸. د روم د امپراطوری انحطاط او سقوط، فصـل شل، فصـل، L ... ... ...

د ۱۹۲۰ څخه تر ۱۹۳۰ پورې په لسو کالو نو کې د ۱۹۱٤ جنګ د علتونو په باب د مورخانو بحثونه عموماً د دغې فرضیې پر اساس کېدل، چې جنګ یا د ډیپلوماتانو د بدې اداري په وجه و، چې دوی په پټه کار کاوه، او عامه ذهنیت نه شو کولی ددوی کنترول وکړي، اویا په سیمه ییزو واکمنو ده لتو باندې دنړۍ د اسفناک ویش له امله و . د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰ پورې په لسو کالو کې، دا بحثونه په دې فرضیې روان وو، چې د جنګ علت هغه رقابتونه وو، چې د امپریالستي قوتونو ترمینځ موجود وو، او دا قوتونه د مخ په ځوړې سرمایه داري تر فشار لاندې وو چې غوښتل یې نړۍ په خپلو مینځو کې سره وویشي. دغو بحثونو د جنګ د علتونو اویا په هر حال، د شلمې پېړۍ په حالاتو کې، د جنګ په باب له کلیې او تعمیم سره سر و کار لاره. مورخ ددې دپاره چې خپل شواهد وازمویي، پر له پسې کلیه استعمالوي. که په دې باب چې ریچرډ ۳۹ په برج کې شاهزادګان ووژل، شواهد واضح نه وي، مورخ به له ځان نه وپوښتي، اودا پوښتنه ممکن له شعوري نه زیات غیر شعوري وي ، چې ایا دا دوخت دا امرانو عادت و و چې د تخت مهم رقیبان ورک کړي ، او که څنګه . اودده حکم به حقاً چې ددغې کلیې تراثر لاندې وي. د تاریخ لوستونکی اولیکونکی یو دایمې تعمیم کوونکی دی، او د مورخ مشاهده به په نورو تاریخي قرینو باندې ، له کومو سره چې دی اشنادی ، اویا ممکن دده د عصر وي، تطبیق کوي . څه وخت ، چې زه د فرانسې انقلاب په نامه د کارلایل تالیف اولم دده تبصرې په واروار تعمیموم ، اوپه خپلې ساحې کې یې په روسي انقلاب کې تطبیق کوم . د ترور په متعلق یې دغه تبصره واورئ :

« په هغو ملکونو کې چې مساوي عدالت یې لیدلی وي، وحشتناک دی ـ نه دومره په هغو ملکونو کې غیرطبیعي دی، چې یې هیڅ لیدلی نه وي . »

یا ترهغه لیا مهمه دا :

۳۹. Richard د انګلستان پاچا (م)

« دتاسف ځای دی ، که څه هم دېرطبیعي دی - چې ددغه عصرتاریخ عموماً دهیجان اوعصبانیت پهروحیېسره لیکلیشویدی.مبالغه، کرکه،اوانګولاوافره ده، اوپه عمومی دول تر ګمی حد نه لری.» ۴۰

داده یوه بله تبصره ، مګرداځل په شپاړسمې پیړۍ کې دعصری دولت دودی په باب ، د بر کټ خاردت له خوا :

« څومره چې یو قدرت وروسته هسکټ شوی وی هغومره لژ په ځای ساکن پاتې کیدلی شی - لومړی په دی چې هغوچې دغه قدرت خلق کړی وی ، له نورو چټکوحر کتونوسره یې اموخت نیو لی وی . اوبله دا چې دوی په خپله بد عت راوړونکی دی ،اوغواړی همدغسی پاتې شی؛ دوهم په دی سبب چې هغه قوتونه چې ددوی په واسطه یا هسکټ شوی دی، اویاز بیښل‌شوی دی، یوازی به په نوروشدیدو اعمالوسره استخدام کړل شی . » ۴۱

دابې مفهومه ده،چې وو یل‌شی تعمیم په تاریخ کې نااشنادی. تاریخ په تعمیماتو وده کوی . لکه چې ښاغلی ایلټن ۴۲ دکیمبرج معاصرتاریخ په یوه نوی جلد کې لیکی: «هغه‌څه چې‌ورخ‌دتاریخی‌حقایقوله‌تولوونکی نه‌بیلوی؛هغه تعمیم‌دی.»(۴۳) ښایې ده زیاته کړی وای ، چې همد غه څه طبیعی ساینس یوه ، د طبیعی انواعو له تو لوونکی نه ، اویادطبیعی حیواناتوله ساتونکی څخه هم بیلوی . خوداسی ونه ګڼئ چې تعمیم ګوا کې ، مونږته اجازه راکوی ، چې دتاریخ دپاره داسی یوه پراخه طرح جوړه کړو ، چې خاصی او بیجوړی پیښی به له هغې‌سره ارومروتوافق کوی . او څنګه چې مارکس یولـه هغو کسانو څخه دی چی زیاتره ددغې طرح په

۴۰. د فرانسی د انقلا ب تاریخ ، I، ۷، فصل ۹، III، i، فصل I .

۴۱. جی . برکخاردت ،په تاریخ او مورخانو قضاوتونه ، (۱۹۵۹) ، مخ ۳۴.

۴۲. G. R. Elton معاصر انګلیس مورخ (م)

۴۳. د کیمبرج معاصر تاریخ ، ii (۱۹۵۸) ، مخ ۲۰

جوړولو یا په هغې دعقیدې په لرلوسره تومتې شوې دی ، غواړم دلندولوپه غرض دهغه دیوه لیک نه یوه فقره اقتباس کړم په کومې کې چې دی دا موضوع په خپل اصلی ځای کې ګوری .

« هغه پېښې چې په حیرتناک ډول سره ورته وی ، مګرپه یوه مختلف تاریخی محیط کې واقع کیږی ، کاملاً غیرمشابه نتایج راوړی . ددغوتکاملا تو ، دهریوه په بیلې بیلې مطالعې ، اوبیادهغوپه پرتله کولوسره ، دا اسانه کیږی چې ددغې پدیدی د فهم کلی پیدا شی . خوداقطعاً امکان نه لری چې د دغه فهم د ځینې مشکل کشاء تاریخی - فلسفی تیوری په تطبیق سره حاصل شی کومه چې دهغې ستره بنیګنه داده چې له تاریخ څخه دباندی مقام ولری . » ٤٤

تاریخ د پیښو ، اوعمومی ترمینځ لهمناسباتوسره سرو کار لری . تاسې دیوه مورخ په حیث ، څومره چې دانه شی کولی ؛ چې حقا یق له تعبیرڅخه بیل کړی داسې هم دا نه شی کولی چې خاص او عمومی سره جلا کړی ، او یا یوتربل دمخه وګنی ؟

زماپه فکر ، اوس ددی وخت راغلی دی ، چې دتاریخ اوسوسیو لوجی ترمینځ د مناسباتوپه حقله یوڅه ووایم . سوسیولوجی ، اوس په د وو متقابلوخطرو نواخته ده ـ لهحدنه زیات دنظری کیدلوخطراولهحدنه زیات دتجربی کیدلوخطر . لومړنی په عمومی ډول ، دجامعې په باب ، په مجردو او بې مفهو مو تعمیماتو کې د ځان

٤٤ . مارکس او انګلز ، اثار د (روسی چاپ ) ×۷ ، مخ ۳۷۸ ، هغه لیک چی له هغه نه دافقره نقله شوی‌ده، په۱۸۷۷ کی په Otechestvennye Zapiski روسی مجلی کی‌راوتلی‌ده. داسې‌ښکاری چی پروفیسر پاپر ، هغه وینا چی دی‌یی د (هستوریسزم Historicism مرکزی غلطی ؛ بولی، مارکس ته منسو بوی. دا هغه عقیده ده چی و ایـــی تاریخی تمایلا ت ، یا میلا نونه « کیدلی شی چی یوازی له عالمی قوانینونه سمد لا سه وایستل شی ، » (د هستوریسزم غریبی، ۱۹۵۷ ، مخ مخونه ۱۲۸-۱۲۹) . دا بس هغه څه‌دی چی مارکس تری منکرو .

دور کولو خطر دی . څومره چې تاریخ په غتې (ت) سره غلط دی، هغومره جامعه په غټ(ج)سره غلطه ده . داخطرهغو کسانو لا نزدی کړی دی چې غواړی سوسیو لوجی ته داوظیفه وسپاری چې له هغو خاصو او بیجوړ و پیښو نه چې تاریخ ثبتې کړی دی دتعمیم خاصه وظیفه اجرا کړی . حتی داسې نظریه هم وړاندی شوی ده چې وایي سوسیولوجی له تاریخ څخه د «قوانینو» ٤٥ دلړ او پــه وجه بـیل دی . هغه بل خطر ، کارل منهایم ٤٦ ذکر کړی دی. ده داخطر نزدی سل کاله ړومبی ذکر کړی دی،او اوس هم ترز یاته حده تطبیق کیږی او هغه داچې سوسیولوجی « داجتماعی بیاتوافق په یو لړ تخنیـکی مسئلوویشل شوی د ی . » ٤٧ سوسیولوجې له هغو تاریخی جامعو نه بحث کوی چې هره یوه یې بیجوړی ده، اودخاصو تاریخی ړو مبینو پیښو او شرایطو له خوا جوړه شوی ده . خو که کوښښ وشی چې له تعمیم کولو،او توجیهه کولو نه دږه وشی ، اوځان یوازی دشمیر لو، اوتحلیل کولوتش په نـامه « تخنیکی» مسئلوته محدودکړل شی ، انسان به یـوازی د یوی دریدلې جـامعې یـوغیرشعوری مدافـع گرز یدلی وی . که داوی چې سوسیولوجې ، د مطالعې یـوگټوړ دگـر کیږی ،بایـد دتاریـخ په شان ، دخاص او عمومی له منـاسباتو سره سرو کـارولری . داسې هم حتمی ده چې فعال او ډینا میک شی یعنی ددریدلې جامعې ( ځکه چې داسی جـامعـه

٤٥. داسی ښکاری چی دا دپروفیسر پاپر نظروی. (خلا صه‌جامعـه،دوهم چاپ،۱۹۵۲، ii، مـخ ۳۲۲) له بده‌هر غـه دی د سوسیو لوجـی دقانـون مثال راوړی: «دچیر ته‌چی د فکرازادی، او دافـکارو دمبادلـی ازادی، په حقوقـی موسسو، او هغو موسسو په موثر‌دول ساتل کیږی،چی د مباحثـی د خپریدلو تضمین کـوی ، هلتـه به علمی ترقی وی» د الیـکنـه په ۱۹٤۲، یا ۱۹٤۳ کـی شوی وه او ښکاره ده چـی دلیکو محرك یـی‌هغه نظر وچـی وا یـی غربـی‌دموکراسی به د خپلو موسساتی ترتیباتوپه برکت سره، دعلمی ترقی په سر کی‌واقع وی. دا نظر وروسته د هغو ترقیاتو په وجه چی په شوروی اتحاد کی وا قع شوی‌دی ، یا رد شوی‌یا دیر مقید شوی‌دی. دا نظر حتـی‌د اعتبار وړ تعمیـم هـم نه د ی، قانـون خونه دی ، نه دی .

٤٦. Karl Mannheim

٤٧. ك. منهایـم، ایدیالـوجی او یو توپیا، (انـگلیسی ترجمـه، ۱۹۳٦) ،مخ ۲۲۸ .

هیڅ وجود نه لري)مطالعه نه وي،بلکه داجتماعي تحول او انکشاف مطالعه وګرزي. نورنوغوارم د ومره و وایم چې څومره چې تاریخ نورهم سوسیولوجي کیږي،او یا څومره چې سوسیولوجي نورهم تاریخي ګرزي ، د دواړو دپاره ښه ده . پر یږدی چې ددو اړو تر مینځ ، سرحدونه ددوه اړخیز ترافیک دپاره خلاص اوپراخ وي .

دتعمیم بله مسئله ، زماله بلې پوښتنې سره نږدې ارتباط لري . دتعمیم په باب رښتینې تکی دادی . چې مونږ پههغه سره زیار باسو له تاریخ څخه زده کول وکړو او له یو لړ پېښو څخه ا خستل شوی درس او عبرت په یو لړ نورو پېښو تطبیق کړو . هغه وخت چې مونږ تعمیم کو و ، مونږ په شعوری یاغیر شعوری‌ډول‌سره زیار باسو‌چې‌همدغه عمل‌اجرا کړو . هغه‌کسان. چې تعمیم ردوی او په دې ټینګار کوی . چې تاریخ یوازې له خاص او بېجوړې څخه بحث کوی منطقاً هغه‌کسان دی ، چې وایې . له تاریخ نه هیڅ شی نه زده کیږی . خوداچې وایی انسانان له تاریخ څخه هیڅ شی نه زده کوی؛ په ډېرو قابل مشاهده حقایقو سره نقض کیږی . بله هیڅ تجربه به تر دې دومره عمومی نه وی . په ۱۹۱۹ کې زه دپاریس دسولې په کنفرانس کې دبرتانیا دهیئت دیوه کمکی غړی په حیث شامل وم . دهیئت هرغړی په دې عقیده وو ، چې مونږ دویانا له کانګرس نه چې سل کاله ړومبی داروپاوروستی ډېرستر کانګرس و ـ یو څه زده کولی‌شو . یو کپتان وبستر۴۸ نومی شخص،چې‌هغه وخت دوزارت ماموروو، او اوس‌سرچارلز وبستراو یومشهور مورخ دی . په یوې مقالې کې مونږ ته د تاریخ درسونه وښودل.دوه یې لاتراوسه زماپه یادکې پاتې دی. یویې دادی چې کله چې داروپا نقشه بیا کښله کیږی ، دحق ارادیت داصل‌هیرول، خطرناك دی . بل یې داؤچې‌په باطله دانی کې دپټو سندونو

۴۸. Captain Webster

اچول خطرناك دی ځکه چې دهغومحتویات به دکوم بل هیئت پټ سرویس حتماً په بیه واخلی. دتاریخ دغه درسونه، مونږته لکه انجیل شول اوزمونږپه کړو یې سخت اثردرلود. د امثال تازه او جز ئې دی. خومشکله نه ده . چې په نسبتاً لېږی تاریخ کې، دلیالېږېتاریخ ددرسونوتاثیروښودلشي. هرڅوك پهروم باندې دلرغونی یونان له تا ثیر نه خبرلری . خوزه په دې باورنه لرم ، چې کهکوم مورخ زیار ایستلی وی ، چې دهغودرسونویودقیق تحلیل وکړی ، کوم چې رومیانودلرغونی یونان له تاریخ څخه زده کړی وی ، یاپه دې عقیده وی :چې دوی څه زده کړی دی . دهغودرسونواوعبرتونومعاینهکول، ممکنښه نتایج واری ، چې په اویدیڅې اروپاکې په اوالسمې ، اتلسمې ، اونونسمې پېړی کې دزاره انجیل له تاریخ څخه اخیستل شوی دی . لهدېنه په پرته په بلډول دانګلستان دپېوریتان انقلاب۴۹ پوره واضح نه شی، اودغوره کسانومفهوم دعصری نیشنلزم پههسکیدوکې یومهم عامل دی دلرغونې تربیې مهر، په نونسمه پېړی کې ، دسترې برتانیا په حاکمې طبقې ډیر واضح و . ګروتی، چې ذکریې رومبی شویدی، اتن تهیې دنوی دموکراسی دیوه مثالپه حیث اشاره کړې وه . اوزه هیله کوم چېدپراخواومهموعبرتونوهغسې مطالعه وګورم ، چې وښیی دروم دامپراتوری تاریخ . دبرتانیایی امپراتوری جوړوونکوته درسونه ښودلی دی . زماپه خاصې ساحې کې . دفرانسی دانقلاب د ۱۸٤۸ انقلابونــو ، او۱۸۷۱ دپاریس دکمیون درسونــو د روسیی په انقلاب جوړوونکوسخت اثرکړی وو ، اوحتیسړی ویلی شی، چې دهغوذهنونهیې اشغال کړی وو. خوزه به هغه قید را یادکړم چې دتاریخ دوه اړخیز خصوصیت تحمیل

۴۸. Puritan Revolution د انګلستان د پروتستانانـو د ګوند د هغو غړو نهضت چې ددوی په فکر دکلیسا هغـه اصلاحـات چې دملکې ایلیزابتې ترمشرتا به لا ندې شوی وو، نیمګړی دی، او بایـد بیځایـه مذهبی رسوم ګرد سره نه وی (م) .

کړی دی . له تاریخ څخه درس اوعبرت اخیستل هیڅکله ساده او یوازخیزه عمل نه دی. دماضی په رڼا کې د حاضرپه باب زده کړه کول، ددې معنی لری چې دحاضر په رڼا کې دماضی په باب هم زده کړه کیږی. دتاریخ وظیفه داده چې دماضی اوحاضرپه باب عمیق فهم دهغوی دیو تربله مناسباتوله لارې توسعه اوډیر کړی .

زما دریم ټکی ، په تاریخ کې ، دپیشگویی رول دی . ویل کیږی چې له تاریخ نه ، هیڅ درس نه اخیستل کیږی په دې چې تاریخ ، د ساینس په خلاف ، د اینده په باب پیشگویی کولی نه شی . دا مسئله دغلط فهمی په نسج کې نغښتې ده . لکه چې مو وایدل، ساینس پوهان، نور نوهغومره تلوسه نه‌لری ، چې دطبیعت دقوانینو په باب وغږیږی ، لکه څومره چې دمخه پرې گړیدل . دساینسو نو،هغه تش دنامه قوانین چې زمونږ عادی ژوند متأثر کوی، په حقیقت کښې دتمایلاتو بیانونه دی ـ داسې بیانونه چې وایی که ټول شیان په مساوی حال ، یا لابراتواری شرایطو کې وی ، څه شیان به پیښ شی ـ دوی ددغې پیشگویی ادعا نه کوی ،چې په مشخصو اوخاصوحالاتو کې ، به څه پیښ شی . دجاذبې قانون دانه ثابتوی چې هغه خاصه مڼه به مځکې ته واویږی . یوڅوك یې ممکن په هوا کې په‌ټوکری کې ونیسی . دنورقانون چې وایی وړانگه په سمه لیکه حرکت کوی ، دانه ثابتوی چې دنور یوه خاصه وړانگه به کږه نه‌شی اویا کوم دخالت کوونکی عامل به یې تیته نه کړی. خودا ددې معنی نه ورکوی ، چې دغه قوانین بې ارزښته دی ، اویا د پرنسیپ له مخې داعتبار وړ نه دی. مونږته‌ویل کېږی چې‌عصری فزیکی‌تیوری دپېښو له‌احتمالاتو څخه چې واقع کېږی ، بحث کوی. ساینس، نن ورځ ترپخوانه زیات هڅه اری چې‌هېرنه کړی چې‌استقرا دمنطق له مخې یوازې احتمالاتو یامعقولې عقیدې ته منتهی کېږی،اوهڅه کوی چې خپل‌احکام یادعمومی قاعدو یالارښوونکو په حیث وگڼی چې صحت یې یوازې په یوه خاص عمل کې ازمویل کېدلی شي . لکه څنگه چې

کانت۴۹ وایي «دساینس (وظیفه) پیشگویی ،اودپیشگویی (وظیفه) عمل دی.» ۵۰ په تاریخ کې دپیشګویۍ دمسئلې په باب کلي په‌هغه فرق کې‌ده چې دعمومی اوخاص، اودعالمي‌او بېجوړی تـرمنځ موجوده وی. لکه څنګه چې موولیدل،مورخ مجبور دی چې‌تعمیم وکړی،اودتعمیم په‌کولوسره ، داینده عمل‌دپاره عمومی لارښودنې تهیه کړی، ـ داسې لارښوونې ـ چې‌که څه هم خاصې پشګوئې‌ګانې نه دی ـ هم سمې اوهم ګټوری دی . خودی نه شی کولی ،دخاصو پېښوپیشګویی‌وکړی ،په دی چې‌خاصه‌پېښه بېجوړې ده، او دتصادف عنصرپکې دخالت کوی . دغه تمیز چې فیلسوف زوروي ، یوه عادی شخص‌ته پوره واضح دی . که‌په یوې ښوونځی کې دوه یادرې واړه شری ونیسی، تاسې‌دغی نتیجی ته رسیږی ، چې دغه رنځ به‌خپور شی. دغه پیشګویی ، که‌یې په‌دغه نامه یاده کړئ، له‌پخوانیو تجاربو څخه په تعمیم بناده ، اودعمل دپاره سم او ګټورلارښوونکی دی . خوتاسې دغه خاصه پیشګویی کولی‌نه شی، چې(چارلز) یا(میری) به شری ونیسی. مورخ هم په همدغه ترتیب دمخه ځی . خلق له مورخ څخه داهیلـه نه‌کـوی چې پیشګویی وکړی، چې‌بلـه میاشت به‌په‌روریتانیا۵۱ کې انقلاب وشی. هغه قسم‌استنتاج چې‌دوی به‌یې‌دکولو خیال ولری، څه به یې درور یتانیا د واقعاتو په خاصی پوهې، اوڅه به‌یې دتاریخ په مطالعې بنـاوی ، اودا استنتاج دادی چې‌په روریتانیاکې شرایط داسې دی، چې ممکن په نږدې اینده کې‌هلته انقلاب راولی ، په‌دی شرط چې‌که څوک یـې شروع کړی ، اویاممکن د حکومت له خوا یو څوک څه وکړی ، او دپیښیدلومخـه یـې ونیسی.دا استنتاج‌ممکن له‌تخمیناتوسره ملګری وی ، تخمینات‌به‌څه دنوروانقلابونو

۴۹. A. Comte (۱۷۹۸ - ۱۸۵۷) فرانسوی فیلسوف (م)

۵۰. Course de philosophie positive ،i، مخ ۵۱. اصل عبارات په فرانسی کی دا دی :
(Science, d' ou prevoyance; Prevoyance, d' ou action).

۵۱. Ruritania . دیوه خیالی ملک نوم (م)

په قیاس، اوپه هغې رویې بناوی چې دو گرو مختلفې دلې بهیې دانقلاب په باب غوره کوی.داپیشگوبی، چې که غواړی په دغه نامه یې یاده کړئ ،یوازې دبهجوړو اوخاصو پـیښودواقـع کیدلوپه صورت کې ، چې دهغو پیشگویې کیدلی نه شی، تحقق موندلی شی. خودادې معنی نه ورکوی، چې هغه نتایج، چې دآینده په باب له تاریخ څخه اخیستل کیږی، بې ارزښته دی، یاداچې هغه مشروط اعتبارنه لری، کوم چې دعمل دپاره دیوه لارښوونکی په حیث، اوپه دې باب چې وقایع څنگه پیښیږی، زموږدمعرفت د پاره دیوې کلـی په حیث کار کوی. زه نه غواړم دانظر وړاندې کړم چې د اجتماعی عالم، اویا مورخ نتایج په دقیق توب کې دفزیکی عالم له نتایجوسره جوړه کیدلی شی،او یا داچې دهغولږدقیق توب داجتماعی علومودبیرته پاتې توب په وجه دی. انسان تر هرهغه څه نه چې مونږ ته معلوم دی، دهرنظر له مخې زیات پیچلی طبیعی واحددی . دهغه دکړنو اوساوک مطالعه مونږ په داسې مشکلو نو اړوی، چې په نوعیت کې له هغو څخه بیل دی ، چې فزیکی سایـنس پوه ورسره مخامخ کیږی . یوازې هغه څه چې غواړم تثبیت یې کړم، دادی چې ددوی غایې اوطریقې اساساً یوله بل سره ورته دی .

زماځلورم ټکی ، چې غواړم دلته یې ذکر کړم، ترنوروډیرمقنع بحث دی او داجتماعی علومو ،دتاریخ اوپه شمول اوفزیکی علومو ترمینځ ،دبیلتون دکرښې کښل دی. داهغه بحث دی، چې په اجتماعی علومو کې، فاعل اوموضوع دواړه له یوې نوع څخه دی ، او یوپه بل باندې متقابل اثراوعمل کوی. انسانان په طبیعی واحدونو کې، نه یوازی ترنورو ډیر پیچلی اوتحول منونکی دی، بلکه دوی باید دنوروانسانانو له خوا څخه مطالعه شی، نه دنورو انواعود مستقلومشاهدینو له خوا . دلته انسان، دحیاتی ساینسونو په خلاف،نورنوپه دې قانع نه دی چې یوازې خپل طبیعی جوړښت او عکس العملونه مطالعه کړی .سوسیولوجی پوه،اقتصاد پوه ،او یا مورخ دی ته اړدی،

چې دانسانی کړ و پـه دغسې شکلو نـوکـې نـو ځـې چیـر تـه چـې دهـغه اراده فعاله ده، اودامعلومه کړ ی چې انسانان چې دده دمطالعې موضوع ده، ولی ددغسې عمل دکواودپاره اراده کوی، لکه څنګه چې یې کوی. دمشاهد اوهغه چا ترمینځ چې تر مشاهدې لاندې نیول کیږی، دغسې یو نسبت تاسیس کوی، چې یوازې تاریخ او اجتماعی علوموته خاص دی. دمورخ دنظر تکی په قاطع ډول، پههری هغې مشاهدی کې ننوځې کوم چې دی یې کوی. تاریخ ډول، په نسبیت سره کښل کیږی، کارل منهایم وایی چې: «حتی هغه کته ګوری ګانې، په کوموکې چې تجارب ډول شوی، منظم شوی، او په یوه خاص صنف کې اچول شوی دی، دمشاهد داجتماعی موقف په قرار تغییر کوی.»۵۲ خودا یوازې سمه نه ده چې داجتماعی ساینس پوه تعصب لزوماً دهغه په ډولومشاهداتو کې دخالت کوی، دا هم سمه ده، چې دمشاهدی عملیه هغه څه چې تر مشاهدی لاندې نیول کیږی، متاثر او تعدیل کوی، اودا په دوومخالفو طریقوسره واقع کیدلی شی. هغه انسانان دکوموچې سلوک ترمطالعې لاندې نیول کیږی، او پیشګویی یې په باب کیـږی، ممکن پخـوا تـر پخوا، دهغود عـواقبو په پیشګویی سرهخبر شی، چې دهغو به بنـه نه ایسی. نودوی به په دې راضی شی، چې خپل عمل تعدیل کړی. په دې حال کې به، پیشګویی، که څه هم چې دتحلیل په سم اساس بناوی نتیجه ورنه کړی. یو دلیل، چې ولی په هغو خلقو کې چې تاریخي شعوریې قوی دی، تاریخ یوازې کله کله ځان تـکرا ر کـو ی دادی چې ددرامې شخصیتونه په دوهم نمایش کې، دلومړی نمایش له نتیجې نه خبروی، او دا خبرتیا ددوی عمل متاثر کوی ۵۳ .

۵۲. ك. منهایم، ایدیالوجی او یو توپیا (۱۹۳۶)، مخ ۱۳۰

۵۳. دا بحث د مولف په تالیف، د بولشویك انقلاب، ۱۹۱۷ - ۱۹۲۳، i (۱۹۵۰)، مخ ۴۲ کې پسی اوږد شوی دی.

بولشویکان په دې پوه وچې د فرانسې انقلاب په نا پلیون واوښت. دوی ویریدل، چې ممکن ددوی انقلاب هم په همدغسې یوه کس ختم شي. نودوی په تراتسکي بې اعتبار وو، په دې چې دی دهغوی په مشر نوا کې ترټولو زیات یوه ناپلیون تهورته معلومیده. دوی په ستالین اعتبار وکړ، ځکه چې هغه ترټولولږ یوه ناپـلیون ته مشابه و. خودغه عمل ممکن په معکوس سمت هم روان شي. اقتصاد- پوه، دراتلونکی اقتصادی چټک انکشاف ٥٤ یانا څاپه تنزل ٥٥ پیشگویي کوی، اودا پیشگویي دموجودو اقتصادي حالاتو په علمي تحلیل سره کوی. که دده صلاحیت دیر ،ا ودلیل یې قوی وی، ممکن ددغسې حادثې په پیشگویي سره خدمت وکړی. د سیاست عالم، یعنې هغه څوک چې دتاریخي مشاهدو په قوت سره داعقیده پیاوړې کوی، چې دمطلقیت ٥٦ عمر لنډوی، ممکن دمطلق العنان په چپه کیدلو کې کومک وکړی، هرڅوک دانتخاباتي مبارزو په دوران کې دکاندید انو په سلوک پوه وی. دوی دخپل دبري پیشگویي کوی، او په دې کې یې ارادی مقصد دا وی چې دپیشگویي احتمال لاهم پسې دیر کړی. یوڅوک په دې فکر کیږی، چې اقتصاد پوهان، سیاست پوهان، اومورخان، چې کله په پیشگـویي پیل کـوی، کـله کـله غیرشعـوری هیـله تحریك کو ی، چه دپیـشگـویي تحقـق چټك کړی. ددغو پیچلو ارتباطاتو په باب، هغه څه چې ممکن په مصون ډول وویل شي دادی چې دمشاهداو هغه څه ترمینځ چې ترمشاهدې لاندې نیول کیږی، داجتماعي عالم اودهغه دمفروضاتو ٥٧ تـرمینځ، اودمورخ اودهغه دحقایقو ترمینځ، متقابل عمل پرله پسې دی، اوپه مداوم ډول تغییر کوی. ښکاری چې دغه خصوصیت دتاریخ اواجتماعي

٥٤. Boom

٥٥. Slump

٥٦. Despotism

٥٧. data

علوم یوه بیلوونکې نښه وی . بنایی دلته دغه یادونه وکړم چې په دغوو روستیو کالونو کې، دفزیک ځینی پوهان دخپل علم په باب داسې غزیدلی دی، چې ښکاری دوی دطبیعی کایناتو، اودمورخ دجهان ترمنځ دلیازیات مشابهت نظروراندی کوی. لومړی داچې ویل کیږی ددوی نتایج دشک یانامعین توب ۵۸ په اصل کې نغښتی دی. په بل لیکچر کې بهزه په تاریخ کې دتش په نامه جبرد ماهیت اوحدود په باب وغږیږم. خودا چې ایاد معاصر فزیک نامعین توب دکایناتوپه ماهیت کې واقع دی، یاهغه تش زموږ دموجود ناقص علم یوه نښه ده(داتیکی تراوسه هم تر بحث لاندې دی) زه بهپه هغه کې د مهمومشا بهتونو اوقیاسونودکشفولو په باب زموږ په قابلیت سره د تاریخی پیشگویی گانو د کولو د پاره همهغه شکونه ښکاره کړم لکه چې یوڅو کالـه ړومبـی ځینـو احساساتی عـلا قمنو کوښښ کاوه چې پـه هغـه کې داسې ثبوت و مومی چې گواکې په کایـناتو کـې آزاده اراده عملیا ت کو ی . بـله داچې موږ ته ویل کیږی، چې په عصری فزیک کې دمکان فاصله اودوخت انقضاداسې پیمانې او اندازې دی چې د«مشاهد» پهحرکت کولو اړهلری. پهعصری فزیک کې، تولې پیمانې ذاتی تغییرونهمنی اودا ممکنه نهده چې د«مشاهد » اوهغه څیز ترمینځ، چې ترمشاهدې لاندې نیول کیږی، یوثابت مناسبت تاسیس کړل شی . «مشاهد»اوهغه څیز چې تر مشاهدې لاندې نـیول کـیږی ، دواړه ـیا فا عل او مو ضوع دوا ړه ـ دمشاهدې په آخری نتیجی کې داخلیږی.خو پهداسې حال کې چې دا تشر یحـا ت پهډیر لږ تغییر سره دمورخ اودهغه دمشاهداتو د مو ضوع په با ب تطبیق مو می، زه پهدې قانع نهیم چې ددغومناسبتونو جوهر په کوم واقعی مفهوم سره دهغومناسباتو لهماهیت سره دمقایسې وړدی، کوم چې دفز یك پوه اود هغه د کـاینا تـو پـه بـا ب موجوددی کهڅههم زه دپرنسیپ له مخې ددې علاقمن یم چې هغهاختلافات کوم چې

---

۵۸. Indeterminacy

دمورخ طریقه دساینس پوه لهطر یقې نهبېلوي ، کم کړم نه داچیزیات یې کړم، دابه بېفایدې وي چې کوښښ وشیدغه اختلا فات دناقصو مشا بهتو نوپهاستنادلېرې کړل شي .

خوزما پهفکر ، کلهچې دامناسبه ده چېوویل شيچې دمطالعې په مو ضو ع کې داجتماعی عالم یامورخ مشمو لیت دفز یکی عا لم ترمشمولیت څخه تو پیر لری ، اوهغه مسایل کوم چې دفاعل او مو ضوع دمناسبت پهواسطه پیداکیږ ی ، تر هغو په لا یتنا هی ډول پیچلیدی. دادموضوع اخر نهدی.دعلم پهباب ،ارغونی نظر یات چې پهاولسمې ،اتلسمې ،اونونسمیپیړی کې مروج وو،ټول پهدغه قیاس بناوو، چې دمعلوم کوونکیفاعل اومعلومې شوې موضوع ترمینځقوی دوه گونتوب ۵۹موجوددی. سره لهدې هم عملیه درکشوله ، هغه نمونه چې دفیلسو فانو لهخواطرحشوله،و یې ښودله، چې فاعل اوموضوع ، انسان اوبهرنی نړی،سره ویشلشویدی،اوبېلدی . داد ساینس دظهور اوانکشاف یوستر عصرو .دپیشقدمانو جهان بینی علمی نظر یات تر ډیرې اندازې متاثره کړل.انساندبهرنینړیپهضد پهډیرشدت سره وښودل شو. دهلهدغې نړی سره داسې په کلکه پنجه ور کړ له، لکه څنگه چې یې لهکوم نه رام- کېدونکیاوقوی دښمن سره پنجه ور کړې وی.نهرام کېد ونکی په دې چې په هغه پوهیدل مشکل و،قوی دښمن پهدې چې پههغه تحکم سخت و. خودعصری سا ینس پهانکشاف سره دغهجهان بینی هم پهانقلابی ډولسره تغییر ومو ند .

پهاوس وختو کې یوساینس پوه دطبیعت دقوتونوپهباب ډیرلږد اسېفکر کوی، چې دهغو پهضد مبارزه و کړی،بلکه دو ی دا قو تو نه دا سېگڼی چې و ر سر ه همکاريوکړي ،اودخپلو مقصدو نودپاره یې آماده کړی . دعلم قد یمی نظریات نورنولهنوی علم او پهتېره بیا دفزیك لهعلمسره سرنهخوري. نودحیرانی ځای نه دی

---

Dichotomy ۵۹.

چې فیلسوفانو په تیرو پنځو سو کالونو کې په هغو انتقادونـه شروع کړی دي، او ددې پېژندنې یې هم شروع کړی دی، چې دعلم عملیه فاعل اوموضوع یو له بل نه په شدید ډول نه بېلوی، بلـکه ددوی ترمینځ دمتقابل منا سبت او یو په بل د اتـکـا په یوځه حد قایل دی .اودا داجتماعي علومو دپاره نهایت اهمیت لري . او س غوا ړم دا دلیل وړاندې کړم چې اجتماعي علوم پـه کـلي ډول سره دعلم له هرې هغې تیوری سره چې دفاعل اوموضوع ترمینځ په کلك بېلتون قایل دی، هیڅ سرنه خوری، په دې چې په اجتماعي علومو کې هغه انسان هم دفاعل او هم دموضوع ، هم دمحقق اوهم دهغه څیز په حیث چې تر تحقیق لاندې نیول کیږي، شامل دی .سوسیولوجی ، پهځپل دغه زیار سره چې دځان دپاره دنظریاتو یومنسجم هیئت تاسیس کړی، په حقه سره یوه خانـگه پرانیستلې اودعلم سوسیولوجي یې نوملې ده.خوداز یار تراوسه ډیردوړاندې تللی نه دی ، په دغه غټ دلیل چې سوسیولوجی په دې قناعت کړی دی چې دعلم دعنعنی نظریې دقفس دننه حرکت وکړي، که فیلسوفان ، لومړی د عصري فز یکي ساینس تر تـاثـیر لانـدې ،او اوس دعصـري اجتمـاعي علـومو ترتـاثیـر لانـدې ، پـدې شر و ع کـو ي چې لـه د غـه قـفس نـه و وځـی ، او د عـلـمـی عملیو دپاره یوه نوې عصري طرح جوړه کړي ،نه داچې په یوه کهال شعور با ندې دمفروضاتو داثردتوپ زاړه بلیار دهغه زړه طرح وښیی، دادا جتماعي علوماو په تیره بیا دتاریخ دپاره یو ډیر نیك فال دی . داتـکي ښایسته داهمیت وړدی او زه به هغه وخت بیا ورته وګرزم، چې غواړم په تاریخ کې دافاقیت دمفهوم په باب بحث وکړم.

په پای کې ، مګر نه په لږ اهمیت سره ،مجبوریم په هغه نظر بحث وکړم چې وایی تاریخ څنګه چې دمذهب او اخلاق له مسایلو سره ډ یر نز دې ار تبا ط لر ی په عمومي ډول له ساینس او حتی له نورو اجتماعي علومو نه بېل دی اوتوپیر ترې لري. له مذهب سره به دتاریخ دمناسبت په باب یوازې دومره وګر یږم، څومره چې لازمه ده

خپل دریځ څرګند کړم .جدی منجم کېدل لهدې سره موافق دی چې په کوم یوه خدای عقیدهولر لهشی ـ داسې خدای چې کاینات یې خلق کړی او نظم یې ور کړی دی. خودا پهدغسې یوه خدای دعقیدی لهلر لو سره موافق نه دی چې هغه په خپله ارا ده غواړي دیوه ستوري دحرکت لاره واړوي، یاخسوف تیال کړي، یاد کایناتی لو بې قاعدوته تغییر ور کړی. پههمدغه ډول، کله کلهداسې نظرونه اندې کېږي چې یوجدی مورخ ممکن په داسې خدای عقیده ولري چې هغه پهعمومی ډول دتاریخ سیر ته نظم اومفهوم ور کړیوی، کهڅه همدی به د زاړه انجیل رقمی پهخدای باندې عقیده کولی نهشی چې هغه به داماليکاتو ۶۰ پهوژلو کې مداخله کوي یا به پهخبرو کې غولول کوي، اوغواړی دجوشوا ۶۱ دلښکرو پهګټه د ورځې ساعتونه اوږده کړي . داسې هم دی د خاصو تاریخی پیښو دتشریح پهغرض له خدای څخه مرسته نه غواړی . روحانی پلار ډی . ارسې ۶۲ پهیوه تازه کتاب کې زیارایستلی چې دغه تمیز واضح کړي .

«دیودمحصل دپاره داکافی نهده چې پهتاریخ
کې هرې پوښتنې تهداسې ځواب ورکړي چې دا
دخدای کارو. ترهغو چې مونږ دومره وړاندې تللی
نهیو چې دنیا یې پیښې او بشری ډرامهمرتبه کړو،
نهښایي پراخې ملاحظې میدان ته کړو. » ۶۳

۶۰. Amalekites د سوریې د ملکې یو پخوانی چپاولګر کوچیانی قوم. (م)

۶۱. Joshua . د موسی (ع) جانشین چې اسرائیلیانیې کانان تهسوق کړل. (م)

۶۲. M. C. D, Arcy

۶۳. ایم. سی. ډي. ارسی، د تاریخ مفهوم: دنیایی او مقدس (۱۹۵۹) ۲ مخ پولی بیوس (د یونان مورخ) تر هغه دمخه دا نظرښکاره کړی و: «چیرته چې کیدی شی د پیښو علت معلوم کړل شی نهښایی یو څوك خدایا نوته مراجعه وکړی» (اقتباس د کې. فان فرتز K. Von Fritz په، په لرغونی مهال کې دمخلوط اساسی قانون نظر، نیویارك، ۱۹۵٤، مخ ۳۹۰)

ددغه نظر غرابت په دې کې دی چې معلومیږی مذهب دقطعو دجیك په حیث گڼل کیږی او هغه دحقیقتاً مهمو چاانو دپاره ساتل کیږي اودبلې طریقې دپاره نه را ایستل کیږی . کارل بارت (٦٤) دلوتر دمذهب عالم ترهغه لاښه کاروکړ چې داسمانی او دنیایې تاریخ ترمینځ یې پوره بیلتون اعلام کړ ،اودنیایی تاریخ یې دنیایې څنګاو ته وسپاره. پروفیسر . بټرفیلډ ،چې که زه یې په خبرو وپوهیږم ،څه وخت چې د«تخنیکی» تاریخ په باب بحث کوی ، همدغسې یوڅه په نظر کې لري. تخنیکی تاریخ هغه یوانځنی تاریخ دی ،چې ممکن تاسې اومونږ به یې تل ولیکو ، او یا دا چې ده پخپله به تل لیکلی وی . خو ددغه عجب عنوان په استعمال سره ،دی دغه حق د ځان کوی ، چې د خاصانو یاخدایي تاریخ باندې عقیده ولری ، چې له هغه سره به یا تې مونږ او تاسې سروکار نه لرو . د بردیایف ٦٥ ،نیبور ٦٦ اوماری تین ٦٧ په شان لیکوالان تاریخ ته په یوه مستقل حال قایل دی ، خو په دې تینګګ دی چې دتاریخ غایه یا انجام له تاریخ څخه بهرواقع دی. شخصاً زه نه شم کولی دتاریخ کلیت له کوم فوق-تاریخی قوت سره پخلا و ښیم په کوم چې د هغه اهمیت او مفهوم تړلی دی - فرق نه کوی چې داقوت دغوره شوی وخالق خدای وی ، عیسایی خدای وی ، دکوم رب النوع پټ شوی لاس وی ، یا دهیګل جهانی روح وی . د د غولیکچرونو د مقصد د پاره ، زه داسې فرض کوم چې مورخ باید دغه مسئله بې له دې چې دماشین خدای ٦٨ ته رجوع وکړی ، حل کړی ، داسې چې تاریخ داسې یوه لوبه ده ، چې دچاخبره ،جیك نه لری.

---

٦٤. Karl Barth

٦٥. Berdyaev

٦٦. A. R. Niebuhr (د عقیده او تاریخ د کتاب مولف) نیویارك ، ١٩٤٩ .

٦٧. Maritain

٦٨. deus ex machina ، اشاره وهغه کلاسیکی تمثیل ته ده چې په سختو مصیبتونو کې به د مشکل د حل دپاره رب النوع له ماشین نه ایستل کیده. (م)

له اخلاق سره د تاریخ مناسبت ډیرپیچلی دی، او په دغه باب چې تر اوسه څه بحث شوی دی، د څومبهماتو په وجه ناقص دی. نن ورځ یوازې کله کله ضرور وی چې په دې بحث وشي چې له مورخ نه دا تقاضا نه کېږي چې د خپل داستان دشخصیتو نو په شخصی ژوندانه اخلاقی قضاوتونه صادر کړي . دمورخ او دهغه چانظرونه، چې په اخلاقی اصولو ولاړ وی ، کاملاً یو نه وی .اتم هنری ، ممکن بدمېړه او ښه پلچا تیر شوی وی .خومورخ دده دلومړني صفت په باب یوازی هغه وخت علاقه ښکاره کوی چی تاریخی پېښې یې متاثره کړې وی . که د ده اخلاقی عیبو نو په عمومی پېښو دو مره لږ څرگند اثر کړی وی، لکه چې ددوهم هنری عیبونو کړی دی مورخ ته نه ښایې دهغو په باب ځان سر گردان کړی . دا حکم دبدو او ښو صفتو نو په باب یوشان صدق کوي . روایت دی چې پاستور ٦٩ او انشتاین ٧٠ دواړه په شخصی ژوندانه کې ښېجوړي، او حتی لکه ولیان متقي وو. خو داسې وگڼئ چې دوی بیوفامیرونه، یاظالم پلرونه یابې پرنسیپه اخلاقی ملگری وو، نو ایا ددوی د تاریخی کارنامو اهمیت به ترهغو لږ وی، کوم چې اوس دی؟ مورخ اساساً له دغسې کار نامو سره سرو کار لری.

روایت دی چې ستالین په خپلې دوهمې مېرمنې ظلم او زیاتی کړی دی خو زه دشوروي پېښو دمورخ په حیث دا احساس دومره نه لرم چې هغه په نظر کې و نیسم .دا ددې معنی نه لری چې شخصی اخلاق اهمیت نه لری ، یا دا چې داخلاقیاتو تاریخ دتاریخ یوه روا برخه نه گڼله کېږي . خو مورخ داسې نه کوی چې په یوې خواتا وشي او دهغو افرادو په شخصی ژوندانه اخلاقی قضاوتونه صادر کړی ،چې دده د کتابونو په مخ ښکاره کېږی . دی نورڅه وظایف په مخ کې لری .

ترهغه لیا جدی ابهام په عمومی اعمالو باندې دقضاوت په مسئلې پیدا کېږی.دمورخ

٦٩. L. Pasteur (۱۸۲۲ - ۱۸۹۵) فرانسی ساینس پوه. (م)

٧٠. A. Einstein (۱۸۷۹ - )جرمنی فزیک پوه. (م)

په دغې وظیفې عقیده چې پههغو افرادو چې د ده په ډرامې کې ظاهریږی ، اخلاقی قضاوتونه صادرشي، یوه اوږده سابقه لري . خوداعقیده هیڅکله دومره قوی نه وه لکه څومره چې په نونسمې پیړی کې پهبرتانیې کې وه .داهغه وخت و چې دا عقیده هم دهغه عصر داخلاقی تمایلا تو اوهم دفردیت دلمانځلو داصل لهخوا تقویهشوې وه. روزبیری ۷۱ ویل چې هغه څه چې انګلیسان هڅه لری پسرې پوه شي دا دی چې نـا پـلیون په ریښتیا « یـو ښـهشخـص» ۷۲ وکـه نـه . اکـټین لـه کـرېټـن ۷۳ سره په لیکونـو کې اعلام کړه چې داخلاقـی اصولوثبات ، د تاریـخ د صلاحیت، حیثـیت، اوانتفـاعیت راز اوسر دی ، دی مدعی شوچې تاریـخ « د منازعاتوحکم ، د سیاح لاربنوونـکی ، اودهغه اخلاقی معیارحامی وګرزوی چې دمځکې او دمذهب قوتونه تل په دی هڅه کـې د ی ، چـې هغه وزبیبنی .» ۷٤ دانظـریه داکټن په هغې تصوفی عقیدې بناده کومه چې ده دتاریخی حقایقوپه افاقیت اوعلویت لرله . ددغې نظریې لهمخې، لهیوه مورخ نهظاهراً داتقاضا کیږی ،اوده تهدغهحقورکول کیږی، چې دتاریخ په نامه یعنې په هغه نامه چې تاریخ تهیورازفوق- تاریخی اختیارورکول کیږی ،پههغوافرادو اخلاقی قضاوتونه صادرکړی ،چې په تاریخی پیښوکې ښکاره کیږی. اوس هم دانظر کله کله پهغیر متوقعهشکلونو کې سرهسکوی. پروفیسر ټاین بـی ۷۵ په ۱۹۳۵ کې په حبشستان باندې دموسولینی حمله دیوې « ارادی شخصی ګـناه» ۷٦

۷۱. Rosebery

۷۲. روز بیری، ناپلیـون: وروستـی مرحـله، مـخ ۳٦٤.

۷۳. Creighton

۷٤. د بین‌المللی چارو سـروی، ۱۹۳۵، ii ، مـخ ۳.

۷٤. اکټن، تاریخـی مقالـی او مطالعات (۱۹۰۷) ، مـخ ۵۰۵ .

۷۵. A. Toynbee انګلیسی معاصر مـورخ . (م)

۷٦. د بین‌المللی چارو سروی، ۱۹۳۵، ii ، مـخ ۳.

په حیث بیان کړله . سرایسایه برلین، په هغې مقالې کې چې پخوا یې ذکروشو، په کلکه اصرار کوی چې دا دمورخ وظیفه ده چې «پهشارلمان، یاناپلیون، یاچنگیز خان یاهتلر، یاستالین باندی د دوی د بې رحمانه قتلونو په باب قضاوتونه وکړی.» ۷۷

پروفیسرنوولزدا نظر په کافی اندازې ترټلی دی . ده په خپل افتتاحی لیکچر کې دموتلی ۷۸ ددوهم فلیپ تقبیح اقتباس کړې ده: «کهچیری هلته بدیګانې وی ....له کوموڅخه چې دی خلاص و،دا لهدې املهده چې انسانی طبیعت ددې اجازه نهورکوی، چې پهبدیکې هم کمال تهرسیدلوشی،». داسې هم ده دکنګ جانپهباب دستبز ۷۹ وینا را یاده کړی ده : «په هرهغه جرم سره کثیف شوی و، کوم چې یوانسان رسوا کولیشی،» . په افرادو باندې دا داخلاقی قضاوتونوهغه مثالونودی، چې مورخ یې داعلامولوصلاحیت نهلری .«مورخ قاضی نهدی، په دارځړوونکی قاضیخوبالکل نهدی.» ۸۰خو کروسې هم پهدغهباب یوه ښهفقرهلری،چېغوارم دلتهیېذکروکړم.

۷۷. ای. برلین، تاریخی حتمیت ،مخونه ۷٦ - ۷۷. د سرایسا یه برلین دا روش هغه نظر را یادوی چی دنونسمی پیړی هغه سر سخت محافظه کار حقوق پوه فتزجیمزستیفن Fitzjames Stephen ښکاره کړی و : دجزا قانون په دی ډول په دغه اصل ولاړ دی د رومی چیوایی‌په اخلاقی لحاظ د اسمه ده چی له مجرمانونه دیکرکه وشی ..... دا بالکل لازمه ده چی له مجرمانو نه دی کرکه وشی، دومره سختی جزاګانی دی په دوی حواله شی چی هغه کرکی په کی افاده شی او هغه دی ترهغو حق په جانب او روا وښوولی شی چی د عمومو د افادی کولواوتظمین کولووسایل یوطبیعی سالم احساس تشویق کولی، او روا ښودلی شی ؛ (د انګلستان دجزاییقانون تاریخ،۱۸۸۳، ۱ ج ،مخونه۸۱-۸۲ . د افقره دا بل . رادز ینو ویچ ، په سرجیمز فتز جیمز ستیفن نومی تالیف کی اقتباس شوی ده ، ۱۹۵۷، مخ ۳۰ ) د جرم او جزا پوهانو ته دا نظر یه نور نو داعتبار وړنه ده. خو له دوی سره زما جنګ په دی کی دی چی هغه که اعتبار ولری یا ونهلری‌د تاریخ په حکمو نوکی دتطبیق وړ نهده.

۷۸. John L. Motley هالیندی مورخ (م)

۷۹. Milliam Stubbs (۱۸۲٥ - ۱۹۰۱) انګلیس اسقف او مورخ . (م)

۸۰. دی. نوولز، مورخ او سجیه (۱۹٥٥) ، مخونه ٤ ، ٥ ، ۱۲ ، ۱۹.

« تهمت هغه‌ستر اختلاف اه‌یاده باسي چې زمونږ محکمې (قضایي‌وي یا اخلاقي) دنن ورځې محکمې دي، اوهغه د ژوندیو، فعالو، اوخطرناکو اشخاصودپاره جوړې شوې دي په داسې حال کې چې نور اشخاص پخوا دخپلــو وختــونوپه محکموکې حاضرشوي دي ، اودوی دوه ځلې مقصریاتبرئه کیدلی نه شي. دوی په‌هیڅ محکمې کې مسئول کیدلی نه شي ، په دې چې دوی دماضي اشخاص دي، اودماضي په‌سولې پورې اړه لري ، اوپه دې ډول دوی یوازې دتاریخ ترقضاوت لاندې را تللی‌شي، او کوم بل قضاوت پرې کیدلی نه شي مگرهغه چې ددوی دکارپه روح کې ننوځي اوپیژني یې. هغه کسان چې د تاریخ دشرح کولوپه بهانه د قاضیانوپه حیث ننداره جوړوي، دلته محکومول کوي، اوهلته تبرئه‌کول کوي اودا په دې دلیل چې ددوی په فکر دا د تاریخ د فتردی .... دوی په عمومي او کلي ډول له تاریخي مفهوم نه بې بهرې دي . » ۸۱

که څوک ، په دغه حکم انتقاد کوي چې دا زمونږ کارنه دی چــې په هتلر، یاستالین، اویاکه موخوښه وي په سناتورمکارتي‌باندې اخلاقي قضاوت صادر کړو، پــه د غــه علت چې دوی زمونــږ د زیاتــر و معاصردي ، او په دغــه علت چې په سل‌گــونوزروهغه‌کسان چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول ددوی له اعمالوڅخه متضررشوي‌دي، تراوسه ژو ندي دي ، اوپه دغه علت چې‌دهمد غودلایلولـه‌مخې متشکله ده چې مونږد مورخینو په حیث دوی ترمطا لعې لاندې ونیسو اوله نوروهغو استعدا دونوڅخه ځانونه محروم کړوکوم چې هغه یه ممکن مونږته اجازه راکړي چې د هغوی په اعمالو باندې قضاوتو نه صا در کړو، دا د معا صرمورخ د مشکلونو یومشکل، یاکه ووایم ډیرلوی مشکل دی . څونن ورځ څوک کولی شي دشارلمان یاناپلیون، دگناهونوپه تقبیح سره فایده وچته کړي ؟

نورا ځئ چې دا نظرردکړوچې مورخ په دارځړوونکي قاضي بولي ، اوترهغه

۸۱. بي . کروسي، تاریخ د ازادی دداستان په حیث (انگلیسی ترجمه، ۱۹۴۱،) مخ ۴۷.

مشکل، بلکه ګټور بحث ته مخه و کړ و یعنی هغه بحث ته چې اخلا قی قضاوتونه په افرادو نه صادر یږی، بلکه د ماضی په پیښو، موسسو، او سیاستونو صادر یږی. دا د مورخ ډیر مهم قضاوتونه دی. هغه کسان چې د افرادو په اخلاقی محکومولو سخت تینګار کوی، په حقیقت کې په غیر شعوری ډول سره د ډلواوجوا معو دپاره دا دلیل پیدا کوی چې ګوا کې دوی په جرم کې لاس نه لاره. فرانسی مورخ لیفی بور۸۲ په دې لټه کې و چې د فرانسې انقلاب له بدبختیاو د نا پلیونی جنګونوله وینوتویو لو څخه تبرئه کړی نو یې هغه منسوب کړه «دیوه جنرال دکتاتوری ته .... چې دهغه مزاج .... په سولې او اعتدال کې ارام پاتې کیدلی نه شو.» ۸۳ جرمنیان، نن ورځ دهتلر دفردی شرارت تقبیح ته ځکه ښه وایی چې د مورخ اخلاقی قضاوت په هغې جامعې و نه شی کومې چه هتلر تولید کړی دی. روسان، انګلیسان، امریکائیان په ستالین، نیوال چمبرلین، یا مکارتی باندې د شخصی حملو په کولولاسونه سره یو کوی، چې په خپلو ډله ییزو بدو کړو پرده وغوړوی. برسیره پردې، په افرادو باندې ستا یونکی اخلاقی قضاوتونه هم هغومره تیراستونکی او مضر دی، څومره چې د افرادو اخلاقی تقبیح دی. دامعرفت چې ځینې غلام ارونکی افرادظالم وو، پر اله پسې دیوی بهانې په حیث استعمالیږی، چې غلامی دیوې غیراخلاقی مؤسسې په حیث محکومه نه شی. ما کس و یبر د «بې څښتنه غلامی چې دلته سرمایه داری د کارګر یا بزګر ی لاس و پښې تړی» یادونه کوی، او په حقه سره دلیل وړاندې کوی، چې مورخ باید خپل قضاوتونه په هغې موسسې صادر کړی، چې هغه یې خلق کړی دی، نه په افرادو باندې.۸٤ مورخ ددې دپاره دقضاوت په مسندنه کښینی چې په واحد شرقی مطلق العنان قضاوت صادر کړی، خو له ده څخه داتقاضاهم نه کیږی چې دی دې دمثال په ډول دشرقی مطلقیت او دپریکلیس دا تن دوختومو سسو ترمینځ بی اعتنا

۸۲. Lefebvre

۸۳. Peuples et civilisations ، جلد ۱٤، ناپلیون، مخ ۵۸.

۸٤. دا فقره دماکس ویبر : مقالی په سوسیولوجی کې، څخه اقتباس شوی‌ده. (۱۹٤۷) مخ ۵۸.

او بیطرف پاتې شي. دی به په انفرادی غلام ساتونکو باندې قضاوت نه کوی، مگر دا رویه یې له‌دی څخه‌نه‌منع کوی چې دغلامۍ‌جامعه محکومه نه کړی. لکه څنگه چې موولیدل، تاریخی حقایق‌دتوجیهه فرضیه، ترڅه حده پخواتر پخوا منی اوتاریخی توجیهات تل‌اخلاقی‌قضاوتونه‌په غیـز کې نیسی. که داحکم په ښوبیطرفوالفاظوکې افاده‌کړو، ارزشی‌قضاوتونه‌به یې وبولو.

خوسره له دې هم دا یوازې زمونـږ دمشکلاتوشروع ده. تاریخ دمبارزې یوه عملیه ده. په دې عملیې کې‌نتایـج ـ چې که مونږورته ښه ووایو باید ـ دڅینوډلوله خواپه مستقیم یا غیرمستقیم ـ زیاتره په مستقیم ډول ـ دنوروډلوپه زیان حاصلیږی. یایلونکی تاوان‌گالی. رنځ اوعذاب په تاریخ کې یوعادی اومانوس څیزدی. د تاریخ هره ستره دوره هم‌تلفات اوهم فتوحات لری. دایوه ډیره پیچلې مسئله ده، په دې چې مونږداسې کوم معیارنه لروچې په هغه سره وکولی‌شودڅینو کسانوډیره گټه دنورودقربانیوپه مقابل کې اندازه‌کړو. سره له دې هم باید یومیزان وشی. دا یوازې دتاریخ مسئله نه ده. په‌عادی ژوندانه کې، مونږ زیاتره ازتـاوان‌اوازه بدې مرجحه بولو، یا هغـه شریرعمل کوو چې فـایده موترینه په نظر کې نیولې وی. مونږدا ضرورت په خواله نه وایو، مگرعمل موهمدغسی وی. په تاریخ کې دامسئله کله‌کله د «پرمختـگ قیمت» یا د« انقلاب قیمت» ترعنوان لاندې تربحث لاندې راځی. خودا تیرایستونکې ده. څنگه چې بیکن‌په یوې مقالې کې: دابداعاتوپه باب وایی، «دیوه سرسخت عادت ساتـل هومره‌گران‌کاردی، لکه دیوه ابداع». د حفاظت قیمت په محرومو‌خلقوهغومره دروندلویږی،لکه چې‌دابداع قیمت په هغو دروندوی چې له امتیازاتوڅخه محروم کیږی. دانظرچې دڅینوگټه دنوروعذاب رواکوی، په هرحکومت کې په ضمنی ډول موجود دی، اوهغومره دمحافظه کـاری نظردی، څومره چې افراطی دی. داکترجانسن ازشرارت دموجودوبـی عدالتیو دحفاظت دپاره روا وباله:

«د اښه ده چې ځینې بد مرغه وی ، تردې چې هیڅوك نیکمرغه نه وی، چیر ته چې دمساواتو په عمومی وضع کې به داخال وی » ۸۵

خودافراطی تحول په مهالونوکې دا مسئله په دراماتیکی دول سره ښکاره کیږی ، او په دغه وخت کې مونږته دیره اسانه وی، چې دهغو په مقابل کې دمورخ سلوك مطالعه کړو .

راځی چې د ۱۷۸۰ او ۱۸۷۰ کالونوترمنځ دلویې برتانیا دصناعتی کېدلوقصه را واخلو. هرمورخ به صناعتی انقلاب ممکن بې له کومې مباحثې، یوستراومترقی کارنامه وګڼي . دی به داهم بیان کړی ، چې کروندګرځنګه له ځمکونه وایستل شول ، کارګران څنګه په غیرصحی فابریکو او کوډاوکې تخته کـړل شول ، او کوچنیان څنګه استثمارشول . دوی ممکن ووایی چې دسیستم په کار کې، ناوړې استفادې وشولې اوځینې استخدام کوونکی ترنوروډیربې رحم وو. دی ممکن دبشر دخوښوونکی او زړه سواندی وجدان دتدریجی و دې په باب یوڅه غوړې اونرمې خبرې هم وکړې، اودا هغه وخت چې سیستم یوځل بیخ ونیواومستقرشو. خودی به ممکن بیا بې له دې چې ووایې داسې وګڼي چې په اولومرحلوکې یوڅه جبر اواستثماردصناعتی کېدلویوه حتمی برخه وه . ما تراوسه داسې مورخ لیدلی نه دی چې ویلی یې وی چې د همدغه قیمت په وجـه به دابنه وای چې دپرمختګ مخه نیوله شوې وای، اوپه صناعتی کولولاس پورې شوی نه وای . که داسې کوم مورخ

---

۸۵. بوزول ( Boswell ) ، د داکترجانسن ژونـد (۱۷۷٦)، (د ایوری مین چاپ ، ii مـخ ۲۰) د لتـه د سپین ویلـو ښیګنـه شتـه؛ بر کخاردت ( په مورخانـو او تا ریـخ باندی قضاوت ، مـخ ۸۵) د ترقـی د قربانیو په « غلیوشویوزګیرویـو» چـی دوی‌قاعدةً له Paraatueri نه په پرته‌نورڅه‌نه غوښتل، اوښـکی تویوی خو پخپله د لرغونـی رژیم ancient regime د قربانیـو د زګیرویو په باب غلی دی، چی قاعدتاً یـی د ساتلو هیڅ څیزنـه لرل .

موجود هم وی بیې له کومه شکه به دچسترتن ۸۶ او بیلک ۸۷ په مکتب پورې اړه ولری، اوهیڅ جدی مورخ به په جدی سترګه ورته ونه ګوري. دامثال زمادپاره په خاص ډول په زړه پورې دی، په دې چې زه هیله کوم زر به دشوروی روسیې په تاریخ کې دکروندګرو دراټولولو اوداله ییز کولو ۸۸ مسئله دصناعتي کولو دقیمت دیوې برخې په حیث تربحث لاندې ونیسم . ۸۹ په دې ښه پوهیږم ، چې که زه دبرتانیا د صناعتی انقلاب دمورخانو د مثال په تعقیب ، که څه هم د ډله ییز کولو ناوړې خواوې او وحشتونه بدو ګڼم خو په خپله عملیه دصناعتي کولودسیاست دیوه ضروری ، اومطلوب قیمت یوه برخه و ګڼم ، زه به دشکاکیت په تور اودشریرو ځیزونو په اغماض تومتی‌شم . مورخان ، داروپائیانــوله خوا په نونسمې پیړی کې داسیا اوافریقا استعمار په دې دلیل نالیدلی ګڼی چې دغه عمل نه یوازې دجهان په اقتصاد فوری تاثیرونه وکړل ، بلکه په خپله دهغوا ویووچودبېړته پاتې واسونــو د پاره یې په زیاته موده کې نتایج او ګټې اړلې. سره له ټولوخبرو، ویل کیږی ، چې هندوستان دبرتانیادحاکمیت ماشوم‌دی. عصری چین‌دنونسمې پیړی دلویدیځ امپیریلزم محصول‌دی ، اوروسی انقلاب هم پری اثر کړی دی . له بده مرغــه دچین کارګرانو چې په‌ساحلی‌بندری‌اروپایی ـ ځښتنوفابریکوکې، یادجنوبی‌افریقا په کانو کې ، اویایې په لومړی جهانی جنګ کې ، په لویدیځی جبهې کې زحمت ګاله ، ژوندی پاتې نه شول‌چې دچین دانقلاب ګټه اوثمرووینی . څوک چې قیمت تادیه‌کوی، یوازې کله‌کله‌کولی‌شی، چې‌ګټه ترې وچته کړی. دانګلز یوه مشهور فقره دلته یوځه سرخوری .

---

۸۶- Chesterton

۸۷- Belloc

۸۸. Collectivisation

۸۹. دا مسئله اوس پروفیسرکارد،آر. دبلیو. دی ویس ( (R. W. Davies) په‌مرسته په یوه نوی تالیف کې تربحث لا ندی‌نیولی‌ده. د تالیف نوم دی. : د یوه‌پلا ن شوی اقتصاد اساسات، ۱۹۲۶-۱۹۲۹.

« تاریخ ترټولو نورو الهو نه د یره بې رحمه الهه ده . دا الهه خپل مظفرانه موټر د مړو اجسامو په خر یو تېروی ، او دا کار نه یوازې په جنګ کې کوی ، بلکه په « سوله ییز » اقتصادی انکشاف کې یې هم کوی . او مونږ نارینه او ښځې له بده مرغه دومره احمقان یو چې مونږ د حقیقی ترقی د پاره هیڅ زړه نه کوو ، تر څو چې دهغو عذابونو له خوا مجبور نه شو ، کوم چې اټ حساب نه وتلی وی . » ۹۰

دایوان کارا مازوف ۹۱ د مخالفت مشهور حرکت دقهرمانی یوه اشتباه ده . مونږ په جامعې کې زیږ یدلی یو ، مونږ په تاریخ کې زیږیدلی یو . داسې یوه شبهه هیڅ نه شته چې مونږ ته په جامعې کې د ننوتلو ټکټ په دغسې اختیار راکړه شی چې مونږ یې یا ومنو او یا رد کړو . د عذاب او درد په باب ، مورخ د الهیاتو تر عالم نه زیات قاطع ځواب نه لری . دی هم د کم زیان او ډیرې ګټې په تیسس ډډه کوی .

نو ایا دا حقیقت چې مورخ څنګه ، چې د ساینس پوه په خلاف د خپلو موادو دماهیت اـه امله ، د اخلاقی قضاوت په دغسې مسایلو کې نغښتی دی ، د دې معنی نه ور کوی چې تاریخ دارزښت کوم فوق ـ تاریخی معیار ته تسلیم کیږی؟ زما په فکر چې نه تسلیمیږی . راځئ چې داو ګڼو چې مجرد مفهومونه لکه «خیر» او «شر» او دهغوی پسی نور سفسطه یې انکشاف ، د تاریخ له چوکاټ څخه بهر واقع دی . خو سره له دې هم ، دغه مجردات ، د تاریخی اخلاقیاتو په مطالعې کې هغسې رول لوبوی ، لکه چې دریاضی او منطق فارمولونه یې د فزیک په ساینس کې لوبوی . دا د تفکر حتمی کټه ګوری ګانې دی . خو دوی تر هغو چې مشخص محتویات ور نه ور نه کړه شي ، له مفهوم نه عاری دی ، او تطبیق یې ناشونکی . تاسې ممکن یو بل مستعار نوم غوره وګڼی ، خو هغه اخلاقی مفهومونه چې

۹۰. فریدریك انګلز ، لیکلونه ۱۸٤٦ ـ ۱۸۹٥ (۱۹۳٤) ، مخ ۵۱۰ .

Ivan Karamazov .۹۱

مونږيې په تاريـخ يا ورځني ژوندا نه کې تطبيق کوو ،دهغوچکونو په څيردي، کوم چې په بانـک باندي ورکول کيږ ي،داچکونه هم چاپه شوې اوهم ليکـلې شوې برخه لري . چاپه شوې برخه يې دازادي، مساوات، عدالت ، اودموکراسي په شان لـه مجردو الفاظوڅخه جوړه ده . دا اساسي کته گوري گانې دي . خوچک ترهغو کوم ارزښت نه لري ، چې پري ليکنه نه وي شوي . ځکه همدغه ليکـنې معلوموي چـې مونږ څومره ازادي دچا دپاره غواړو. هغه طريقه چې په هغې سره مـونږوخت په وخت خپل چک ډکوو، دتاريخ يوه مسئله ده . هغه عمليه چې په هغې سره مجردو اخلاقي مفهومونوته، مشخص تاريخي محتويات ورکول کيږي،يوه تاريخي عمليه گڼله کيږي . پهحقيقت کې، زمونږ اخلاقي قضاوتونه په يوي مفکوره ييزي چوکاټ کې دننه ، چې هغه په خپله د تاريـخ تخليق دي، جوړيږي . داخلاقي مسايلوپه باب دمعاصر بين المللي دعوامشهور راومروج شکل هغه بحث دي چې دازادي اودموکراسي په باب يـې رقيب او نقيض مدعيان په خپل مينځ کې سر ه لري . مفهومونـه عالمي اومجرد دي . خوهغه محتويات چې په هغو کې ايښودل کيږي ، دتاريـخ په جريان کې يـې له يوه ځاي نه وبل ځاي ته، او له يوه مهال نه وبل مهال ته تحول کړي دي. دهغوي دعـري عملي مسئلي تطبيق، يوازي دتاريـخ په ژبه پوهيدل کيدلي ، اوپري بحث کيدلي شي . اوس به لـږځه يـوغيرمشهورمثال راواخلو. کـوښښ شوي دي چـې د اقتصادي علمي تنظيميت مفهوم، ديوه افاقـي اوغيرمتنازع فيه معيارپه حيث، استعمال شي چـې دهغه په وسيله د اقتصادي سياستونـو مرغوبيت ترازمويني لاندي راتلي شي، او قضاوت پري ممکن کېدلي شي. خو داکوښښ سمدلاسه ناکاميږي. هغه تيوري پوهان چې دلرغوني اقتصاد په قوانينو روزل شوي دي ، پـلان جـوړول د پرنسيپ له مخي محکوموي اوهغه په بياتنظيموشويو اقتصادي عمليو کې يو غيرعلمي اوغيرعقلي مداخله شميري . دمثال په ډول، پلان جوړوونـکي د نرخ د سياست پـه باب له دې څخه غاړه غړوي ،چې دعرضې اوتقاضادقانون پيروي وکړي اونرخونه

په پلان جوړولو کې هیڅ عقلي اوعلمي اساس لرلی نه شي . بې له شکه دا به سمه وی چې پلا ن جوړوونکی زیاتره په غیر عقلي اواحمقانه ډول کار کوی . خو هغه محک چې په هغه سره په دوی قضاوت کیدلی شي ، دلرغوني اقتصاد هغـه زوړ «اقتصادی بیاعلمي تنظیم » نه دی . زه په خپله له معکوس استدلال سره ډیرزړه سوانـدی لـرم اووایم چې داهغه نه کنترول شوی، اونامنظم شوی اقتصادی لیسه فر۹۲ وچې اساساً غیرعلمي و . پلان جوړول هغه کوښښ دی ،چې په هغه سره په د غـې عملیـی کـې « اقتصادی تنظیمیت» مروج کیدلی شي . خو هغه یوازنی تـکی چې غواړم اوس یـې ووایم دادی چې ممکـنه نه ده چې یومجرداوفوق ـ تاریخي معیاروضـع شي او په هغه سره په تاریخي اعمالوقضاوت وشي .په د غسې یوه معیار کـې دواړه خـواوی حتماً هغه مشخص محتویات موندلی شي کوم چې ددوی له تاریخي حالاتـواوهیلو سره موزون وی .

دادهغو کسانوحقیقي حکم دی چې-غواړی یوداسې فوق ـ تاریخي معیارساز کړی چې د هغه په رڼا کې په تاریخي پیښویاموسسوقضاوت صادر کړل شي ـ فر ق نه کوی چې دا معیار له اسماني قدرت څخه منبع اخلي ، کوم چې ددین عالمانو ایستلی دی، یا له کوم مسکون عقل یاطبیعت څخه منبع اخلي کوم چې دتنوراو نهضت ددوری فیلسوفانو وضع کړی وی . خبره په دی کې نه ده چې دهمدغـه معیارپه تطبیق کې نیمګړ تیاوی پیښیږی ،یاپه خپله په معیار کې نواقص موجود دی .خبره په دی کې ده چې د دغسې یوه معیارد جوړولوپه لورهڅـه او کوښښ کـول غیرتاریخي دی اودتاریـخ ا صلي جوهر نقض کوی. داسې معیاردهغومسایلو دپاره چې یومورخ دخپل تخصص په وجه مجبوردی دهغوپه باب پرله پسې پوښتنې و کړی ، یو جذمي ځواب تهیه کوی . هغه مؤرخ چې ددغوپوښتنو په مقابل کې پخواتر پخوا ځوابونه قبلوی ، داسې مثال لری

۹۲. laissez faire د افرادو په اعمالو مخصوصاً تـجارتي اعمـالو کې د حکومت مداخله نه کول . (م)

لکه چې ستر ګې پټې په کارشروع کوی ، او له خپل تخصص څخه ستر ګې پټوی اوردوی یې . تاریخ یوحرکت دی ، اوحرکت پرتله کول غواړی . همدغه علت دی ، چې مو رخا نهځه کوی ، چې خپل اخلاقی قضا وتونه په مقایسوی الفاظو کې افاده کړی لکه « مترقی » او«ارتجاعی» نه په مطلقو او غیرمصالحتی الفاظو کې لکه «ښه» او «بد » . داهغه کوښښونه دی ، چې په هغوسره مختلفې جامعې ، یا تاریخی حوادث تعریف کیږی ، اوداد کوم مطلق معیارپه ژبه نه کیږی ، بلکه دیوه اوبل په رابطې سره کیږی .برسیره پردی، کله‌چې مونږ دغه مفروض‌مطلق ،او اضافی تاریخی ارزښتونه ترکتنې لاندی نیسو ،دی نتیجی‌ته رسیږو ، چې دوی هم په واقع کې په تاریخ کښې ریښې لری . دیوه خاص ارزښت یا مفهوم ظهورپه یوه معین زمان او مکان کې دزمان اومکان په تاریخی شرایط‌وسره شرح کیږی . دفرضیې دمطلقو مفاهیمو لکه برابری ، ازادی ،عدالت، اوطبیعی قوانینوعملی محتویات له یوه عصر نه وبل عصرته ، اوله یوه براعظم نه وبل براعظم ته تحول کوی . هره د له ځانله خاص ارز ښتو نه ار ی ، چې ریښې یې په تا ر یخ کې پرتې د ی . هـر ه ډ لـه د بـیـګـا نـه ا و نـا مـو ز و نـوا ر ز ښـتـو نـو لـه مـدا خـلـې نـه ځان ساتی، اوهغه په زشتونومونو یادوی، لکه بورژوا ، سر مـایــه دار، یـاغـیر دیمو کراتیك‌او‌مطلق العنان، یاترهغو نورهم پسې زشت‌لکه غیر- انګلیسی، اوغیر- امریکایی.مطلق معیار یاارزښت چې‌له‌جامعې اوتاریخ نه‌مجرداوسواوي ،هغو مره وهــم اوغیـرواقعیت دی، څومره چې یومجرد فرددی. جد ي مورخ هغه څوك دی‌چې‌دتږولوارزښتو نوتاریخی‌خصوصیت پیژنی ،نه‌هغه‌مورخ چې‌دخپلو ارزښتو نو دپاره له تاریخ نه بهردکوم افاقیت ادعاکوی . هغه عقاید چې مونـږ یـې پـیروی کوو ،اودقضاوت هغه معیارونه چې مونږ یې طرح‌کوو، دتاریخ یوه برخه ده، او هغومره دتاریخی تحقیق تابع دی ، څومره چې دبشری سلوك هر اړخ دتحقیق تابع

دی. نن ورځ به یوازې یو څوساینسونه، او تر ټولو لږ اجتماعی ساینسونه، د پوره آزادی ادعاوکړی. خو تاریخ له ځان څخه دباندې په داسی کوم شی اساسی اتکانه لری چې هغه به له کوم ساینس څخه بیل کړي .

اوس به ددغې ادعاپه باب، چې تاریخ دې په ساینسونوکې حساب شي، دخپلو ویناوولنډیز وړاندې کړم. دساینس کلمه، لاپخوا تر دې دعلم بیلې بیلې څانگې په غېږ کې نیسی، او له‌دومره‌ډېرو مختلفو طریقو او تخنیکونو نه کاراخلې، چې ښکاری بار دهغو کسانو په‌اوږو یاتوی، چې‌غواړي‌تاریخ له‌ساینس نه‌وباسی نه‌دهغو کسانو په‌اوږو چه‌غواړی تاریخ‌پکښې شامل کړی. مهمه‌داده‌چې‌دبیرونشمیر لودلایل بې‌دساینس‌پوهانو له خوا څخه نه وړاندې کیږی، چې‌مورخان له‌خپلې‌غوره دلې‌څخه بهرکړی، بلکه‌دمؤرخانو اوفیلسوفانو له خوا وړاندې کیږی، چې هڅه لری، تاریخ داد بیاتوبوه څانگه ثابته کړی. دبشری علوموا وساینس ترمنځ دامناقشه دهغه پخوانی ویش تعصب‌ښیئ چې په هغوسره داسې‌فرض شوې وه چې‌بشری علوم‌دحاکمه طبقې‌پراخ ثقافت‌تمثیلوی اوساینس دتخنیك پوهانومهارت افاده‌کوی. د«بشریات، اوبشری»الفاظ په‌خپله په همدغې قرینې کې دهمدغه وخت دتعصب بقایادی. اودغه حقیقت چې‌د ساینس اوتاریخ‌ترمنځ ضدیت‌له بلې‌هرې ژبې‌نه‌غیر، یوازې په‌انگریزی کې‌مفهوم‌لری، ښیي چې دغـه تعصب یوازې خاص خصوصیت لری. زمالوی اعتراض چې تـاریخ په ساینس کې ونه شمیرل شي دادی‌چې‌دغه انکاردتش په نامه«دوه ثقافتونو»ترمنځ درزحق په جانب‌ښیی، اودایمی کوی یې. دغه درز پخپله دهمدغه زاړه تعصب محصول دی، چې دبریتانیایی جامعې په ساختمان، چې‌هغه پخپله په‌ماضی‌اړه‌لری بنادی. . زه په خپله په دې قانع نه یم چې هغه درزچې مورخ له جیالـوجي پوه نه بیلوی، له هغه درزڅخه چې جیالوجی پوه له فزیك پوه څخه بېلوی، د یرژور اودنه پیښېدلودی. خوزماپه فکرهغه طریقه چې په هغی سره درزورك شي، دانه‌ده

چې مورخانوته دی ابتدائی ساینس وښودل شی، یاساینس پوهانوته ابتدائي تاریخ وښودل شی. دایوه کږه لاره ده چې کازه تفکرپرې روان کړی یو. ساینس پوهان په خپله دغسې سلوك نه کوی. ماهیځ اوریدلی نه دی، چې انجنیرانوته دې سپارښتنه شوی وی چې دنبات پېژندنې په ابتدایی صنفوکې دی درس ووایی ؟

یوعلاج چې زه یې غواړم پیشنهادکړم دادی چې دخپل تاریخ معیارهسك کړو یاکه زه زړه کولی وشم ووایم چې خپل تاریخ نورهم علمی کړو، اوله هغوکسانو څخه چې تاریخ تعقیبوی، جدی غوښتنې وکړو. تاریخ پهدغه پوهنتون [کیمبرج] کې دیوه اکاډمیك دسپلین په حیث کله کله دهغوله خوا چې لرغوني عاوم له حده گران اوساینس ډیرجدي‌مومی، دیوه ډیرآسان مضمون په‌حیث گنبل کیږی. یونظر چې غواړم په د غولیکچرونوکې یې ښکاره کړم دادی چې تاریخ ترلرغونوعلومو ډیرمشکل اودهرساینس په څیریوجدي مضمون دی ،خوداعلاج پهخپله پهمورخانو کې چې څه کوی، دیوې قوی عقیدی لرل لازمه کوی. سرچا رلزسنو، په همدغې موضوع کې په یوه تازه لیکچرکې یومطلب ښکاره کړاوداهغه وخت چې‌دهٔدساینس پوه «عجولانه» خوش بینی له «غلی‌شوی اواز»او«ضداجتماعی احساس» سرهٔمقایسه کړاوهغه یې «ادبي‌روشنفکر» ونوموه ۹۳. ځینې مورخان، او زیاتره هغه کسان چې دتاریـخ په باب لیکـنې کوی، بې له دې چې مورخـان وي ، دهمـدغـو «ادبي‌روشنفکرانو» پهنوع پورې اړه‌لري. دوی‌پهدې بوخت‌دی‌اوواییچې‌تاریخ ساینس نه دی، اوپه دغه تبلیغ لگیادی چې تاریخ هیڅ شی کولی نه شی ،اودغه څه باید هیـځ ونه کړي اودغسې باید وی، اودوی دتاریـخ دسترو مـوفقیتـونودپـاره وخت نه لری .

بله چاره چې هغه درز پرې پټ شی دادی چې دساینس پوه اومورخ دغایـو دمطابقت اوعینیت ترمنځ لا ژورفهم زیات شي اودادهغې وارپه وارزیاتید ونکې

۹۳ - اس . پی . سنو، دوه ثقافتونه اوعلمی انقلاب (۱۹۵۹). مخونه ٤-۸ .

علاقې دنوی ارزښت تمثیل کوي چې دساینس دفلسفې اودتاریخ په باب ښودله کیږی . ساینس پوهان ، اجتماعی ساینس پوهان ، اومورخان ټول د همغې یوې مطالعې په مختلفو اړخونو بوخت دی . او هغه داچې دهغه دمحیط په باب دانسان فهم ، اوحاکمیت زیات کړی . د فزیك پوه ، جیولوجی پوه ، روحیات پوه ، اومورخ رومبنی فرضیې اوطریقې په تفصیل کې سره پراخ توپیرلری ؛ او زه نه غواړم ځان هغې فرضیې ته منسوب وبولم چې مؤرخ دد ې دپاره چې نور هم علمی شی ؛ باید د فزیك پوه طریقې گام په گام او ډیرې نزدې تعقیب کړی .مگرمؤرخ اوفزیك پوه دتشریح لټولو په اساسی مقصداود سوال اوځواب په اساسی طرزعمل کې سره متحد اویودی . دبل هرساینس پوه په څیر، مؤرخ هم داسې یوحیوان دی چې پرله پسې پوښتی «ولی ؟ » .په بل لیکچر کې به هغه طریقې وڅیړم په کوموسره چې دی دولې سوال طرح کوی ، او بیاز یار باسی چې ځواب ورته ووایی .

# په تاریخ کی علت مېندنه

که شیدې په جام کې وزوښولې شي، سر کوي، زه نه پوهېږم او هېڅکله مې نه دي غوښتي چې پوه شم ولې دغسې کېږي. خو که مې څوك ټینګ کړي، نو ممکن د سر کولو حادثه د شیدو په خاصیت پورې تړلې وګڼم چې ممکن درسته به وي خو هېڅ څیز نه شرح کوي، خو بیا زه کوم طبیعي ساینس پوه نه یم. په همدې توګه، یو څوك کولی شي د ماضي د پېښو په باب لیکنې او اوستنې وکړي، بې له دې چې وغواړي په دې پوه شي، هغه ولې پېښېږي، یا په دې قانع وي چې وو ایې دوهم جهاني جنګ په دې پېښ شو چې هټلر جنګ غوښته. دا هم سمه ده، مګر هېڅ څیز نه شرح کوي. خو په دغه صورت کې دی باید دا غلطي ونه کړي چې ځان مؤرخ یا د تاریخ محصل وګڼي. د تاریخ مطالعه د علتو نو مطالعه ده. څنګه چې مې د روميې لیکچر په آخر کې وویل، مؤرخ پرله پسې پوښتي چې «ولی؟» او تر هغو چې دی د ځواب په امید وي، ارام کولی نه شي. ستر مؤرخ ـ یا باید تر دغه په پراخه توګه و وایم ـ ستر مفکر ـ هغه څوك دی چې د نویو څیزونو یا نـویو قرینو په باب د «ولی؟» پوښتنه کوي.

هیرودوتس، د تاریخ پلار، د خپل اثر په مقد مې کې خپل مقصد داسې بیان کړ چې هغه د یونانیانو او بربریانو د کړنو د خاطر وساتل، «او په تیره بیا د هر بل څیز نه علاوه، د دوی د یو تر بله جنګ کولو علت ښوول دی.» ده په لرغوني یونان کې یو از یې یو څو نوي شاګردان او طرفداران وموندل حتی توسیدایدز (۱) په دې تومتې شوی دی

۱. Thucydides

چې ده دعلت مېند نـې کوم واضح مفهوم نه لاره (۲) خوپه اتلسمې پېړۍ کې څه وخت چې دعصری تاریخ لیکنې تاداو کښېښودشوموتسکیو (۳) په خپل اثر ،دروما نیانو دستر توب علتونه اود هغوی دظهوراو انحطاط په باب تفکرات ، کې دا اصل دیوه گرزوونکی تکی په حیث وښوده چې «عمومی علتونه، اخلاقی یافزیکی ،موجود دی چې په هرې پاچایې کې عمل کوی ، هسکوی یې ، ساتی یې ، او رنګوی یې» او یاداچې « هرڅه چې پیښیږی دهمدغوعلتونو تابع دی .» یوڅوکاله وروسته ، ده په خپل بل تألیف ، روح القوانین کې همدغه مفکوره منکشف اوتعمیم کړله . دابې مفهومه ده چې فرض شی ، «تول هغه معلولونه کوم چې مونږیې په جهان کې وینو، وړانده قسمت خلق کړی دی.» انسانان «دخپلوتخیلاتو په وسیله په بې جوړې دول اداره شوی نه » وو . ددوی سلوك ځینې قوانین یا پرنسیپونه تعقیب کړل چې د «اشیاوله طبیعت » (٤) څخه پیدا شوی وو . لـه هغه نه وروسته تقریباً په دوه سووکالونوکې مؤرخان اودتاریخ فیلسوفان په دې سخت بوخت وو چې دبشرماضی تجارب متشکل کړی اوداکاردهغوتاریخی پیښود علتونو اوقوانینوپه کشف کواوسره سرته ورسوی چې دغه پیښې اداره کوی . علتونـه او قوانین کله میخانیکی وګڼل شول ، کله بیولوجیکی . کله هم په متافزیکی نومونو یادشول ،کله په اقتصادی ، او کله په روحیاتی . خوداملې شوې نظریه وه چې تاریخ دماضی دپیښودعلت اومعلول په یوه منظم لړ اوتسلسل کې ترتیبول وو . ولتیر (٥) دائرة المعارف ته دتاریخ په باب په یوې مقالې کې ولیکل چې «که ته له دې نه په پرته چې داموردریااوسردریاپه غاړوکې یوبربردبل بربرپه ځای راغی

۲. اف . ام .کرنفورد، Thucydides Mythistoricus, Passim
۳. Montesquieu فرانسی حقوق پوه اوفیلسوف (م)
٤. روح القوانین، مقدمه او لومړی فصل.
٥. F. M. A. Voltair (١٦٩٤ - ١٧٧٨) فرانسیی فیلسوف او مولف . (م)

بل څه مونږ ته ویلی نه‌شی، هغه مونږ ته څه گټه لری؟» په دغوو روستیو کالونو کې دغه شکل څه‌اوښتی دی. په‌دغوو ختو کې، دهغو دلیلونو په اساس چې: ه په‌تیر لیکچر کې پرې وغږیدم نورنومونږ له تاریخی «قوانینو» څخه نه غږیږو. حتی د «علت» کلمه هم یوڅه اه فیشن څخه لویدلې ده. یوعلت یې هغه فلسفی ابهامات دی، چې نه غواړم دلته یې وسپړم. بل‌علت یې له معینیت یاجبرسره دهغه مفروض ارتباط دی، چې اوس به پرې بحث وکړم. نوځینې خلق اوس په تاریخ کې له «علت» څخه خبرې نه کوی، بلکه له «تشریح» یا «تعبیر» یا «دموقعیت له منطق» یاد «پیښو داخلی منطق» (دا ددایسی* کلمات دی) څخه‌غږیږی اوعلیتی‌میتود «ولې پیښه‌شوه؟» ردوی، اوپه ځای یې وظیفوی میتود «څنگه پیښه شوه؟» غوره کوی، که څه هم داروشس حتماً دا پوښتنه چې څنگه پیښه شوه، له ځانه سره‌لری اومونږ بیرته د(ولې ؟) پوښتنې ته بیایې. نور کسان دعلت دمختلفو اقسا موترمینځ فرق کوی لکه تخنیکی، بیالوجیکی روحیاتی او نور- اوتاریخی‌علت ځانله بیله نوع بولی. که څه‌هم‌دغه فرقونه تریوې درجې داعتبار وړدی، دابه ډیره مفیده وی چې دموجود مقصد دپاره‌په‌هغه‌څه ټینگار وشی کوم‌چې‌دعلت په ټولوانواعو کې‌مشترک وی، نه‌داچې یوتربله یې سره بیلوی. زه پخپله په دی راضی‌یم‌چې‌د«علت» کلمه په عمومی‌مفهوم سره استعمال کړم اودغه نورخاص تعبیرونه هیروگڼم.

اوس به‌په دې پوښتنی‌پیل‌وکړوچې یومورخ‌هغه وخت چې‌مجبورشی واقعاتو ته علتونه منسوب کړی، په عمل کې څه کوی، دمورخ دمیتود لومړنی خصوصیت دادی چې ممکن دی همغې یوې پیښی‌ته په مشترک ډول څوعلتونه منسوب کړی. داقتصاد عالم، مارشال یووخت لیکلی وچې «خلق باید په‌هرې ممکنې وسیلې‌سره دیوه علت له نظرنیولو نه‌خبردار کړل شی . . . . . بې له‌دې‌چې‌نورعلتونه‌په‌نظر کې‌ونیول‌شی کوم‌چې دهغوی تاثیرات‌پرې وارد شوی‌دی»(٦) دازمونږ کاندید که‌ددغې‌پوښتنې په‌ځواب

٦. د الفرید مارشال یادگارونه؛ دای. سی. پیگو چاپ (۱۹۲۵) مخ ٤٢٨
*: Dicey

کې چې « په ۱۹۱۷ کې ولې په روسیې کې انقلاب پېښ شو ؟ » یوازې یو علت و وایه دی به نیکمرغه وی که په اخری درجه هم کامیاب شی . مورخ دعلتونو له کثرت څخه بحث کوی . که له ده څخه وغوښتل شول چې دبولشویکی انقلاب علتونه بیان کړی ، ممکن دی دغه علتونه ونوموی : دروسیې پر له پسې نظامي شکستونه ، دجنګ ترفشار لاندې دروسیې داقتصاد سقوط ، د بولشویکانو تاثیر ناکث تبلیغ ، دزراعتی مسئلې په باب دتزاری د حکومت ناکامی ، د پیترو ګراد په فابریکو کې د استثمارشویو اوز بیښل شویو کارګرو تمرکز ، دغه حقیقت چې لینن پوهیده چې څه کوی ، او په هغې بلې خوا کې بل هیڅوک نه پوهیده ، او لنډه دا چې داقتصادی ، سیاسی ، مفکوره یي او شخصی علتونو د اتفاقی او بې ترتیبو علتونو مجموعه ، اودلنډې مودې او اوږدې مودې علتونه .

خو دا مونږ سمدلاسه دمورخ دمیتود دوهم خصوصیت ته نږدې کوی . هغه کاندید چې زمونږ د پوښتنې په ځواب کې په دې قانع او راضي او سی چې دروسیې د انقلاب په باب یو درجن علتونه یو په بل پسې بیان کړی ، او همدغسې یې پرېږدی ، ممکن په دوهمه درجه کامیاب شی ، او یوازې کله کله به په لومړی درجه کامیاب شی ، دممتحنینو حکم ممکن داوی : « ښه خبیر مګر غیر مبتکر » . حقیقی مورخ څه وخت چې دخپل تالیف د علتونو له لست سره مخامخ شی ، د وظیفې په لحاظ به ممکن ځان مجبور وو ینی چې په علتونو کې نظم پیدا کړی ، دعلتونو سلسله مراتب تثبیت کړی ، او دیوه بل په نسبت دهغوی مناسبت وټاکی ، ممکن دا فیصله وکړی چې کوم علت یاد علتونو کومه نوع باید « په وروستی مراجعه کې » یا « په نهایي تحلیل کې » (د مؤرخانو مطلوب اصطلاحات) نهایي علت ، یا دعلتونو علت وګڼل شی . دموضوع په باب دادده خپله توجیهه ده . مورخ په هغو علتونو م ګټې چې دی یې مومی . ګیبن دروم دامپراتوری هسکیدل او رنګیدل دبربریت او مذهب کامیابي ته منسوب وګڼل . دنونسمې پیړی د انګلیسی وګ مورخانو د برتانیا قوت او شتمنی دسیاسی موسساتو انکشاف پوری په کومو کې چې د اساسی ازادی پرنسیپونه مضمر وو ، منسوب کړل . نن ورځ ګیبن

اودنونسمې پیړۍ انګلیسي مورخان له موده لوېدلي ښکاري په دې چې دوی اقتصادي علتونه چې معاصر مورخان یې ترنورو علتونو دمخه بولي، هیر کړي دي. هر تاریخي بحث د علتونو درومبیتوب په مسئلې باندې څرخیږي .

هنري پواین کره ، په هغه اثر کې چې ما په لومړي لیکچر کې تري اقتباس کړی و، ویلي چې ساینس په عین وخت کې «دتنوع او پیچلتوب» او د « اتحاد اوساده توب» په لور په مخ ځي او دغه دوه ګونه او په ظاهر کې متناقضه ، عملیه دعلم یوضروري شرط دی. (۷) دتاریخ پــه باب دغــه حــکـم هــم لــږ صدق نه کـوي . مـورخ دخپلې څیړنې په پـراخه کولاوژور کولوسره پـراله پسې د « ولې؟ » دپوښتنې دپاره ډیر ډیر ځوابونه تهیه کوي. په دغونږ دي کالونو کې، داقتصادي، اجتماعي، ثقافـتي، اوحقوقي تاریخ ، دسیاسي تاریخ دپیچلتوب اودروحیات اواحصائیو دنو یو تخنیکونو په باب خولانوی بصیرتونه پربږدي - زمونږ د ځوابونو شمیرزیات او میدان ښه پراخ کړی دی . څه وخت چې برتراند رسل مشاهده کړله «په ساینس کې هر پرمختګ مونږ له ساده متحدوشکلونو څخه چې لومړي دسابقي اونتیجي په زیات تفاوت کې مشاهده کیږي دسابقوو هغې دوام لرونکې پراخې دایرې ته بیایي چې دمرتبطو په حیث پیژندل کیږي » ۸ده په تاریخ کې حالت په سمه توګه څرګند کړی دی. خومورخ ددې دپاره چې په ماضي پوهشي، په عین حال کې دساینس پوه په شان، مجبور دی چې دځوابونو زیات شمیر ساده کړي، یوځواب د بـل ځـواب تابع وګرزوي،اود پیښواومشخصو علتونو په ګډوډۍ کې نظم او اتحاد راولي . « یوخدای، یو قانون، یو عنصر،اویوه لیرې اسماني پیښه» یاد «کوم سترتعمیم دپاره چې د یوه شخص درو زل کیدلو دفریاد

۷. هنري پواین کره، ساینس او فرضیه (۱۹۰۲) مخونه ۲۰۲ - ۲۰۳

۸. بي . بر ترانډرسل، تصوف او منطق (۱۹۱۸) ، مخ ۱۸۸.

غمه به یوځل وخوری»۹ دهنری ادمز لټه - داټول اوس دله موده لویدلو تو کوپـهشا شکاری. خوحقیقت دادی چې مورخ باید دعلتونوپه ساده کولو ، اوهم دهغوی په ډیر کولوسره کاروکړی. تاریخ دساینس په څیر، دهمدغې دوه ګونې، اوپه ظاهر کې نقیضې، عملیې له لارې په مخ درومی .

دلته بایدزه زړه نازړه ددې دپاره په خوا و ګرزم چې په دوومزه ناکوموانعوبحث و کړم کوم چې زمونږ په لارې باندې ایستل شوی دی- یو یې نومیږی «په تاریخ کې معینیت» یاد «هیګل شرارت». او بل یې نومیږی « په تاریخ کې تصادف ، یاد کلیو پاتراپزه» . لومړی باید په دې باب یو څه و وایم چې دوی څنګه دلته ځای کړل شوی دی. پروفیسر کارل پاپر د۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰ پورې په لسو کالونو کې په و یاناکې په ساینس کې دنوی نظر په باب یو درونه کتاب و لیکه (په دغو وختو کې دغه کتاب په انګریزی کې دعلمی تحقیق منطق په نامه ترجمه شوی دی) ،اود جنګ په دوران کې یې دوه نور کتابونه په انګریزی کې ولیکل چې تر دغه ډیرمشهور ردی او هغه دادی: خلاصه جامعه، اوغلیمان یې ،اودهستوریسزم فقر. (۱۰) داکتابونه هم دهیګل په ضد دعکس العمل د نوی جذباتی نفوذ په وجه لیکل شوی، چې دهیګل یکې له افلاتون سره یوځای دنازیزم سلف بنوول شوی دی، اوهم دهغه یو څه کاواکه مارکسزم په ضد کښل شوی دی چې د۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰ پورې په لسو کالونو کې دبرتانیایی چپیانوعقلانی فضاوه . دوه عمده هدفونـه یې دهیګل او مارکس دتاریخ هغه ادعاشوې جبری فلسفې دی

---

۹. د هنری ادمز روزنـه (بوستون، ۱۹۲۸) مـخ ۲۲٤.

۱۰. د هستوریسزم فقر ، اومړی په ۱۹۵۷ کـی دکتاب په شکل په ویاناکـی خپور شـو ، مـګردغه کتاب لـه هغو مقالـو څخـه جوړدی چـی لومړی پـه ۱۹٤٤ او ۱۹٤۵کـی خپـری شـوی دی.

چې‌ده دوا ړه د «هستور یسزم»(۱۱) په کرښته نامه عنوان کړی دی. په ۱۹۵٤ کې سرایسایه برلین‌دتاریخي‌حتمیت په نامه مقاله خپره کړله . ده دافلاطون په ضدانتقاد له قلم څخه وغورځوه، اودغه ممکن‌دا کسفورددموسسې دهغې پخوانی ستنې دپاره دیوځه پاتې‌شوی احترام له مخې وی، ۱۲ مګر دبحث په حکم کې یې علاوه کړله چې دمارکس اوهیګل«هستوریسیزم » په د ې داعتراض وړ د ی چې په علتی میتود سره دانسانی کړ نوشرح کول دانسان‌دازادې ارادې دانکار مفهوم لری . اومورخان زره ور کوی چې له خپلوفرضی‌وجایبوڅخه (چې ما په اخرنی اېکچر کې پرې بحث

۱۱. ما دهستوریسزم ( historicism ) د لفظ له استعمال څخه‌ډډه کړی‌ده. بوازی مې په یوه یا دوه ځایو کې راوړی دی؛ چې هلته دقیق توب ضروری نه و. علت‌یې دادی چې دپروفیسر پاپرلیکنو چې ډیر لوستونکی یې ارلی دی؛ دغه اصطلاح له دقیق او مشخص مفهوم څخه خالی کړی ده. د اصطلا حاتو د تعریف په باب دایمی ټینګار فضل فرو شی ده. خو یو څوك باید په دې‌پوه وی‌چې له څه څیزنه بحث کوی او پروفیسرپاپر (هستوریسز م) د همه‌ګیر لفظ په حیث د تاریخ په باب د هغه نظر دپاره راوړی چې د ده ښه نه ایسی . په دغه تعریف کی داسی نظرونه هم شامل دی ، چې څه‌یې زما په فکر سم د ی ، اونور یې نن ورځ مورخانوته جدی نه‌ښکاری څنګه چې دی (دهستوریسزم فقر : مخ ۳) اعتراف کوی دی دهستوریسست ( historicist ) هغه دلایل اختراع کوی چه کوم‌بل معلوم (هستوریسست) نه دی استعمال کړی. د ده په لیکنوکی هستوریسیزم هغه نظریات احتوا کوی، چې‌هم تاریخ په ساینس کی جذبوی، او هم دواړه یو ترېله په واضح ډول سره بیلوی. په ( خلا صه‌جامعه) کی ، هیګل چې له پیش ګویی کولو څخه ډډه کړی ده ، دهستوریسزم د ستر ملا په حیث ښودل شو ی دی . د هستوریسزم فقر په تالیف کی هستور سیزم داسی تعریف شوی‌دی لکه «د اجتما عی ساینسو نوهغه میتو د چې تا ریخی پیش ګو یی خپل عمده مقصد ګنېی » تر اوسه ( هستور یسزم ) په عمومی‌ډول په انګریزی‌کی د جرمنی د ( historismus ) په عو ض استعمال شوی‌دی . اوس پروفیسر پاپر ( historicism ) له ( historism ) څخه بیلوی ، او په دغه دول دی دلا پخواتردی په‌مغشو شی مستعملی اصطلاح کی د مغشوشیت یو بل عنصر ا ضافه کوی . ایم سی . دارسی ، د ( historicism ) کلمه د تاریخ له فلسفی سره یوه ګنېی . د تاریخ مفهوم: دنیایی او مقدس (۱۹۵۹) مخ ۱۱ .

۱۲. په افلا تون باندی د لومړی فاشست تور اومړی د اکسفورډ د یوه شخص‌آر. اچ.کراسبین ،له‌خوا په یولړ برو دکا ستونوکی لګول شوی وو. کراس بین ؛ افلا تون، نن ورځ (۱۹۳۷) .

و کړ) غاړه وغړوی او هغه داچې دتاریخ په شارلمانانو، ناپلیونانو، اوستالینانو باندې اخلاقی محکومیت صادر کړی . خوسرایسایه برلین په حقه سره یو محبوب ایکوال دی ، او د ده اثار ډیر لوستونکی لری . په تیرو پنځو یا شپږو کالونو کې په دغه ملک (برتانیا) اودامریکی په متحده ایالتونو کې تقریباً هرچاچې دتاریخ په باب کومه مقاله لیکلې ده ، اویا یې په کوم تاریخی اثر جدی نقد کړی دی ، په هیگل، مارکس، او معینیت یې دانتقاد سپک او بې پرواځتیکونه وار کړی دی ، اوپه تاریخ کې یې دتصادف د رول د تشریح په باب دنا کامی بې مفهومی ته اشاره کړې ده . دا به ممکن بې انصافی وی چې سرایسایه برلین دې دخپلو شاگردانو دپاره مسئول وگڼل شی. حتی کله چې دی نا مفهومات هم وایی ، په دغسې جذابه توگه یې افاده کړی ، چې زموږ پام ځانته کوی . شاگردان نا مفهومات تکرار کوی ، مگر نه شی کولی چې جذاب یې کړی . په هرحال په دغو ټولو کې څه نوی شی نه شته . چارلز کنگز لې ۱۳ چې زمونږ دمعاصر تاریخ د سلطنتی پروفیسورانو ډیر روتلی پروفیسر نه دی ، اوپه غالب گمان چې دهیگل اثار به یې هیڅ لوستلی نه وی، اوله مارکس څخه به یې لااوریدلی هم نه وی ، په ۱۸٦۰ کې په خپل افتتاحیه لیکچر کې دانسان «دخپلې هستی دقوانینو دماتولوله مرموز قوت» څخه خبرې وکړلې اودایې دثبوت په حیث مثال راوړچې په تاریخ کې هیڅ «حتمی سلسله» وجود نه لرلی نه شی . ۱٤ خوله ښه مرغه مونږ چارلز کنگزلې هیر کړی دی . اودا پروفیسر پاپراوسر ایسایه برلین دی چې دواړو په دغه ملک کې دغه مړاس د قمچینې په زورنیم ژواندی کړی دی . نو اوس یوڅه صبر لازم دی چې دغه گډوډی ایسته کړله شی .

نو لومړی به په معینیت وگریزم او هغه به هیله کوم چې په غیر متنازع فیه ډول

۱۳. C. Kingsley (۱۷۷٥ - ۱۸۱۹) انگلیسی ناول لیکونکی او مورخ . (م)

۱٤. چارلز کنگزلی ، د ساینس دقیق حدود چې په تاریخ تطبیق کیږی، ( ۱۸٦۰ ) مخ ۲۲.

تعریف کړم اودغسې عقیده به یې وګنېم چې‌هرڅه چې واقع کېږی،علت یاعلتونه لری اوپه بل ډول به واقع شو ی نه وای چې ترڅو یې په علت یاعلتونو کې کوم شی مختلف شوی نه وای . ۱۵ معینیت یوازې دتاریخ نه ، بلکه دټول انسانی‌سلوك مسئله ده . هغه بشرچې کړنې یې علت نه لری ، اوپه دې ډول هغه ټاکلی شوی نه دی ، دومره مجردې دی لکه څومره چې فرد لـه‌جامعې څخه بهروی ، په‌کوم‌چې مونږ په یوه رومبنې لېچکر کې وغږیدو. دپروفیسور پاپراعتراف چې «په‌انسانی‌چارو کې هر څـه کېدونکی وی »۱۶ یا بـی معنی یا دروغ‌د ی .په عادی ژوندانه‌کې هېڅ څوك په دغه اعتراف عقیده نه لری ، اویا پرې عقیده کو لی نه شی . دا قاعده چې هرڅېز یوعلت‌لری، زمونږ داستعدادهغه‌شرط دی‌چې‌په‌هغه‌سره په‌هغوڅېزونو پوهیږو چې زمونږشاوخواواقع کیږی ۱۷ . دکفکا۱۸دداستانونوخېپه‌کی رقمه کیفیت په هغه حقیقت‌کې پروت دی ، چې وا یـی هرڅه چې واقع‌کیږی ، واضح علت، یاداسې کوم علت نه لری چې‌هغه دې د ټاکلوړوی او دادانسانی شخصیت په هغې کاملې تجزیې سره منجر کېږی ، کوم چې په دغـې‌ګـڼـنی بنادی ، چې وقایع‌علتونه‌لری، اودغوعلتونو کافی‌شمیرد معلوم‌ولوورډی چې‌دانسان په ذهن کې‌دماضی‌اوحاضرې زمانې یوه طرح جوړه‌کړی ، داسې چې هغه په‌کافی اندازه منسجمه وی ترڅوچې

۱۵ . معینیت....دا معنـی لری....چـی، مفروضات چـی څنـګه دی ، هغـی وی، هر هغه څه چـی پیښیږی په قطعـی دول پیښیږی او مختلف کیدلـی نه شـی . که په دغی عقیدی شی چـی کیدلـی شی، یوازی دامعنی‌لری چـی که مفروضات مختلف وای. (اس. ډبلیو. الیکزاندر،ارنست کسایرر (Ernst cassirer) ته تقدیمی شـوی مقالـی ، ۱۹۳٦، مخ ۱۸ )

۱٦. کـی . آر. پاپر ، خلا صـه جامعه (دوهـم چاپ، ۱۹۵۲) ii ، مخ ۱۹۷.

۱۷. (د علیت قانون په مونږ باندی د جهان له خـوا تحـمیل شوی نه دی، بلـکه ممکن زمونږ د پا ره هغه د یره اسانـه طر یقـه وی چـی په هغـی سره مو ئږ لـه جهان سره‌ځانته وفـق ورکـوو) (چـی . رویف ، نه فزیـکی څخـه و اجتماعـی ساینسونـوتـه، با لتیمور، ۱۹۲۹، مـخ ۵۲) .

۱۸. Kafka

د کړو د پاره لارښود وګرزی . ورځنی عادی ژوند به ناممکن وی چې ترڅو یو څوك دغسې و نه ګڼی چې انسانی سلوك او کردار په علتو نوسره تیاکـل کیږی ، اودغه علتونه په اصل کې دمعلومېدلو وړدی . یووخت خلقو داکفر ګڼه چې دطبیعی حادثو په علتونو کې تحقیق و کړی ، اودهغواداره یې واضحاً داسمانی ارادې په واك کې ګڼله . ددغی تشریح په مقابل کې د سرایسایه برلین ، اعتراض چې انسانان ولې هغه اعمال کوی ، کوم چې کوی یې، په دغه دلیل چې دغه اعمال دانسانانو دارادې زیږنده دی ، دهمهغو مفکورو په نظم پورې اړه لری ، اوممکن داښکاره کړی ، چې اجتماعی علوم نن ورځ دانـکشاف په هغه پړوا کې دی ، کوم چې یووخت طبیعی علوم وو یعنې هغه وخت چې دغسې دلایل دهغو په ضد راوړل کېدل .

اوس به وګورو چې مونـږ په ورځنی ژوندانـه کې دغه مسئله څنګه وینو . هغه وخت چې تاسې په خپلو ورځنیو چارو پسی ځی ، تاسی دعادت له مخې له (سمت) سره مخامخ کیږی . په روغ وبر کې له هغه څخه دهوا، یادپوهنځی او یاد پوهنتون دحال په باب صمیمی مګربې مقصده پوښتنه کوی . دی هم په مقابـل کې دهوا یا دنوروچـارو په باب صمیمی مګربې مقصده ځواب وایی . خوداسې وګڼئ چې (سمت) کومه ورځ ددغسې عادی اوصمیمی ځواب په ځای ستاسی دشخصی صورت یا اخلاقو په باب یوه ډیره تنده او ترخه خبره وکړله . ایاتاسې به خپلې اوږې وښوروئ او هغه به د (سمت) دارادې دازادی او یا د دغه حقیقت چې په انسانی چارو کې هر څه کېدونکی دی، یوقانع کوونکی اثبات ومومی ؟ ګمان مې نه شی . برخلاف، تاسې ممکن دغسې یو څه ووایی : « بیچاره ګړتهی سمت ! تاسې خبریې چې پلار یې په عقلی روغتون کې مړشو»، « بیچاره سمت ! له ماینې سره به یې بیاحال تریخ شوی وی . » په بل عبارت ، تاسې به زیاروباسی چې دسمت په ظاهر کې بې علته سلوك علت تشخیص کړی او په دغې عقیده به ټینګ اوسی چې دهغه سلوك اړومرو علت لری .

خوزه په دې ویره کې یم چې تاسې به په دغې وضع سره دسر ایسایه برلین قهر وغضب ځانته جلب کړی، ځکه چې دی ممکن سخته گیله وکړی، چې تاسې دسمت دسلوك په باب دعلت میندلـ ـو په کوښښ سره دمار کس اوهیگل دمعینیت فرضیه منلې ده، اوله دغه مسئولیت څخه موغـاړه غړولـې ده چې په سمت دیوه اواره اوبې تربیې حکم وکړئ. خو په عادی ژوندانه کې هیڅ څوك دغسې فکر نه کوی، اوداهم نه فرض کوی چې معینیت اویا اخلاقی مسئولیت په خطر کې دی. په حقیقی ژوندانه کې دازادې ارادې اومعینیت په باب منطقی معمی نه شته ده. داسې هم نـه ده چې ځینې انسانی اعمال ازاد اوځه یې تیاکلی شوی دی. حقیقت دادی چې تول انسانی اعمال د هغه نظر له مخې چې تاسې ورته گورئ، هم ازاد اوهم تیاکلی شوی دی. عملی مسئله بیاهم بیله ده. دسمت عمل علت یا یوشمیر علتونه لری. خوترهغه ځایه چې هغه دکوم خارجی اجبار معلول نه و، بلـکه دهغه دخپل شخصیت داجبار زېږنده و، دی په اخلاقی لحاظ مسئول گڼل کېږی، ځکه چې داجتما عـی ژونـد شرط دادی چې طبیعی بالغ انسانان دخپل شخصیت اخلاقی مسئولان دی. داچې تاسې به سمت په دغې خاصې مسئلې کې مسئول وگڼی، هغـه ستاسی په عملی قضاوت اړه لـری. خو که تاسې یـې مسئول گڼی، معنی یـې دانـه کېږی چې تاسې به دده عمل بـې علته گڼی: علت او اخلاقی مسئولیت مختلف انواع دی. په دغو نزدې وختو کې په دغه پوهنتون [کیمبرج] کې دجرم پېژندنې یوه مـوسسه افتتاح شوی ده. زه باور لرم چې هرهغه چاته به چې دجرم دعلتونو په تحقیق بوخت دی، دا فکر رانه شی چې دوی متعهد شول چې دا به نو دمجرم داخلاقـی مسئولیت دانـکار سبب شی.

اوس به یومورخ په نظر کې ونیسو. دیوه عادی انسان په څیر، دی په دغـې عقیده دی چې انسانی اعمال علتونه لری اوهغه معلوم کیدلی شی. تاریخ به دورځینی ژوندانه

په څیر ناممکن شی، چې که دغسې فرضیه و نه منله شی. دا د مورخ خاصه وظیفه ده چې دغه علتونه وسپړی اولوڅ یې کړی. ممکن دغسې فکروشی چې دغه به دی دانسانی سلوك په معین شوی اړخ کې په خاص ډول علاقمن کړی، خودی دازادې ارادې ردنه کوی، مګر دهغه هغه غیرمنطقی اساس ردکوی چې وایی ازاداعمال علت نه لری. داسې هم د حتمیت مسئله دی نه ربړوی. مورخان دنوروخلکوغوندې، کله کله په ادبې ژبه افاده کوی او د «حتمی» کلمه استعمالوی، مګر مقصدیې ترینه داوی چې دعواملو اتحاد یوه لوړ ته دیوه شخص توقع په شدت سره پیاوړې کوی. په دغړوختړ کې ماخپل تاریخ د دغې ربړوونکې کلمې دپاره ولټوه، او څانته دروغتیا پوره تصدیق ور کولی نه شم. په یوی فقرې کې می کښلی وو، چې د۱۹۱۷ له انقلاب څخه وروسته دبړلشویکانو او ارتودکسی کلیسا ترمینځ نښته «حتمی» وه. بې له شکه معقوله به داوای چې دهغه په ځای «بې نهایت محتمل» راغلی وای. خوایازه به عفوشم که ووایم دغه سمون ماته یوڅه کتابی معلومیږی؟ مورخان په عمل کې داسې نه ګڼی چې وقایع پخوا له دی چې پیښی شی، حتمی وی. دوی زیاتره په نوروالاروچاروبحث کوی، چې دداستان تمثیل کوونکوته خلاصې وی. دوی دغه بحث ددغې فرضیې په اساس کوی چې اختیار او دانتخاب حق دوی ته خلاص وو، که څه هم مورخان په سمه لاردرومې چې دوی تشریح کوی چې په پای کې ولې دعمل دغه لاره غوره شوله، او هغه بله غوره نه شوله. په تاریخ کې هیڅ شی حتمی نه دی، مګر په هغه صوری مفهوم سره چې دغه شی که په بل ډول پیښ شوی وای، باید دهغه رومبنی علتونه مختلف وای. زه د یوه مورخ په حیث دیته پوره ماده یم چې د «حتمی» «اجتناب ناپذیر»، «غیرقابل فرار» او «دچاره نه لرونکی» له کلماتونه غیر خپل مطالب افاده کړم. ژوند به لادیر یکنواخت شی. خوراځی چې هغه شاعرانو او د طبیعت نه اخوا پوهانوته ورپریږدو.

د حتمیت دغه توردومره وچ اوبې مقصوده ښکاری ، او هم هغه قوی شدت چې په هغه سره دغه ترمت په دغو نزدی کالونوکې تعقیب شوی دی ، دومره وچ ښکاره کیږی چې زما په فکر حتمی ده چې دهغو شاته دپټوسوایقواومحرکاتو دپاره لټون وکړو . زما په گمان چې د هغولویه منبع هغه ده چې زه به یې د«ممکن-وای» د فکری مکتب یا بلکه جذمی په نامه یادکړم . دایوازی په معاصر تاریخ پوری اختصاص لری . ماتیر کال دلته په کیمبرج کې یو عنوان ولید چې دکومې ټولنې له خوا اعلان شوی وو : « ایادروسیې انقلاب حتمی و؟ » زه باورلرم چې دا به یو جدی بحث و . خوکه تاسې ددغه عنوان اعلان ولولئ «ایادگلونوجنگ حتمی و؟» تاسې به سمدلاسه دکومې تیرکې گمان پری وکړی . مورخ دنور مان دفتح ، او دامریکې دازادی دجنگ داسې ذکرکوی چې لکه دهغو وقوع حتمی وو ، اودمورخ وظیفه اوس داده چې شرح کړی چې څه پیښ شول اوولې پیښ شول . هیڅ څوک به یې جبری ونه بولی اوپه دی به یې تومتی نه کړی چې یې ولی ونه شو کولی هغه لارې چاری اوامکانات ولټوی چې ممکن فاتح ویلیم ۱۹ اویادامریکی یاغیان مغلوب شوی وای . سره له دې هم څه وخت چې زه دروسی د انقلاب په باب همدغسې لیکنه کوم - یعنې په هغې یوازی مناسبې طریقې سره چې دمورخ دپاره خلاصه ده - منقدان په ما انتقادونه کوی . انتقادونه دادی چې وایی زما له لیکنو څخه داراوځی چې دواقعاتوشرح داسې شوی ده چې لکه دهغو وقوع حتمی وو ، اوپه دی موفق شوی نه یم چې هغه نورڅیزونه وڅیړم چې ممکن پیښ شوی وای . ویل کیږی چې فرض کړو ستالی پن ۲۰ کافی وخت لرلای چې دمحکو اصلاحات یې پوره کړی وای ، یاروسیه په جنگ کې شامله شوی نه وای ، ممکن انقلاب

۱۹. William the Conquerer (۱۰۲۷ - ۱۰۸۷) د انگلستان پاچا . (م)

۲۰. P. stolypin (۱۸۶۲ - ۱۹۱۱) له (۱۹۰٦ څخه تر ۱۹۱۱پوری) دروسیې صدراعظم .(م)

به پیښ شوی نه وای . یا فرض کړی چې دکرنسکی ۲۱ حکومت دهغه جبران کړی
وای ، اودانقلاب مشری دمنشویکانو یا اجتماعی انقلا بیونولاس ته ورغلې وای،
اودبولشویکانولاس ترې لنډوای. په نظری لحاظ دغه فرضیې تصور کیدونکی دی
اویوڅوک کولی شی دتا ریخ د « ممکن ـ وای » له طرفدارانو سره دننه په یوه
سالون کې تل لوبې وکړی . مګردا فرضیې په معینیت پوری هیڅ اړه نه لری، ځکه
چې جبری به یوازی دغه ځواب وواېې چې ددې دپاره چې دغه شیان پیښ شوی
وای ، باید دهغوی علتو نه هم مختلف شوی وای. داسې هم فرضیې په تاریخ
پورې هیڅ اړه نه لری . مقصد دا دی چې نن ورځ هیڅ څوک په کلکه سره نه
غواړی چې یادنورمان دفتح یاد امریکی دازادی نتایج معکوس کړی ، او یاددغو
پیښوپه مقابل کې شدید اعتراضونه وکړی اوهیڅ څوک به دی اعتراض نه کوی
چې مورخ هغه تمام شوی فصل ګڼی . خوداسې خلق ډیردی چې په مستقیم یاغیر
مستقیم ډول د بولشویکی انقلا ب له نتایجوڅخه زیا نمن شوی دی، یاتراوسه هم
دهغوله لیری نتایجوڅخه ویره لری . اوغواړی چې دهغه په ضداعتراضونه وکړی.
او کله چې دوی بیاتاریخ لولی ددوی اعتراض ددی سبب شی چې خپل تخیل دتولو
هغوموافقوخپرونوپه باب چې ممکن پیښ شوی وای ، یاغی پریږدی ، او هم ددې
سبب شی چې ځان له مورخ نه مرور کړی یعنې له هغه چا سره چې په ارامی سره
په خپل کاربوخت دی اوغواړی ددې شرح وکړی چې دغه شیان و لې پیښ شول
اوهغه موافق خیالونه ولې ناتکمیل پاتې شول . دمعاصرتاریخ مشکل دادی چې خلق هغه
وخت په یادلری په کوم کې چې دعمل دټولو انتخابونودپاره ورخلاص واودا ورته
مشکله وی چې دمورخ رویه یعنې دچاد پاره چې دهغوی اختیار دا جراشوی څیز ۲۲

۲۱. A. Kerensky (۱۸۸۱ ـ )د بولشویکی انقلاب نه د مخه په ۱۹۱۷ کې د روسیې د موقتی حکومت صدر اعظم . (م)

۲۲. Fait acompli

له مخې تر لې وي ، غوره کړي . دا يو صاف پاک جذباتي او غير تاريخي عکس العمل دي . خو د «تاريخي حتميت» دفرضيې دوکتورين په ضديې ددغې مبارزې دپاره دسړي ډيرمواد غونډکړي دي . را ځئ چې له د غه بنديزنه ځان دتل د پاره ازاد کړو .

دا نتقاد هغه بله منبع دکليوپاترادپزې مشهوره سخته معمى ده . دا هغه تيوري ده چې وايي تاريخ په عمومي ډول دحادثاتو يوفصل ، يادپيښو يولړدى ، چې تصادفي پيښو ټاکلي دي او يوازې ډيرو تصادفي علتو نو ته منسوب کيدلی شي . داکتيوم ۲۳ دجنګ نتيجه دهغوعلتونو په وجه نه ده ،چې مورخان يې په مشترک ډول طرح کوي ، بلکه له کليو پاترا سره دانتو ني د مين کيدلو په وجه ده . کله چې بجازت ۲٤دنقرس درنځ دحملې له امله په منځنی اروپا باندې له دانګلو څخه پاتې شو ، ګيبن دا نظريه اظهار کړله چې« يوتند و تور يخ خوي چې د يوه شخص په يوه واحد نسج حواله شي ،ممکن دملتو نو دبدبختي مانع شي ،يايې تال کړي . » ۲٥ کله چې په ۱۹۲۰ کې د يونان اليکزاندرپاچا ديوې کورنۍ شادي له چيچلو نه مړشو ، دغې پيښې يو لړحوادث مينځ ته راوستل ،چې سرونستن چرچيل داسې تبصره پرې وکړه : « ددغې شادي په چيچلوسره ديوه ميليون څلورمه برخه اشخاص مړه شول . » ۲٦ اوس بيا دتراتسکي هغه تبصره راواخلئ کومه چې ده دهغې تبې په باب کړې ده چې ده ته دايليو دښکار په وخت کې پيښه شوي وه او دي يې له زينا ويف۲۷ ، کا منيف ۲۸ او ستالين سره د ۱۹۲۳ په منۍ کې د جګړې په يوه ډيرحساس

۲۳. The Battle of Actium

۲٤. Bajezet

۲٥. د روم دامپراطورۍ انحطاط او سقوط، فصل LXIV .

۲٦. ونستن چرچيل، جهاني بحران: نتايج يې ، (۱۹۲۹) ، مخ ۳۸.

۲۷. G. Zinoviev (۱۸۸۳ - ۱۹۳٦) روسي بولشويکي مشر. (م) .

۲۸. B. Kamenev (۱۸۸۳-۱۹۳٦) روسي بولشويکي مشر (م)

وخت کې له کارنه وغورځوه : « یوڅوك کولـی شی د جنگ یا انقلاب پیش بینی وکړی ، مگر دا ممکنه نه ده چې په منی کې دوحشی ایلیود بنکار د سفر نتایـج پیش بینی کـړل شی . » ۲۹ لـومـړی څـیـزچې بایـد وا ضـح شی دا دی چـې دغه مسئله دمعینیت له مسئلې سره هیڅ اړه نه لري . له کلیو پاتـرا سره دانتونی مسحور کېدل یا د بجازت دنقرس حمله یاد تراتسکی سره لرې، هغومره په علیتی ډول سره تا کل شوی وو ، لکه څومره چې یوه بله پېښه کیږی . داد کلیو پاترا دښکلا بې لزومه سپکا وی دی چې وویل شی دانتونی مسحور کېدل هیڅ علت نه لری . د ښځې دښکلا او دنارینه د مسحور کېـدل لوترمینځ ارتبـاط دعلـت اومعلـول له هغـو ډیرومنظمـو سلسلـو څخه دی چـې په ورځنـی ژونـدانه کـې د مشاهـدی وړدی . دغه تش په نامه تصادفات په تاریـخ کـې دعلت اومعلول یوه سلسله تمثیلوی ، داسې چـې هغه هغه سلسله ویحاړه کوی په کومې چې مورخ ترهرڅه ړومبـی په تحقیق بوخت دی ، اویا ـ د چاخبره ـ ورسره تصادم کوی . (بری) بالکل په درسته سره د « دوو بیلو کړیویو له تصادم» ۳۰ څخه گریزی . سرایسایه برلین د خپلې مقالې ـ تاریخی حتمیت په سر کې کله چې د برنارد برنسن ۳۱ د مقالې د تاریـخ تصاد فی نظر ـ ستاینه کوی یوله هغو کسانوڅخه دی چې په دغه مفهوم سره تصادف دعلتی تعیین له نشته والی سره یواومخلوط گڼی خوله دغه مغشوشیت نه علاوه ، مونږ بله حقیقی مسئله په مخ کې لرو. په تاریخ کې یوڅوك څنگه دعلت اومعلول یومنسجم لړ کشف کولی شی ، مونږ څنگه په تاریـخ کې مفهوم میندلـی شوو ، په دا سی حال کې چې هره شیبه ددې امکان شته چې زمونږ لړوشلېږی، یا کوږشی ، اوداکاردیوه بل ، اوزمونږ له نظره

۲۹. لیون تراتسکی ، زما ژونـد (انگریزی ترجمه، ۱۹۳۰) مـخ ۴۲۵ .

۳۰. پـه دغـه باب د (بری) د استدلا ل د پاره مرا جعـه دکړی د ترقـی فـکر تـه (۱۹۲۰) مخونــه ۳۰۳ ـ ۳۰۴.

۳۱. Bernard Berenson

دیوه نا مربوط لړ له خوا وکړل شي ؟

د لته به یوه شبیه مکث وکړو چې پەتاریخ کې دتصادف درول پە دغەتازه پراخ تینگار غورو کړو . پولی بیوس شاید لومړنی ،ورخوی څې په د غه باب یې خپل ذهن په منظم دول مشغول کړی وی ، او گېبن دهغه علت زرلسوخ کړ. ده دغه نظریه وړاندې کړله چې « یونانیان وروسته له دې چې ملك یې په یوه ولایت بدل شو،دروم فتوحات یې دجمهوریت بخت ته‌منسوب کړل،نه دهغه‌ښېگڼې‌ته . » ۳۲ تاسېتوس ۳۳ چې هغه هم دخپل هېواد دانحطاط دوخت مورخ و، یوبل لرغونی مورخ و چې دتصادف په باب یې دغسې پراخ تفکرات وکړل . د برتـا نیا یې لیکوالو له خوا په تاریـخ کې دتصادف داهمیت‌نوی تینگار له هغه وخت څخه شروع کېږی چې دوبرې اوبې‌ثباتی‌حال په دوی راغلی دی اودغه حال دموجودې پېړی په شروع سره محسوس‌شوې،اوله ۱۹۱٤ څخه وروسته ښه واضح اومشخص‌شوی دی . ښکـاریـږی چې (بری ) لومړنی مورخ وی چې دغه حال ته یې له اوږ دې مودې وروسته پام کــړی وی . ده په ۱۹۰۹ کې پـه یوې مقالې کې ( په تاریخ کې د داروینزم ) په باب د « چانس د وقوع عنصر» ته پام وگرځوه چې هغه په زیاته اندازه « په اجتماعی تکامل کې دواقعاتوله تعیین کولوسره کومك کوی » . په ۱۹۱٦ کې یې یوه بله مقاله - ( د کلیوپا تراپزه ) ۳٤ - همدغې موضوع ته وقف کړلـه .

۳۲. د روم دامپراطوری انحطاط او سقوط، فصل ۳۸. ددغـی خبری یا دونـه د خندا وړ ده چـــی یـونانیان، وروستـه لـه دی چـی د رومیانـو لـه خوا فتح شول، د تاریخـی (ممکن ـ وای ) یعنـــی دمغلـوبو شویـو دمطلوب تسلیت پـه لـوبـی پـوری ونښتـل . دوی ځانـوتـه دا ډا ډ گیرنه ورکوله چی کـه ستر سکندر پـه ځوانـی کـی مړ شوی نـه وای، «ده به غرب فتح کړی وای ، اوروم به دیونان دپاچا یانـو تابـع وای» (کـې . فا ن . فرتز، په لرغـونـی مهال کـې دمخلوط اساسی قانون نظریـه، نیویارك ، ۱۹٥٤، مـخ ۳۹٥ . )

۳۳. P.C. Tacitus دپخوانـی روم مـورخ . (م)

۳٤. د واړه مقالـی د (بری) په غـوره مقالـوکـی بیاپاچاپـی شوی دی ( ۱۹۳۰ ) . دبری په نظریاتو

اچ . ای . فشر، په هغې فقرې کې چې ړومبې ترې اقتباس شوی دی څپله سر ګیچې له دوم جنګ نه وروسته دلبرالی خوبونو دناکامی په باب منعکس کوی او له څپلو لوستونکوڅخه خواست کوی، چې په تاریخ کې « د احتمال او نه لېدونکې لوبه»۳۵ وپېژنی . په دغه ملك کې دتاریخ دتیوری دغه شهرت چې هغه دتصادفاتو یوفصل دی په فرانسې کې دفیلسوفانو دیوه مکتب له ظهور سره تصادف کوی. فیلسوفان یې داسې تبلیغ کوی اوزه دسا رتر۳٦ مشهور : L , Etre et le neant اقتباس کوم – چې وجود « نه علت ، نه دلیل ، اونه ضرورت » لـری . په جرمنی کې میانکې - هغه پوخ او مجرب مورخ چې مونږ دمخه دهغه یادونه کړی ده ـ دڅوندانه په وروستیوپړاوونو کې په تاریخ کې دتصادف په رول معتقد شو. رانګ کې یې په دې ملامت کړچې ده ولې هغه ته کافی توجه نه ده کړی . ده له دوهم جنګ نه وروسته ملی مصیبتونه یولړتصادفاتو ته منسوب وګڼل: دقیصر تـکبر، دوایمارد جمهوریت درئیس په حیث دهندنبرګ انتخاب ، د هیتلرزورووںـکې سجیه اوداسې نور. دانورڅه نه دی بس دیوه سترمورخ دذهن افلاس دی چې دخپل هیواد دبد بختیو ترفشارلاندی دغـې شوی دی. ۳۷ پهیوې دلې، یایوه ملت کې چې دتاریخی پیښو په لحاظ مخ په ځوړ ی وی،او

باندی دکالنګ وو دبصرو د پاره وګوری؛ : دتاریخ مفکوره، مخونه ۱٤۸ ـ ۱۵۰.

۳۵. ددغې فقرې د پاره وګوری مخ ٤۳ (پورته) .د تاین بی په تالیف ؛ (دتاریخ مطالعه) کـې د (فشر) دقاعـدی اقتباس پوره غلط فهمـی څرګندوی. دی هغـه دتصادف په مطلق قدرت باندی« دمعاصر غرب دعقیدی» دمحصول په حیث ګڼـې چـې ایسه فریسې (تولید کړ). دلسیه فرتیور ی پوهانو په تصادف عقیده نـه لرلـه، بلـکه دوی په هغـه پټ شوی لا س عقیده لرلـه ، چـې د انسا نانـو په مختلفو سلوکـونو بانـدیـې ښه انتظامات تحمیل کړل او دفشر تبصره دایسه فـر لبرالزم محصو ل نه و ، بلـکه د ۱۹۲۰ او ۱۹٤۰ کامـونـو ترمنځ د هغه دسقوط محصول و .

۳٦. J. P. Sartre دفرانسـی معاصر فیلسوف او لیکوال (م).

۳۷. مربـوط عبارت دبلیـو. ستارك په هغـی مقدمی کـې اقتباس کړی دی چـې ده د اف . میا نـکی په ماکیاولـزم بانـدی لیکلی وه، مخونـه ۳۵ ـ ۳٦.

د هسکې په اور روان نه وی هغه تیوری گانـې چې په تاریخ کې دبې علته عمل او تصادف پهلورتینگار کوی ـ غلبه پیدا کوی. دانظریه چې دامتحان نتایج تول لاتري دی ، په هغوشاگردانو کې ډیـر رواج مومی چې په اخری درجه کامیاب شوی دی.

خو دیوې عقیدې دمنا بعوسپړل دهغې ورکول نه دی. اوموږ لاهم باید دا کشفه کړو چې دکليوپاترا پزه دتاریخ په مخونو کې څه کوی . داسې ښکاری چې مونتسکیو لومړنی شخص وی چې زیاریې ایستلی دی چې ددغې مداخلې په ضد د تاریخ له قوانینو څخه دفاع وکړی. ده درومیانودستر توب او انحطاط په تالیف کې داسې عقیده ښکاره کړله : «که دیوه جنگ دتصادفی نتیجې په څیر ، یو دولت ، یوه خاص علت تباه کړی وی ، هلته به یوعمومی علت موجود وی چې ددې سبب شوی دی چې دغه دولت دی په یوې جگړې کې سقوط وکړی . » مارکسستان هم ددغې مسئلې په باب مشکل لری. مارکس یوازې یوه پلا په هغې لیکنه کړی اوهغه یې هم په یوه لیک کې:

« جهانی تاریخ به ډیر تصوفی خصوصیت غوره کړی چې که هلته د تصادف دپاره یکې ځای نـه وی . دا طبعیی ده چې تصادف پخپله دانکشاف دعمومی میلان یوه برخه گرزی او دتصادف په نورواشکالوسره جبران کېږی . خو تسریع او تاخیر په دغسې « بې علته اعمالو » پورې مربوط وی ، چې هغه دافرادوچې دیوه جنبش په شروع کې په سر کې وی، د «تصادفی » خصوصیت مشمول وی . » ۳۸

مارکس په دغه ډول سره په تاریخ کې دتصادف دپاره تردریوعنوانونولاندې عذرونه تقدیم کړل . لومړی دا چې داچنـدان مهمه نه ده ، دا د تـاریـخ سیر «سریع کوی» یایې «ځنډوی » مگر له هغه نه داسې استنباط کېږی چې په انقلابی ډول سره یې نه اړوی . دوهم دا چې یو تصادف په بل سره جبران کیږی ، ترڅوچې په پای کې تصادف ځان له مینځه وباسی . دریم دا چې تصادف مخصوصاً دافرادو په

۳۸. مارکس ـ انگلز ، غوره آثار ، (روسی چاپ) ، .xxvi مخ ۱۰۸.

سجیه کې تبارز کوی. ۳۹ ترا تسکی د بې علته اعمالو د جبران کولو، او دځان دمحو کولو تیوری په یوه ساده قیاس سره پیاوړې کړله.

«توله تاریخي عملیه دتصادف له لارې دتاریخي قانون انکسار دی. مونږ په دبیالوجې په ژبه وویلې شو چې تاریخي قانون دتصادفاتو په طبیعي انتخاب سره تحقق مومی.» ۴۰

زه په دې اعتراف کوم چې دغه تیوری ماته قناعت بښونکې نه ښکاری. په تاریخ کې دتصادف رول په دغو ورځو کې دهغو کسانو له خوا چې علاقمن دی اهمیت یې زیات کړی، په جدیت سره په مبالغه یې ډول یادیږی خو تصادف وجود لری، او چې وویل شي هغه یوازې تسریع کوی، یا تاخیر کوی، اړول نه کوی، له الفاظو سره لوبې کول دی. داسې هم زه کوم دلیل نه وینم چې متقاعد شم د کومې تصادفي پیښې مثلاً دڅلورو پنځوسو کالو نو په عمر دلینن پخوا تر وخته مړینه به له یوې بلې تصادفي پیښې سره په داسې ډول جبران شي چې دتاریخي عملیې میزان به بیرته په ځای کړی. داهم په هغې اندازې سمه نظریه ده چې وویل شي په تاریخ کې تصادفي پیښه یوازې زمونږ دناپوهې اندازه ده یعني یوازې د یوه داسې څیز نوم دی چې مونږ پرې پوهیدلی نه شو. ۴۱

په دې کې څه شک نه شته چې کله کله دغسې هم پیښیږی. سیارات د«گرځیدونکو» په نامه یادشول او داهغه وخت چې د اسې فرض شوې وه چې دوی په آسمان کې په نامنظم او اتفاقي ډول حرکت کوی او ددوی حرکت لا هغه وخت معلوم شوی نه وو.

---

۳۹. دتولستوی پـه نظر «تصادف» لـه «نبوغ» سره مساوی دی او دواړه دانسان دناتـوانـی هغه افادی دی چې نه شي کولای په نهایي علتونـو پـوه شي، جنـگ او سوله، لـومړی برخـه.

۴۰. تراتسکی، زما ژونـد، (۱۹۳۰) مـخ ۴۲۲.

۴۱. تولستوی په دغـه نظرو. «مونږ مجبور یـو چـې دغیر عقلي پیښو دتشریح پـه‌حیث مونږ بیرته په قسمت ولویږو یعني داچـې هغه وقایع چې دهغو په عقلیت مونږ نـه پوهیږو.» (جنـگ او سوله، نهـم کتاب، فصل ۱.)

يوشی په سوء تصادف سره شرح کول هغه اسانه طريقه ده چې په هغې سره يوشخص غواړی دهغه دعلت دلټولو له ستړې کيدو نکې وظيفی څخه ځان وژغوری. کله چې ماته يوڅوک وايی چې تاريخ د اتفاقی او تصادفي کړنو يوفصل دی ، زه په هغه د عقلانی لټی ، يـاد ښکته عقلانی حياتيت گمان کوم . د جدی مورخانوپه نـزد دا يو مشترک تمرين دی چې وايی هغـه څه چې تـراوسه پورې ديوه تصادف په حيث گڼل کيده ، اتفاق بيخی نه و ، بلکه دهغه تشريح په عقلی ډول بالـکل کيدلـی شی اوهغه د واقعاتوپه پراخې طرح او ترتيب کې په مهم ډول سره ځائيدلی شی . خو دا زمونږ د پوښتنې پوره ځواب نه راکوی. اتفـاقی حادثه يوازې دا سې يوشی نه دی ، چې مونږ پرې پوهيدلی نه شو. زه په دې عقيدې يم چې په تاريخ کې بايد د اتفاقی حادثې دمسئلی حل دمفکورو په يوه کاملاً مختلف نظم کې ولټول شی .

په يوه ړومبی پړاو کې مووليدل چې تاريخ دمورخ له خوادحقايقو په غوره کولو او تـرتيبولوسره شروع کيږی چې ترڅو په تاريخی حقايقوبدل شی. ټول حقايق تاريخی حقايق نه دی . خودتاريخی اوغيرتاريخی حقايقو ترمينځ توپيردايمی اووچ کلک نه دی. دچاخبره ، هرحقيقت ممکن دتاريخی حقيقت مقام ته ترفيع وکړی يوازې دومره چې دهغه مربوطيت اواهميت وښودل شی. نواوس و ينو چې دعلتونو دميندلو دپاره د مورخ په روش کې يوراز ورته عمليه کار کوی . وعلتونو ته د مورخ مناسبت هغه دوه گون اومتقابـل خصوصيت لری ، کوم چې دمورخ مناسبت يې دهغه له حقايقو سره لری . علتـونه دهغه دتاريخی عمليې توجيهه ټاکی اودهغه توجيهه دهغه دعلتونو انتخاب او ترتيب معين کوی. دعلتونو سلسله مراتب ، ديوه يابل يايوه درجن علتونو نسبی اهميت دهغه دتوجيهه او تعبير شيره اوجوهر تشکيلوی، او دا په تاريخ کې دتصادف دمسئلې دپاره يوه کلی برابروی . دکليوپاترا دپزې شکل ، دبجازت دنقرس حمله ، دشادی چيچنه چې الکراندر پاچايې مړکړ ، دلينن مړينه ـ هغه تصادفات وو چې د

تاریخ جریان یې واړاوه. په دې کې څه فاید نه شته چې هغه ایسته شوی وښود ل شي او یا په یوه یا بل ډول داسې بهانه وشي چې دغو تاثیر نه لاره. له بلې خوا، تر هغه ځایه چې هغه تصادفي پیښې وي، د تاریخ په هیڅ عقلي توجیه او تعبیر او د مورخ د مهمو علتو نو په سلسله مراتب کې ننوتلی نه شي. پروفیسر پاپر، او پروفیسر برلین، زه دوی د دغه مکتب د دیرو و تلیو ممثلینو په حیث یو ځل بیا ذکر کوم ـ فرض کوي چې په تاریخي جریان کې د مورخ د اهمیت میندلو زیار، او له هغه څخه د نتایجو ایستنه، د هغه زیار په څیر دی چې مقصد یې دیوه متناسب قرینه لرونکي نظم ته د «تجربې ټوله برخه» تحویل کول دی، او په تاریخ کې د تصادف وجود د غسې هر زیار ناکامول څو هیڅ عاقل مورخ به د غسې یوه غټ خیالي او عجیب څیز ته ملا و نه تړي چې د «تجربې ټوله برخه» پکې شامله کړي. دی نه شي کولی چې حتی د خپل تاریخ دیوې انتخاب شوې برخې یا اړخ په باب د حقایقو له یوه واړه جز څخه زیات احاطه کړي. د مورخ جهان، د ساینس پوه د جهان په څیر د حقیقي جهان یو تصویري نقل نه دی؛ بلکه هغه د کار د هغه مود ل په شان دی چې دی په دې قادر کوي چې لږ و ډیر یې په موثر ډول سره و پیژني او حاکمیت پرې وکړي. مورخ د ماضي له تجربې یا د ماضي د هغې اندازې له تجربې څخه چې ورته میسره ده هغه برخه تقطیر او چاڼ کړي چې دی یې درک کړای شي چې د عقلي تشریح او تعبیر تابع کیدلی شي، او له هغه څخه داسې نتایج وباسي چې د عمل د پاره لارښوونکي وګرځي. په دغو وختو کې یو عامه خوښوونکي لیکوال، څه وخت چې د ساینس د کار نامو په باب غږیده، د انساني ذهن د کار په باب یې داسې تبصره وکړله چې ذهن څه وخت چې د «مشاهده شویو «حقایقو» په خیرن جوال کې لټول کوي، غوره کول کوي، ټوټې کول کوي، او له مشاهده شویو مرتبطو حقایقو څخه یو ځای یوه طرح جوړوي، نامربوطات رد کوي، تر څو چې یې د «علم» یو منطقي او عقلي کوڅې یو ځای او بدلي وي.» **٤٢** زه پخپله په څه قید سره د بې جهته عندیت د

٤٢. ال. پال، دانسان امحا (١٩٤٤)، مخ ١٤٧.

خطراتوپه مقابل کې دادهغه تصویر په ښیرښتیاپه کوم کې چې دمورخ ذهن کار کوی.

داطرز عمل ممکن فیلسوفان اوحتی ځینې مورخان حیران کړی، اوتکان ورته ورکړی. خودعادی کسانو دپاره چې دژوندانه په عملی چاروپسې ځی، دغه طرزعمل پوره اشنادی. یومثال به راوړم. جونز چې له کومې میلمستیا څخه چېرته چې بې له عادی اندازې څخه زیات الکول څښلی دی، په یوه گړندۍ کې بیرته راځی. دگړندی بر کونه یې ناقص دی، او په یوه وړانده گوټ کې رابن سن چې د سگرټو دپلور لو دپاره له سرک څخه تیریږی وهی، رابن سن مری. وروسته له دې چې ټول حقایق راغونډ شوی دی، مونږ مثلاً دمحلی پولیس په مرکز کې غونډیږو چې ددغې پیښې دعلتونو په باب تحقیق وکړو. ایادغه پیښه دموټروان دنیمه ـ مخمورحالت له امله وه ـ چې په دغه حال کې به مسئله جنایی وگرځی؟ یاکه دغه دناقصو بر کونوپه وجه وه چې په دغه حال کې به گراج والاته چې یوه هفته دمخه یې موټرمعاینه کړی و، یو څه وویل شی؟ یا دغه دوړانده گوټ پهوجه وه چې په دغه حال کې به دسړ کونوله واکمنو څخه وغوښتل شی چې موضوع ته پام وکړی؟ کله چې مونږ په دغو عملی مسئلو بحث کوودوه نومیالی مهذبه اشخاص ـ نومونه به یې نه اخلم ـ پهخونې کې ننوځی او په ډیر فصاحت اوټینگارمونږ ته وایی چې که چیرې پههغه ماښام د رابن سن سگرټ خلاص شوی نه وای، دی به له سرک څخه نه تیریده اومړشوی به نه وای. نودسگرټو د پاره د رابن سن میل، دده دمرگ علت شواوهرهغه تحقیق چې دغه علت هیروی یوازې به دوخت ضیاع وی، اوهرڅه نتایج چې ترې ایستل کیږی، بې مفهوم او بیهوده بهوی. نبه، مونږ څه کړو؟ همداچې مونږ وکولی شو د همدغه فصاحت سلاست مات کړو، د واړو میلمنوته په نرمه، مگر په کلکه سره دوره، لارښیو، اودروازه وان ته وا یوچې په هیڅ وجه بیا د ننوتلو اجازه ورنه کړي، او مونږ خپل تحقیق ته دوام ورکوو. خو مونږ دمدا خله کوونکو

د پاره څه ځوا بونه لرو؟ په دې کې څه شک نه شته چې رابن سن مړشو، ځکه چې ده سگرټ څښل. هرهغه څه چې په تاریخ کې دتصادف اواحتمال طرفداران یې وایې پوره درست او پوره منطقي دی. دا هغه قسم سخت زړی منطق دی، چې موږ یې په (الس په عجبستان کې *) او (دائینی له لارې **) مومو. مګر په داسې حال کې چې زه دا کسه نورد د پوهې د غوښتو مثالونو ته په خپلې ستاینې کې نه تسلیم کیږم، زه دا غوره گڼم چې په یوی بیلې برخې کې دخپل منطق مختلف روشونه خوندي وساتم. د داج سن ۴۳ روش د تاریخ روش نه دی.

نو تاریخ د تاریخي اهمیت په لحاظ، دغوره کولو یوه عملیه ده. دټالکاټ پارسن عبارات به دلته یوځل بیا را نقل کړو: «تاریخ دواقعیت په لور، نه یوازې د در کې بلکه د علتي جهتونو یوا انتخابي سیستم دی» داسې چې مورخ د حقا یقوله لایتنا هي بحر څخه هغه حقایق غوره کوي، کوم چې دهغه د مقصد د پاره اهمیت لري، داسې هم دی د علت او معلول له متعدد دوسلسلو څخه هغه او یوا زې هغه سلسله را وباسي کومه چې په تاریخي لحاظ مهمه وي. د تاریخي اهمیت معیار دده هغه قابلیت دی چې دی هغه د خپل عقلي تشریح او تعبیر په چوکاټ کې دننه متوافق کوي. د علت اومعلول نورې سلسلې: باید د تصادفاتو په حیث مسترد ی کړلې شي. نه په دغه لحاظ چې دعلت او معلول ترمینځ مناسبت مختلف دی، بلکه په دغه لحاظ چې پخپله سلسله نامربوطه وي. مورخ په دغه سره هیڅ څیز نه شي کولی. هغه نه دعقلي تعبیر تابع دی، او نه د ماضي یا آینده دپاره کوم مفهوم لري. دا رښتیا ده چې د کلیوپاترا پزې، یا د بجازت نقرس، یا دا لیکزاندر پاچادشا دی چیچنې، یاد لینن مړینې، یا د راین سن سگرټ څښلو، نتایج لرل. خو دیوې عمومي قضیې په حیث، دا بې مفهومه ده چې وویل شي چې جنرالان ځکه جنگونه بایلي چې دوی په ښکلو مېن کیږي، یا جنگونه له دې امله وا قع کیږي،

---

۴۳. C.L.Dodgson (۱۸۹-۳۲) انگلیس لیکوال، او ریاضي پوه. لاندني دوه کتابونه چې دوړ و دپاره خوندورې کیسې او نکلونه لري، او ادبي ارزښت یې زیات دی، دده تالیفات دی. (م).

* Alice in Wonderland

** Through the Looking Glass

چې پاچایان په کور کې شادي گانې ساتي ، یاخلق پهسر کونو کې لاندې کېږي ،اومري ، پهدې چې دوی سگرت څښي . که لهبلې خوا تاسې یوهعادې سړی تهووایې چې راببن سن پهدې مړشوچې ډریوړمخمور و ، یا لهدیاملـه چې برکونو کاروزنه کړ ، یالهدیاملـه چې سرک یووړوند گوت لاره ، دا به هغه ته پوره مفهوم لرونکې ، اوعقلي تعبیر معلوم شي. که دې وغواړي نبه مشخص وغږیږي ،دې بهلاحتې ووایي چې یوازې همدغه اونه درا بن سن د سگرت څښلوهڅه د رابنسن د مړینې «حقیقي» علت و . داسې هم که تاسې دتاریخ محصلته ووایې چې د ۱۹۲۰ پهلسو کالونو کې په شوروي اتحاد کې مبارزې دصناعتي کولو داندازې، یادهغې ښې طریقې پهباب وې چې کروندهگر تشویق کړي چې دښارونود مړولودپارهغلې دانې وکرې، اویاپه دغه بـاب وې چې مخالفو مشرانوشخصي ادعاگانې تعقیب کولې ، دی به داسې احساس وکـړي چې داتشریحات په عقلي اوتاریخي لحاظ مهم دي ، په دې چې هغه به په نوروتاریخي حالاتو کې هم تطبیق وموم،او هغهدهغه څه چې واقع شول، «حقیقي » علتونه دي ، په دغه مفهوم چې د لینن پخوا له وخته تصادفي مړینه، کوم علت کیـدلی نه شي . که د همدغوڅیزونو پهباب ،دی سوچ وهلوته مجبورشي. دی به لا ممکن د هیگل دیر اقتباس شوی، مگرغلط تعبیرشوی ، اصل چې د حق د فلسفې په سریزه کې یې ذکر کړی دی : هم وریه زړه کړي، اوهغه داچې «هغه چې عقلي دی، حقیقي دی ، اوهغه چې حقیقي دی ، عقلي دی . »

اوس بهدیوې شیبې دپاره بیادرابنسن دغمجنې پیښې علتونوته وروگرځو . مونږددې څه مشکل نه لاره چې ځینې علتونه یې عقلي او «حقیقي» وو ،اوڅه یې غیرعقلي ،اوتصادفي وو ، خو مونږ دغهتمیز په کوممعیارسره وکړ؟ داستدلال ملـکه په طبیعي ډول ،دکوم مقصد په لورفعالیت کوي . روشنفکران کله کله ممکندساعت تیرې د پاره استدلال وکړي ،یافکروکړي چې استدلال کوي . خوپه عمومي ډول

انسانان ، یوه هدف د پاره استدلال کوی او کله چی مونږ ځینی تشریحـات عقلی وپیژندل ، او نورموعقلی و نه پیژندل ،زماپه فکرچی مونږدهغو تشریحاتو ترمینځ چی دیوه‌هدف‌دپاره استخدام کیږی او دهغوتشریحاتو ترمینځ‌چی دهدف دپاره نه‌استخدام کیږی ، په یوفرق قایل کیږو .دهغی مسئلی په باب، چی‌ترمباحثې‌لاندی ده، دافرضیه مفهوم لرونکی ده ، چی ددریورانو دالکولود مصرف لږکول، یادبرکونوپه‌باب لازیات کنترول اینبودل ، یاپه سر کونو کې سمون راوستل، ممکن د ترا فیکی پیښو شمیرلږکړی، خو دا هیڅ مفهوم نه لری،چی فرض وشی چی ترافیکی پیښې به‌په‌دی لږې شی‌چی‌خلق له سگرت څښلو څخه منع کړل‌شی . داهغه معیاروچی په هغه سره مونږخپل‌فرق و کړ .داپه‌تاریخ کې دعلتونو دپاره‌ز ونږدروش‌په‌باب‌هم تطبیق‌مومی . دلته‌هم مونږدعقلی‌اوتصادفی پیښوترمینځ ،په‌فرق‌قایل کیږو .څنگه چی‌علتونه‌په‌نورو هیوادونو، نوروعنصرونو ، اونوروشرایطو کې‌هم په قوی ډول تطبیق مومی، هغه ومفیدوتعمیماتو ته منتهی کیـږی، اوعبرتونه اودرسونه تری زده کیدلـی شی ، دوی زمونږدفهم دپراخه کولو، اوژورکولودهدف په لور،خدمت کوی ٤٤.له تصادفی پیښوڅخه تعمیم نه جوړیدلی نه شی ، اوڅنگه چی دوی دکلمی په‌ټوله معنی،بیجوړی اوخــاص دی، له هغــوی څخـه عبــرتــونــه اودرسونـه نـه اخیســتل کیــږی اونتایج هم ترینه نه ایستل کیږی . خودلته باید زه یوبل ټکی هم ذکر کړم . دیوه هدف په لور، همدغه خاص اومشخص نظردی، چی په تاریخ کې دعلیت دمطالعی

٤٤. پروفیسر پاپر، یوه شیبه په د غـه ټـکی ښو پیښی خوایدلی یـې نـه شـی ، په داسی حال کې چې ده گښلی ده «چې د تعبیرونـو کثرت چې په اساسی لحاظ ددواړو د د لا لت (Suggestiveness) او اخـتـیاریت ( arbitrariness ) پـه ســو یــې و ی ( هــر هـغه څـه چـې د غـه د و ه اصطلا حات یـې په واقعـی ډول ښکاره کـوی) ، دی په یوه ناخـونـکـکـې اضافـه کـوی چـې «یوځــه بـه‌یـې له نورو څخـه ددوی دانتفاعیت په وجـه بیل شـې ـ او د غه د اهمیت وړ دی (دهستورسیزم فقـر ، مخ ۱۵۱) . دا داهمیت یو ټـکی نه دی ، بلـکه ډیر مهـم ټـکی یـې دی، چـې ثابتوی چـې «هستورسیزم» (داصطلاح په کـومو مفهومونـو سره، سره له ټولـو خبرو دومره خوار نـه دی.

دپاره مونږ ته کلی په‌لاس راکوی، اودغه لزوماً له‌محانه سره دارزښ‌قضاوتونه‌لری. لکه څنګه چې‌مو په‌تیرلیکچر کې ولیدل، تعبیرپه‌تاریخ کې تل‌دارزښت له‌قضاوتونو سره تړلی دی. اوعلیت له تعبیرسره تړلی دی. د میا نکی په الفاظو- سترمیا نکی یاد۱۹۲۰ دلسو کالونومیانکی« په‌تاریخ کې‌دعلیتونودپاره لټون ...... ممکن‌نه‌دی، مګرهغه وخت چې‌ارزښتونوته مراجعه وشی. دعلتونودپاره دلټون وشاته‌په مستقیم یاغیرمستقیم ډول‌سره تل‌دارزښتونودپاره لټون واقع‌دی،»۴۵ اوداهغه څه‌رایادوی کوم چې مارومبی د تاریخ د دوه ګونی اومتقابلی وظیفی په باب ویلی دی، اوهغه داچې داوس په‌رڼا کې د ماضی په باب اودماضی په ر ڼا کې داوس په‌باب زمونږ فهم ډیراوپراخ کړی. هرهغه څه چې د کلیوپاترا له پزی سره دا نتونی د مسحور کیدلو په څیر ونه شی کړای له دغه دوه ګون مقصد سره مرسته وکړی، د مورخ له نظره مړاوبیحاصل دی.

اوس‌ددغه وخت را رسیدلی‌چې ا قراروکړم چې‌ما یوڅه‌زری چال‌په‌تاسی وهلی‌دی. دهغه احساس به‌تاسی ته مشکل نه وی،اوڅنګه چې زه‌په خوځایونو کې د غه چال په دی قادر کړی یم چې خپلی خبری ساده اولنډې‌وکړم، تاسی ممکن په هغوسترګې پټې کړی وی، اوهغه مو د اختصار یواسان جز ګڼلی وی. تراوسه ماپرله پسې د «ماضی او اوس» اسانه افاده استعمال کړی ده،خو، لکه چې‌تاسی‌ټول پوهیږی،حاضره زمانه، دماضی‌اوآینده ترمینځ، دتصوری ویشونکی‌لیک‌په حیث، له یوه تصوری وجود څخه اضافه‌کوم شی نه دی. د اوسنی زمانی‌په یادولوسره، ما د وخت د یوه بل بعد په بحث کې، په مخفی ډول شا مل کړی دی. زما په فکردا به اسانه وی چې وښوول شی‌چې‌څنګه چې ماضی اوحاضره زمانه دوخت

۴۵. Kausalitaten und Werte in der Geschichte (۱۹۲۸) ترجمه د اف. سټېرن،دتاریخ اقسام، کې (۱۹۵۷) مخونه ۲۶۸، ۲۷۳.

د هغه یوه تیاکلی طول یوه برخه تشکیلوی، دماضی او آینده په باب علاقه او تعلق شبودل یو له بل سره تړلی دی. دتاریخ نه رومبی، او تاریخی وختونو ترمینځ دو یش په کرښې هغه وخت پښه اړوله کیږی، چې خلق نورنو یوازی په حاضره کې ژوند کول ترک کړی، او د خپلی ماضی او آینده په باب په شعوری دول یوراز علاقمن کیږی. تاریخ د عنعنی په نقل کولو سره شروع کیږي. او عنعنه له ماضي څخه و استقبال ته د عادتو نو او درسونو د انتقال معنی لري. دماضې پیښې داینده نسلو نو دفایدې دپاره خوندی کیږي. هالندې مورخ هو یز نګا۴٦ وایي چې «تاریخي تفکر همېش غایي۴۷ وی». ۴۸ سر چارلز سنو په دغو وختو کې دوا ترفورد ۴۹ په باب وویل چې «دنورو ساینس پوهانو په څېر..... ده، تقریباً بې له دې څخه چې د معنی په باب یې سوچ ووهې، په خپلوهډوکو کې داستقبال فکر درلود.» ۵۰ ۴ زه ګمان کوم چې ښه مورخان، چې که دهغو په باب فکر وکړې، یاو نه کړې، په خپلو هډوکو کې داستقبال فکر لرې. د(و لې؟) له پوښتنې نه علاوه، مورخ تل پوښتي «کوم پلو؟»

---

٤٦. J. Huizinga

٤٧. Teleological دو روستیو او غایي علتونو اصل او فلسفه.(م)

٤٨. جې. هویزنګا، ترجمه په د تاریخ اقسام، کې د اف. ستږن چاپ (۱۹۵۷) مخ ۲۹۳.

٤٩. E. Rutherford برتانیایې فزیك پوه - (م).

٥٠. دبالدون عصر، دحان ری مونډ چاپ (۱۹٦۰) مخ ۲٤٦.

-٥-

# تاریخ د ترقی په حیث

غوارم خپله وینا دهغې فقرې په نقل کواو سره شروع کړم کومه چې پروفیسر پایک، دیرش کاله رومې، په اکسفورډ کې، دمعاصر تاریخ دسلطنتی پروفیسر په حیث، په افتتاحي لیکچر کې اظهار کړې وه:

«په تاریخ کې د تاویل کولو څخه د ومره ژوری وی لرې چې تر څو دماضي په باب یو تعبیری نظرونه لرو، مونږ یا تصوف۲ یا شکاکیت او بدبینی ۳ ته کش کیږو.» ٤ «تصوف»، زما په فکر هغه نظرته و ایه شې چې دتاریخ مفهوم له جامعې نه چیرته بهر ــ د الهیاتو یا داخرت په قلمرو نو کې ـ لټوي. داد دغسې لیکوالو، لکه بردایف، نیبور، یاتاین یې ٥ نظر دی. د«شکاکیت» فلسفه هغه نظر تمثیل کوي، کوم چې یې مثالونه ماخوڅله راوړې دي. ددغه نظر په قرار، تاریخ

---

۱. F. Powicke

۲. Mysticism

۳. Cynicism . اصلاً دکلبیونو فلسفی ته وایې. دا دلرغونې یونان له فلسفی مکتبونو څخه هغه مکتب دی چې موسس یې انتس تینس (Antisthenes) و، او په د اسی اصل بناوچې لذتونه بددی، او د انسان طبیعت ته ارخ نه لری، دغه مکتب دانسان دطبیعت په نسبت په بدبینی او شکاکی با ندی قایل دی، او دریشخند ور عیبونه یې لټوی. (م).

٤. اف. پایك، معاصر مورخان او د تاریخ مطالعه (١٩٥٥)، مخ ١٧٤.

٥. لکه چې تاین‌یې په پوره بری سره اعتراف کوی: «تاریخ دالهیاتو په قلمروکې ننوځی.» (مدنیت داز موینی په حال‌کې، ١٩٤٨، مقدمه).

هیڅ مفهوم نه لري، یاسم او ناسم مفهومونه په مساوي ډول لري ، یادغسې مفهوم لري چې مونږ یې په خپل واک او اختیار ورته ټاکو . دادتاریخ هغه نظر و نه دي ، چې نن ورځ ډیر عام دي . خوزه یې بې زړه نازړه په کلکه ردکوم . داتردید مونږ ته هغه عجبه، مګر دلالت کوونکې افاده، را پریږدي : «دماضي په باب یو تعمیري نظر». څنګه چې زه داسې کومه وسیله نه لرم چې پوه شم پرو فیسر پایکټ ددغې افادې داستعمال په وخت کې ، څه شي په فکر کې لاره ، زه بهزیار وباسم چې خپل تاویل په کې ولولم .

داسیاد پخوانیو مدنیتونو په څیر، دروم او یونان مدنیت اساساً غیر تاریخي وو . لکه څنګه چې مورومبي و لیدل، هېر و دوتس دتاریخ دپلار په حیث ، یوازې یو څو پیروان لرل ، اود پخوانی زمانې لیکوالان ، په عمومي ډول، د ماضي او استقبال دواړو په باب ، لږ علاقمن وو . توسید ایدز ، په دغې عقیدې و، چې پخوا له هغو پیښو څخه چې ده بیان کړلې ، مهم شي هیڅ واقع شوی نه وو، او ددغه احتمال نه شته چې هیڅ مهمه پیښه دې وشي. اوکري شیس ۶، داستقبال په باب خپله بې اعتنایي ، له خپلې هغې بې اعتنا یي څخه و نبو دله چه ده دماضي په باب لرله :

«فکر وکړی ، چې څنګه ، زمونږ له پیداکېدلو څخه ، رومبي ، دابدې وخت پخوانی عصرونه ، زمونږ لهعلاقې نه بهردي . دا هغه هینداره ده ، چې طبیعت یې مونږ ته زمونږ لهمرمینې نه وروسته داینده عصر دپاره نیسي . » ۷

شعري الهاماتو ، دلا څلانده اینده په باب ، دماضي و طلا یي عصر ته د رجوع شکل غوره کړ ـ داهغه دوراني نظریه ده چې دطبیعت په عملیو کې یې، دتاریخ عملیې جذبې کړلې. تاریخ هیڅ پساوته نه خوځېد ، ځکه چې په ماضي کې څه مفهوم نه و ،

۶. Lucretius (۹۶ ـ ۵۵ ق م) .رومی شاعر . (م)

۷. داشیاو طبیعت ، iii ، مخونه ۹۹۲ ـ ۹۹۵.

داسې هم په مساوي ډول ، په استقبال کې څه مفهوم نه و . يوازي ور جل ۸ ، ، يعنې چاچې په خپل څلورم واړه قطعه شعر کې وطلايي عصر ته درجوع په غرض لرغونې بېه ور کړې ده ، يوه شبيه په خپل کتا ب اينا يد ۹ کې په دې تحر يـک شو ی دی چې له دوراني مفهوم څخه بهر شي : «Imperium sine fine dedi » . دايو ډير نالرغونی فکـر و چې ور سته يې ورجل ته دنيمه عيسوي پيغمبر حيثيت ورپه برخه کړ .

دا بيا يهږدان،او لهغوی نه ورسته عيسويان وو ، چې تاريخ ته يـې يو پوره نوی عنصر ورپه برخه کړ .دوی د تار يخ دپا ره هد فـوتيا کی ، چې تار يخی عمليه دهغه په لورمخ په حرکت وه دادتاريخ غايي نظر دی . تار يخ په دغه ډول ، مفهوم او مقصد ومو ند،خو دنيا يې خصوصيت يې يا يلود . دتاريخ وهد ف ته رسيدل، په اتوماتيکی ډول دتاريج د ختميد لومعنی پيداکړ له . تاريخ پخپله د بشر دو جود په مقابـل کې دلوې ښتن د فاع . اوگرځيد . دغه دتا ريخ هغه نظرو ، چې په منځنيو پيريو کې عمومی ر نسانس ۱۱دعقل د لومړتيوب او د دغسې جهان پخو ا نی نظر ژوندی کړ،چې مر کز يـې انسانو؛خوداينده په باب يې دپخوانې بد بينی نظر په ځای دخوش بينی هغه نظرځای کړ چې ديهو دی- نصر انې له عنعنې څخه را و تلی و . وخت،چې يووخت وورانوونکیو،اوس دوستاوودانوونکی شو . دهوراس۱۲ «Damnosa quid non imminuit dies?

---

۸. P. Virgil (۱۹ - ۷۰م) رومی شاعـر. (م)

۹. II Aeneid

۱۰. Theodicy په بل عبارت تيودوسی ، دخدای پـه عدل عقيده لرل.(م )

۱۱. Renaissance . په اروپا کـې دمنځنيو پيريو اومعاصریدوری تر مينځ انتقالـي جنبش، چـې په هغه کـې دپخوانـي دوری بيرتـه ژوندی کيدلو. (م)

۱۲. Horace (۶۵ - ۸ ق م) لا تينـی شاعـر . (م)

د بیکن ۱۳ له «Veritas temporis filla» سره پر تله کېږئ. د تنور د دورې د عقل د اصل پیروانو ۱۴، یعنې هغه کسان، چې د عصرې تاریخ لیکنې موسسان وو، د یهودی-عیسویت غایی نظر ۱۵ وساته، مګر غایه یې ورته دنیا یې کړله، په دغه ډول، دوی وکړای شوه چې پخپله د تاریخی عملیې عقلی خصوصیت بېر ته ژوندی کړی. تاریخ، د مځکې په سر د انسان د دارایې د مقصود و کمال ته ترقی وګرځیده. ګیبن، چې د تنور د دورې تر ټولو ستر مورخ و، د خپلې موضوع له ماهیت څخه، ونه و یرېد چې هغه څه ثبت کوی کوم چې یې نوملی و «هغه ښه ایسېدونکی نتیجه چې د جهان هرعصر د انسانې نژاد حقیقې شتمنی، سعادت، علم او شاید نیکی ډېره کړی، او لا یې ډېره کوې.»۱۶ د ترقی د لمانځنې آیین، هغه وخت خپل هسکټ ته ورسید څه وخت چې برتانیایی شتمنی، قوت، او په ځان اعتماد خپل هسکټ ته ورسېد او برتانیا یې لیکوالان، او برتانیایې مورخان د دغسې لمانځنې او آیین تر ټولو ډېرجدې طرفداران شول. د غه حادثه دومره روښانه ده چې د مثالو نو راوړلو ته یې اړه نه شته. یوازې ضرور ګڼم چې یوه یا دوه فقرې راوړم چې وښیم تر دغې نږدې وختو پورې په ترقی عقیده لرل زمونږ د ټولو تفکراتو داصلی

۱۳. F. Bacon (۱۵٦۱ - ۱٦۲٦) انګلیس فیلسوف، سیاستمدار او مصنف. (م)

۱٤. Rationalists

۱۵. Teleological

۱٦. ګیبن، د روم دامپراطوری انحطاط او سقوط، فصل ۳۸. د دغه انحراف موقع د لویدیځ دامپراطوری سقوط و. یو منقد د تایمز ادبې ضمیمه (د نومبر ۱۸ - ۱۹٦۰) کې په دغسی حال کې چې دغه فقره را اخلی، وایې چې نېو هیڅ ګیبن په هغه اعتقاد اره که نه. البته چې هغه لاره دیوه لیکوال نظر په زیات احتمال، دهغه دعصر انعکاس کوی په کوم کې چې دی ژوند کوی، نه دهغه شې چې دی دهغه په **باب** لیکنه کوی. دا هغه حقیقت دی چې ددغه منقد په لیکنی کې ښه واضح دی، په دی چې دی غواړی دشلمې پیړی دمنځ شکاکیت و هغه لیکوال ته راجع او انتقال کړی چې داتلسمې پیړی په اخر کې یې ژوند کاوه.

شرط او فرضيې۱۷ پهحيث پاتې وه . اکتن ، دکيمبرج دمعاصر تاريخ د پر وجې په باب د۱۸۹٦ په ر پوټ کې چې مايسې پهلو مړ نې ليکچر کې ذکر کړ ې دی ، تا ريخ «يو مترقي ساينس» بللی دی. دتاريخ پهلومړي جلد کې يې وليکل چې «مو نږ مجبور يو دعلمي فرضيې پهحيث دکوم پهاساس چې بايد تاريخ وليکل شي ، پهانساني چارو کې ترقي فرض کړو . »دامپير چې دهمد غه تاريخ پهوروستي جلد کې ، چې په ۱۹۱۰ کې خپور شو ، بېې له کوم زړه نا زړه توب نه دا احساس وکړ چې راتلونکي عصرونه به دطبيعت د منابعو پهباب دانسان دقوت دودې او دهغه د نژاد دهو ساېي د پا ره لههغو څخه دهغه دمعقول استعمال هيڅ حد ونهپيژني . »۱۸ نظروهغه څهته چې اوس به بې ووايم ، مناسبه بولم اعتراف وکړم چې دا هغه فضا وه په کومې کې چې زه پخپله تربيه شوم اوزه بې له کوم قيد اوشرط نه دبر تر اند رسل ، يعنی د هغه چا په الفاظو کې چې نيم نسل لهمانه دمخه و ، شريک کيږم چې وايي «زهدوکتهوريابې خوش بيني پهمعراج کې لو ی شوم او ..... دهيلې او اسرې هغه څهلهماسره پاتې دي چې هغه وخت ډير اسان و . » ۱۹

په۱۹۲۰ اکې ، څه وخت چې (برى) خپل کتاب : دترقي مفکوره و ليکه ، يوه لياسره اوتياره فضالادمخه خوره شو ې وه . ده مسلط فېشن تهداطاعت لهمخې ددغې فضاملامتي په «هغو نظرې کسانو ، چې په روسيې کې يې داوسنی ترور حکومت تاسيس کړی دی » واچوله ، که څههم ده لاتر اوسه ترقي د «غربي مدنيت دژوندې کوونکي اواداره کونکي مفکورې »۲۰ پهحيث بيانوله . لههغهوروستهدغه نغمه

---

۱۷. Postulate

۱۸. دکيمبرج معاصر تاريخ ، منبع ، مولفيت ؛ او توليد يې (۱۹۰۷) مخ ۱۳ دکيمبرج معاصر تاريخ ، (۱۹۰۲) مخ ٤ ، ۱۲ (۱۹۱۰) مخ ۷۹۱.

۱۹. بېې رسل ؛ اه حافظې نه خاطرات (۱۹۵٦) مخ ۱۷.

۲۰. جې . بې . برى ، دترقي مفكوره (۱۹۲۰) مخونه ۷ ـ ۸.

غلي‌شوله .روایت دی چي در وسهې لومړی نیکولای په یوه فرمان سره د «ترقي» دلفظ استعمال منع کړی و.په دغو وختو کي ، د اویدیڅي ار و پا اوحتی د متحده ایالتو نوفیلسوفانو اومورخانو ، لەدیرې مودې وروسته ،لەهغەسره موافقه کړې ده . دترقي فرضیه‌باطله ګڼله شوې ده . دلویدیځ د مخ په ځوړی تو ب افا ده د و مره اشناشوې ده‌چي نورنو دقول‌نقلولوته کوم احتیاج پا تي نه دی . خو له‌چیغوو هلونه برسیره ، څه‌شي واقعاً پېښ شوی دی ؟ دذهنیت دغه جاری څپه دچا له خوا تشکیله شوې‌ده ؟ هغه‌بله‌ورځ مي‌سخت‌تېکان وخوړچي زماپه‌فکردبرتراندرسل په‌یواځینې تبصرې‌مخامخ شوم چي دطبقاتي یرشدید حس برسیره کوې «په‌کلي‌دول، نورځ په‌جهان‌کي ،نظرسلوړوبیو کالونوته ، ډیره لږ ه از اد ې مو جو ده ده . » ٢١ . زه دا ز ا ی، د مېچړ لو د پا ره کو مه ا ندا زه نه لرم ، ا و په دې نېو هېږ م چي دڅو کسا نو لږه از ادي دډ یروکسا نو له د یر ې ازا دې سره څنګه مو ا زنه کړ م . خو د مهچ په هر معنیا ر چي و ې د ر سل و ینا ښېخي غیر و ا قعي بو لـم د ای . جی . پی. تیلر ، هغه خو ښوونکې‌خبری ، چي دی یی کله کله ، دا کسفورډ په علمي ژوندکي کوی ، تر نورودیری په زړه پوری دی . دی وایي چي دمدنیت دمخ په ځوړی‌توب‌توپلی خبری‌دا «معنی‌لری‌چي‌د پوهنتون پروفیسرانوبه په کورکي مزدوران لرل، اواوس دوی په خپه مینځل کوی .» ٢٢ په دی کي شک نه شته چي دپروفیسرانو کالي‌مینځل به‌دپخوانیوخانګي‌مزدورانودپاره به دترقي‌یوه علامه‌وی . په افریقي کي ، د سپین پوستودلوړتوب‌بایلل،چي‌دامپراتوری وفاداران٢٣، اروپایي نژاده جمهوریت غوښتونکي افریقائیان ٢٤ اودطلا اومسوپه اسهامو کي د پانګي

٢١. بې . رسل، لـه حافظې نـه خاطرات (١٩٥٦) مخ ١٢٤ .

٢٢. ابزور، جـون ٢١، ١٩٥٩ .

٢٣. Empire Loyalists

٢٤. Africaner Republicans

سهمداران زوروی، نوروته ممکن ترقی وی . د ترقی ددغې مسئلې په باب، زه هیڅ دلیل نه وینم چې بس دهمدغه حقیقت په بنا ۲۵د ۱۹۵۰ دلسو کالونو قضاوت د ۱۸۹۰ دلسو کالونو په قضاوت ،غوره وګڼم ،یادانګلیسي- ویونکو قضاوت داسیا ،روسیې اوافریقاپه قضاوت مرجح و بولم ؛ اویادمنځنی روشنفکری طبقې قضاوت دسر کښ د سړی په قضاوت ، چې د شاغلی میکمیلن ۲۶ په قول یې تراوسه د ومره ښه ژوند نه ولرلی ،ښه وبولم . راځی چې دیوی‌شیبې‌دپاره ،دغه قضاوت وروسته وغورځوو چې موږ نږ د ترقی په عصر کې ژوندکوویاد انحطاط ا و لږ څه په‌ځیر سره وګورو چې د ترقی په مفهوم کې څه شیان مضمردی ،څه فرضیې یې شاته‌واقع دی.اودغه فرضیې ترکومه حده غیرقابل دفاع ګرزیدلی دی .ترهرڅه ړومبی غواړم، دترقی اوتکامل په حقله مغشوش کوونکی‌افکارلیری کړم . دتنورددوری مفکرانوظاهراً دوه نقیضې نظریې‌غوره کړی وی: دوی په دی لټه کې وو ،چې‌دطبیعت‌په جهان کې د انسان مقام تثبیت کړی ، او دفاع یې وکړی : د تاریخ قوانین ، د طبیعت له قوانینوسره برا برو ګڼل شول. له بلی‌خوا ،دوی په ترقی معتقد وو. خوددی دپاره چې طبیعت د مترقی په حیث وګڼل شو، داسې چې دیوه هدف په‌لوری په مخ ته ، څه دلیل موجود وو؟هیګل‌دغه مشکل‌داسې رفع کړچې‌تاریخ یې‌چې مترقی و، له‌طبیعت څخه چې مترقی نه‌و، پوره بیل کړ. داروینی انقلاب داسې وبریښید چې د تکامل او ترقی په برابر ګڼلوسره یې ټول‌مغشوشات له مینځه یوړل . سره له‌ټولوخبرو، طبیعت دتاریخ په څیرمترقی وګرزید . خودغه حال، دیوی مهمې غلط فهمی دپاره لاره هواره کړله . اوهغه دا چې بیا لوجیکی توارث چې د تکامل سر چینه وه ، له اجتماعی اکتساب سره چې هغه په‌تاریخ کې دترقی‌منبع وه ،یوه‌اومغشوشه وګڼله

۲۵. Ipso facto

۲٦. H. Mac Millan دبرتانیا دمحافظه‌کار دګوندیو مشر او دڅه وخت دپاره دهغه مملکت صدراعظم. (م) .

شوله. ترپیرښکاره او اشنادی. یواروپایی ماشوم په یوی چینایی کورنی کې واچوی؛ ماشوم به په سپین پوټکی سره لوی شی، مګر په چینایی ژبه به ګړیږی. دانساجـو رنګ یو بیالـوجیکی توارث دی، او ژبه اجتماعی اکتسا ب دی چی دانسان د دماغ لهلاری انتقال کوی. تکامل، بایدپهزرګونو اویا پهمیلیونو کالونو اندازه شی. لهلیکلی شوی تاریخ نه را په دی خوا په انسان کې د اندازی ور کوم بیالوجیکی تحول پېښ شوی نه دی. د اکتساب لهلاری ترقی په نسلونو کې اندازه کیدلی شی. د عقلی مـوجــود په حیث، دانسان جوهردادی چیدی خپل قوی استعداد ونهدپخوانیو نسلونو د تجاربو په غرنه ولوسره منکشف کوی. ویل کیږی چی معا صرانسان ترخپــل ۵۰۰۰ کلنی سلف څخه زیات مغز، او یاد تفکر د ذاتی استعداد ډیره برخه نه لری. مګر په خپلی زده کړی او تجاربو کې، د تیرونسلونو د تجاربو په یوځای کولو سره، د ده د تفکـر تاثیر تر پخوانه په کراتو ډیر شوی دی. داکتسابی خصوصیتونو انتقال، چی بیالوجی پوهان یی ردکوی، د اجتماعی ترقی اصل اساس ګڼل کیږی. تاریخ له یوه نسل نه ویل ته داکتسابی مهارتونو په انتقال سره ترقی ده.

دوهمهداچې مونږ دیته اړنه یو، او بایددغسې ونهګڼوچې ترقی تاکلی اغاز یاانجام لری. دغه عقیده چې نظر پنځوسو کالونو ته اوس اړزرواج لری، چې مدنیت دنیل په دوره کې په ۴۰۰۰ ق. م. کې اختراع شوی دی، نظرهغه نېټه لیک ته چې د جهان تخلیق په ۴۰۰۴ ق. م. کې ګڼی، نن ورځ لږ داعتبار وړ ده. مدنیت چې مونږ دهغه شروع دخپلې ترقـی دفرضیې دپاره داغازټکی حسابوو، یقیناً کوم اختراع نه دی، بلکه دانکشاف یوه وړه لایتناهی تدریجی عملیه ده، چې ممکن یووخت بل وخت به په کې حیرانوونکی خیزونه اوجهشونه شوی وی. مونږ ته نه بنایی په دغې مسئلې ځان وربروو چې ترقی - یا مدنیت څه وخت شروع شوی دی. دترقی دیوه تاکلی انجام فرضیې لیا ډیرمهم اشتباهات را پیداکړی دی. هیګل په

حقه په دې محکوم شوی دی چې دترقی انجام یې دپروس په پاچایې کې مشاهده کړی دی . داظاهراًدده داغراق آمیز تاویل نتیجه ده چې وایې پیشگویې یونا ممکن امردی . مگردهیگل کوزوالی،دوکتبوریادعصرنامتومورخ ،درگ بی ارنولد۲۷ وساته . ده دمعاصر تاریخ د پاچا یی پروفیسرپه حیث په ۱۸٤۱ کې په خپل افتتاحی لیکچر کې وویل چې معاصر تاریخ به دبشرپه تاریخ کې وروستی پړاووی. دهوویل چې: «داسې ښکارې چې دادوخت دپوره کېدلوعلامه وی،داسې چې له دغه وروسته به دماضی تاریخ هیڅ نه وی.» ۲۸دمارکس دغه پیشگویی چې پرولتاریایی انقلاب به غیرطبقاتی جامعه مینځ ته راوړی په اخلاقی اومنطقی لحاظ لزتراعتراض لاندې راځی ، خودتاریخ دانجام فرضیه داخرت کړی لری چې ویل یې دالهیا توعالم ته ډیرمناسب دی ، نه یوه مورخ ته او داهغې اشتباه تــه منتهی کېږی چې هدف له تاریخ نه دباندې گڼی . په دې کې څه شک نه شته چې یومعین انجام دبشری ذهن دپاره انجذابات لری او دازادی لورته داکتین دتاریخ دمارش الهام دیوې نه انجام کېدونکې ترقی په حیث،سوړ اومبهم ښکاری خو که څوك وغواړی چې دترقی خپله فرضیه محفوظه وساتی ،زما په فکردی باید دیته تیاروی چې دغه داسې عملیه وگڼی په کومې کې چې دپړله پسې عصرونوتقاضاگانې او شرایط خپل مشخص محتویــات داخل کــړی ، اوداد اکتین دهغه تیسس معنی ده چې وایی تاریــخ یوازی دترقی ثبت نه بلکه یو«مترقی ساینس » دی، اویاکه موخوښه وی تاریخ دکلمې په دواړو مفهومونوسره ـ دپېښودجریان په حیث اودهمدغوپېښودثبت په حیث ـ مترقی دی . راځی چې په تاریخ کې داکتین دازادی د مخ کې تنگ افاده را په زړه کړو :

«داد ترفشار لاندې ضعیف دمتحدوکوښښونوپه اثرده چې دزور اوپړله پسې بیعدالتی دسلطنت په مقابل کې مقاومت کېږی چې دځلوروسو کالونوپه چټک تحول

The Arnold of Rugby .۲۷

۲۸ . تېې . ارنولد. دمعاصر تاریخ دمطالعې په باب افتتاحې لیکچر (۱۸٤۱) مخ ۳۸ .

مګرتدریجی ترقی کې ازادی خوندې شوې ، ساتل شو ې ، او پراخه شوی اوپه پای کې پوهېدل شوې ده . » ۲۹

اکټن ، تاریخ داسې وګاڼه چې دترقی په حیث دازادی په لوردپېښو جریان وی، اودازادی دپوهېدلوپه لوردترقی په حیث دهمدغــوپېښوثبت وی. دواړه عملیی اوږه‌په‌اوږه‌په‌مخ درومی. ۳۰فیلسوف (براډلې) په‌دغسې‌ډصر کښې‌چې‌ل تکامــل نه دقیاسونوِاوشباهتونوراوړل رواج لاره ،وایی‌چې «د مذ هبې‌عقیدې دپاره دتکامل انجام، په هغه قسم ښودل شوی‌دی چې... لادمخه ښکاره شوی دی. »۳۱دمورخ دپاره دتر قی انجا م دمخه ظاهرشوی نه‌دی. داهغه څه دی چې‌لاتراوسه په‌لایتناهی ډول لېری دی، اویوازی هغه وخت چې مونږوړانـدې درومونښانې یې په نظر کې راځی . دادهغه اهمیت نه کموی .قطب ښوو ونکی یو قیمتی‌او په واقع کې یوحتمی لارښودونکی‌دی، مګردلارې نقشه‌نه‌ده . دتاریخ محتویات یوازې هغه وخت‌تحقق موندلی شی چې مونږیې تجربه کوو.

زمادریم تکی‌دادی چې‌هیڅ عاقل‌انسان په‌دغسی ترقـی‌معتقد کیدلی‌نـه شی چې په یوه سم سیده کرښې په مخ ځئ او په خپل مداومت کې کوزوالی ، اوماتوالی نه منی ،داسی چې حتی یوډېرشدید بیرته‌تـګ هم‌دهمدغې منکوری دپاره مهلک نه وی . دا وا ضحه ده چې هم د بیرته تګ اوهم دوړاندی تګ عصرونه شته دی . برسیره پردی دا به سمه نه وی چې فرض شی چې تر قی به لــه یوه بیرته تګ نـه وروسته له همغه تکی اویادهغې‌لیکی په اوږدوشروع شی . دهیګل یادمارکس‌دری یاڅلور مدنیتونه ، دتهـاین بې یوویشت مدنیتونه ، دمدنیت ددورانی ـ ژوندتیوری

۲۹. اکټـن ،دمعاصر تاریخ په باب لیـکچرونـه (۱۹۰٦)، مخ ٥۱.

۳۰. کـې . منهایـم دانسان اراده چې تاریخ ته شکل ورکـوی ، دهغـه لـه استعداد سره چــې پری پـوهیږی، مربـوط ګڼــې .

۳۱. اف . اچ . برادلـې ، اخلا قـی مطالعات (۱۸۷٦)، مخ ۲۹۳.

چې له ظهور، انحطاط، او سقوط څخه به تیریږي ـ دغه نقشې په خپل ذات کې بې مفهومه دي . خودا دهغه مشاهده شوی حقیقت علامي دي ، چې هغه کوښښونه چې دمدنیتونو دپرمخ بیولو دپاره ضروري دي، په یوه ځای کې محو کیږي، اوپه بل ځای کې وروسته له سره شروع کیږي ، داسې چې هره هغه ترقي کومه چې مونږ یې په تاریخ کې مشاهده کولی شو، یقیناً چې نه په مکان او نه په زمان کې دایمي وي . کـه زه تاریخ په قوانینو ایښلو سره عادي اوسم ، یوقانون به داوی چې یوه دله ـ هرڅه نوم چې پرې ږدی ،طبقه ورته وایې ، یاملت ، یالویه وچه یامدنیت ـ هغه ستاسې خوښه ـ کومه چې په یوه عصر کې دمدنیت په مخ بیولو کې سترسهم لري ، گمان نـه کیږي چې په بل عصر کې به مشابه سهم لرلی وشي . ددی ښکاره علت دادی چې دغه دله به‌دپخواني عصر پـه عنعنـو، گـتو، ایډیالوجي گانو کې دومره غـرقه وي چې وبه نه شي کولی دبل عصر اه تقاضا گانو ، اوشرایطو سره ځان متوافـق کړي ۳۲ نو داسې به پیښه شي چې هغه څه چې دیوی دلې د پاره دانحطاط دوره وي ، د بلې دپاره به دیوه نوي په مخ تگ ظهور وي . ترقي دټولودپاره دمساوي او همزماني ترقي معنی نه‌لري ، او نه دغسې معنی ورکولی شي . دامهمه ده چې دانحطاط ددغو وروستیو رڅو تقریباً ټول پیغمبران ،زموږ نږ شکا کان یعنی هغه څوک چې په تاریخ کې هیڅ مفهوم نه ویني ، او ترقي مړه گڼي ، دجهان په هغې برخې اود جامعې پـه هغې طبقې اړه لري چې په څو نسلونو کې یې دمدنیت په په مخ تگ کې ستراو قوی رول په موفق ډول اوبولی دی . ددوی دپاره داکومه ډاډ گیرنه نه ده چې ورته

۳۲. ددغـې حال دبیان دپاره وگـوری د ار. اس. لینـد، علـم د څـه شي د پاره؟ (نیویارک، ۱۹۳۹) مـخ ۸۸. «زمونږ د ثقافت بهایان ډیر کلـه دماضي پـه لـور ـ یعنی دخپل دشدت او قوت دوخت پـه‌لـور گـوري، او اینده خطا گـڼـې اوورسره مقاومت کـوي. احتمال شتـه چـې د تبو تـه کیدلـو، او دنسبـي قوت دبایللو په وړاندی تللی پړاوکـې ټول ثقافت ممکن دیوه بایللی طلا یـې عصر په لـورمخ په شاوگوري په داسې حال کـې چـې ژونـد به پـه سستی او کهالی کـې په حاضره کـې تیریږي..»

وویل شی چې هغه رول کوم چې ددوی د لې په ماضې کې اوبـولی دی ، او س بـه نوروته منتقل کړل شی . تاریخ چې واضحاً په دوی باندی یو ناوړه چال تللی دی، ددوی په نزد کومه مفهوم لرونکې اوعقلی عملیه کیدلی نه شی . خو که مونز مجبور اوسو چې دترقی فرضیه وساتو زما په فکر بایـد دماتې لیکې حالات ومنو.

په پای کې په دغې مسئلې بحث کوم چې وایی دترقی اساسی محتوی د تاریخی عمل پـه ارتباط سره ، څه شی دی . دغه خلق چې مبارزه کـوی ، مثلاً غـواړی ټولوته مدنی حقوق ورپه برخه کړی ، یادجزا تعاملات اصلاح کـړی،یـاد شتمنی یا نژاد غیرمساواتو نه‌له مینځه یوسی ،په شعوری‌ډول سره زیارباسی چې بس همدغه شیان‌و کړی. دوی په شعوری ډول ،هڅه نه‌کوی چې «ترقی‌و کړی»، کوم تاریخی « قانون» یا «فرضیې» یا ترقی ته تحقق ور کړی . دا مـورخ دی چې دهغوی پـه اعمالو کې د ترقی خپله فرضیه تطبیق کوی، اودهغوی اعمال دترقی په حیث تفسیر کوی . خودا دترقی مفهوم له اعتبار څخه نه غورځوی. خوښ یم چې په دغه ټکی کې له ایسایه برلین‌سره ځان موافق‌وینم چې وایی «ترقی او ارتجاع که څه هم دغه الفاظ شایدډیر غلط استعمال شوی وی ، پوچ مفاهیم نه دی » ۳۳ دا دتاریخ یـوه ړومبنی فرضیه ده چې انسان دخپلو اسلافو له تجار بوسره داستفادی کولوقدرت لری ( داسی نه ده چې دی ارومرواستفاده کوی) اوترقی په تاریخ کې، برخلاف دتکامل په طبیعت کې، داکتسابی‌شتمنیو په انتقال‌استناد لری . د اشتمنی هم مادی ملکیتونه په ځان کې‌شامل‌گـنی ، اوهم هغه استعدادونه په ځان کې‌شامل‌لری، چې په هغوسره د یـوه چاپیریال محیط اړوی، تـرې گټه اخلی، او پرې حاکمیت کـوی . دغه دواړه عوامل ، پـه حقیقت کې، یو له بل سره نزدې ارتباط لـری او په یوه بل بانـدې عمل او تاثـیر کـوی . مـارکس انسانـی کارتـه د ټـولـې مـانـی د اساس

۳۳. فورن افیرز (مجلـه) ، ۳۸، لمبر ۳، (جون ۱۹۵۰) مـخ ۳۸۲.

ACKU

په حیث قایل دی. دغه قاعده هغه وخت دمناوور ښکاره کیږی، چې که «کار» تـه په کافی اندازه پراخ مفهوم ور کړل شی. خودمنابعو تش غوند ول به گټور ثـا بت نه شی، مگر په هغه وخت کې چې هغه له ځانه سره نه یوازې متکاثف تخنیکی او اجتماعی علم او تجربه ملگرې ولری، بلکه په پراخ مفهوم سره،دانسان په محیط باندې اضافه شوی حاکمیت هم ورسره مل وي. زما په فکر چې په حاضـرو خت کې،به یوازې یوځو معدوده کسان دمادې منابعو او علمی پوهې او په تخنیکی مفهوم سره په محیط باندې دحاکمیت دترقی دحقیقت په باب شك وکړی. مگر دهغه څه په باب،چې پوښتنې روانې دی، دادی چې آیا په شلمې پیړی کې زمونږ دجامعې په تنظیم کولو یا په اجتماعی محیط باندې ،ملی وی که بین المللي، په حاکمیت کې کومه ترقی شوی ده،که نه، یاداچې مونږ په واضح ډول دشا په لور تللی نه یو ؟ آیاداجتماعی موجودپه حیث،انسانی تـکامل،دتـکنالوجی له ترقی نه په خطرناك ډول بیرته پاتی شوی نه دی؟

هغه علامې چې ددغې پوښتنې سبب کیږی،واضحې دی.خو سره له دې هم، زه گمان کوم چې پوښتنه په سمه توگه شوی نه ده. تاریخ ډیر گرزوونکی ټکی لرلی دی، چه په هغو کې مشرتا بهاو ابتـکار له یوې دلې،اودنړی له یوې برخی نه وبلې ته انتقال کړی دی.دعصري دولت دظهوردوره، اوله مدیترانې نه وغربی اروپا تـه دقوت دمرکزانتقال، اودفرانسې انقلاب یې ښکاره عصری مثالونـه دی. داسې دورې تل دقوت گډولو دپاره د مبارزواوشدیدوخیزونو وختونـه وی. زړې واکمنی ضعیفې کیږی،زړې علامې ور کې کیږی. دجاه طلبیو اوخپگانو نوله ترخه تصادم نه نوی نظام راوځی. زما په فکر،مونږ اوس له دغسې یوې دورې څخه تیریږو. ماته دغـه تش غیرحقیقی ښکاری چې وویل شی داجتماعی تشکیلا تو د مسا یلو په باب،زمونږ فهم ،یادهمدغه فهم په رڼاکې دجامعې په تشکیل کولو کې زمونږ حسن نیت،مخ پـه

بیرته تللی دی . په واقع کې ،زه باید په زړه ورتوب سره ووایم چې هغه ډیر شوی دی. داسې نه ده چې زمونږ استعدادونه کم شوی ، یازمونږ اخلاقی صفتونو انحطاط کړی دی. مګر دبراعظمونو ،ملتونو ،او طبقاتو دقوت دانتقال له امله، دمبارزې اوجهشونو دور چې مونږ ورنه تیریږو ، په دغو استعدادونو اوخاصیتونو باندې فشارډیر کړی اودمثبتو کارنامو دپاره یې دهغوی تاثیر محدوداوعقیم کړی دی. په دغسې حال کې چې زه نه غواړم په لوید یځی نړی کې دترقی دعقیدې په مقابل کې، دتیرو پنځوسو کالو نودچټلتجونوقوت لږ وښیم، زه لاتراوسه په دی قانع نه یم چې په تاریخ کې ترقی اخرته رسیدلې ده. خو که تاسې دترقی په محتوی باندې په مانورهم فشار راوړی، ګمان کوم چې زه به دغسې پوښته ځواب ویلی وشم. په تاریخ کې دترقی تاکلې اوواضحاً تعریف کیدونکی هدف نظریه، چې زیاتره دنونسمې پیړی دمفکرانو له خوا اوړاندې شوی ده، وچه اونه تطبیق کیدونکې ثابته شوی ده . په ترقی عقیده کول ،په کومې یوې اوتوماتیکی حتمی عملیې دعقیدې کولو معنی نه لری، بلکه هغه دبشری استعدادونو په پرمترقی انکشاف عقیده لرل دی. ترقی یو مجرد لفظ دی،او مشخص هدفونه. کوم چې بشریې وخت په وخت تعقیب کوی،دتاریخ لەسیر څخه راپیداکیږی ، نه له هغه نه بهر له کوم منبع څخه . زه دانسان په کمال د مځکې پـه سر په آینده جنت عقیده نه لرم . تر دغه حده له عالمانو او متصوفانو سره چې وایې کمال په تاریخ کې غیر قابل تحقیق دی ، موافق یم مګرزه به دنامحدودې ترقی په امکان راضی اوسم ،داسې ترقی چې دهیڅ حدونو چې مونږ ورته اړه ولرو، اویایې لیدلی وشو، تابع به نه وی، اودغه ترقی به دهغو هدفونو په لوروی،چې یوازې هغه وخت چې مونږ ورته نږدی کیږو، تعریف کیدلی به شی ، اوهغو صحت او اعتبار بـه هـغوتـه درسیـد لو پـه عملیی کې ثـابت او مـشـهـود کـیـدلـی شـی . زه پـه دې نـه پـو هـیږم چـې

ACKU

د ترقی ددغسې مفهوم نه په پر ته جامعه، خنگه پاتې کیدلی شی. هره مهذبه جامعه دتراوسه نازیږیدل شویو نسلونو په خاطر، له ژوندی نسل نه قربانی غواړی. داینده بهتر جهان په نامه سره، ددغو قربانیورواشمیرل، دهغوروا شمیرلو دنیایی مثنی ده چی دکوم اسمانی مقصد پاره به کیده. د (بری) په الفاظو سره «درا تلونکی نسل دپاره دوظیفې مسئولیت د ترقی د مذکورې مستقیمه نتیجه ده .» ۳٤ ممکن دیته څه اړه نه وی چې ددغې وظیفې د حقانیت دلیل وړاندې شی. که ورته اړه وی، زه بلهلاره نه وینم چی په حقه یی وښیم .

دامې نواوس، په تاریخ کې دافاقیت مشهوری معضلې ته نزدی کوی، دغه کلمه په خپل ذات کې تیر ایستونکې او پوښتنه - غوښتونکې ده . ما دمخه په یوه لیچکر کې ویلی و، چی اجتماعی علوم، د تاریخ په شمول، کولی نه شی دعلم له دغسې نظرسره جوړه روغه وکړی، چې فاعل او موضوع یو له بل نه بیلوی، اود مشاهد اوهغه شی ترمینځ چی ترمشاهدې لاندی نیول کیږی، په کلکه بیلتون قایل وی. مونږ دغسې یوی نوې طرح ته اړ یو، چی دهغوی ترمینځ دمتقابل نسبت او متقابل عمل دپیچلې عملیې په اهمیت اوقدر ښه پوه شو . دتاریخ ټول حقایق افاقی کیدلی نه شی، په دی چی هغه یوازې د هغه اهمیت په وجه چی مورخ یی ورپه برخه کوی، تاریخی حقایق گرزی . که مونږلاهم مروجی اصطلاح استعمال کړو، په تاریخ کې افاقیت دحقایقو کوم افاقیت نه شی کیدلی، بلکه یوازی د نسبت یعنی د حقیقت او تاویل ترمینځ اود ماضی، حاضر، او استقبال ترمینځ د نسبت افاقیت کیدلی شی . لازمه نه بولم هغه دلایل بیاذکرکړم چی ماهغه کوښښ غیرتاریخ ښوولی و، کوم چی دهغه په وسیله تاریخی واقعات او ارزښت دیوه مطلق معیارله مخې سنجول کیږی - داسې معیارچی هغه له تاریخ نه بهراو مستقل وی . مگرددغه مطلق حقیقت ۳٤ مفهوم هم دتاریخ له جهان او یازماپه فکر، دساینس له جهان سره موزون اومناسب نه دی. کیدلی شی چی یوازې

Absolute truth .۳٤

دتاریخي دنیا یوډیر ساده قسم ،مطلقاً درست او یا مطلقاً غلط ، وښوول شي. کوم مورخ چې دخپل سلف حکم محکوم کوي ، په طبیعي ډول یې دمطلق غلط په ډول نه محکوموي ، بلکه هغه یا غیر کافي ، یا یو اړخیز ، یا تیرا یستونکي بولي. او یا یې ددغسې نظر محصول بولي چې دنو یو شواهد و په اساس یې زوړ شوی او نامربوط ښیي . که وویل شي چې دروسیې انقلاب ، په دې پیښ شو چې دوهم نیکولای احمق و ، او لینن نابغه و ، دا به یوه پوره تیر - ایستونکې وینا وي . سره له دې هم مطلقاً غلط ورته ویلی نه شو. مورخ له دغسې مطلقیاتو څخه هیڅ نه ګریزي .

راځې چې دراېن سن ، دغمجنې مړینې پیښې ته یو ځل بیا وګرزو. دهغې پیښې په باب زمونږ دتحقیق مقصد دانه و ، چې مونږ خپل حقایق درست کړو . په حقایقو کې څه شک ، او خبره نه وه. خبره په دې کې وه ، چې دحقیقي یا مهمو حقایقو یعنی له هغو سره چې مونږ علاقمن وو ، او دتصادفي حقایقو تر مینځ - یعنې کوم چې مونږ کولی شوای ، نالیدلي وګڼو ، تو پیر و کړو . دغه تو پیر کول مونږ ته مشکل نه و ، په دې چې زمونږ معیار یادا همیت ازموینه ، او زمونږ دافاقیت بنیاد ، ښکاره وو. او هغه داوو چه باید له مقصد سره ، کوم چې مونږ په نظر کې لاره ، ارتباط ولري ، یعنې په سړ کو کې دتلفاتو شمیر لږ کړي. خو مورخ ، په دې برخه کې تر تحقیق کوونکې نه لږ نیک مرغه دی ، په دې چې دوروستی تیا کلې او یوازنې هدف دادی چې دترافیکي پیښو د تلفاتو شمیر لږ کړي. مورخ هم دخپل تاویل په وظیفه کې ، ددې دپاره چې دمهمو او تصادفي پیښو تر مینځ توپیر و کړي ، داهمیت یوه معیار ته ، چې هغه یې دافاقیت معیار هم دی ، اړه لري. دی هم دغه معیار یوازې خپل هدف ته چې دی یې په نظر کې لري ، دارتباط په لر لو سره میندلی شي . مګر دغه لزوماً مخ په تکامل هدف دی ، ځکه چې د ماضي مخ په تکامل تاویل ، دتاریخ یوه ضروري وظیفه ده. هغه عنعني فرضیه ، چې باید تحول تل دیوه ثابت او تحول نه منونکې شي په ارتباط سره شرح شي ، د مورخ له

تجربې څخه مغایره ده. پروفیسر بټرفیلډ، ممکن د هغه فکر له مخې چې غواړي په ضمني ډول، د ځان دپاره دغسې یوه ساحه وټاکي چې نورمورخان یې پیروي کولو ته اړ نه وي، وايي: «یوازنی مطلق، تحول دی.»۳۵ په تاریخ کې مطلق په ماضي کې داسې کوم شی نه دی، چې مونږ له هغه ځایه شروع کوو. داسې هم هغه په حاضر کې کوم شی نه دی، ځکه چې ټول حاضر تفکرات لزوماً نسبي دي. داتراوسه هم ناقص دی، او د کیدلو په جریان کې دی ـ داسې یو شی چې په ماضي کې مونږ د هغه په لور، خوځیږو چې هغه یوازې هغه وخت ځانته یو شکل غوره کوي، د کوم په لور چې مونږ خوځیږو. اوڅه وخت چې خوځیږو، د هغه په رڼا کې مونږ، ورو ورو د ماضي په باب، خپل تاویل ته شکل ور کوو. دادهغې مذهبې افسانې وشانه، چې وايي د تاریخ مفهوم به د محشر په ورځ ښکاره شي، د نیایې حقیقت دی. زمونږ معیار داسې کوم مطلق نه دی، چې هغه به د سکون په مفهوم سره، د پرون، نن او د تل دپاره یو رازوی. دغسې مطلق، د تاریخ له ماهیت سره ګردسره متناقض دی. خو دا زمونږ د ماضي د تعبیر په باب یو مطلق دی. دغه مطلق د نسبي نظریې رد کوي، چې وايي دغه تاویل د هغه بل تاویل په څیر ښه دی، یادا چې هر تاویل په خپل زمان او مکان کې ښه دی، او دغسې یو محک تهیه کوي چې یوه ورځ به د هغه په واسطه د ماضي د تاویل په باب قضاوت وشي. په تاریخ کې د همدغه مسیر د احساس په وجه ده، چې مونږ د ماضي پیښې په نظم کې راولو، او تعبیر یې کوو. دا د مورخ وظیفه ده. د سیاس، اقتصاد پوه، او اجتماعي مصلح وظیفه بیا داده چې د همدغه مسیر د احساس په وجه انساني انرژي په حاضره زمانه کې ازادې، او متشکلې کړي. خو عملیه، په خپل ذات کې، مترقي او دینامیکي

۳۵. اچ. بټرفیلډ، د وګ د تاریخ تعبیر، (۱۹۳۱)، مخ ۵۸. داد ای. فان مار تن (دانسان ـ سوسیولوجي، انګریزي ترجمه د ۱۹۴۵، مخ) له مفصلې وینا سره پرتله کړی: «رکود او حرکت سکون او دینامیک هغه کټه ګوري ګانې دي، چې په هغو سره د تاریخ د پاره سوسیولوجیکي میتود شروع کیږي.»

پاتې کیږی ، او څنګه چې مو نږ په مخ درومو، زمونږ د تاو یل او د ماضی په باب زمونږ د تاو یل احساس پر له پسې تعدیل او تکامل مومی .

هیګل خپل مطلق د جهانی روح په جامه کې و نغښت، او د دې په ځای چې د تاریخ مسیر د اینده په لور یوه هدف ته طرح کړی، داسې اساسی غلطی یې و کړله ، چې هغه په اوس کې ختمه کړی. ده په ماضی کې ، د پرله پسې تکامل عملیه و پیژندله، خو د هغه وجود ته په آینده کې قایل نه شو، او ترې منکر شو. هغو کسانو چې له هیګل نه وروسته، د تاریخ د ماهیت په باب ژور فکرونه کړی دی ، په هغو کې یې د ماضی او آینده یو ترکیب مشاهده کړی دی . تاک ویل ۳٦، که څه هم چې ځان یې د خپل عصر له مذهبی روش څخه ګردسره آزاد کولی و نه شو، او خپل مطلق ته یې ډیر محدود محتوی قایل شو، سره له دې هم د موضوع په ماهیت باندې پوه وو. وروسته له دې چې د عالمی او دایمی حادثی په حیث، د مساوات له انکشاف څخه وغږید، خپلو خبرو ته یې داسې دوام ورکړ:

«که زمونږ د عصر اشخاص ترغیب کړل شی چې د مساوات تدریجی او مترقی انکشاف یو وار د خپل تاریخ د ماضی او آینده په باب وو ینی، دغه یوازنی کشف به د غه انکشاف ته د دوی د رب او څښتن د ارادې سپیڅلی خصوصیت ور کړي .» ۳۷

کیدلی شی چې په دغی ناتمامی شوې موضوع باندې یو مهم فصل و لیکل شی . مارکس، چې د هیګل په څیر، د آینده د لیدلو په باب یو څه احتیاط کاوه، او یوازې له دې سره علاقمن و، چې د خپلو تعلیماتو ریښه د ماضی په تاریخ کې ټینګه کړی، د خپلی موضوع د ماهیت له امله، مجبور و چې د خپلی بې طبقاتی جامعې مطلق د آینده په لور طرح کړی .(بری) د ترقی مفکوره لږ څه بې لطفه بیان کړله، مګر مقصد

---

۳٦. A.C.H. Tocqueville (۱۸۰۵ - ۱۸۵۹) فرانسی سیاس او سیاسی ایکوال. (م)

۳۷. ای. تاک ویل، په امریکا کې دموکراسی ته مقدمه.

واضحاًهمهغه‌و. دده په فکر، دترقی‌مفکوره «یوه تیوری ده چې دماضی دترکیب اودآینده پیشگویی‌مشموله ده؛ » ۳۸ نامیرپه د غسې عباراتو، چې په أرادي ډول ظاهراً نقیض دی ا وهغه په معمولی‌ډول، په ډیرو وافرومثالونوکې تمثیل‌کوی وایی چې‌مورخان «دماضی تصور کوی ، اوآینده په یاد لری.»۳۹ یوازې‌آینده، دماضی‌دتاویل دپاره کلی برابرولی‌شی، او یوازې پههمدغه مفهوم سره ده چې‌مونږ په تاریخ کې‌له نهایی‌افاقیت څخه غږیدلی‌شو.دغه سمدلاسه ، دتاریخ حقانیت او شرح ده چې ماضی په‌آینده . اوآینده په ماضی‌بانـدې رڼـا اچوی.

نو په‌دغه‌حال کې، کله چې‌مونږ‌مورخ‌دافاقی کیدلو‌دپاره‌ستایو، او یاوایوچې یومورخ نظروبل‌ته‌ډیرافاقی‌دی؛ زمونږ مطلب‌اومنظور‌څه‌دي؟واضحه‌ده‌چې‌دایوازې په دی نه ده چې‌مورخ خپل حقایق درست اوسم تهیه کوی، بلکه په دې ده چې دی دسم اودرستو حقایقوانتخاب کوی . کله چې مونږ یوه مورخ ته افاقی وایو، زما په‌فکر مونږدوه څیز و نه کوو : اومړی داچې مونږوایو چې د ی دغسې استعداد لري چې په‌تاریخ اوجامعې کې‌دخپل‌محدوددیداونظرله‌موقف‌څخه‌هسک‌څېږي .داهغسې استعداددی، چې لکه څنگه چې‌ماپه یوه ړ ومبنی لیسکچر کې پړې نظر اظهار کړی و، څه‌یې دهغه په خپل استعداداړه لری، چې‌په هغه حال کې دخپل دشمولیت‌حدو اندازه‌وپیژنی .په بل‌عبارت دپوره افاقیت ناممکن توب‌و پیژني.دوهمه داچې مونږ له‌هغه‌څخه دغسې مفهوم اخلو چې‌مورخ دغسې‌استعداد لری چې‌دایله په‌باب خپل دیداو نظر په‌دغسې ډول طرح کړی‌چې وده ته دماضي په‌باب ډیر دوام لرو نـکی اوژورنظراو بصیرت وربښې، داسې چې دده دغه بصیرت‌دهغومورخانوتر بصیرت نه لیاډیر ژو ر او دوام داروی ، چې دهغو ی نظرد دوی موجود مو قف محد و د کړی‌وی . نن ورځ به‌هیڅ مورخ داکتن دهغه اعتماد انعکاس و نه کړ ی کوم‌چې

۳۸. جې . بې . بری، دترقی مفکوره (۱۹۲۰ ) ، مخ ۵-.
۳۹. ال. بې . نامیر ، تخالفات (۱۹٤۲)مخ ۷۰.

هغه د «نهایي تاریخ» په اینده لاره . خو ځینې مورخان داسې تاریخ لیکي چې تر نوروهم ډیر پائیږي ، اوهم دهمدغه افاقي او نهایي خصوصیت ډیره برخه لري . دوی هغه مورخان دي چې دماضی او اینده په باب، ددغسې نظرخاوندان دي چې زه ورته داوږدې مودې نظروایم .دماضي مورخ دافاقیت په لوریوازې هغه وخت تقرب کولی شي چې دآ ینده دتفا هم په لور تقرب کړی .

نو په دغه حساب کله چې ما په یوه رومبنی لیکچر کې تاریخ داوس او ماضی تر مینځ یوه مکالمه وګڼله ، ما باید هغه دماضي دپیښو او په مترقي ډول داینده هد فو نو دظهور تر مینځ یوه مکالمه ګڼلې وای .دماضي په باب دمورخ تاویل ، دهغه دمربوطو اومهمو حقایقو انتخاب، دنویو هدفو نو په مترقي ظهور سره تکامل کوی . یو ډیر ساده مثال به دلته راوړم . تر هغوچې دا سې ښکاره کېده چې ستر هدف داساسی ازادیو ،اوسیاسی حقوقو تنظیمول و ،مورخ دسیاسې اواساسې قانون په چوکاټ کې دننه دماضی تاویل وکړ. کله چې اقتصادی اواجتماعی هدفونوداساسی قانون او سیاسی هدفو نوځای ونیو،مورخانو دماضی اقتصادی اواجتماعی تاویل ته مخه وکړله. شکاك ممکن داسې ادعا وکړی چې دغه نوی تاویل تر پخوانی نه ډیرسم نه دی ، اوهرتاویل دخپل عصردپاره سم دی . دی په دغې ادعا سره ممکن حق په جانب وبریښي. سره له دې هم څرنګه چې په انسانی انکشاف کې له اقتصادی او اجتماعی هدفونوسره اشتغال داساسی قانون اوسیاسی هدفونو تر اشتغال څخه،دډیرې پراخې او په مخ تللې مرحلې تمثیل کوی ، دتاریــخ اقتصادی اواجتماعی تاویل له خاص سیاسی تاویل څخه په تاریخ کې یو ه په مختللې مر حله ښیی . پخوانی تاویل نه ردکېږی ، بلکه هم په نوی کې شامل کېږی ، او هم عوض کېږی . تاریخ لیکنه یو مترقی ساینس دی ، په دغه مفهوم چې تاریخ لیکنه د پیښو په مسیر کې، چې هغه په خپله مترقی دی ، په پرله پسې ډول دلیا پراخیدونکو او ژورکېدونکو بصیرتـونـو

پلټنه کوي . کله چې وایم مونږ «دماضي په باب يو تعميري نظر» ته اړه لرو ، زما مفهوم باید ترینه همدغه وي . عصري تاریخ لیکنه دتېرودوو پېړيو په دوران کې په ترقي باندې دهمدغې دوه‌ګونې عقيدې په لرلوسره وده کړې ده ، او له هغې نه په پرته ژوندکولی نه شي ، ځکه چې همدغه عقيده داهمیت معیاراودحقیقي اوتصادفي ترمینځ دهغه دتوپيرکولومحک تهیه کوي . ګویټه ، دژونـد په وروستۍ پړاوکې دګوردغوټه ۴۰ یوڅه په تندۍ پرېکړه :

« هغه وخت چې عصرونـه مخ په ځوړ وي ، ټول تمایـلات عندي وي ، خو له بلې‌خوا څه وخت چې‌دیوې نوې دورې دپاره شیان پخېږي ، ټول تمایلات افاقي وي . » ۴۱

هیڅ‌څوک ،جبورنه دی چې یادتاریخ په‌آینده یادجامعې‌په‌آینده عقيده ولري. ممکن زمونـږ جامعه ورانه ، او یا په تدریجي فساد سره تباه شي ، اوتاریخ‌ممکن دالهیاتوقلمروکې ننوځي ، یعنې د انساني کارناموتطالعه نه ، بلکه داسماني‌مقصد مطالعه وګرځي ، یا تاریـخ دادبیاتوقلمروته وروګرځي یعنې بې له‌کوم مقصد او معنی څخه کېسې او نـکـلونـه نقل کـړي ، مـګردا بـه هغه تـاریـخ نه ي ، کړم چې مونږپه تیرودوه سوو کالونو کې‌پېژندلی دی .

سره‌له دې هم،زه باید په یوه مشهور اوعمومي‌اعتراض‌بحث وکړم . اعتراض‌په هرې‌هغې تیورۍ باندې دی چې‌دتاریخي‌قضاوت نهایي‌محک په‌آینده کې مومي . ویل کېږي چې ددغسې تیورۍ ضمني معنی داده چې موفقیت دقضاوت نهایي محک دی او که نه هرهغه څه چې دی ، او هرهغه څه چې وي ، سم دی . په تیرودوه سووکالونوکې‌زیاترومورخانونه‌یوازې دیوه‌لوراوجهت فرضیه منلې‌وه،

---

۴۰ . The Gordian Knot دګوردغوټه ځانله کیسه‌لري‌اودلته‌په یوه‌ځانګړې ژړه‌ورعمل‌سره دیوې سختې‌هستلې‌حل‌کول‌ترې مرادده.(م)

۴۱ . اقتباس دجي . هویزنګـاپـه: اشخاص او افکاروکـې (۱۹۵۹) مـخ ۵۰ .

په کومې چې تاریخ حرکت کوی ، بلکه په شعوری یا غیر شعوری ډول سره په دغې عقیدې وو چې همدغه جهت سم جهت و ، او بشر پرې له بد څخه و ښه حالت ته، او له ښکته څخه و پورته حالت ته انتقال کړی دی . مورخ نه یوازې دغه جهت پیژندلی دی، بلکه تائید کړی یې هم دی . داهمیت اومعنی هغه ازموینه کومه چې ده دماضی په باب تطبیق کړی ده ، نه یوازې دهغه مسیر په احساس سره و، په کوم چې تاریخ حرکت کاوه ، بلکه په هغه مسیر کې دده داخلاقی اشتغال احساس هم و . د «دی» او «باید» او دحقیقت او ارزښت ترمینځ مفروض دوه گون توب حل شو. دادخوش باوری نظرو، چې په آینده باندې دقوی ویسا دعصر محصول و. و یگان۴۲، اولبرالان ۴۳ هیگلیان ٤٤ او مارکسستان ٤٥ـ الهیون ٤٦ـ او عقلیون ٤٧ په همدغه نظر ډیر ټینگ، او لنډ او واضح وو . بې له کومې مبالغې نه ، دا د دوه سوو کالو نو د پاره د دغې پوښتنې په مقابل کې چې « تاریخ څه ته وایی ؟» دیوه منل شوی ، او بلا اعتراض ځواب په څیر ویل کید لی شو . دهغه په ضد عکس العمل ډیری او بدبینی له حاضر حالت څخه راولاړشوی ، چې ساحه یې یوازی الهیونو اوشکاکانوته پری ایښې ده ، چې لومړنی یې دتاریخ مفهوم له تاریخ نه بهر لټوی، او وروستني یې تاریخ ته په هیڅ مفهوم قایل نه دي. تول په ګډه مونږ ته ډاډ راکوی او په ډیر ټینګار سره یې راکوی چې د « دی » او « باید » ترمینځ دوه گون توب مطلق دی ، او حل کیږی نـه او « ارزښتو نه » له « حقایقو »څخه ایستل کیدلی نه شی.

---

۴۲. Whigs

۴۳. Liberals

٤٤. Hegelians

٤٥. Marxists

٤٦. Theologians

٤٧. Rationalists

ACKU

زماپه فکردغه لارغلطه‌ده . راځي چې يوڅومورخان ، يادتاريخ په باب ليکوالان وګورو، چې‌ددغې پوښتنې په بأب دوی څنګه احساس لرلی دی،دغه کسان ، مونږ لږددېرپه اتفاقی ډول غوره کوو .

ګيبن ، په خپل‌داستان کې‌چې‌داسلام‌دفتوحاتو د پاره کومه‌ساحه تخصیص کړې ده، په دغو‌دلايلوسره يې‌په ځای اوحقه ښوولې ده چې «دمحمد پيروان لاتر اوسه هم په ختيځې نړۍ کې مدني او مذهبي‌اقتدارپه‌لاس لري.» خوپه هغه برسيره وايي چې « عين هم‌غه زحمت به بې له استحقاقه په هغو وحشي ډلوپيرزو کړل شي چې داومې اودولسمې پيړی ترمينځ دتوران ۴۸ له ډاګونو نه را ښکته شول ، » ځکه چې د « بيزانس دتخت عظمت‌دغه بې نظمه حملې دفع کړلې : اوځان‌يې وساته .» ۴۹ داناامعقوله نه بريښي . تاريخ په عمومي ډول ، دهغو پيښوثبت دی ، چې خلقو څه‌کارونه وکړل ، نه‌داچې په‌کړلويې ناکام شول . نوتر دغه حده ، حتمي ده چې تاريخ د موفقيت داستا ن دی . دپروفيسرتاني۵۰ په عقيده مور «دحتميت‌ظاهري بڼه » وهغه موجود نظام ته نه ورکوی چې يې « قوتونه کوم چې موفق شوی دی ، لوړوالي ته رسولی دی ، او هغه يې په شاوهلی دی، چې دوی هغه‌له‌مينځه‌وړي‌دی.»۵۱خو ايا، په يوه‌مفهوم سره ،همه‌غه‌دمورخ دوظيفې جوهر نه دی ؟ مورخ بايد مخالف قو ت لږونه ښيي . دی بايد موفقيت ، چې که له خطراتوسره مخامخ و، اسان ونه ښيي . کله کله داسې کيږی ، چې په نهايی نتيجې کې، ناکامانودکاميابانوپه څير ډير کومک کړی وی . دغه اصلونه هرمورخ ته اشنادی . خو، په عمومي ډول ، مورخ له هغو کسانوسره علا قمن دی ، چې

---

۴۸. Scythia دتوری بحيری شمالي سيمی . (م).

۴۹. ګيبن، د روم د امپراطوری انحطاط او سقوط، فصل Lv .

۵۰. Prof. R.H. Tawney

۵۱. آر. اچ ، تانې ، په شپاړسمې پيړی کې د مځکو مسئله (۱۹۱۲) مخ ۱۷۷ .

یوځه یې اجرا کړی وی ، فرق نه کوی چې دوی غالب یامغلوب شوی وی . زه د کرکټ په تاریخ کې تخصص نه لرم ، مګر دهغه پا ڼې په قوی احتمال دهغو کسانو په نومونوسره ښکلې شوی دی، چې سل ګونه یې پوره کړی وی ، نه داچې سر یې وهلی وی اوله یوه اړخ نه وتلی وی . دهیګل په دغې مشهورې وینا،چې په تاریخ کې «یوازې هغه کسان زمونږ نظرجلبوی چې دولت تشکیل کوی»۵۲ په حقه اعتراض شوی دی چې، دی داجتماعی تشکیل یوې بڼې ته په خاص ارزښت قایل کیږی او دکرکجنې دولت ـ نما ئځنې دپاره لاره هواره کوی . خودپرنسیب له مخې هغه څه چې دی کوښښ کوی ووایې سم دی ، اودی دتاریخ او ماقبل التاریخ ترمینځ دتوپیرمشهورانعکاس کوی . یوازې هغه خلق چې دخپلې جامعې په تنظیم کولوسره موفق شوی دی ، نورنودلومړنیووحشیانوپه شیرنه دی، اوپه تاریخ کې داخلیږی کارلایل ، په خپل اثر( دفرانسې انقلاب ) کې پنځلسم لویی ۵۳ د « جهان عین مجسم بې تمیزی » بولی . دغه عبارت دده ډیرخوښ و،ځکه چې هغه یې په یوی وروستې اوږدې فقرې کې ښکلې کړی و .

« داځه نوی عالمی سرګیچوونکی نهضت دی : دموسساتو، اجتماعی تنظیماتو فردی دماغونوچې یو وخت یې په ګډه کاروکړ،اوس په ګیچ تصادم کې سره ټکر خوری ، او ټوکرټوکرکیږی ؟ حتمی اوناګزیر، دادجهانی بې تمیزی انحلال دی چې په پای کې زوړشوی دی . » ۵٤

محکځ یوځل بیاهم تاریخی دی . هغه څه چې په یوه عصر کې متوافق وو، په بل کې بې تمیزی شوه ، اوپه همدغه دلیل سره محکوم کیږی . داسی ښکاری چې سرایسایه برلین ، څه وخت چې دفلسفې مجرداتوله هسکو څخه راکوزیږی

۵۲. دتاریخ د فلسفی په باب لیکچرونه (انګریزی ترجمه ، ۱۸۸٤) مخ ٤٠ .

۵۳. Louis XV (۱۷۱۰ ـ ۱۷۷٤) دفرانسې پاچا(م) .

۵٤. تې . کارلایل، دفرانسې انقلاب، I ، i ، فصل ٤ ، I، iii، فصل ۷.

او په مشخصو تاريخي حالاتو سوچ کوي ، دغه نظر ته نژدې کيږي . د ه په هغې راديو يې وينا کې چې دخپلې مقالې « تاريخي حتميت » لهچاپولو نه وروسته وکړه بسمارک يې سره لهاخلاقي نيمگړتياوو ديوه « نابغه » په حيث وستايه او هغه يې په « تيرې پيړۍ کې ، دسياسي قضاوت دلوړوصلاحيتونودسياست چې ديوه ستر مثال په حيث» تعريف کړ ،او له دغسې کسانولکه داستر يادوهم جوزف ۵۵، روبسپير۵۶ لينن، اوهتلرسره يې په مقايسې کې ښه اوغوره وگاڼه . دده په فکر ، وروستيو کسانو ونه شو کولی ، خپلو مثبتوهدفونو ته تحقق ورکړي دغه حکم ، ماته عجيب او غريب معلوميږي . خو هغه څه چې اوس مې علا قمن کوي د قضاوت معيا ر د ی . سر ايسا يه بر لين وايې چې بسمارک په هغو موادو ، په کوموکې چې ده کار کاوه، ښه پو هيده ، اوهغه نورهغو مجردو تيوريو پسې يوړل، کوم چې په عمل کې نا کام شول . ددې نتيجه داشي چې « نا کامي دهغه په مقابل کې چې ترتولو ښه کار کوي .... له مقاومت څخه را پيداکيږي ، ( اوهغه ) د کوم نظم ميتو د ، يا پرنسيپ په گټه چې د کلي اوعالمي اعتبارادعا کوي ، »۵۷ . په بل عبارت، په تاريخ کې دقضاوت محک هغه «پرنسيپ چې دعالمي اعتبار ادعا کوي » نه دی، بلکه « هغه دی چې ترتولو ښه کار کوي . »

ديته څه اړ ه نه شته چې وويل شي دا يوازې هغه وخت نه دی، چې څه وخت ماضي تحليل کيږي ،مونږ په دغه محک يعنې «هغه چې ترتولو ښه کار کوي » استناد کوو. که چادرته وويل چې دده په فکر په همدغه اوسني حال کې، په يوه ځانگړی دولت کې اوديوه ځانگړی واکمن ترادارې لاندې ، د لويې برتانيااو دامريکې

55. JosephII

56. Robespaire (۱۷۵۸ - ۱۷۹۴) فرانسي انقلا بـي . (م.)

۵۷. پـه بې . بې . سي کـې د (سياسي قضاوت( پـه ياب خپرونـه ، دريـم پروگـرام ، دجون۱۹ ، ۱۹۵۷.

د متحده ایالتونو اتحادیه مطلوب امر دی. تاسې به ورسره موافقه وکړی ، چې دا یوه ښه معقوله نظریه ده . که یې خپلو خبروته داسې دوام ورکړ،چې د حکومت دیوه شکل په حیث، مشروطه پاچاییې له جمهوری دموکراسی څخه غوره ده، ممکن تاسې بیاهم ورسره موافقه وکړی چې دا ښه معقوله ده .خو فرض کړی چې ده درته وویل چې دی پیشنهاد کوی ددغسې مبارزې د پاره وخت وقف کړی، چې دواړه مملکتونه دی دبرتانیاله تاج لاندی بیا یوه اتحادیه جوړه کـړی ، ممکن تاسې ورته ځواب ورکړی چې دی خپل وخت خوشې عبث کوی . که موکوښښ وکړ چې علت یې څرګند کړی ، ممکن ورته ووایـې چې دغه رازمسایل باید په دغسې ډول تربحث لاندی و نه نیول شی چې هغه دکوم پرنسیپ دعمومی تطبیق په اساس وی ، بلکه باید دغسې وی چې په تاکلو تاریخی شرایطو کې کوم څه موثروی . او کار کوی . تاسې ممکن دغه اساسې ګناه هم وکړی او تاریخ په غټو تورو یادکړی اوورته ووایې چې تاریخ ( په غټې تې سره ) ستاسې په خلاف دی . د سیاست چې کار دادی چې نـه یوازی هغه څه کوم چې داخلاق اودتیوری له مخې مطلوب وی . بلکه دغه قوتونه چې په جهان کې هم موجوددی. ترغوراو کتنې لاندی ونیسی . داسې هم داپه نظر کې ونیسې چې دغه قوتونه به څنګه دهغو هدفونو دیوڅه برخې د تحقق دپاره کوم چې په نظر کې نیول شوی دی ، په کار کـړل شی . زمونـږ هغه سیاسی فیصلې ، کومې چې زمونږ دتاریخ دتاویل په رڼا کې کیږی . په همدغې روغې جوړی کې ریښې لری . هیڅ شیز دومره ډیرغلط نه دی . لکه چې مونږ د مطلوب کـوم مفروض مجرد معیار ساز کړو . اودهغه په رڼا کې په ماضي حکم وکړو . راځئ چې د« موفقیت» دکلمې په عوض چې تبعیضی رنګ لری، دغه بیطرفه افاده یعنی «هغه چې ترټولو ښه کار کوی» په ټوله معنی استعمال کړو . څنګه چې په دغو لیکچرونو کې څوځایه ماله ایسایه برلین سره دعوی کړی دی ، خوښ یم چې دغه وینا، په هرحال، له ده سره دمـوا فقت

تریوڅه اندازی پوری پای ته رسوم .

مگر د «هغه چې ترټولو ښه کار کوی » دمحک‌مثل دهغه تطبیق اسان او بدیهی نه گرزوی . دادا سې یو محک نه دی چې عاجل حکمو نه تحریک کوی ، یا هغه نظرته سر ټیټوی چې هر هغه څه چې ښه دی ، درست دی . په تاریخ کې بلاربې ناکامی گانی نامعلومې نه دی . تاریخ هغه څه‌چې‌زه‌یې د« تمال‌شوې کار نامې» په نامه یادوم ، پیژنی ، ممکن‌دنن‌ورځی‌ظاهری ناکامی گانې دسبا کارناموډپاره حیاتی مرسته کړی وی. پیغمبران چې له خپل‌عصر نه دمخه ظاهرشوی دی . په‌حقیقت کی ، نظر یوه مفروض‌ثابت‌او کلی پرنسیب‌ته ددغه محک یوه فایده داده چې دهغه په احتمالی تقاضاموتر خپل قضاوت سباته تال کړو ، او یادهغوښیزونو په رڼا کې چې لاتراوسه واقع شوی نه‌دی ، دغه محک‌تعدیل کړو . پرو ډون ۵۸ چې دمجردواخلاقی پرنسیپونو په عبارت پسه ازادډول گرزیده ددریم ناپلیون ۵۹ کودتایی وروسته له دې چې بریالی شوه ، نالیدلی وشمیرله . مارکس چې دمجردواخلاقی پرنسیپونو تردید کاوه ، پرودون یې په دغه نالیدلی توب باندې محکوم کړ . مونږچې وروسته‌له‌ډیره‌وخته‌په‌هغه‌نظراچوو ، په‌دې به‌موافقه وکړو ، چې پرودون غالباً غلط او مارکس په‌حقه و . دبسمارك کارنامه د تاریخی قضاوت ددغې مسئلی دازموینې دپاره‌ډیره ښه مبداتهیهٔ کوی . په‌دغسی حال کې چې زه دسر اسیایه برلین مطلق «هغه څه چې ترټولو ښه کار کوی» منم ، زه لاتراوسه په هغو تنگو او قصیرالمدته حدودو نو تعجب کوم چې دی دهغه دننه ظاهراً دهغه پسه تطبیق کولو قانع دی . آیاهغه څه چې بسمارك خلق کړل ، په‌رښتیا ښه کاریی وکړ؟ زماپه‌فکرچې هغه دلویې تباهی سبب شو . ددی معنی دانه ده چې زه غوارم بسمارك

۵۸. P.J. Proudhon (۱۸۰۹ - ۱۸۶۵) فرانسی سوشلست او او مصنف (م)

۵۹. Napoleon III (۱۸۰۸ - ۱۸۷۳ ) دفرانسی امپراطور (۱۸۵۲ - ۱۸۷۰) . (م)

یعنی هغه چاچې دجرمن رایخ۶۰جوړ کړ ،او یادجرمن ولس یعنی چاچې ددغه رایخ غوښتنه کوله،او په جوړولو کې یې سهم لاره،محکوم کړم.خو دیوه مورخ په حیث، زه تراوسه هم مجبوریم ډیری پوښتنې وکړم. آیادغه بعدی تباهی له دغه امله پیښه شوله چې درایخ په تشکیل کې څه نقص و؟ یا له دې امله پیښه شوله چې په داخلی شرایطو کې کوم چې درایخ دظهور سبب شو، کوم شی ددې سبب شو چې هغې متجاوزاوخود خواه کړی ؟ یا له دې امله، چې څه وخت چې رایخ جوړ کړل شو ، اروپایی یا جهانی صحنه لاترهغه دمخه دومره ډکه شوې وه، اودموجودوسترو قوتونو په منځ کې دپراخیدلو هڅې دومره قوی شوې وې،چې دیوه بل پراخیدونکی سترقوت ظهور بس ددی کافی وو ،چې دیوه عمومی تصادم سبب شی،اوټول سیستم وران ویجاړ کړی؟ دایه غلطه وی چې دوروستی فرضیې په اساس ، بسمارك یاد جرمن خلق ددغې تباهی مسئول، او یا کاملاً یوازې مسئول وګڼل شی. تاسې واقعاً نه شی کولی وروستی وانه ګرم وبولئ. مګردبسمارك په کارنامو باندې ،اوداچې هغو څنګه کار وکړ افاقی قضاوت ددغو پوښتنو په مقابل کې دمورخ ځواب ته انتظار باسی اوزه په دې باورنه لرم چې دی لاتراوسه په دغسې موقف کې وی چې هغوته په قطعی ډول ځواب ورکولی وشی. هغه څه چې زه غوارم ووایم داده چې د۱۹۲۰ دلسو کالونومو رخ نظرد۱۸۸۰ دلسو کالونومورخ ته وافاقی قضاوت ته ډیر نږدې دی، اودنن ورځې مورخ نظرد۱۹۲۰لسو کالونومورخ ته ډیر نږدی دی، اود۲۰۰۰ کال مورخ به ترهغه لاهم نږدې وی. اوداز ماهغه نظر تمثیلوی چې افاقیت په تاریخ کې دقضاوت په دغسې کوم ثابت اومعین معیاراستناد نه کوی، اونه یې کولی شی، چې دلته همدغه اوس موجوددی، مګرهغه په دغسې یوه معیاراستناد کوی چې په آینده کې پروت دی،او اودتاریخ دجریان له وړاندې تګ سره تکامل کوی. تاریخ یوازې هغه وخت افاقیت

۶۰. German Reich دجرمنی دوهمه امپراطوری ( ۱۸۷۱ - ۱۹۱۸ ) (م)

اومفهوم پیدا کولی شی چی دماضی او آینده ترمینځ یو منسجم اومنطقی ارتباط تینګ کړی.

راځی چې دحقیقت او ارزښت تر مینځ په دغه مفروض د وه ګونتوب یو بل نظر واچوو. ارزښتونه له حقایقوڅخه ایستل کیدلی نه شی. دغه حکم نیمایی درست، مګر نیمایې غلط دی. تاسی باید یوازې دارزښت هغه سیستمونه تر غور لاندې ونیسی چې په یوه عصر یا کوم هیواد کې مسلط وی ترڅو ددغه درك وکړی چې څومره یې دمحیط حقایقوجوړ کړی دی.

په یوه دمخنی لیکچر کې ما د دغسې ارزښتي ـ کلما تو لکه آزادی، مساوات یاعدالت متحولو مطالبو ته توجه اړولی وه. عیسوی کلیسادیوی موسسی په حیث راواخلی چې په زیاته اندازه داخلاقی ارزښتونو له خپرولو سره سروکار لری. دلومړ نی دورې دعیسویت ارزښتونه دمنځنیو پیړیو دپاپ دقلمرو ۶۱ له ارزښتونو سره پرتله کړی، یا د منځنیو پیړیو د پاپ دقلمروارزښتونه دنونسمې پیړ ی دپروتستانت د کلیساګانو له ارزښتونو سره مقایسه کړئ. یاهغه ارزښتونه کوم چې نن ورځ یی مثلاً عیسوی کلیسا په هسپانیی کې خپروی، له هغوارزښتو نوسره مقایسه کړئ کوم چې دامریکې دمتحده ایالتونو کلیساګا نی یی تبلیغ کوی. دارزښت دغه اختلافات، دتاریخی حقیقت له اختلافاتوڅخه راولاړیږی. یاهغه تاریخی حقایق ترغور لاندې ونیسی کوم چې یونیم سل کاله رومبی ددې سبب شوچې غلامی یانژادی غیرمساوات، اویادماشومانو د کار استثمار منځ ته راوړي دغه ټول یو وخت په اخلاقی لحاظ بیطرف یانیك منل شوی وو، اواوس په عمومی ډول غیراخلا قی ګڼل شوی دی. دغه قضیه چې ارزښتونه له حقایقوڅخه ایستل کیدلی نه شی، یوه اړخیزه اوتیر ایستو نکې ده. دالاحد اقل یوحکم دی. یاراځئ چې دغه حکم

---

61. Papacy

سرچپه کړو. حقایق له ارزښتونو څخه ایستل کیدلی نه شي. ددغه حکم یوه برخه سمه ده، تیر ـ ایستونکی به هم وي، او په دغه لحاظ قید اوشرط ته اړه لري. کله چې مونږ په دغه لټه کې یو چې په حقایقو پوه شوو، هغه پوښتنې چې مونږیې کوو او هغه ځوابونه چې یې حاصلوو، زمونږدارزښتونو په سیستم سره تحریك کیږي زمونږدمحیط دحقایقو هغه تصویرچې مونږیې جوړوو، زمونږدارزښتونوله خوا جوړیږي، مثلاً دهغو کته ګوری ګانوله خوا چې په هغو سره مونږ حقایقو ته نژدې کیږو. دغه تصویردمهمو حقایقو له جملې څخه دی، چې یې مونږ باید په نظر کې ولرو. ارزښتونه په حقایقو کې ننوځي، اودهغه یوه اساسي برخه وي. زمونږ ارزښتونه دانسانانو په حیث زمونږ دالاتو یوه اساسي برخه ده. دازمونږد ارزښتونو په وسیلې سره ده چې مونږدهغه استعدادخاوند کیږ وچه په هغه سره له خپل محیط سره توافق کوو، اوپه خپل محیط باندې دغسې حاکمیت ګټو، چې تاریخ یې دترقي یوثبت ګرزولی دی. خو له محیط سره دانسان دمبارزې په برجسته ښودلو سره، داعمالو اوارزښتونو ترمنځ کاذب تضاد، یا کاذب انفکاك مه قایموی. ترقي په تاریخ کې دحقایقو اوارزښتونو دیو تربله تعامل او دیو بل دارتباط له لارې حاصله کیدلی شي. افاقي مورخ هغه مورخ دی چې په همدغې دوه اړخیزې عملې کې ښه دننه ورننوځي.

د«رښتین توب»٦٢ د کلمې عادي استعمال دحقایقو اوارزښتونو دمسئلې دپاره یولارښود اوکلی تهیه کوي. دغه کلمه دحقیقت ٦٣ جهان دارزښت له جهان څخه لیری کوي، اوددواړو له عناصرو څخه جوړ دی. دا یوازې د انګلیسي دژبې خاصه افاده نه ده. په لاتیني ژبو کې در ښتین توب دپاره کلمات دجرمني ژبی Wahrheit

---

٦٢. Truth

٦٣. Fact

دروسیی ژبی Pravda ټول دغه دوه‌گون خصوصیت لری . دا به حقیقت وي چې زه په تیره هفته کې لندن ته ولاړم ، خوته به په عادی ډول رښتین توب و رته و نه وایې ، ځکه چې هغه ارزښتی محتویات نه لری . له بلی خوا ، کله چې دمتحدایالتونوموسسوپلرونو دآزادی‌په اعلامیې کې هغه مسلم رښتین توب ته اشاره‌وکړله چې ټول انسانان مساوی خلق شوی دی، تاسې ممکن ددې احساس وکړئ، چې ددغه حکم ارزښتی محتویات په حقیقتی محتویاتو ډیره چربی کوی ، اوممکن په همدغه لحاظ تاسی د هغه دغه حق باندی چې د ی درښتین توب په حیث وګڼل شی ، اعتراض وکړی. کوم چیرته ددغودووقطبونو تر مینځ ـ دشمالی قطب له‌ارزښته خالی دحقایق اودجنوبی قطب ارزښتی قضاوتونه چې‌تراوسه‌هم مبارزه‌لری‌چې ځانونه‌په حقایقوتبدیل کړی ـ دتاریخی رښتین‌توب قلمروواقع دی . لکه څنګه چې ماپه لومړی لیکچر کی وویل، مؤرخ د حقیقت او تاویل ، دحقیقت اوارزښت ترمینځ، یومتوازن موقف لری . دی نه شی کولی هغه سره بیل کړی . په یوه ولاړ اوساکن جهان کې ، ددې امکان شته چې تاسېدې دحقیقت اوارزښت ترمینځ بیلتون اعلام کړی . مګرتاریخ په یوه ساکن جهان کې هیڅ مفهوم نه لری . تاریخ په خپل اصلی ماهیت کې ، تحول او نهضت د ی او که تاسې په دغې زړې کلمې انتقادونه لرئ نوتاریخ ترقی ده .

نوزه په‌پای کې ،داکتین‌دترقی‌وبناته‌ګرزم، چې‌دترقی « هغه علمی فرضیه ده چې دهغه په اساس باید تاریخ ولیکل شی». که تاسې وغواړئ کولی شی‌چې

---

٦٤. دپراودا دکلمی حال، په خاص ډول په زړه پوری دی ، په دی چې په روسی ژبې کې — د رښتین توب دپاره بله کلمه یعنی Istina شته ده خو دغه تمیز داسی نه دی چې د رښتین توب (په حیث‌دحقیقت)او رښتین توب (په حیث د ارزښت) تر منځ وی. پراوده په دواړو خوا ووکې بشری رښتین توب دی، او Istina په دواړو خوا ووکې اسمانې رښتین توب دی یعنی دخدای په باب‌ـ رښتین توب، او هغه رښتین توب چې دخدای له خوا ښکاره شوی وی .

تاریخ په الهیاتو واړوی ؛ په‌داسې ډول چې د ماضي‌مفهوم، کوم‌اضافه‌تاریخی یا فوق‌عقلی قوت ته مربوط‌کړی. که وغواړی کولی شی، چې تاریخ په ادبیاتو بدل کړی، داسې چې هغه دماضی په‌باب، دکیسواو افسانو یو ه مجموعه و شمیر ی، بې له دی چې مفهوم او اهمیت ورلري . په حقیقی مفهوم سره ، تاریخ یوازې دهغو کسانو له خوا لیکل کیدلی شی ، چې‌دوی په خپله په تاریخ کې‌دجهت احساس کوی ، اومنی یې . دغه عقیده چې مونږله‌کوم ځای څخه راغلی یو له هغې عقیدې سره، چې مونږچیرته روان یو ، نږدې ارتباط لری . دغه جامعه ، چې د ترقی په باب په خپل استعداد بې عقیدې شوې وې ، په آینده کې به دهغې ترقی په باب زرعلاقه بایلی ، چې یې په ماضی باندې لر له . لکه څنګه چې مې د لیکچرپه شروع کې وویل ، دتاریخ په متعلق زمونږ نظردجامعې په باب زمونږ دنظر انعکاس‌دی . زه اوس دسرتیکی ته بیرته ګرځم اودجامعې په آینده او د تاریخ په آینده خپله عقیده اعلاموم .

# پراخیدونکې غاړې

ښکاری چې هغه مفکوره کومه چې ماپه دغولیکچرونو کې ځای کړې ده داسې چې تاریخ مې دیوې پرله پسې خو ځید و نکې عملیې په حیث چې مؤرخ ورسره خوځیږی ، ښوولې ده ، په مالازمه گرځوی ، چې زمونږ په عصر کې دتاریخ اودمؤرخ ددریځ په باب ځینې وروستی سوچونه وړاندې کړم . مونږ په دغسې عصر کې زیست کووچې دنړۍ دتباهی پیشگوئی گانی روانې دی ، او په مونږتولوسختې تمامیږی . دغه پیشگویی گانې البته څه نوې نه دی ، او ثابتې کیدلی اوردکیدلی هم نه شی . خوهغه تردغې پیشگویی نه لږ یقیني دی چې مونږټول به مرو . څنگه چې دوروستی پیشگویی یقیني توب مونږ له دې څخه نه منع کوی ، چې دخپلې آینده په باب پلانونه جوړ کړو، نوزه دخپلې جامعې او آینده په باب خپل بحث اوږدوم اودغه بحث ددغې فرضیې په اساس کوم چې دغه هیواد [برتانیه] یاکه دغه هیوادنه وی ، دجهان کومه بله برخه به له هغواتفاقاتو څخه‌مصئو نه پاتې شی ، چې مونږترتهی ، اوتاریخ به دوام کوی .

جهان دشلمې پیړۍ په نیمایی کې دتحول دعملیې په پنجو کې سخت‌گیردی . دغه تحول ، په غالب‌گمان ، ترهغه بل تحول نه‌ډیر ژوراوپراخ دی کوم چې زمونږپه جهان کې وروسته له هغې‌چې‌دمنځنیوپیړیوجهان ړنګ شو،اوپه پنځلسمې اوشلمې پیړۍ کې دمعاصرجهان تاداو کښیښو دشو، پیښ شوی دی . په دې کې څه شک نه شته چې دغه تحول ، په نهایت کې ، دعلمی کشفیاتو اواختراعاتوزیږنده

دی ، داسې چې دهغو دتطبیق دګرلاهم پراخ دی ، او انکشافات په مستقیم یا غیر مستقیم ډول . له هغو څخه پیداشوی دی . اجتماعی انقلاب ، ددغه تحول خو را څرګند اړخ دی . دغه انقلاب له هغه انقلاب سره دمقایسې وړ دی چې په پنځلسمې اوشپاړسمې پیړی کې پېښ شو، اودغسې نوی طبقه یې منځ ته راوسته چې لومړی په فاینانس اوسوداګری . اووروسته په صناعت بناوه . زمونږ دصناعت نوی جوړښت ، اوزمونږدجامعې نوی جوړښت دغومره ډیرپراخ مسایل را دمخه کوی ، چې زه نه غواړم دلته پرې بحث و کړم . خودغه تحول دوه اړخونه لری چې دواړه یې زماله موضوع سره ډیرنږدې ارتباط لری . یو به یې زه دژورتیا تحول اوبل دجغرافیایې پراختیاتحول وبولم . دلته به په دغودواړوتحولاتو یوڅه رڼاواچوم .

تاریخ هغه‌وخت شروع کیږی چې څه‌وخت‌انسانان‌دزمانې‌دتیریدلو په باب دطبیعی عملیې یعنې دموسمونودتلو یر، یادبشردعمرداوږدوالی په اساس سوچ نه کوی . بلکه دیولړ مشخصو پیښوپه اساس پرې فکر کوی چې انسانان په هغو کې په شعوری ډول داخل وی ، او پرې تأثیر کولی شی . برکهارد ت وایی چې تاریخ «له طبیعت سره مقاطعه (ده) چې علت یې دشعور و پښتیاده . » (۱) تاریخ دانسان داوږدې مبارزې داستان دی . دغه داستان دده دعقل په تمرین سره حاصلیږی اومنظوریې داوی چې انسان خپل چاپیریال و پیژنی ، اوعمل پرې اجراکړی . مګراوسنی عصر، دغه مبارزه په انقلابی ډول پراخه کړې ده . انسان اوس په دغې لټه کې دی چې نه یوازې خپل چاپیریال ، بلکه خپل ځان هم وپیژنې اوپه هغه عمل اجراکړی . دغه حقیقت ، دچاخبره ، عقل او تاریخ دواړوته یونوی بعد وراضافه کړی دی . اوسنی عصر، دتاریخی ذهنیت له مخې

۱. جې . برکهاردت ، دتاریخ په باب تفکرات (۱۹۵۹) مخ ۳۱ .

ترهربـل عصرنه ډېرو يښ اوقوي دي . عصري انسان له ځان نه آگاه ، او په دغه ډول له تـاريـخ نه آگاه دی ، او دغه آگـاهي يې بېجوړ ې ده . دی په‌مينه‌او شوق‌هغه شفق ته‌بيرته نظر کوي،له‌کوم څخه چې دی راوتلی دی . هيله او اسره‌يې ترې نه‌داوې چې دهغه نري رڼاوې به‌هغه ترږمې روښانه کړې‌په‌کوموکې چې دی خوځيږي. معکوساً ،دهغې‌لارې‌په‌باب ،چې‌دده دوړاندې اوږده غزيدلې ده،دده هيـلې اوتشويشونه دده بصيرت په‌دې باره کې چې دده شاته څه شی واقع دی، چټـک کوي .ماضي ،اوس ،اوآينده ، ټول دتاريخ په‌بې انتها کړۍ کې‌سره تړلي دي .

دعصري‌جهان تحول‌چې‌دخپل‌ځان په‌باب‌دانسان‌د شعور له‌انکشاف‌څخه‌متشکل دی ،شايدله‌دکارت۲ څخه‌شروع‌شوی‌وی. ده دلومړی ځل‌دپاره دانسان مقام دېوه داسې موجود په‌حيث‌تثبيت کړچې‌نه يوازې سوچ کولی شې،بـلکه دخپل‌سوچ په باب هم سوچ کولی‌شي.دی دمشاهدې دکولو په وخت کې، خپل ځان هم مشاهده کولـی شي . په دغه ډول ، انسان په عين وخت کې دتفـکر او مشاهدې فاعل او موضوع هم کېدلی‌شې. خوداتلسمې‌پېړۍ ترنيمايې‌پورې دغه‌انکشاف پوره واضح نه‌شو، يعنې‌ترهغه وخته پورې چې‌روسو۳ دانسان دځان پېژندنې‌اودځان داگاهی په باب دژورتيانوی تل پرانيست ،او دطبيعت دجهان ، اوعنعنې مدنيت په باب يې ، انسان ته يوه نوی جهان بينې وروښيـله . دتاک ويل په فـکر،دفرانسې دانقلاب خوځوونکې‌هغه «عقيده وه چې کوم څه چې غوښتل کېدل ، داوچې ساده ابتدايې قواعد چې دانسان دعقل له‌تمرين او طبيعي قانون څخه راوځي، دهغوعنعنې‌عادتونو مغلق ځای ونيسي کـوم چې دوخت اجتمـاعي نظام اداره کوی . » ٤ اکټين ، په

۲. R. Descartes (۱۵۹٦ - ۱٦۵۰) فرانسی فيلسوف . (م)

۳. J.J. Rousseau (۱۷۱۲ - ۱۷۷۸) فرانسی فيلسوف او مصنف . (م)

٤. ای. تاک ويل، پخـوانـی رژيـم، III ، لومړی فصـل .

یوه خطي یادداشت کې ولیکل چې «انسانان ترهغه وخته هېڅکله د حریت په‌لټه کې نه‌وو، مګر هغه وخت چې یوه شول‌چې‌دوی څه شي‌غوښتل.»۵داکېن اوهیګل په‌فکر ،حریت اوعقل هېڅکله سره بیل نه‌وو . اودفرانسې‌له انقلاب سره‌دامریکې انقلا ب نښتی و .

«څلور شلې اواوه کاله ړومبی ، زمونږ پلرونوپه دغې ستړې و چې کې‌یو ملت جوړ کړ ،چې‌په‌حریت بناو او په دغه اصل‌ګروهېدلی‌وچې ټول انسا نان برابرشته شوی دی .»

څنګه چې دلنکلن له‌خبروڅخه څرګندېږي ، دغه یوه ښېجوړ ې پېښه وه -یعنې‌په تاریخ کې هغه لومړنی موقع وه چې‌انسانان په شعورې او ارادې ډول سره په یوه ملت‌کې متشکل شول ،اووروسته په‌ارا دې اوشعورې ډول‌په‌دې‌پسې شول چې‌نور انسانان هم‌په همغه قالب کې ورداخل کړې. په اولسمې‌او اتلسمې پېړی کې ،انسانان له‌خپل چاپېریال ، اودهغه له قوانینو څخه پوره‌اګاه شوې وو .قوانین نور نودیوه مرموز څښتن کوم مرموز فرامین نه وو ،بلکه‌هغه دغسې قوانین ووچې انسان ورته تابع وو، اودده دخپل لاس جوړ کړی قوانین نه وو. په بل‌پړاوکې ،انسان په‌خپل چاپېر یال ، اوپه خپل‌ځان باندې له خپل قوت څخه پوره اګاه شو. داسې هم دی په هغه حق پوره پوه شو چې دغسې قوانین وباسې چې دهغو دلاندې ژوندوکړ ې .

له اتلسمې پېړی څخه و معاصر جها ن ته انتقال ، اوږداو تدریجي و. هېګل او مارکس‌دهغه ممثل فیلسوفان وو اودواړودغین شی په اور یواو مشا به موقف نیولی دی .دهیګل موقف داسمانې قوانینو په‌عقیدې کې ولیې لرې چې د عقل په قوانینو سره‌تبدیل شوی دی . دهیګل جها نی روح په کلکه سره په یوه لا س سره څښتن

۵. دکیمبرج د پوهنتون کتابخانه، خطي نسخه ؛ ۰۸۷۴ .

ACKU

او په بل سره عقل نیسي .دی دادم سمت ٦ انعکاس کوي : افراد «خپل منافع لټوي : خو په دغو لټولو سره یو نور څه اجرا کېږي چې د دوی په عمل کې مرکوز وي که څه هم ددوی په شعور کې موجود نه وی» د جهان دعقلي مقصد په باب ، دی لیکی چې انسانان « این د هغه د استدراک په عمل کي ، له هغه څخه دغسي یوه موقع جوړوي چې خپله هیله ترسره کړی ، کومه چې دهغې معنی له مقصد څخه فرق لري» داصرف دمنافعو هم اهنگي ده چې د جرمني فلسفي په ژبــه اړول شوې ده .٧ دسمت «دپټ لاس » په مقابل کی دهیګل معادل د«عقل زیرکی» هغه مشهوره افاده ده چې انسانان دغه کار ته بولي چې هغه مقاصد ترسره کړي له کومو نه چې دوی اګـاه نه دي خو سره لـه دې هم ، هیګل دفرانسې دانقلاب دوخت وفیلسوف و ، یعنې اولمړنی فیلسوف چې په تاریخي تحول او له خپل ځان نه دانسان داګاهې په انکـشاف کې ، دواقعیت جوهر او اصل درک کړي . په تاریخ کې انکـشاف ، دازادی دمفکوري په لور دانکشاف معنی پیدا کړله. خو له ١٨١٥ څخه وروسته دفرانسې دانقلاب الهام دپخواني رژیم دبیا مستقر کیدلو٨ په چوپتیا کې بې نتیجې شو. هیګل په سیاسي لحاظ ډیر دارن و .دژوند په وروستیو کالونو کې دخپل عصر په تاسیس شوی نظام کې له حدنه زیات ونغښت اوویې نه شو کولی په خپلو میتا فزیکي قضیو کې مشخص مفهوم ځای کړي .هرزن ٩ دهیګل نظریات د «انقلاب الجبر» و بلل ، اودغه افاده ډیره موزونه ده . هیګل دموسیقي پارچې اونوتونه تهیه کړل ،مګرعملي مفهوم یې ورته ورنه کړ .دغه کار مارکس ته پاتې شو چې دهیګل دالجبري معادلاتو دپاره حساب ولیکی .

---

٦. Adam Smith (١٧٢٣ - ١٧٩٠) سکاټلینډی سیاسي اقتصادپوه . (م)

٧. دغه اقتباسات دهیګل دتاریخ فلسفې نه شوي دي.

٨. Restoration

٩. Herzen

مارکس دادم سمت اوهیګـل دپیروپه حیث، دجهان له دغسې مفهومونه شروع وکړله، چې دطبیعت عتايي قوانينو نظم ورکړی دی. ده دهیګل په څېر، مګر دغه حل په عملي اومشخص شکل، د جهان ودغسې مفهوم ته انتقال وکړ، چې په قوانينو سره تنظیم کیږي، اودغه قوانین دانسان دانقلابې ابتکار په مقابل کې په عقلي عملي سره پخیږي، اوتکامل کوی. دمارکس په وروستې ترکیب ۱۰ کې تاریخ د درې شیانو مفهوم لري. دغه شیان یو له بل څخه نه بیلېدونکې دي، اوټول یو منطقې او منسجم کل جوړوي او هغه دا دي: دا فا تي او بد وا اقتصا دي قوا نينو له مخې دحوادثو حرکت؛ په يوې دیالکتیکی عملیې سره فکري متوافق انکشاف؛ اودطبقاتې مبارزي په شکل چې هغه دانقلاب اوتیوری اوعمل سره پخلااو یو کوي، یومتوافق عمل. هغه څه چې مارکس یې پیشنهاد کوي، په حقیقت کې ددغو څېزونو ترکیب دی: دافاقې قوانینو، او شعوري عمل چې هغه په تمرین او عمل تبدیلو ي، او هغه چې کله کله چې(که څه هم په غلطه سره) دمعینیت۱۱ او اختیار ۱۲ په نامه یاد شوی دی. مارکس تل دهغو قوانینو په باب لیکنې کوي چې انسانان تر اوسه دهغو تابع وو، خو په خپله تري نه اګاه نه وو. ده په کراتو دیته د خلقو پام اړولی دی کوم چې ده «دغلط شعور» په نامه یاد کړی دی، اودغه شعوریې هغو خلقو ته منسوب کړی دی چې دسرمایه داری په اقتصاد اودسرمایه داری جامعې کې ګیراو نغښتې دي: «هغه مفهومونه چې دتولیددقوانینو په باب دتولیداو تدویر دنمایندهګانو په ذهن کې تشکل کوي، له حقیقې قوانینو څخه په پراخه پیما نه فرق لـري.» ۱۳ مګـر دمارکس په لیکنو کې، دشعوري انقلابې عمل داجرادپاره واضح مثالونه ډیر دي

۱۰. Synthesis په یوه کامل واحد کې د دوو ضدونو ترکیب. (م).

۱۱. Determinism

۱۲. Voluntarism

۱۳. سرمایه، (انګلیسی ترجمه، ۱۹۰۹) مخ ۳٦۹.

دفویرباخ ۱٤ په باب د ده مشهور تیسس وایې چې « فیلسوفانو جهان یوازې په مختلف ډول تعبیر کړی دی مګرمطلب دا دی چې تغییر ورته ورکړل شي » کمونست مانیفستو۱۵ اعلا موی چې «پرولتاریا به له خپل سیاسي واک نه کار واخلي چې بورژوازي قدم په قدم له پانګې څخه محروم کړي ، اودتولید ټول وسایل د دولت په لاس کې متمرکز کړي . » دلویی بوناپارت د اتلسم برومیر ۱٦ په تالیف کې، مارکس له « عقلاني خود ـ اګاهي ( څخه ګریزی ) چې ټول عنعني افکار په پیړی ـ قدیمي عملیې سره منهدم کوی . » دا د پرولتاریا وظیفه ده چې د سرمایه داری د جامعې خطا شعور به منهدم کوی او په ځای یه یې دطبقاتی جامعې حقیقی شعور ترویج کوی. خود۱۸٤۸دانقلاباتو ناکامی هغو انکشافاتو ته سخته څپیړه ورکړه ، چې څه وخت مارکس لیکنې کولې پیښیدل یې نزدې معلومیدل. دنونسمې پیړۍ وروستۍ برخه دشتمنی اومصئونیت په قوی فضا کې تیره شوله. دشلمې پیړی په پیل سره، مونږ دتاریخ اوسنی دورې ته په انتقال شروع وکړله. له هغه وروسته، نورنودعقل اومړنی وظیفه دانه وه چې یوازې هغه افاقی قوانین درک کړی، کوم چې په جامعې کې د انسان کړه تنظیم کوی، بلکه وظیفه یې داشوله چې جامعه او افراد په شعوری عمل سره له سره تنظیم شي. دمارکس په لیکنو کې «طبقه» که څه هم په مشخص ډول تعریف شوی نه ده، په عمومی ډول داسې افاقی مفهوم لری چې په اقتصادی تحلیل سره تثبیت کیږی. خودلینن په لیکنو کې له «طبقې» نه په«ګوند» باندې تینګار کیږی، او وروستې داومړنی سرقدم او پیشروتشکیلوی، او په هغه کې د طبقاتی شعور لازمی عنصرداخلوی. دمارکس په نزد «ایډیالوجی» یوه منفی اصطلاح

۱٤. Feuerbach

۱۵. Communist Manifesto

۱٦. The Eighteenth Bromaire of Louis Bonapart.

یعنې دجامعې دسرمایه دارۍ دنظم دخطاشعور محصول ـ گڼله کیږی . دلینن په لیکنو کې «ایډیالوجی» یابیطرفه یامثبته گرځی یعنې هغه عقیده شی چې دطبقاتی اگاه مشرانو غوره کسان ۱۷ یې دواس اوتودې په کارگرو کې تزریق کوی چې طبقاتی شعور لری . دطبقاتی شعور قالب ریزی کول نورنو کوم اتوماتیکی عمل نه دی ، بلکه یوه وظیفه ده چې باید اجرا شی .

هغه بل سترمفکر ، چې زمونږ په عصر کې یې عقل ته یونوی بعد وراضافه کړی دی، فرایډ ۱۸ دی. فرایډ تراوسه پورې یوڅه معمی دول شخصیت غوندې پاتې دی. دی تـربیت اوسوابقو په لحاظ دنونسمې پیړی لبرالی فرد پرست دی. ده دعصرمروجه ، مگرخطاً فرضیه، بې له کوم گړوبړ نه ومنله یعنی چې ددغې فرضیې له مخې دفرد اوجامعې ترمینځ په یو اساسی ضدیت باندې قایـل شو. ده انسان زیاتردبیـا لوجیکی واحد، نه د اجتماعی واحد په حیث ، تـرمطالـعې لانـدې ونیو . په دغه حساب ، ده اجتماعی چاپیریال دغسې یوشیز وگاڼه چې تاریخ اعطاکړی وی، نه داچې هغه داسې یوشیزوی چې انسان په خپله په پرله پسې عملیې سره خلق کړی وی ، اوشکل یې ورارولی وی. مارکسستانو دی تل غندلی دی چې دههغه مسایـل چې په واقع کې اجتماعی مسایل دی ، دفردله نظره تر کتنې لاندې نیولی دی ، او په دغه وجه یې دمرتجع حکم پرې کړی دی. دغه تورچې په خپله دفرایډ په مقابـل کې یوڅه سم و ، دامریکی دمتحده ایالتونــو داوسنی نوی ـ فرایدی مکتب ۱۹ په مقابل کې پوره صدق لری. د دغه مکتب په اساس ناوړه توافقات ۲۰ دفرد په طبیعت کې نغښتی دی ، او د جامعې په جوړښت پورې څه اړه نه لری. ددغه اصل له مخې دغه مکتب د روحیاتو اساسی وظیفه له چاپیریال سره

---

۱۷. Elite.

۱۸. Sigmund Freud (۱۸٥٦ ـ ) اتریشی روحیات پوه. (م).

۱۹. Neo-Freudian School

۲۰. Maladjustment

دفرد په‌تطابق کې گټي. په فرايد باندې هغه بل‌عام تورچې ده‌په انساني‌چاروکې‌دغير عقلی۲۱ رول پراخ کړی دی ، گردسره غلطدی . دغه توردانساني کـړو دغيرعقلی اودغيرعقلی‌ائين* ترمينځ دگډود شميرلو په وجه پيدا شوی دی. داچې‌غيرعقلی ائين نن ورځ په‌انگريزي ويونکي‌جهان کې شته دی، له بده مرغه حقيقت لری. د دغه‌ائين عمومي‌شکل‌دادی‌چې‌دعقل کارنامواوملکاتو ته په کم‌نظر کتل کيږی. دغه نظردبدبيني او افراطي‌محافظه کاری دجاری‌څپې يوه‌برخه ده چې‌زه‌به وروسته‌پرې وغږيږم. خو له فرايدنه چې‌هغه يو څه ابتدايي او بې‌قيده عقل‌پرست و نشئت‌نه کوی. هغه‌څه‌چې‌فرايد وکړل، داوچې‌زمونږ دپرهې او پېژندنې‌حدود‌پراخ کړی، اوهغه‌له‌دغې‌لارې‌وکړی‌چې دانساني کړوغيرشعوری ريښې اوولی‌دعقلی اوشعوری تحقيق‌دپاره رابرسيره کړی دا په واقع کې دعقل د ساحې پراخول ، اودانساني‌قوت دېرول وچې‌ځان وپېژني، اواداره يې کړی. او په‌دغه ډول‌چاپيريال‌هم‌وپيژني او تنظيم يې کړی. دا په واقع کې ديوې‌انقلابي اومترقي کارنامې تمثيل کوی. په‌دې‌برخه کې، فرايددمارکس‌اثار تکميل کوی، نقض کوی يې‌نه. فرايدپه اوسني‌جهان پورې اړه‌لری، په دغه دليل‌چې که څه هم ده و نه شو کولی دانسان دثابت‌او تغيير نه‌منونکي‌طبيعت له مفکورې څخه‌وتښتي ، ده دانساني کړو دريښو او دژورمعرفت‌دپاره وسايل پيدا کړل، او په دغه ډول يې په عقلی‌عمليوسره دهغه دشعوری اړونې‌او تغيير دپاره وسايل پيدا کړل .

فرايد دمورخ‌دپاره دوه‌گونی اهميت لری. لومړی داچې فرايددقديمي‌اشتباه په تابوت کې وروستی ميخ ټک وهلی‌دی. قديمی‌اشتباه داده چې‌هغه خوځوونکي او سوايق‌چې دهغو په اثر انسانان مدعي ووچې کوم کار يې کړی دی ، ياپه دغې‌عقيدی ووچې‌عمل يې اجرا کړی دی، په‌حقيقت کې ددوی دعمل دتشريح دپاره کافي گڼل کيدل. دغه يو منفي‌موفقيت او کارنامه ده چې‌ترڅه حده اهميت لری که څه‌هم دهغه

۲۱. Irrational

* The Cult of Irrational

دڅینو طرفدارانوجدی ادعا چې دروحیاتي ـ تحلیل په میتودونو سره د تاریخ د سترو کسانو په کړوړو وبنا نتیااچوله کیږي، باید په احتیاط ورته وکتل شي. دروحیاتـي ـ تحلیل روش درناوغ په دقیق اوخوار خیز تحقیق بناًلري چې هغه تر تحقیق لاندې نیول کیږي. تاسې نه شی کولی چې مړی تر تحقیق لاندې ونیسئ. دوهمه دا چې فرایډ چې دمارکس اثار پیاوړی کوي، مورخ یې ترغیب کړی دی چې خپل ځان او دریځ، اوسوایق ـ شاید پټ سوابق ـ ترازموینې لاندې ونیسي یعنې هغه سوایق چې دده دموضوع اوحقایقو اوتعبیر اودملي او اجتماعي سابقې دانتخاب لارښود شوي دي. دغه انتخاب دده دنظر کنج، د استقبال تصور. اوادراک چې دده دماضي ادراک ته شکل وصورت ورکوي، تیاکلی دی. دمارکس اوفرایدله لیکنونه وروسته، مورخ څه پلمه نه لري چې خپل ځان دکوم گوښه شوي فرد په حیث وگڼي، چې له جامعې او تاریخ نه په دباندې واقع وي. دادځان داګاهۍ عصردی. مورخ په دې پوهیدلی شي او باید پوه شي، چې دی څه کوي.

وهغه جهان ته ـ چې ما اوسنی جهان نومولی دی انتقال یعني نویوساحو ته دعقل دقوت اووظیفې وسعت لا تراوسه تکمیل شوی نه دی. دا دانقلابي تحول یوه برخه ده چې شامه پیړی له هغه نه تیریږي. اوس غواړم ددغه انتقال یوڅو نښې مطالعه کړم.

لومړی به له اقتصاد څخه شروع وکړم. تر ۱۹۱٤ پورې په افاقي اقتصادي قوانینو عقیده ارل، چې دانسانانو اوملتونو اقتصادي کړه یې تنظیم کول، پورخور او غالب و. ترهغه وخته له هغوسره مخالفت کول، یوازې په ضرر تمامیده. تجارتي دورانونه، دنرخونا څاپې ښکته اوپورته کیدل، ۲۲ وزگاري، په همدغوقوانینوسره تیاکل کیدل. این تر ۱۹۳۰ پورې، کله چې لوی کساد شروع شو، دایوغالب اومسلط نظرو. له هغه نه وروسته حرکت چټک شو. د ۱۹۳۰ په لسو کالونو کې، خلقو د «اقتصادي انسان دختم» په ویلو پیل وکړ. له اقتصادي انسان نه مرادهغه انسان وچې خپل منافع یې

Slumps . ۲۲

پرله پسې په اقتصادي‌قوانينوسره لېبول .له هغه وروسته‌دنوسمې پېړۍ دخولرمړنيو معتقدينو۲۳نه‌په‌پرته‌نورنوهيچاپه‌دغه‌مفهوم‌سره‌په‌اقتصاي‌قوانينوعقيده‌نه‌لرله.نن‌ورځ اقتصاد، يادنظري‌معادلاتويولړگرځېدلي دي،ياهغه‌عملي‌مطالعه‌شوې‌ده، چې‌ځينې‌خلق نورخلق څنگه ترفشارلاندې نيسي. دغه تحول تردېره حده‌له‌انفرادي څخه وپراخې اوجامعې سرمايـــه د ارۍ ته د انتقال محصول دی . ترهغوچې دانفرادي متشبث او تجارلاس برو ، داسې نه معلومېدله چې څوك دی په اقتصادكنترول والـری ، يادې وكولی شي په هغه په مهم ډول اثرو كړي ، اودغيرشخصي قوانينواوعمليواشتباه په ځای خوند ی پاتې وه . حتی دانـگلستان بانك دخپل نهايي اقتدار په ورځوكې ، نه يوازې دماهرعامل او ناظم په حيث‌گڼل كېد ه، بلـكه داقتصادي تمايلاتـــو ديوه افاقي او نيمه اتوماتيكي ثبت كوونكي په حيث هم گڼل كېده . مگرله ليسه فراقتصاد څخه و تنظيم شوی اقتصاد ته انتقا ل دغه اشتباه ور كه كړله ، فرق يې نه كاوه چې هغه دسرمايه دارۍ تنظيم شوی اقتصادو ، يـاسوشلستي اقتصاد ، ياداچې تنظيم يې ديوه‌لوی اوجامع او په نامه انفرادي سرمايه دار او ياشركتونويا ددولت په‌لاس وو. دا واضحه شوله چې ځينـي خلق دبعضو مقصدو نـــودپـــاره ځينـی پريـكړی كوی ، اودغه پريكړې زمونږ دپاره‌اقتصادي سيرټاكي . نن ورځ هرڅوك په دې پوهېږی، چې‌دتېلويا صابون بيه،د عرضې اوتقاضادكوم افاقي قانون په‌مقابل كې، تغييرنه‌كوی هرڅوك په‌دې پوهېږی ، يافكركوی چې پوهېږی، چې وزگاری، دنرخونواوقيمتونو ناڅاپې‌ښكته اوپورته‌تلل،دانسان‌دلاس‌مصنوع دی . حكومتونه اقراراوحتی‌ادعاكوی چې دوی يې په علاج پوهېږی. له‌ليسه فرځه وپلان جوړولو ، له غيرشعوري‌څخه دشعوری او له افاقي اقتصادي قـــوانينوعقيده لرلو څخه و هغې عقيدې ته انتقال چې انسان‌كولی شي په خپل عمل دخپل داقتصادي هدف واگمن و گرځي،تكميل شوی

---

Rip Van Winkles .۲۳

دی . اجتماعی سیاست له اقتصادی سیاست سره اوږه په اوږه روان شوی دی . په حقیقت کې ، اقتصادی سیاست داجتماعی سیاست یوه برخه شوې ده . اجازه راکړئ چې دکیمبرج دمعاصرتاریخ له وروستي جلد څخه چې په ۱۹۱۰ کې چاپ شوی دی ، یوه ډېره دقیقه تبصره را نقله کړم . دغه تبصره ددغسې یوه لیکوال ده چې دی به له مارکست نه غیرهرڅه و ، اوممکن دلینن نوم یې هېڅ اوریدلی نه وی.

«په شعوری زیارسره داجتماعی اصلاحاتو په امکان عقیده لرل دارو پایې ذهن مسلط جریان دی . دغسې (عقیدې) دحریت ځای ، چې هغه د هرڅه د دوا په حیث یوه عقیده ګڼله کېدله ، ځای نیولی دی. په حاضروخت کې ، دهغې ترویج هغومره مهم او له معنی نه ډک دی لکه چې دفرانسې دانقلاب په وخت کې دانسان په حقوقو عقیده وه . » ۲٤

نن ورځ ، پنځوس کاله وروسته له هغه چې دغه فقره لیکلی شوې ده ، اوڅه باندې څلویښت کاله وروسته دروسیې له انقلاب څخه ، او له سترکساد څخه دیرش کاله وروسته ، دغه عقیده پوره رواج شوې ده . افاقی اقتصادی قوانینوته له تسلیمی څخه ، که څه هم هغه عقلی فرض شوی و ، اودانسان له ادارې نه بهرو ، وهغې عقیدې ته انتقال ، چې انسان دخپل اقتصادی هدف دتنظیم اوادارہ کولو استعداد لری اوهغه په شعوری عمل سره اجرا کوی ، زما په فکر دپرمختګ تمثیل کوی ـ دغه پرمختګ په انسانی چاروکې دعقل تطبیق اودځان اودچاپیریال د پېژندلو اوپه هغود حاکمیت کولو په غرض دانسان زیات شوی استعداد ښیی. زه تیاریم ، چې که ضرورت وی ، دغه پرمختګ دترقی په نامه ، چې له رواجه لویدلې کلمه ده ـ یاده کړم .

دلته د دی ځای نه شته چې په نورو ور ته عملیو کومې چې په نوروساحو کې فعالیت کوی ، په تفصیل وغږیږم . لکه څنګه چې

۲٤، دکیمبرج معاصر تاریخ ، (۱۹۱۰) مخ ۱۵ . ددغه فصل مولف اس. لیتز (S.Leathes) و. دی دتاریخ د (مجلې) دچلوونکونه یو چلوونکی او د ملکی سرویس کمشنرو .

موو لیدل، حتی ساینس هم اوس له دې سره دومره علاقه نه‌لري چې دطبیعت افاقي قوانین وخیړي، اوتثبیت یې کړي. ساینس ترهغه زیات له دې سره علاقمن دی چې کارکوونکې فرضیې قایمې کړي، چې دهغو په مرسته وکولی شي طبیعت دخپلو مقصدونودپاره رام کړي، او دخپل چاپیریال بڼه واړوي. مهمه یې لیا داده چې دعقل په شعوري تمرین سره انسان په‌دې پیل کړی دی، چې نه یوازې خپل چاپیریال، بلکه خپل ځان ته هم تغییرورکړي. داتلسمې پېړۍ په پای کې مالتوس، په خپل یوه دوران جوړوونکې اثرکې، زیاروایست چې دنفوسو افاقي قوانین تثبیت کړي. دغه قوانین دادم سمت دبازاردقوانینو په څیر، بې له دینه چې څوک دهغوله عملیې نه اګاه وي، په کارلګیا وو. نن ورځ هېڅ څوك په دغسې قوانینو عقیده نه‌کوي مګرد نفوسو کنترول کول دعقلي اوشعوري اجتماعي‌سیاست یوه موضوع ګرزیدلې ده. مونږ په خپل عصرکې، په انساني کوښښونو سره دبشردعمر او ژدول اوزمونږ په نفوسو کې دنسلونو ترمینځ دوازنې تبدیلول لیدلي‌دي. مونږدهغه دارو درمل تومونه هم اوریدلي دي، چې په شعوري ډول ددې دپاره استعمالیږي چې په انساني کړواثرولري. داسې موهم دجراحي هغه عملیات لیدلي دي، چې مقصد یې دادی چې انساني خصلت ته تغییرورکړي. انسان او چاپیریال، دواړو تغییر میندلی دی، اودواړه زمونږ په مخ کې په انساني زیار سره متغییرشوي دي خو ددغوتغییراتوډیرمهم یې ممکن داوي چې دتشویق اوتلقین کولودعصري میتودونو له لارې وارد شوي دي. نن ورځ دټولوسویومربیون له دې سره وارپه وارډیره علاقه پیداکوي، چې په یوه خاص شکل او قالب سره‌دجامعې په تغییر کولوکې برخه ولري، اوپه نوي را هسکېدونکې نسل کې‌دغسې رویې، وفاداري، اونظریات تزریق کړي،چې دهغه رازجامعې‌دپاره موزون‌وي. عرفاني سیاست د هرهغه اجتماعي سیاست جزء دی، چې په عقلي ډول سره طرح

کیږی . دعقل لومړنی وظیفه ، لکه څنګه چې په جامعې کې په انسان باندې تطبیق مومی ، نور نو یوازې تحقیق کول نه ، بلکه اړول دی . د انساني قوت دغه هسک شوی شعور چې دعقلی عملیو له لاری ، د خپلو اجتماعی ، اقتصادی ، او سیاسي چارو تنظیم کول اصلاح کړی ، زما په عقیده دشلمې پیړۍ د انقلاب یوډیر مهم اړخ دی .

د عقل دغه پراختیا یوازې دهغې عملیې یوه برخه ده چې ما په یوه وړاندنی لیکچر کې ، فردی کیدل ، نومولې و . دغه فردی کیدل دافرادو دمهارتونو ، شغلونو ، او مواقعو هغه څانګې او انشعابات دی چې دیوه مخ کې تلونکی مدنیت ملازمات دی . دصناعتی انقلاب ډیره جامعه اوژوره اجتماعي نتیجه شاید داشوې وی ، چې دهغو کسانو شمیرې په مترقی ډول ډیر کړی وی ، چې دوی سوچ کول زده کوی ، او عقل په کاراچوی . په لویې برتانیا کې دتدریجی پرمختګ د پاره زمونږ احتراص داسې دی ، چې دغه نهضت کله کله په مشکل سره ددرک وړ ګرزی . مونږ دیوه قرن دډیرې ښې برخې په دوران کې دلومړنی معارف په افتخاراتو قناعت کړی دی ، او تراوسه هم دعالمي لوړمعارف په لوړښه د مخه یازړد مخه وړاندې تللی نه یو ، کله چې مونږ دجهان مشری په غاړه لرله ، دغه حال دغومره تفاوت نه کاوه . خو اوس ، حال ډیر فرق کوی چې نور په ډیر ې چټکی سره ترموږ د مخه کیږی : هغه هم په دغسې وخت کې چه دغه ګام هرچیرته په تخنیکی تحول سره چټک شوی دی ، په دې چې اجتماعي انقلاب ، او تخنیکی انقلاب . اوعلمی انقلاب دهغې یوې عملیې نه بیلیدونکې اجزا ی . که تاسې دفردی کیدا او د عملیې علمی مثال غواړی په تیرو پنځوسو یاشپیتو کالونو کې په تاریخ ، یاسا ینس یاکوم خاص ساینس کې هغه فوق العاده او زیات انشعابات او څانګه کیدل تر نظر لاندې و نیسئ . داسې هم د انفرادی تخصصونو هغه فوق العاده اضافه شوی تنوع په نظر کې و نیسی کوم چې هم دغه فردی

کېدل يې باعث ګرزي . خوزه په يوه بېل ډګر کې ديوی عمليې يوډېرواضح مثال په لاس لرم . له ډيرشو کالونو نه ډېر دمخه يوه جرمني عالي رتبه نظامي افسر چې دشوروی په سفربوخت و ،ديوه شوروی افسر يوې روښانه کوونکې تبصرې ته غوږ نيوه . شوروی افسردهوايي قواووله پياوړې کېدلوسره سروکارلاره .

«مونږروسان مجبوريوچې تراوسه‌هم په‌ابتدايي‌بشري موادوقانع اوسو. مونږمجبوريو چې دا لوزولوماشين دهغه الوتونکی (پيلوټ ) په رقم متوافق کړو ، چې زمونږپه لاس کې دی .تر هغه حده چې مونږ دنوی قسم انسانانــو په انکشاف کې موفق يو ، دموادوتخنيکي انکشاف به هم تکميل‌شي . دواړه عوامل يو بل مشروط اومقيدکوی. داسې نه شي کېدلی چې ابتدايي انسانان دې په پيچلوماشينوکې واچول شي.» ۲۵

نن ورځ ، يوازې يونسل وروسته ، مونږ خبريوچې روسي ماشينونــه نـور نو ابتدايي نه دی ، اوپه ميليونوروسی نارينه او ښځې چې دغه ماشينونه طرح کـوی ، جوړوی ، اوچلوی ، هم نورنوابتدايي نه دی . ديوه مورخ په‌حيث ، زه لـه دغې ورو‌ستې حادثې سره ډېرعلاقمن يم . دتوليد اصلاح کول ۲۶ ديوه ليا ډېرمهم څيز معنی لری ـ دانسان اصلاح کول . نن ورځ ، دټول جهان پرمخ ، انسانان دپيچلو ماشينونواستعمالول زده کوی ، اوپه دغه کـارسره فکرکول ، اوله عقل نه استفاده کول ، زده کوی . هغه انقلاب چې ته به‌يې په حـقه اجتماعي انقلاب وبولې ، او زه به‌يې‌په‌حاضره قرينه کې دعقل‌پراختياونومم ، فقط اوس‌شروع کېږی مګرهغه‌ددی دپاره‌چې دپخوانی‌نسل له حيرانوونکوپرمختګونوسره قدم په‌قدم شي ، په ډېرسرعت سره په مخ ځي . زماپه فکرداشلمې پېړی دانقلاب داړخونويوډېرستراړخ دی .

که چېری زه دلته هغه خطرونه ذکرنه کړم ، اودهغه رول مبهم اړ خونــه چې

۲۵. Vierteljahrshefte fur Zeitgeschichte (ميونيخ) I ، (۱۹۵۳)، مخ ۳۸.

۲۶. Rationalization هغه ريفورم او اصلاح چې په کار، وخت، او موادوکې دضايعاتــو په حذف سره ممکن کېږی.(م).

زمونږ په اوسنی جهان کې دعقل دپاره تاکل شوی دی ، ونه ښیم ، یقین دی چې زمونږ ځینې بدبینان اوشکاکان به په ماکلک انتقادونه وکړی. په یوه دمخنې لیکچر کې ماویلی و،چې زیاتیدونکی فردی کیدل په هغه مفهوم سره چې مایې بیان کړی و، دامعنی نه لری چې هغه به اجتماعی فشارونه دمطابقت اومتحدالشکل کید لودپاره ضعیف کړی . په حقیقت کې ، دازمونږ دمعاصرجهان په ظاهر کې مهمل مگرپه معنی کې درست یاظاهراً نقیض حقیقت دی . معارف چې دفردی استعدادونو اوفرصتونو دپراختیا ، اوپه دغه ډول ، دزیاتیدونکي فردی کیدلودپاره یوه ضروری اوقوی وسیله ده، دذې منا فعوډلو دپاره هم یوه قوی وسیله ده چې اجتماعی مطابقت پرې پراخ اوعمومی کړی . هغه تقاضاگانې چې ډیر کله د مسئولو تیلویز یونی یارا دیویی خپرونو، یادلیا مسئولومطبوعاتو د پاره اوریدلې کیږی ، په اول سر کې د ځینو منفی پدیدو په ضدوی ، چې دهغومحکومول اسان ښکاری . خوهغه ډیرزر په هغو تقاضاگانو بدلې شی چې دغه قوی وسایل دې د تودې د تشویق د پا ره استعمال شی او په هغوسره دې مطلوب ذوقونه ، اومطلوب نظریات تزریق شی په داسی حال کې چې دمطلوبیت معیارهغه ذوقونه اونظریات دی ، چې جامعې منلي وی . دغسې مبارزې ، دهغوپه لاسونو کې چې پراختیایې غواړی ، هغه شعوری اوعقلی عملیې دی ، چې دجامعې دبیا شکل ورکولودپاره طرح کیږی ، اودغه کارد یوه مطلوب سمت په لوردانفرادی غړودبیاشکل ورکولوله لارې کیږی . نورښکاره مثالونه یې تجارتي اعلان کوونکي اوسیاسي مبلغین دی ،په واقع کې ، دغه دوه رولونه ډیر کله دوه چنده کیږی . دامریکې په متحده ایالتونو کې دغه کار ډیرواضح اوبرالادی ،مگر په لویې برتانیاکې لږڅه واضح اوبرالا . گوندونه اوکاندیدان تخصصي اوکسبی اعلان کوونکي د خپل موفقیت دپاره استخدام کوی . دغه دواړه طرزعملونه ، حتی که کله کله په رسمي لحاظ متمایزوی ، یوله بل سره ډیرورته وی . تخصصی اعلان

کوونکی اود اویو گوند ونودتبلیـغ دڅانـگو آمران ډېرذکي او هوښیارخلق وی . دوظیفود اجرادپاره ، دوی له ټولوسایلو او منابعو څخه استفـاده کوی . خوعقل، څنگه چې مو په نوروملالونوکې ولید، یوازې دکشف دپاره نه، بلکه دګټې دپاره استعمالیږ ی . پـه ساکن ډول ترینه استفاده نه کیږی ، بلکه په ډینامیک او فعال ډول ترینه کاراخیستل کیږی. تخصصی اعلان کوونکی ، او دمبارزې منتظمان ،اصلاً له موجودوحقایقوسره دومره علاقمن نه وی . دوی له هغوڅیزونوسره علاقه‌ښیی چې مستهلک یا انتخاب کوونکی پـرې معتقدوی . داسې‌هم ،دوی له هغوپېښوسره، علاقه ښئی‌چې دوی کولی‌شی مستهلک یا انتخاب کوونکی دهغو منلواوغوښتلوته په ډېرمهارت سره تشویق کړی . برسیره‌پردې ، دتودی د روحیاتومطالعه دوی تـه دا ښوولې ده چې ددوی دنظر یاتودمنلوډېره چټکه لاره داده چې دمستهلک اوموکل جذباتی اوغیرعقلی‌عنصرته التماس وکړی. په دغه ډول. هغه‌تصویرچې مونږ ورسره مخامخ کیږو ، داکېـږي چې پـه‌هغـه سره دصناعت د څښتنانوتخصصی غوره کسان یاګوندی مشران ، دهغو عقـلی عملیوله لارې چې ترپخوایـی ډېرانکشاف کـړی دی ، خپل مقاصد ترسره کوی ، اودغومقا صدوته‌درسیدلودپاره دتود واوولسونو په غیرعقلی اصـل ۲۷ بانـدی څانونه پوهوی، اوتجـارت پری کـوی . التماس اورجوع عقل ته نه وی . التماس په عمومی ډول په هغه متیو دونوسره مخکی‌څی چې اسکاروایلډ ۲۸ یی «له عقل نه لاندې ضربه» بولی. مادغه تصویرڅـکه یوڅه څرګندوښودچې څوك می په دی تومتـی نه کړی چې ګوا کې خطرمی کم ښودلـی دی ۲۹ . مګردغه، په پراخه توګه سم دی،اوپه نوروساحوکې په‌آسانی سره‌تطبیق

۲۷. Irrationalism

۲۸. Oscar Wilde (۱۸۵٦ - ۱۹۰۰) ایرلینـډی شاعـر ، او درام لیکـونـکی (م).

۲۹. ددغـې موضوع دپـوره بحث دپاره وګـوری دمولف اثر : نوی جامعـه (۱۹۵۱) فصل ٤.

کیدلی شی. حاکمه ډله ددې دپاره چې دتودی ذهنیت متشکل او اداره کړی، لږ و ډیر اجباری اقدامات عملی کوی. دغه مېتود تر ځینو نورو نه په‌دی لا بدمعلومېږی، چې په هغه سره له عقل نه ناوړه استفاده کیږی.

ددغه جدی او قوی تور دځواب دپاره زه یوازی دوه دلیلونه راوړلی شم. لومړی یې هغه اشنادلیل دی چې دتاریخ په جریان کې چې هره اختراع، هرابداع او هرنوی تخنیك کشف شوی دی، منفی او مثبتی خواوی یې لرلی دی. دنوی کشف تاوان او بیه باید تل یو څوك وګالی. دچاپ له اختراع څخه، نه پوهېږم څومره وروسته و، چې منقدانو وویل چې چاپ دغلطو ذهنیتونو دخپرو او دپاره لاره هواره کوی. نن ورځ دا یوه عادی خبره ده چې په سړ کونو باندې دمړګ تلفات دموټرو اختراع او ظهورته منسوب ګڼل کیږی، او په هغو خواشینی ښکاره کیږی. حتی ځینی ساینس پوهان لا دهستوی انرجی دتولید دپاره دخپلو طریقو او وسیلو کشف غندی. علت یې هم هغه ناځاپی تباهی یاده‌وی چې دهغه په استعمال سره ممکن کیږی، او شوی هم ده. خو دغسی اعتراضونه نه پخوا دمیداو موثرشوی وو، او نه ددې احتمال شته ده چې په آینده کې به مفیدشی، چې دنویو اختراعاتو او کشفیاتو پر مختګ معطل کړی. دتودې دتبلیغ دپاره چې مونږ څه قوتونه او تخنیکونه زده کړی دی، محو کیدلی نه‌شی. څومره چې ددې امکان نه شته چې په کمې اندازی سره انفرادی دموکراسی ته چې جان لاك یې طرفداری کوله، یا لبرالی تیوری ته چې یوڅه یې دنونسمی پیړ ی په نیمایی کلونو کې په برتانیا کې عملی شوې ده، بېرته رجعت وشی، داسې هم دا ناشونکی ده چې داس او بګی یا لومړی لیسه فرسرمایه داری ته رجوع وشی. مګر حقیقی ځواب دادی چې دغه بدی ګانی له ځان سره سم کوونکی هم لری. علاج یې دغیرعقلی اصل دا ئین په لمانځلو یا په اوسنی جامعې کې دعقل دپراخ شوی رول په تردید کې نه دی، بلکه چاره یې دعقل په هغه رول او بولو کې ده چې شعورورته هم له پاس او هم له لاندې نه قوی

کړل شي. په داسې وخت کې چې دجامعې په ټولوساحو کې زمونږدتخنیکي اوعلمي انقلاب له امله دعقل متزاید استعمال رابانديتحمیل شوی‌دی، داکوم خیالي خوب نه دی. دغه مخکې تګ هم، دهربل ستر تاریخي مخکې تګ په څېر، خپل قیمتونه اوتاوانونه لري، چې باید اداشي، اوهم خطرونه لري چې باید مقابله ورسره وشي خودشکاکانو، مشاجره خوښوونکو اودتباهي پیغمبرانوسره سره چې مخصوصاًدهغو مملکتوپه روشنفکرانوکې دي، چې ددوی پخواني ممتازموقف تباه شوی دی، زه له دې نه خجالت نه‌یم چې‌هغه په‌تاریــخ کې، دترقي بېجوړې مثال ونومم. زمونږ دعصر دپاره ممکن دغه‌ډېره څرګنده اوانقلابي پدیده وي.

ددغه مترقي انقلاب دوهم اړخ له‌کوم نه چې مونږتیریږو، دجهان تبدیل شوی شکل دی. دپنځلسمې اوشپاړسمې پیړۍ سترعصر، چې هلته منځنۍ نړۍ په‌پای کې منحله شوله، اودمعاصرجهان‌تاداو کېښېښودشو، دنویوبراعظمونو په کشف سره‌ښکاره اونښاني شوله. داسې هم دغه عصر دمدیترانې له غاړونه داتلانټیك غاړوته دجهان دمرکزپه انتقال‌سره نښاني‌شو. حتی‌دفرانسې‌دانقلاب وو‌ړقیام اوتحول‌هم‌جغرافیایي منطقي سلسله په دې تعقیب کړله چې له نوې جهان نه یې دعوت وکــړ چې د زاړه جهان موازنه برابره کړي. مګرهغه تحولات چې دشلمې پیړۍ په انقــلاب سره راغلي دي، نظرهرهغه څه ته چې له شپاړسمې پیړۍ نه را په دې خوا پیښ شوي دي، ډیرجامع دی. له څلورسوکالونه وروسته دجهان دثقل مرکــز په یقینــي ډول له لویدیځې اروپانه کوچ کړی دی. لویدیځه اروپا، دانګریزي-ویونکي جهان له لېروبرخوسره دشمالي امریکې داوېې وچې ضمیمه‌ګرزېدلې ده. که سناسي‌خوښه وي د غوټیولوته مونږیوه لویه خره او کوته ویلی‌شوچې په هغې کې متحده ایالتونه هم‌دبریښنادکوټ اوهم‌دبریښنادبرج په څیروظیفه‌اجراکوي. سره‌ددې هم‌دایوانځنې یاممکن ترټولومهم تغییرنــه وي. دالا واضحه نه ده چې د جهان د ثقل مرکز، په

انگریزی ـ ویونکی جهان کې به چې لویدیځه اروپایې بوه ضمیمه ده، پاتې وی او یا به وروسته له ډیره وخته پاتې شي . وائي ښکاری چې دختیځې اروپـا اواسیا لو یه وچه دهغو له اوږدوسره چې په افریقا کې دی ، نن ورځ دجهان په پېښو کې ابتـکار ښکاره کوی . نه تغییرمنو نـکی شرق ، نن ور ځ یـوه زړه اوورسته اصـطلاح گرزیدلې ده.

اوس به په دی باندې چې په حـاضرقرن کې په اسیـا کې څه پیښې شـوی دی یوسرسری نظرواچوو. داستان په ۱۹۰۲ کې دانگیلسی اوجاپان له اتحادکولوڅخه شروع کیږی. په دغه اتحادسره یواسیایې هیواددلول ځل دپاره داروپایی سترو قوتونوپه خوزی او محفوظی دایرې کې ومنل شو. شاید دابه هسې یو تصادف وگنیل شي چې جـاپان خپله ارتقا په دې خوندی کړه چې روسیې ته یې چیلنج او شکست ورکـړ او پـه دغه اقـدام سره یې د اور دـغه لـومړنـی بـڅر کـې بـل کـړ چـې دشلمې پېړی ستر انقلاب یې مشتعل کړ؛ دفـرانسې د ۱۷۸۹ او ۱۸٤۸ انقلابونو په اروپا کـې مقلدان ومیندل . دروسیې د۱۹۰۵ کال انقلاب پهاروپـاکې هیڅ انعکاس و نه کړ ، مگرمقلدان یې پهاسیا کې ومیندل . پهڅوورو ستیو کالو نو کې پهفارس، ترکیې، اوچین کې انقلابونه پیښ شول . دوهم جهانی جنگ پهمشخص ډول ، کوم جهانی جنگ نهو ، بلکههغه یوهاروپایی داخلی جگړه وههغههم داسې چې مونږفرض کړوچې دغسې یوواحد لکه اروپـاموجودو ، چې عواقب یې جهـانی و ، په دغو عوا قبو کې ؛ په ډیرو اسیایی هیوادو نو کې دصنـاعتي انکشاف تحریك په چین کې دضدخارجی احساس ؛ دهندی نیشنلزم ؛ اودعرب دنیشنلزم ظهوررو. د۱۹۱۷ کال روسی انقلاب یو بل اوقاطع خوځوونکی شو. هغه څه چې دلتهمهم و، داوچې مشران یې په دی تینگ ووچی مقلدان به یې په اروپا کې ومومـی. مگردغههیلی ترسره نه شولی.او پهپای کې یې مقلدان په اسیا کې ومیندل. دا اروپا وهچې«تغییر

نه منونـکی» گرزیدلی ده. اسیاپه خوځیدوکې ده . مورخلاتراوسه پهدغسیموقف کې قرارنه دی نیولی، چې داسیایـی اوافریقایـی انقلاب وسعت اواهمیت معلوم کړی . مگرپهمیلیونواسیایـی اوافریقایـی خلکوکې دعصری تخنیکی اوصناعتـی عمایوخپریــدل، او دمعارف اوسیاســی شعورشروع کیــدل، ددغوبراعظمونومخ تبدیلوی . په دغسی حال کې چې زه آینده ته بښه ځیرکیدلی نه شم، زه غیرله دینه چې دجهان دتاریخ پهدورنماکېدغه دیوه مترقیانقلاب پهحیث وگنبم، دقضاوت له کوم بل معیارنه خبرنه یم، دجهان اړول شوی شـکل، چې د دغوپیښوزیږنده دی لــه خــپل ځان سره یې دجهــان په پــیښوکــې په یقـینی ډول د دغــه هیــواد [برتانیا] اوپــه احتــمــالی ډول د انگریزی- دیونکی جهان پــه وزنکې یونسبی انحطاط راوړی دی . مگرنسبی انحطاط مطلق انحطاط نه دی . هغه څه چې ما په ویره اووحشتکې غورځوی، په اسیا اوافریقاکې دترقی مارش نه دی ، بلکه په دغه ملکك اوشاید هم نورچیرې ، دغالبوډاوهغه تمایل دی ، چې دغو انـکشافاتو ته یې وړنده ، اوغیرمدرکه سترگه اړولې ده . داسې یې هم دهغوپه مقابل کې د بدگمانی نه ډکه لویـی اودنرمې تواضع ترمینځ یومردودسلوك اختیارکړی دی اودماضی په فلج کوونکې میهن پرستی کې غرق شوی دی .

هغه څه چې مازمونږدشلم قرن په انقلاب کې دعقل پراختیانوملې وه،دمؤرخ دپاره خاص نتایـج اوعواقب لری. پهاصل کې، دعقل دپراختیا معنیدا کېږي چېپه تاریـخ کې دغسې ډلې طبقات ، خلق ، اوبراعظمونه ظاهرشوی دی چې تراوسه پورې دتاریـخ له دایرې نه بهروو. په لومړنی لیـکچرکې مې دغه فـکرو ړاندې کړی وچې دمنځنیو پیړیو دمؤرخانودغه تمایل چې د منځنیو پیړیو جامعېته یې د دمذهب له عینـکونه کـتـلی وو، ددوی دمنابعودخاص ځنگه وایـی لـه امله وه . غواړم چې دغه فـکرلږڅه نورهم واضح کړم . زماپه فـکردغه ویناسمه ده ،که څه

هم مبالغه ورسره ده ، چې عیسایي کلیساد «منځنیو پیړیو یوازنـی عقلي موسسه » (۳۰) ده . څنګه چې هغه یوازنی عقلي موسسه ده ، په دغه حساب یوازنی تاریخي موسسه ده . یوازې همدغه موسسه دانکشاف دعقلي سیر تابع وه ، چې دمؤرخ دپاره ددرك کیدلو اوپوهیدلو وړ وه . کلیسا دنیایي جامعې ته سروصورت او تنظیم ور کاوه ، اودنیایي جامعې څانله عقلي ژوند نه لاره .دخلقو توده . دماقبل التاریخ خلقو په څیر ، طبیعت ته مربوطه وه نه تاریخ ته . عصر ی تاریخ هغه وخت شروع کیږی چې خلق په زیاته اندازه په اجتماعي اوسیاسي شعور کې ظهور کوی اودتاریخي واحدونو په حیث چې ماضي او آینده لری ، له خپلو مربوطو د لـو نـه اګاه کیږی ، اوپه مکمل ډول په تاریخ کې ننوځی . یوازی دتیرودوه سوو کالونو په جریان کې ده ، هغه هم په یوڅو پرمختللو هیوادونو کې ـ چې اجتماعی ، سیاسی او تاریخي شعور په دې شروع کړی ده چې دنفوسو په اکثریت کې خپور شي . دلومړی ځل دپاره یوازې اوس ممکنه شوې ده ، چې دداسې جهان تصور و شـی ، چې خلق یې په ټوله معنی په تاریخ کې ننوتلي وی ، اودغه خلق نورنو د مستعمراتي منتظمانو یاانسان پیژندونکو د بحث موضوع نه ، بلکه د مؤرخ د بحث موضوع شوی دی .

دازمونږ دتاریخ په مفهوم کې یوانقلاب دی . په اتلسمې پیړ ی کې تاریخ لاهم دغوره اوخاصو کسانو تاریخ و . په نولسمې پیړی کې برتانیایي مؤرخانو دمه په دمه اوپه متناوب ډول داسې مخ کې تلل شروع کړل چې تاریخ د ټولې ملي ورې ټولنې (۳۱) دتاریخ په حیث وګڼی . جې. ار . ګرین (۳۲) ، که څه هم

۳۰. ای. فان مارتن ، درنسانس سوسیولوجي (انګریزی ترجمه ۱۹٤٥) مخ ۱۸ .

۳۱- Community

۳۲- J.R. Green

عادی مؤرخ و، دانګلیس دواس تاریخ په لومړنی تألیف سره یې نوم وګاټه. که څه هم کردارله ګفتارنه ډېروروسته دی، په شلمې پېړۍ کې هرمؤرخ دغه نظر ته یونظر کوی. زه په دغونیمګړتیاوو ډېره زوره نه اچوم په دې چې زه له خپلو ناکامیوسره دمؤرخانو په حیث ډېره علاقه لرم چې و مونه شوکړای ددغه ملک اولویدیځې اروپانه بهردتاریخ پراخې غاړې په نظرکې و نیسو. اکټن دخپل۱۸۹٦ کال په رپوټ کې عالمی تاریخ داسې وګاټه «چې دټولوملکونوله ګډ تاریخ نه بیل دی.» ده خپله وینادغسې اوږده کړله.

«دا (عالمی تاریخ) په دغسې یوې سلسلې سره خوځیږی چې ملتو نه به هغه ته ثانوی اوفرعی وی. ددوی (ملتونو) داستان به په خپله د دوی په خاطر بیان نه شی، بلکه دیوې لیالوړې سلسلې تـه دارتباط اوتبعیت (په خاطراو) دوخت اودرجې په مطابق چې دوی به دبشردمشترکونیک مرغیو د پا ره مرسته کو ی (و لیکل شی»). (۳۳)

داکټن دپاره په دې کې څه ګړوبړنه وچې عالمی تاریخ، څنګه چې د ه یې درك کړی و، دهرجدی مؤرخ دپاره دعلاقې وړموضوع ده. مونږاوس ددې دپاره چې په دغه مفهوم سره دعالمی تاریخ د پاره لاره هواره کړ و، څه شـی کوو؟

په دغولیکچرونوکې مې نیت‌دانه وچې په دغه پوهنتون کې دتاریخ دتحصیل په حقله څه ووایم. خواوس دهغه څه د پاره چې کوښښ کـوم ویې وا یم د غسې څرګند مثالونه راپه لاس شوی دی، چې که د غومبسو ځالـې‌ته لاس و ا نه چو م ډارن به ښکاره شم. مونږپه تیروځلو ینښتو کالونوکې، په خپل تعلیمی نصا ب کې دمتحده ایالتونوتاریخ په اساسی ډول ځای کړی دی. دغه یومهم وړاندې تـګ

۳۳. دکیمبرج معاصر تاریخ، منبع، مولفیت او تـولیـدیې (۱۹۰۷) مخ ۱٤.

دی . مګر دغه د کار ، له خپل ځان سره دانګلیسی تاریخ دتنګ نظری خطر یو څه پیاوړی کړی دی ، اودغه خطرلا دمخه تردې زمونږ په تعلیمی نصاب باندې دانګریزی ویونکی جهان دلابرابرخطرناك له تنګ نظری سره دمړه لاس په شان دروند تمامیده . په دې کې څه شك نه شته چې په تیروڅلورسو وکالونو کې دانګریزی ـ ویونکی جهان تاریخ دتاریخ یوستر عصرو . خو که دادعالمی تاریخ دثقل مرکزاونورهرڅه دهغه فروع او محیط و شمیرل شی ، دا به دلیرې لید خپه کوونکی تحریف وی . دپوهنتون وظیفه ده چې دغسې تحریفات سم کړی . ماته دغسې ښکاری چې په دغه پوهنتون کې دمعاصر تاریخ مکتب خپله وظیفه تر سره کولی نه شی . په یقین سره داسمه نه ده چې په هر نوی پوهنتون کې په تاریخ کې دساینس له کاندید نه دې امتحان واخیستل شی ، بې له دې چې ده د انګریزی نه په پرته ، بله عصری ژبه په کافی اندازه زده کړې وی . باید مونږ د الحسانله اخطاروبولوچې په اکسفورد کې دفلسفې دقدیمی او محترم دسپلین په باب څه پیښ شول ، اوداهغه وخت وچې دهغه منظمان دې نتیجې ته ورسیدل چې دوی په ساده ورځنی انګریزی سره په ښه شان په مخ تلی شی . یقیناً داغلطه ده چې دمحصل دپاره داسې اسانتیاوی نه وی چې دهراروپایې ملك دتاریخ دمطالعې دپاره له داسې کتابونه په پرته نورڅه و نه لری . هغه محصل چې داسیا ، افریقا یادلاتینې امریکا په باب یوڅه معلومات لری ، اوس لږچانس لری چې وکولی شی خپل معلومات په هغه مضمون کې چې دښکلې او نسبې پیړی ښکلې جغه په سر لری ، ښکاره کړی : « داروپا پراختیا » . له بده مرغه عنوان له محتو یا تو سره پوره سرخوری . له محصل نه دا نه غوښتل کیږی چې دهغو ملکونو لکه چین ، یا فارس په شان ، چې ښه مستند تاریخ لری ، حتی یوڅه زده کړی . دی باید دغو ملکونو د هغه وخت حادثات زده کړی ، چې

اروپايانو زيار ايست چې تسلط پر ى تينـګ کړ ى . ما ته و يل کيږ ى ، چې په دغه پوهنتون [ کيمبرج] کې دروسيې ، پارس ، اوچين دتاريـخ ليکچرونه د تاريـخ دپوهنځى له غړو نه غيرنورځوك ور کوى . دچينايې پروفيسر هغه عقيده کومه چې ده پنځه کاله روميـى په خپل افتتاحى ليکچر کې اظهار کړ ى وه ، د کېمبرج په مؤرخانو کې په کمو غوږونو لويدلې ده . عقيده داوه : « نه شي کيد لى چې چين دبشرى تاريـخ له عمومى جريان څخه د باندې وګڼل شي . » (۳٤) هغه تـأليف چې ممکن په آينده کې ، ديوه ډيرسترتاريخى اثر ، په حيث وګڼل شى ، دغسې يوه کس ليکلى دى چې هغه دتاريـخ څانګى ته منسوب نه و، او دتاريـخ څانګى له هغه سره هيـڅ مرسته کړې نه ده . زما مطلب دډاکتر نيډهام (۳۵) تأليف پـه نامه د «ساينس اومدنيت په چين کې» دى . دايوهوښيار کوونکى فکردى . ما بايد دغه داخلى زخمونه عموموته برالاکړى نه واى ، مګرمادډغه حقيقت په بنا برالا کړل چې فکرکوم دشلمې پيړى په نيمايـى کې دنوروبرتانيايى پوهنتونو او په عمومى ډول دبرتانيايى روشنفکرانوحال هم همدغسې دى . دوکټور يا د عصر ګوښه توب په باب هغه زړه کـنـايه : «طوفانونه په رودبار کې،براعظم ګوښه شوى » له بده مرغه نن ورځ پوره صدق کوى . په بهرنى جهان کې يوځل بيا طوفانونه خواره دى ، په داسې حال کې چې مونږ په انګريزى ويونکو ملکو کې سره غونډيږو ، اوپه ورځنى ساده ژبه ځانوته وايوچې نوربراعظمونه زمونږد مدنيت له برکتونواومواهبوڅخه په خپل فوق العاده سلوك سره ګوښه کيږى، کله کله داسې ښکارى چې ګواکې مونږ ، زمونږدبې کفايتى يا نه اماده توب له امله د جها ن له حقيقى حادثاتونه دپوهيدلو په غرض ځان ګوښې کوو .

۳٤. اى. جې . پـولې بلينـك ( E.G. Pulleyblank ) دچين تاريخ او دجهان تاريخ (۱۹۵۵) مـخ ۳٦.

Dr. Needham .۳۵

دلومړنی لیکچرپه اولوجملو کې ماکوښښ وکړ چې د جهان بینی هغه قوی اختلاف ته توجه جلب کړم، کوم چې دشلمې پیړی‌نیمایی کالونه دنونسمی پیړی له وروستیو کالونوڅخه بیلوی . اوس غواړم دغه تضادپراخ وښیم . که زه په‌دغې قرینې کې د«لبرال» او «محافظه کاری» کلمات استعمالوم دابه ډیرزر ښکاره شی چې زه هغه دبرتانیایی دسیاسی ګوند ونو په مفهوم سره نه استعمالوم . څه وخت چې اکتن له ترقی‌نه غږیده ،ده دبرتانیادمروجی مفهوم یعنی د«تدریجی اصالت» (۳٦) په چوکاټ کې دننه په هغه سوچ نه کاوه . « انقلاب ، یا څنګه چې مونږ لبرالزم وایو» د۱۸۸۷ کال له مکتوب څخه یوه څرګنده اصطلاح ده . لەهغه نه لس کاله وروسته ده دمعاصرتاریخ په باب په یوه لیکچرکې وویل : « انقلاب دمعاصرې ترقی میتوددی . » په یوه بل لیکچرکې ده د «عمومی نظریاتو ظهور چې مونږ یې انقلاب بولو» څخه خبرې وکړې . په یوه ناچاپ شوې خطی نسخې کې ده داسې شرح ورکړله:«وګ دروغې جوړې له لارې حکومت وکړ، لبرال د افکار و حکومت شروع کوی . » (۳۷) د « افکار و حکومت » څخه داکتن مرادلبرالزم و، اوله لبرالزم څخه یې مرادانقلاب و. لبرالزم داکتن

۳٦. Gradualism

۳۷. ددغو عباراتو دپاره وګوری‌داکتن ، له‌لیکنو څخه‌انتخابات (۱۹۱۷) ،دمعاصر تاریخ په‌باب لیکچرونه (۱۹۰٦) ،مخونه ٤، ۳۲. علاوه کړی: خطې نسخی ، ٤۹٤۹ (دکیمبرج پوهنتون په کتابخانه کې) په ۱۸۸۷ لیک کې ،چې پورته یادشو، اکتن «دتغییر نښه‌دغه بولی : له «زاړه» څخه و «نوی» ته دوګانو(یعنی لبرالان) تغییرد «وجدان دانکشاف په حیث» «وجدان» داته ظاهراً د«شعور» له انکشاف سره تړلی دی. (وګوری مخ ۱۳۵ پورته« او ددافکار دحاکمیت، سره توافق کوی » ـ ستبز ( Stubbs ) هم معاصر تاریخ په دوه دو رونو ویشلی دی چې د فرانسی انقلاب سره بیل کړی دی : « اومړنی دقوتونو ، صلاحیتونو ، او فامیلونو تاریخ ؛ دوهم یې هغه تاریخ چې هلته افکار داشکالو او حقوقو ځای نیسی ؛ ( دبلیو. ستبز ، دمنځنیو او معاصر تاریخ په باب اولس لیکچرونه، دریم چاپ، ۱۹۰۰، مخ ۲۳۹) .

په عمر کې داجتماعي تحول دډینامیک په حیث خپل قوت لاصرف کړی نه و. زمونږ په عصر کې، دلبرالزم بقایا په جامعې کې هرچیرې محافظه کار گرزیدلی دی. که اکثین ته اوس دمراجعت تبلیغ وشي، دابه مفهوم ونه لري. مگر مؤرخ لـه دې سره علاقمن دی، چې لومړی دا کثین دریځ معلوم کړي، بیادهغه دریځ دمعاصرومفکرانوله دریځ سره مقایسه کړي، او وروسته دا وڅیړي چې دده ددریځ کوم عناصرلاتراوسه هم داعتبار وړدی. په دې کې څه شک نـه شته چې داکثین نسل له خوش بیني او له حده زیات په ځان اعتمادڅخه زیانمن شو او دهغه جوړښت نبو ئیډ ونکی مادیت یې پوره درك نه کړ، په کوم چې یې عقیده بناوه. مگردغه نسل دوه شیان لرل، اوهغو دواړو ته مونږ اوس سخت اړیو: دتحول مفهوم په تاریخ کې دیوه مترقي عامل په حیث، او په عقل عقیده لرل د عقل دمعضلاتو دتفاهم دپاره زمونږ دلارښود په حیث.

راځئ چې اوس د۱۹۵۰ کال دلسو کالونوڅو اوازونوته غوږ ونیسو. په یوه روښنې لیکچر کې مادسرلویسی نامیردقناعت کلمات ذکر کړل چې په داسې حال کې چې د«مشخصومسایلو» دپاره د«حل عملي لارې» لټولې کیږي، «پروگرامونه اومفکورې ددواړوگوند ونوله خواهیریږی» اودهغه دغه بیان د «ملي پاخه توب» یوه علامه ده. زه په خپله دیوه فرداوملت ترمینځ دعمرداو ږدو الی د دغسې مشابهتونوڅه علاقمن نه یم، اوکه سره له دې هم مشابهت اوقیاس غوښتل کیږي په دغه حال کې بیاداپوښتنه مینځ ته راځي چې ښه څه وخت چې مونږ د «پاخه توب» له پړاونه واوښتو، وروسته ترې نه څه راځي. خوهغه څه چې ما علاقمن کوي، پرتله کول دي، دعملي او مشخص تر مینځ چې ستا یـل کیږی او د «پروگرامونواومفکورو» ترمینځ چې غندل کیږی، اومحکومیږی. په مفکوره ییزې تیوری سازی باندې دعملي فعل غوره گڼل بې له کوم شک نه دمحافظه کاری

نشته ده . د نامیر په نظر د اداتلسمې پېړی ممثل دی ، یعنې د دریم جارج د جلوس انګلستان چې د اکتبر د انقلاب او د مفکورو حکومت د قریب الوقوع حملې په مقابل کې اعتراض کوی. خودهغې پوره محافظه کاری اشنا افاده زمونږ په عصر کې د پوره تجربې په بڼه ډیره مروجه ده . ډیر مروج شکل یې د پروفیسر ترور ـ روپر په تبصرې کې ښکاره دی . دی وایې چې «کله چې افراطیون چیغې وهی چې فتح یقیناً د دوی ده ، معقول محافظه کاران یې په پزه په سوك وهی.» پروفیسر اوك شات دغه مروج تجربیت په یوی پېچلې بڼې کې ښیئی . دی وایی چې په خپلو سیاسی موضوعاتو کې مونږ «په بې پایان او بې عمق بحر کې سفر کوو» چې هلته «نه د شروع تکی شته او نه تم کولی هدف» ، او هلته زمونږ یواځینی هدف دادی چې «په یوی اوارې کښتی کې ځان د لامبو په حال کې وساتو» ۳۹ . د دې څه ضرورت نه وینم داوسنیو لیکوالو فهرست پسی ولتیوم چې دوی سیاسی «خیال پرستی» ٤۰ ، «مهدیت» ٤۱ محکوم کړی دی . دڅورو افراطی افکارو دپاره چې د جامعې د آینده په باب دهغو اظهار کیږی ، دادکنځلو او ناسزاو وجاری اصطلاحات دی زه د دې څه زیار هم نه باسم چې په متحدو ایالتونو کې هغه تازه تمایلات تر بحث لاندې و نیسم چې محافظه کاری ته د تبعیت په برالااعلامولو کې مورخان او سیاسی مفکران په دغه مملك کې دهغوی تر ملګرو لږ احتیاط کوی. هلته به یوازې د تر ټولو و تلی ، او تر ټولو معتدل امریکایی محافظه کار مورخ پروفیسر ساموېل موریسن ٤۲ تبصره رانقل کړم ، کومه چې د ۱۹٥۰ په دسمبر کې د امریکې د تاریخ ټولنې ته په یوه افتتاحی خطاب کې

۳۸. انکونتر (مجله) ، ۷ ، لمبر ٦ ، جون ۱۹٥۷ ، مخ ۱۷.

۳۹. ایم. اوك شات ، سیاسی معارف (۱۹٥۱- مخ ۲۲.

٤۰. Utopiansim

٤۱. Messianism

٤۲. Samual Morison

اظهار کړی وه. ده دغه تبصره دیوه عکس العمل په حیث دهغه په ضد کړی وه کوم چې ده د« جیفرسن - جیکسن - اف . ډی. روزولت طرح» بللی وه او دمتحده ایالتونودتاریخ دپاره یې داسی التماس وکړچې «دیوه معقول محافظه کارله نظره لیکل شوی وی.» ۴۳

خو داپروفیسر پاپر دی، چې په برتانیا کې یې دغه محتاطه محافظه کاره جهان بینی په ډېرو اضح اوغیرمصالحتی شکل یوځل بیاوړاندې کړی ده. دی دنامیر د «پرواگرامونو اومفکورو» دترديد دانعکاس په ضمن کې په هغوسیاستونو انتقادکوی چې ادعالری هدف یې «دیوه تاکلی پلان په اساس د «تولی جامعی» بیاتنظیمول دی. »، دهغه سپارښتنه کوی، کوم چې دی یې «تدریجی اجتماعی انجنیری» بولی اوظاهراً د«تدریجی پیوندکاری» او«په ناغیری سره مطلب ته درسیدو» ۴۴ له نسبت څخه یو گام هم نه اخوا کیږی. په یوه ټکی کې، رښتیا، زه دپروفیسرپاپرپوره احترام ساتم. دی دعقل قوی مدافع اوحامی دی، اوغیرعقلی اصل ته یې نه په ماضی کې مخه کړی ده، اونه یې اوس کې. خو که مونږ دده « داجتماعی تدریجی انجنیری» نسخه په پوره دقت ولولو، ښکاره به شی چې هغه رول کوم چې ده عقل ته ورسپارلی دی، ډېر محدوددی. که څه هم د«تدریجی انجنیری» تعریف ښه مشخص نه دی، مونږته واضحاً ویل کیږی چې د«هدفونو» انتقادپه کې نشته . هغه محتاط مثالونه کوم چې دهغه دقانونی فعالیتونولکه د«اساسی قانون ریفورم» ، او«دعایداتو دزیات برابرکیدلوپه لورتمایل » - په باب یې ورکوی ، واضحاً ښیئی چې مقصد دادی چې هغه باید دموجودی جامعی په چوکاټ کې دننه کاراوفعالیت وکړی ۴۵ دپروفیسرپاپردځیزونوپه طرح کې دعقل موقف په حقیقت کې دبرتانیاملکی مامورته

۴۳. امریکایی تاریخی مجله، لمبرLvi، لمبر۲، ( جنوری ۱۹۵۱ ) مخونه ۲۷۲ - ۲۷۳ .
۴۴. کې . پاپر ، دهستوریسیزم فقر (۱۹۵۷ )، مخونه ۶۷ ، ۷۴.
۴۵. ایضاً مخونه ۶۴ ، ۶۸.

ورته دی. دی بەددی لیاقت لری چې دوا کمن حکومت سیاستونه وچلوی، اوحتی د هغو دښو کار کولو دپاره دعملی اصلاحاتو په منظور نظریات هم ور کړی، خو ددې حق نه لری، چې دهغو په اساسی ړو مبنیو فرضیو، یا نــها یــې مقــاصــد و یې گړو بړو کړی. دا بنه گټور کار دی . زه هم په خپل وخت کې ملکی ماموروم . مگر زما په عقیده دموجودنظام فرضیوته دعقل مادونیت په اوزده موده کې بالکل دنه منلو دی. اکتون هم هغه وخت چې خپله معادله داسی تفسیر کړله چې: انقلاب = ابرالزم = دافکاروحکومت، دعقل په باب یې همدغسی تفکر کاوه. په انسانی چارو کې ترقی، په ساینس کې وی، یا په جامعی یا په تاریخ کې، عموماً دانسا نانو په هغې زړه وړې امادگی سره شوی دی، چې دکارو نوداجراء دطریقی په باب دتدریجی اصلاحاتو دهغې دپاره ځانونه محدودنه کړی، بلکه دعقل په نامه سره دموجودی طریقی داجراءاتو یادهغوښکاره او پټوفرضیو په مقابل کې په کوم چې په هغو استناد کیږی، اساسی مخالفتونه وړاندی کړی. زه هغه وخت ته دامید ستر گی لرم چې دانگریزی ویونکی جهان مورخان، سوسیولوجستان، اوسیاسی مفکران ددغی وظیفی دپاره همت اوجرئت بیرته ترلاسه کړی.

مگرسره له دې هم دانگریزی ـ ویونکی جهان په روشنفکرانو اوسیاسی مفکرانو کې دعقل دعقیدی نیمگړتیا ماډیرنه اندیښمن کوی ، بلکه دهغه نافذاوساری جهان په باب داحساس نه لرل می زوروی چې په دایمی حرکت کې وی. په اول نظر کې داپه ظاهر کې مهمل اوپه معنی کې سم معلومیږی. ځکه چې دتحولاتو په باب چې زمونږ شاوخواروان دی، دومره سطحی خبری، دیری لږ شوی دی . خومهمه داده چې تحول نورنودیره موفقیت ، یوی موقع، یاترقی په حیث نه ، بلکه دویری دیو څیز په حیث گڼل کیږی. کله چې زمونږسیاسی اواقتصادی پندتان دتشخیص نسخی راکوی دوی مونږته کوم درمل راکولی نه شی، بلکه اخطارراکوی چې افراطی، اوزور

ACKU

فکرونړته په بې اعتمادۍ وګورو، له هرهغه څه څخه ډډه وکړو، چې د انقلاب بوی ور کوي، اوڅومره چې کولی شو په ورووروا و احتیاط سره په مخ ولاړ شو هغه هم که چیري مخ کې تګ حتمي وي ـ په دغسې وخت چې جهان خپله ځیره په دومره چټکۍ او افراطي ډول سره اړوي، کوم چې په تیرو څلورسوو کالونو کې یې نه ده بدله کړې، ماته دافوق العاده وړوند توب ښکاري . د غه وضع د ډار د پاره لاره هوار کوي ، داسې نه چې جهان شمول نهضت به په ځای ودریږي مګر دغه ملك یاممکن انګریزي ویونکي ملکونه به د عمومي پرمختګ ترشا وروسته پاتې شي اود تیرعظمت دتخطر په لند فکر کې به غرق شي بې له دې چې هیله اسره یا ګیله اوماته ولري. زه په خپله خوش بین پاتې کیږم . کله چې سرلویې نامیراخطارراکوي، چې له مفکورواوپروګراموڅخه ډډه و کړم ، اوپروفیسر اوك شات راته وایي چې مونږ په خاص ډول کوم پلوته تللې نه شو ، اومهمه بس داده چې ښاروا وسوترڅوهیڅ څوك کښتۍ ته تکان ورنه کړي، او پروفیسر پاپر غواړي چې په تدریجي انجنیري سره هغه زوړ ګران تېي . موډل په سرك با ندې وساتو، اوپروفیسرټرور ـ روپر افراطیون په سوك سره په غوږوهي ، اوپروفیسر موریسن دتاریخ دپاره التماس کوي، چې په معقول محافظه کارروح سره ولیکل شي، زه به د دغسې جهان ښاروا وسم چې په درداو پریشانۍ اخته وي اودیوه سترساینس پوه په مشهورو کلماتو به ځواب ورکوم: «اوسره له دې هم حرکت کوي . »

«پای»

ACKU

# ښکارندوی Index

لاندني ښکارندوی دمصنفانو او موضوعاتو په باب دی، او په مصنفانو کی هم هغه ښوول شوی دی، چی نظریات یې په متن کې ذکر شوی وی یعنی تش اعلام نه دی ټول شوی .


الف: اکتن، لارد، ۱-۳، ۵، ۱۲، ۱۳، ۴۶، ۴۹، ۵۲، ۷۳، ۹۳، ۱۴۳-۱۴۵
۱۵۳، ۱۶۹، ۱۷۰، ۱۸۹، ۱۹۲-۱۹۴، ۱۹۶،

ادمز، هنری، ۱۱۲،

ایلیت، تی. اس، ۵۰،

التمن، جی.، ۷۷،

انگلز، اف.، ۹۹،

اخلاق په تاریخ کې، ۹۲-۱۰۴ (ارزښتی قضاوتونه هم وګورئ)

اعداد په تاریخ کې، ۵۶-۵۸

انشتاین، ای.، ۹۲

ارزښتی قضاوتونه ۹۵-۹۷، ۱۰۰-۱۰۲، ۱۵۵، ۱۶۳-۱۶۵،

اوکشات، ام.، ۲۱، ۱۹۴-۱۹۷،

افاقیت په تاریخ کې، ۳-۵، ۲۷-۲۸، ۸۸-۸۹، ۱۴۹-۱۵۴، ۱۶۳،

افلاتون ۱۱۲-۱۱۳،

ارستو، ۷۴،

ب: بیکن، اف.، ۹۷، ۱۳۸،

بره کلف، جی.، ۱۱، ۷۳،

بارت، کې.، ٩١،
بیکر، کې.، ٢٠،
بایل، ار.، ٦٧
بردا یف، ان.، ٩١، ١٣٣.
بسمارك، او. ای. ال.، ٤٥، ٦٢، ٦٤، ١٥٩، ١٦١، ١٦٢،
برنسن، بې.، ١٢٢.
برلین، سرآی.، ٥٠، ٥٢، ٩٤، ١١٣-١١٤، ١١٦-١١٧، ١٢٢، ١٢٨، ١٤٦،
١٥٨-١٥٩، ١٦٠، ١٦١.
برنهارد، اچ.، ١٤-١٧
بوزول، ٩٨،
بکل، اچ.، ٦٩.
برك خاردت، جې.، ١٨، ٢٤، ٣٦، ٦٤، ٧٧، ١٦٨،
برادلی، اف. اچ.، ١٤٤.
برك، ای.، ٦٨،
بری، جی. بی.، ١٠، ٦٦-٦٧، ٦٩، ١٢٢-١٢٣، ١٣٩، ١٤٩، ١٥٢،
بتیرفیلد، اچ.، ١٨، ٤٦، ٤٧، ٥٩، ٩١، ١٥١.
بشری علوم او ساینس ١٠٤-١٠٦
بنتهام، ٣٩،
ب: پارسنز، تی.، ٨، ١٣٠.
پیراندلو، ال.، ٨
پواین کره، اچ.، ٦٩، ١١١.
پوگاچیف، ٦١.
پاستور، ال.، ٩٢
پولي بیوس، ١٢٣،

پاپر، کې، ۱۱۲،۱۱٤-۱۱٥،۱۲۸،۱۳۲ف،۱۹٥،۱۹۷،
پريکلس، ۳۹،۹٦،
پايک،اف . ، ۱۳٥،۱۳٦،
پيش گويي ، ۸۲-۸٤
پرودون، ۱٦۱،
پولي بلينک،ای .، ۱۹۱،
ت: تامی توس ، ۱۲۳،
تصادف په تاريخ کې ، ٥۲،۱۲۱-۱۲۷
تکامل ، ۱٤۱-۱٤۲
توسيدايدز، ۱۰۷،۱۳٦،
تاک ويل،ای .، ۱٥۲،۱٦۹،
تولستوی ، ال .، ٥۹،٦۲،۱۲٦ف،
تعميم ۷٤-۸۰،
تراتسکی،ال .، ۸٦،۱۲۱،۱۲۲،۱۲٦
تاني،آر .، ۱٥۷،
تيلر، ای ،جی ،پی .، ٦۲،۱٤۰،
تاريخ او مذهب ، ۸۹-۹۱،۱۳٥-۱۳٦
تيليولوجی ، ۱۳٤،۱۳۷-۱۳۸
تاين بی،اي،جې.، ٤۸،۹۳،۱۳٥،۱٤٤،
تهرېوليين،.جې.ام.، ۲۲،۲۳،٤۰،٤٤،
تهرې وليين،جې. او.، ۲۲،
تهريور-روپر،اچ، ۲٦،٥٥،۱۹٤،۱۹۷،
ج: جانسن،اس .، ۹۷،
چ: چېچې رين ،.جی، ۱۷

چرچيل، ونستن ، ۱۸، ۱۲۱،
ح: حقايق، ۳-۳۲، ۵۰، ۷۰، ۱۲۷، ۱۵٦، ۱٦۳-۱٦٦
حتميت ، ۱۱۷-۱۱۹
د: دمپير، دبليو.، ۱۳۹،
دارسي، ام.سي، ۹۰، ۱۱۳ف،
دارون،سي، ٦٦، ٦٧،
دكارت ، ۱٦۹،
دوبچر، اې .، ۵۵،
دل دې، دبليو.، ۲۰،
دالنجر، جي.فان، ۱۲،
دون، جي.، ۳۳،
دا ستايفسكي، ۳٤،
درسونه دتاريخ، ۸۰-۸۲
دانته . اى.، ۳۹،
دوروونوسره، ويشنه په، ۷۲
ر: روحيات ، ٥٤(فرايدهم وگورئ)
رانگك كې ،فان، ۳، ۱۸، ۱۲٤،
روسو، جي.جي.، ۱٦۹،
راوس، اى، ال.، ۱۸، ٥۲،
رسل، بى.، ٤، ٦٦، ۱۱۱، ۱۳۹-۱٤۰،
روزبيرى، ۹۳
روترفورد، ۷۰، ۱۳٤،
رښتين توب په تاريخ كې . ۱۵۰، ۱٦٤-۱٦۵.
رنځ او عذاب په تاريخ كې، ۹۷-۱۰۰

س: سوانح لیکنه، ۵۰_۵۱،۵٤_ ۵۷.
سارتر، جی. پی، ۱۲٤
ستر افراد ، ٦۲_٦٤
سکاټ، اس، پی. ، ۵،
سمت، اې.، ۵۸،٦۸،۱۷۱_ ۱۷۲، ۱۷۹،
سنو، سر سی، ۱۰۵،۱۳٤،
سوشیالوجی، ۵۱،۵۳،۷۸_ ۸۰،۸۹
سومبارت، ډبليو، ۷۲
سورل، جی. ، ۷۲،
سپنسر، اچ ٦۵،
ستراچی، ال. ، ۱۱_ ۱۲،۵۵،
ستبز ، ډبليو. ، ۹٤،
ستهن، ای. ، ۱٦_۱۷،
سیسرو ، ٤۰،
شتريز يمان، جی. ، ۱٤_۱۷،
ف: فشر ، اچ ، ای. ال، ٤۸،۱۲٤،
فرويد، اس. ، ۱۷٤_ ۱۷٦،
فروډ، جی. ، ۲۷،
فرديت، اصل د، ۳٤_۳۷
فاعل او موضوع ، ۸٤ _ ۸۹
ق: قوانینو، مفکوره په باب د، ٦۷_۷۲،۷۸،۱۷۲_۱۷۳،۱۷٦_ ۱۷۸
ع: علم، نظریات په باب د، ٦،۲۸،۸۸ _۸۹
عقل، ۱۰۲،۱۳۱ _۱۳۲،۱۷۰_۱۷۲،۱۷۵،۱۸۲-
۱۸۵،۱۸۷،۱۹٦-۱۹۷
غ: غیر شخصی قوتونه، ۵۰،۵۷،

ک: کارلایل، تی. ، ٥٦، ٧٧، ١٥٨،
کلەریندن، لارد، ٥٧،
کلارک، سرجی ٢ــ٣، ٥، ٢٤، ٢٧
کلارک، جی. کتسن، ٩
کالنگ‌وډ، ای. ، ٢١، ٢٣، ٢٦ــ٢٧، ٦٠، ٦٧، ٧٤،
کانت، ای. ، ٨٣،
کروسې، بی. ، ٢٠، ٢١، ٩٤،
کفکا، اف. ، ١١٥،
کنگزلی، سی. ، ١١٤
کروسو، رابن‌سن، ٣٤،
گ: گیبل، پی. ، ٤٩،
گیبن ، ٢٧، ٧٥، ١١٠، ١٢١، ١٢٣، ١٣٨، ١٥٧،
گویته، ١٥٥،
گروت، جی ، ٣٩، ٤٤، ٨١
گالیلیو ، ٦٨
گرشم، ٦٨
ل: لاسال، اف، ٦٨
لیتز، اس. ، ١٧٨
لی فیبور، جی. ، ٩٦،
لینن، وی. ، ٥٧، ٦٣، ١٢٦-١٢٧، ١٣١، ١٥٠، ١٥٩، ١٧٣، ١٧٤، ١٧٨؛
لنکلن، ای. ، ١٧٠،
لاک، جی. ، ٤، ١٨٤
لایبل، سی، ٦٦ــ٦٧،

م: مکالی، تي، بي.، ۲۲.
مورلي، جي.، ۳٦،
مالتوس، ٦٨، ۱۷۹،
ماندیو ال، بی.، ٥٨
منهایم، کې، ۷۹، ۸٥،
ماری تین، ۹۱،
مارشال، ای.، ۱۰۹،
مارکس، کې.، ٤٤، ٥٢، ٥٦، ٥٨، ٦٢، ٦٩، ۷۱، ۷۷، ۱۱۲، ۱۱۳،
۱۱٤، ۱۱۷، ۱۲٥، ۱٤۳، ۱٤٤، ۱٤٦، ۱٥۲، ۱٦۱،
۱۷۰، ۱۷۱ـ۱۷٤، ۱۷٥، ۱۷٦،
مازی نی، ٤٥
میانک، اف.، ٤٤، ٤٥، ٤٦، ۱۲٤، ۱۳۳،
موم سن، تی.، ۲۷، ۳۹، ٤۱، ٤٤.
مل. جی.، اس.، ۳۳،
مانتسکیو، ۱۰۸، ۱۲٥.
مور، جی.، ای.، ۷٥،
موریسن، اس.، ۱۹٤، ۱۹۷،
ن: نامیر، سرجی.، ٤۱ـ٤٤، ۱٥۳، ۱۹۳ـ۱۹٥، ۱۹۷،
نیل، سرجی.، ٥۲،
نوولز ۹٤،
نیدهام، جی.، ۱۹۱
نیوتن، آی.، ٦٥، ٦۷ـ ٦۹
نیبور، ار.، ۹۱، ۱۳٥،
نیچه، اف.، ۲۸، ٦۱.

نامعین توب په فزیک کې، ۸۸
نسبیت، ۲۷ـ۳۲، ۱۴۹ـ۱۵۰
و: ولتیر، ۱۸، ۱۰۸،
ویبر، ام. ، ۷۱، ۹۶
وبستر، سراس ، ۸۰.
وجود.وی. ، ۵۱، ۵۳، ۵۵،
وګي تعبیرات، ۲۲، ۴۶ـ۴۷، ۱۱۰
ولسن، وډرو ، ۵۹،
ینګ، جی.ام .، ۵۲،
ه: هابس، تی. ، ۷۴،
هیرودوتس، ۱۰۷، ۱۳۶.
هرزن، آی. ، ۱۷۱،
هستوریسزم، ۱۱۳، ۱۳۲ف
هوس مین، اې.اي .، ۶،
هویزنګا، جی. ، ۱۳۴.
هومر، ۵۰
هیګل، جی. اف. ډبلیو. ۱۱۲، ۱۱۴، ۱۱۷، ۱۳۱، ۱۴۱ـ۱۴۴، ۱۵۲،
۱۵۸، ۱۷۰ـ۱۷۲
ی: یاغیان، ۶۱ـ۶۳

ACKU

# داصطلاحاتو فهرست اومعنی Glossary

کوښښ شوی دی چې لاندې اصطلاحات چې په متن کی راغلی دی، په متن کې داستعمال له مخې تعریف اوو پیژندل شي .

| | | |
|---|---|---|
| absolute | مطلق | هغه چې غیر مقیدوی، اومستقل وجود لري، او د نورو څیزونو اومسهال په ارتباط سره د درک وړنه وی. |
| antiquarianism | لرغون پیژندنه | دقدیمی آثارود پیژندنې فن |
| ancien regime | زوړنظم، قدیمی رژیم | دفرانسی له انقلاب نه دمخه مهالونه |
| archaeology | ارکیالوجي | د کندنې فن |
| astronomy | ستوری پیژندنه، کاینات پیژندنه | هغه مطالعه چې وایې کاینات، لکه څنگه چې دی، څنگه خلق شوی، او تکامل یې کړی دی. |
| boom | ناڅاپی چټک انکشاف | |
| community | وړه ټولنه | په یوې جامعې کې د خلقو هغه مجموعه چې عقاید، منافع، ژبه، او نوریې سره مشترک وی . |
| chronology | کرونولوجی | نېټه لیکڼ |
| cynicism | بدبینی، شکاکیت<br>دکلبیونو فلسفه | هغه نظرچې وایې تاریخ هیڅ مفهوم نه لری، یاداعتبار وړ اوغیر اعتبار وړ دیر مفهومونه په مساوی ډول لری، یا دغسی مفهوم لری، چې مونږ یې په خپل اختیاروړ کوو . |

| | | |
|---|---|---|
| data | مفروضات | قضیې یا گمنې چې نتایج تری ایستل کېږی. |
| despotism | مطلقیت | |
| determinism | معینیت | تا کلی توب ،جبر<br>هغه‌عقیده چې وایې هرڅه چې پیښیږی علت یاعلتونه لری،او په بل‌دول به پیښ نه‌شی،ترڅو یې علت یاعلتونه مختلف نه‌شی. |
| dichotomy | دوه‌گون توب | په دوه برخو سره‌دیوه واحد ویشل |
| elite | غوره کسان | نخبه گان |
| facts | شواهد ، حقایق | هغه چې وجود او حقیقت لری، |
| feudal barons | اشراف | په برتانیا کې هغه اشراف چې د لاردانو په نامه مخاطب کېدل، او د لاردانو په مجلس کې یې دغړیتوب حق لاره. |
| fait acompli | فت اکمپلي | انجام شوی‌عمل،اجراشوی څیز ، |
| gradualism | دتدریج اصالت | |
| historiography | دتاریخ لیکنی فن | |
| historicism | هستوریسزم | (وگورئ مخ ۱۳۲) |
| ideology ایدیالوجي | دافکارو او نظر یاتو مجموعه اوډیټ | دافکارو او نظریاتومطالعه یاساینس |
| Indeterminacy | ، نامعین توب | بی‌ثباتی ،شک |
| Ipso facto | اپسوفکتو | دهمدغه حقیقت په بنا |
| laissez - Faire | د عمل آزادی، لیسه فر | د افرادو په اعمالو او مخصوصاً تجارتی اعمالوکی د حکومت نه مداخله کول |

ACKU

| | | |
|---|---|---|
| mysticism | تصوف | هغه نظر چې دهغه په قرارد تاریخ مفهوم له تاریخ نه دباندې دالهیاتو یا اخرت په قلمرو نو کې وجودلري. |
| messianism | مهدیت | هغه عقیده چې دهغه له مخې به یوناجی یو وخت ظهور کوی، او عدالت او انصاف به قایم کوی. |
| nationalism | نېشنلزم | دملت غوښتنې اصل |
| niravana | نیروانا | په عالمی روح کې جذبیدل او فنا کېدل |
| object | موضوع | هغه څه چې تر مشاهدې او کتنې لاندې نیول کېږی یا بحث پرې کېږی. |
| positivism | دمثبتیت فلسفه | هغه فلسفه چې یوازې مثبت حقایق او دمشاهدې وړ پدیدې پېژنې. |
| positivists | مثبتیون | |
| postulate | اساسی شرط، فرضیه | هغه څه چې دتعقل او استدلال اساس گڼل کیږی. |
| pragmatism | دعمل اصالت | دهغه اصل چې دهغه له مخې تاریخ حقایق دعملی نتایجو له مخې تر بحث لاندې نیول کیږی. |
| pragmatists | دعمل داصالت طرفداران | |
| proposition | عمومی قضیه | |
| psychologism | سیکالوجزم | هغه نظر چې وایي اجتماعي مسایل بالاخره دفردی سلوک و تحلیل ته منتهي کیږی. |

ACKU

| | | |
|---|---|---|
| realpolitik | دقدرت سیا ست ریبل پالتیک | هغه سیاست چې دهغه له مخې د یو ه ملت مادی ستر توب ترهر بل څیز نه مقدم گڼل کیږی، او ملی مقا صد په قوت اوز ور سر ه حاصلول غواړی . |
| raison d'etat | دوجو ددلیل | |
| renaissance | رنسانس | دبیا نهضت دوره |
| rationalism | ریشنازم | هغه فلسفه چې وایې عقل په هرڅیز کې نهایې مرجع ده. |
| rationalists | عقلیو ن | |
| rationalization | ریفورم او اصلاح | هغه ریفورم چې په کار، وخت او موادو کې دضایعاتو په مخنیوی سره ممکن کیږی . |
| slump | ناڅاپي تنزل | |
| subject | فاعل | انسان چې یو ه موضوع تر مشاهدې او بحث لاندې نیسي |
| synthesis | دضدینو ترکیب | په یوه کامل واحد کې ددوه ضدونو یعنی تیسس (thesis) او انتی تیسس (anti-thesis) ترکیب |
| teleology | تیلیولوجی | دوروستیو او غایی علتونو فلسفه |
| theodicy | تیوډای سی | دخدای تعالی له عدا لت نه دفاع په دی با ب چې د شر و جود یې مجاز گرزولی دی. |
| truth | ربښتین توب | حقیقت |

ACKU

| | | |
|---|---|---|
| هغه نظراوعقیده چې د ټول عالم نهايي نجات اوفلاح غواړي. | دعالمغوښتنې اصل | universalism |
| هغه نظرچې وايي هغه څه چې ګټه اوسودلري، خیردی، اودنتا یجو مفیدیت ددرست عمل معین کوونکی ګڼل کیږي | دګټې اصالت | utilitarianism |
| هغه نظرچې دیوه شیز کمال او پوره توب یې مطلوب وي. | خیال پرستی | utopianism |
| هرهغه نظرچې وايي ارادهد ټولو تجاربو، اعمالو یادجهان په جوړښت کې تربل هرڅه نه قوي عامل وي. | اختیار | voluntarism |

## سمون

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| ورروستی | دوروستی | ۲ | ٦ |
| وی | دوی | ۲۲ | ٥ |
| اوزو | اوزو | ۲٥ | ٥ ف |
| موم س ن | موم سن | ۲۷ | ۷ |
| تعیر | تعبیر | ۲۸ | ٤ |
| تاپو | تماپو | ۳۳ | ۷ |
| محدده | محد وده | ۳٥ | ۱ |
| دمد نیت په دمختللو | دمخ کې تلو نکی مدنیت | ۳۷ | ۲ |
| موم زس | موم سن | ۳۹ | ۱٤ |
| کېچې | کې | ٤۰ | ٥ |
| بری۲۲ | بری | ٤۰ | ۱۹ |
| تامییر | تامیر | ٤۱ | ۱٦ |
| نظریه | نظریه | ٤٤ | ٦ |
| په نامه و | په نامه د | ٥۱ | ۱ |
| حلقه | حقله | ٦۸ | ۱۰ ف |

ACKU

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| دزوی | ذروی | ٧٠ | ١٧ |
| بله مسئله | مسئله | ٨٠ | ٥ |
| پوښتني | مسئلې | ٨٠ | ٥ |
| ارتباط لری. | ارتباط لری: دتاریخ درسونه | ٨٠ | ٥ |
| او په شمول | پهشمول | ٨٤ | ١٦ |
| متشکله | مشکله | ٩٥ | ١٧ |
| مرمینی | مرینې | ١٣٦ | ١٧ |
| روبیو | رومبیو | ١٤٠ | ٩ |
| خپه | خپله | ١٤٠ | ١٦ |
| مور | مورخین | ١٥٧ | ١٣ |
| مفهو | مفهوم | ١٧٢ | ٣ |
| پور | پوره | ١٧٦ | ١٦ |
| Slumps | Price Fluctuation | ١٧٦ | اف |
| داسې | درسی | ١٩٠ | ١٩ |

PROPERTY OF
ACKU
8952

## د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي د خپرونو پر له پسې نمبر (۳۳)
## د پوهنځي د خپرونو لست

| | |
|---|---|
| ۱- د پښتو ادبیاتو تاریخ | د پوهاند «حبیبی» تالیف |
| ۲- علم تربیه | ترجمه مرحوم استاد هاشم شایق |
| ۳- علم بدیع | تالیف مرحوم ملك الشعراء استاد بیتاب (چاپ دوم ۱۳۴۷) |
| ٤- قافیه و عروض | تالیف مرحوم ملك الشعراء استاد بیتاب (چاپ دوم ۱۳۴۷) |
| ٥- آثار برگزیده از نظم و نثر فارسی | تدوین پوهاند داکتر جاوید |
| ٦- دستور زبان فارسی | تالیف استاد بیتاب |
| ۷- علم بیان | » » (چاپ دوم ۱۳۴۷) |
| ۸- علم معانی | » » » » » |
| ۹- نورجهان و جهانگیر | ترجمه داکتر علمی |
| ۱۰- د تاریخ په باره کې | د محمد حسن «ساپی» تالیف |
| ۱۱- مقالات فلسفی و اجتماعی | تالیف علی محمد زهما |
| ۱۲- د پښتو گرامر | د محمد رحیم الهام ترجمه |
| ۱۳- د جبر او اختیار دیالکتیك | د پوهنوال داکتر مجروح تالیف |
| ۱٤- تاریخ مختصر ادبیات قدیم چین | ترجمه محمد نسیم نگهت سعیدی |
| ۱٥- متنهای قدیم فارسی- نثر فارسی دری | تالیف و تدوین نگهت سعیدی |
| ۱٦- حدود العالم، بامقدمه بارتولد و حواشی و تعلیقات مینورسکی | ترجمه پوهاند میرحسین شاه |
| ۱۷- خلاصة المریدین | دپوهاند میر حسین شاه په تصحیح |
| ۱۸- تاریخ سیاسی و اجتماعی آسیای مرکزی | ترجمه علی محمد زهما |
| ۱۹- منطق وضعی (جلد اول) | ترجمه پوهاند غلام حسن مجددی |
| ۲۰- فلسفه علوم (جلد دوم) | » » » » |
| ۲۱- اقلیم شناسی افغانستان | تالیف غلام جیلانی عارض |
| ۲۲- دستور زبان معاصر دری | » پوهنوال محمد نسیم نگهت سعیدی |

ACKU

PASHTO TRANSLATION OF

# What is History?

by

Professor E. H. Carr

TRANSLATED BY

M. H. KAKAR M. PHIL. (LOND)

Published by

Kabul University

Download from; aghalibrary.com

Printed at Education Press.

Franklin Book Program, Kabul-Afghanistan

1970